تفسیر ایوبی حنفی

تالیف

علامہ محقق عصر حجۃ الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبدالحمید الایوبی

القندھاری السپانی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

الناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کاسی روڈ شالدرہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښي اولنی او په افغاني تاريخ کښي بې ساری

په زر گونو جديدو مسئلو باندي مشتمل

تفسير ايوبي حنفي

وَإِذَا سَمِعُوا *** وَلَوْ أَنَّنَا

اووم ټوک ٧

تاليف او تصنيف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الايوبي

الكندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مكتبة القراءة و التجويد

کانسي روډ شالدره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم .... تفسیر ایوبي پښتو اووم ټوک

مؤلف.............. الحاج مولنا محمد عبید الله الایوبي الکندهاري

السلیمانخیلي الحنفي حفظه الله تعالی بفضله الوهبي

کمپوزر............ حبیب الحق حقاني (مینګل)

ټایپ .... حقاني کمپیوټر اداره

نشر کوونکي اداره .... مکتبة القراء ت والتجوید کانسي روډ کوټه

د چاپ ځای .... لاهور پاکستان

یو نظر دې خوا

هیڅ یو مسلمان هم په قرآن مجید، احادیثو یا د فقهي په کتابو کې په قصده سره غلطي نه کوي، زموږ اداره تر خپله وسه پوري د کتابو تر لیکلو وروسته تصحیح نه زیاته پاملرنه کوي، چې ددې په وجه زموږ کتابونه معیاري دي، خو بیا هم بنده بنده دی، یو نه یو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کې یا په بوه جمله کې ځني صادره سي، نو زموږ د ټولو ناظرینو څخه دا خواست دی چې که ستاسي تر نظر داسي غلطي تېره سي لطفاً زموږ سره تماس ونیسئ، تر څو د کتاب د دوهم وار په چاپ کې د هغې تېروتني اصلاح وسي

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة لمكتبة القرائة والتجويد كوئته باكستان

و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأ أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves
Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat i waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٢٨ هجري - ٢٠٠٧ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد
شارع کانسي کوئته-باکستان
رقم الهاتف ٠٨١٢٨٨٥٥٢٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

الحمد لله وكفى والصلوٰة والسلام على خير الورٰى

وبعد: دا چي تفسير ايوبي اووم توک چي پکښي اوومه او اتمه (واذا سمعوا. ولو اننا) سپاره او د هغه تفسير موجود دی، هيله لرو چي د کتاب الله د فهم او د تشريح مسائلو تنده به مو په ماته سي.

دا د خوشحالی ځای دی چي د پښتو په تاريخ کښي پر ترجمه، مسائلو او نحوي تراکيبو باندي مشتمل تفسير د تصور له اسمانه د جود په جامه کښي را ووت.

دا حقيقت دی!

که څوک دا ووايي چي څه رنګه دا د پښتو اولنی تفسير دی. سره ددې چي له دې څخه مخکي هم تفسيرونه په زياته پيمانه کښي موجود دي؟ نو ځواب دادی چي هغه ټول له تفسيرونه کوم چي له تفسير ايوبي څخه مخکي په پښتو کښي موجود دي هغه يا خو له عربي يا له اردو څخه يا له فارسي څخه او يا هم له نورو ژبو څخه ژباړل سوی دی، تر کومه حده چي زموږ معلومات دي، دا ټوله تفسيرونه له نورو ژبو څخه

ژباړل سوي دي، خو يواځي او يواځي تفسير ايوبي ته دا
وياړ ور په برخه دی چي د پښتو په تاريخ کښي اولنی
کتاب دی چي د تصنيف او تاليف او همدارنګه اصل متن
يې په پښتو دی. که څېري تاريخ د عادلانو مؤرخينو په لاس وليکل
سو، نو د حضرت علامه ايوبي او همدارنګه دده د تصنيفاتو او تاليفاتو او نورو
خدمتونو به هرو مرو ذکر پکښې وي.

او داهم تر لمر روښانه ده!

چي د عمر په اخيرني شپبو کښي دا وياړ و حضرت علامه فقيه الوقت ومفسر الزمان مولانا محمد عبيد الله الايوبي القندهاري ته ورپه برخه کړی چي دده د علمي شجر او پوهي څخه هيڅ يو معاند او معاصر هم انکار نه سي کولای.

الله تعالی دي ورته بنې شپبې ور په برخه کړي، خداوند پاک دي نور هم د مسلمانانو د خدمت کولو توفيق ورپه برخه کړي امين.

عمر دې زيات، قلم دي ګړندی او برياوي دې مل وي. دده يو ادنی شاګرد

فضل الحق حقاني

باني مكتبة القرائت والتجويد

خو دا هم د الله ﷻ يو لوی فضل او احسان دی چي هر کله چي د کمپيوټر دنيا نه وه، نو د حضرت ايوبي کتابونه موږ خپل د لاس په خط وچاپ ته وسپارل چي ژوندي مثالونه يې قدوري، نور الايضاح، نور الظلم، ابو المنتهی. شروط الصلوة، شهادة الحسنين او داسي او داسي نور دي. او کله چي کمپيوټر چاپېريال ته راغلی، نو بيا مو د حضرت کتابونه په کمپيوټري ليکنه باندي وچاپ ته وسپارل، خو کېدای سي چي دا هم د حضرت ايوبي اخلاص او للهيت وي ورنه .... د افغانستان يو عالم هم په دومره تصنيفاتو او کتابونو، حواشيو وتفاسيرو باندي بريالی سوی نه دی لکه څرنګه چي دا څرګند او واضح حقيقت دی. نو له دې کبله د ټولو مسلمانانو څخه د مکتبة القرآت والتجويد د ښه خدمتونو لپاره د دعا محتاجه او کار کوونکو ته يې د اسلام د خدمت او چوپړ لپاره د توفيق غوښتونکي يو والسلام

اداره مکتبة القراءت والتجويد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لمن وفقني لاتمام تفسير الجزء السادس من القرآن الكريم، فاقول لابتدا تفسير الجزء السابع.

الحمد لوليه والصلوٰة على نبيه وعلى آله وصحبه اجمعين، اللهم يسر ولاتعسر.

درویش وايي: چي پيل د تفسير د اووم جزء د قرآن كريم په ورځ د پنجشنبې ساعة ۳ بعد الظهر ۱۸ من شهر ذي القعدة سنه ۱۴۲۷ هـ ق اللهم وفقني لاتمام تفسير هذا الجزء السابع بالخير والعافية والصحة والسلامة.

د فقير التجا د تفسير له مطالعه كوونكو څخه داده چي تفسير دي د حسد په زړه د عناد په سترګو نه ګوري، بلکې د انصاف او ورورولۍ په سترګه دې مطالعه کوي. ګرانو مطالعه کوونکو درویش خو خپل جدوجهد تو له پر کار اچولی دی، لکن سهوه او نسیان او خطا د درویش سره لاینفک ملګرې ده، لکن قال الله ﷻ ﴿لايكلف الله نفساً الا وسعها﴾

وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ

هر وخت چي واوریدل دوی يعني النصارى المذكورين فيما سبق لامطلق النصارى هغه قرآن چي نازل کړل سوی دی ورسول ته يعني محمد ﷺ، ته وینې سترګې ددوی ډکې له اوښکو څخه.

يوه سه: چي "واذا سمعوا" عطف دی پر "لايستكبرون" باندې، والمقصود نرموالی د زړنو ددوی، او ډېره بېره له خدای ﷻ څخه او مسارعت ددوی دی وقبول ته د حق.

فائده: رؤية دلته بصري دی، نو يو مفعول غواړي چي هغه "اعينهم" دی او "تفيض" حال دی له مفعول څخه د "ترٰی" چي "اعينهم" دی.

فائده: فيض تويدلو ته د اوبو له ځي (ګوډي) يا له لوښي څخه له جهته څخه د ډکوالي، نو ظاهره معنا خو داده چي سترګي ددوی راتويږي لکن فيض د سترګو مبالغة عبارت دی له ډکېدو څخه. فالمعنى دوی چي قرآن واوريدی سترګي ددوی ډکي سوې له اوښکو څخه. او دا هم عين ممکنه ده چي د ډېرې مبالغې لپاره يې ددوی سترګي داسي وګرځولې چي تويږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي داسي مبالغې په هره ژبه کي سته لکه سرې چي ډېر وشرمېږي او له شرمه مځکي ته گوري، نو داسي وايي چي سترگي يې پر مځکه ولوېدې.

درویش وایي: چي امام مظهري رحمه الله پخپله يو روايت د نسائي راوړی د عبد الله بن زبير رضي الله عنه چي په هغه کي راغلي دي چي دا آيت په نجاشي او اصحابو کي دده نازل سوی دی. او بل روايت يې د ابن جرير او ابن ابي حاتم له سعيد بن جبير څخه راوړی دی چي نجاشي گڼ شمېر له خيارو څخه د خپل دولت و عليه الصلوٰة والسلام ته راواستول او عليه الصلوٰة والسلام و هغو ته سورت "يٰس" قرائت کړی هغو وژړل او ايمان يې راوړی. او بل روايت يې د سعيد بن المسيب او د ابوبكر بن عبد الرحمٰن او د عروة بن الزبير راوړی دی چي عليه الصلوٰة والسلام عمرو بن اميه الضميري سره د يوه مکتوبه ونجاشي ته واستاوه او هغه قاصد چي نجاشي ته ورغلی، او د عليه الصلوٰة والسلام مکتوب يې ورته قرائت کړی، نو نجاشي جعفر بن ابي طالب او دده نور ملگري مهاجرين يې راوغوښتل او خپل رهبان او قسيسين يې هم راوغوښتل، بيا نجاشي جعفر بن ابي طالب او دده نور ملگري مهاجرين يې راوغوښتل او خپل رهبان او قسيسين يې هم راوغوښتل، بيا نجاشي جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه امر کړی چي ته يو سورت ستاسي د کتاب تلاوت کړه، جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه سورت مريم ورته تلاوت کړی، نو هغو ټولو ايمان راوړی وفاضت اعينهم من الدمع، نو دا آيت "لتجدن اقربهم مودة" بيا تر فاكتبنا مع الشاهدين" پوري د هغو په باره کي نازل سو. لکن سره ددغو رواياتو چي مظهري رحمه الله راوړي دي په اخير کي وايي قلت چي عبرت عموم لره د لفظ دی يعني لفظ د نصارى چي په قرآن مبارک کي راغلي دی خصوص لره د مورد نه دی.

درویش وایي: چي زما مقصد دادی چي مظهري رحمه الله په نورو نصارى وو کي ښه اخلاق او اسلام ته احترام او يا په ويلو سره د د سورت قرآني ايمان راوړل ليدلي وچي دی و شمول ته د نورو نصارى وو په ټينگه ولاړ دی والله تعالى اعلم بمراد عباده. البته دا مکانات سته چي په وخت کي د حکومت د لندن د نصارى وو پر لوی بر اعظم د هند او پاکستان مظهري قاضي و د مسلمانانو لپاره په پاني پت کي، نو په هغه وخت کي د خواخوږي د لندن د نصارى د مسلمانانو سره او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مدرسو د جوړولو اجازه او د مسلمانانو د مساجدو ساتل له هندو قوم څخه او مسلمانانو ته خپل اسلامي قاضیان مقررول چې د مسلمانانو په منځ کې تنازعات دې خپل اسلامي قاضیان ور فیصله کوي، نو صحیح ده چې مظهري د نصارئ په عموم سره قائله سي.

یوه سه: چې مظهري کلمه د "من" په من الدمع کې لپاره د تعلیل بولي ای من اجل الدمع، او روح البیان یې لپاره د ابتدأ الغایة بولي فتفکر وخذ ماصنع ودع ماکدر.

مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ

اصل د "مما" من ما" و بیا نون په میم کې مدغم سو حسب القانون الصرفي، نو کلمه من یا ابتدائیه ده یعنې ابتدأ د ابتدأ د تفیض له مما عرفوا څخه وه. او یا لپاره د تعلیل دی او کلمه د ما موصوله ده والعائد محذوف ای من الذي عرفوه او من الحق حال دی ای کائنا من الحق او کلمه د من بیانیه ده. حاصل د معنی دا دی چې ددوی سترګې چې د اوښکو ډکې سوې له دې سببه چې دوی حق حق وپېژندی حق یعنې دین د اسلام او قرآن کریم. قال ابن عباس ﷺ چې مراد له سامعینو څخه نجاشي واصحابه دي چې جعفر بن ابي طالب ودوی ته په حبشه کې دا سورت تلاوت کړی "کٓهٰیٰعٓصٓ" نو تر هغو پورې دوی ژړل چې سورت ختم کېدی.

يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا

دوی به ویل دا جمله حال ده له ضمیر څخه د فاعل په "عرفوا" کې "ربنا آمنا" منادی ده په حذف د حرف ندأ یعنې یا ربنا موږ ایمان راوړی دی پر محمد ﷺ او پر هغه قرآن چې تا نازل کړی دی وده ته.

یوه سه: چې مقصود له آمنا څخه اخبار نه دی یعنې چې موږ د مخه تر دې ایمان راوړی و بلکې دغه ددوی انشأ د ایمان وه، او د ربنا د لفظ فائده دا ده چې موږ مؤمنان عند ربنا یو لا مؤمنین عند الناس کالمنافقین.

فَاكْتُبْنَا مَعَ الشّٰهِدِيْنَ ﴿٨٣﴾

نو موږ ولیکه سره د شاهدانو چې امت د علیه الصلوٰة والسلام چې په ورځ د قیامت به شاهدي ادا کوي لپاره د انبیأ علیهم السلام چې امتیان د دوی له تبلیغ څخه منکر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سي، نو گواکي دا شهادت د امت محمدي په ورځ د قيامت دوی په انجيل کي ليدلي وه، او صحيح په زړه پوري معنا داده چي موږ وليکه سره د شاهدانو په نبوت سره د عليه الصلوٰة والسلام او شاهدان پر حقيقت د قرآن چي من عندالله دي.

بوه سه: چي شاهدي هغه ته وايي چي د زړه له بيخ څخه وي. لاكشهادة المنافقين چي ژبي پر سر وي لکه په سورت منافقين کي چي خدای پاک وايي

﴿إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُنَٰفِقُونَ قَالُوا۟ نَشْهَدُ إِنَّكَ لَرَسُولُ ٱللَّهِ ۗ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ وَٱللَّهُ يَشْهَدُ إِنَّ ٱلْمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ۝﴾ نو په دې خبره کي ددوی "فاكتبنا مع الشاهدين" تبريه د ځانو له نفاق څخه ده.

وَمَا لَنَا لَا نُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ ٱلْحَقِّ وَنَطْمَعُ أَن يُدْخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ ٱلْقَوْمِ ٱلصَّٰلِحِينَ ۝

بوه سه: چي "مالنا" مبتدأ او خبر دی والمعنى اى شئ حصل لنا، كلمه د "ما" استفهام انكاري دی له سبب او مسبب دواړو څخه. او مسبب لانؤمن دی او لا نؤمن حال دی له ضمير څخه د "لنا" اى غير مؤمنين بمحمد ﷺ وبما انزل عليه من القرآن. او "ماجائنا" عطف دی پر لفظ د "الله" اى نؤمن بالله "وما جائنا على لسان محمد ﷺ من الحق وهو القرآن الكريم.

بوه سه: چي "من الحق حال دی له ضمير څخه د فاعل د "جائنا" اى حال كونه كائنا من جنس الحق. او "نطمع" عطف دی پر "نؤمن" باندي اى مالنا لانؤمن ونطعم، او "ان يدخلنا" مفعول د "نطمع" دی "ربنا" فاعل د "يدخل" دی او ضمير د "نا" مفعول د "يدخل" دی او مراد له قوم صالحين مؤمنين د امت د عليه الصلوٰة والسلام دی الى اخيرها چي خدای پاک ددوی په شان کي داسي ويلي دي ﴿ولقد كتبنا في الزبور من بعد الذكر أن الارض يرثها عبادي الصالحون﴾ ترجمه: څه سبب موږ ته پيدا دی چي موږ به ايمان نه راوړو پر خدای ﷻ يعني په توحيد سره او پر هغه كتاب چي موږ ته راغلی دی يعني القرآن الكريم، او موږ به ولي طمع او اميد نه كوو چي موږ به داخل کړي خدای ﷻ زموږ سره د قوم صالحان يعني امته عليه الصلوٰة والسلام يعني في الدنيا والآخرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دغو نصاری وو چي ایمان راوړی یهودانو ودوی ته پېغور ورکړی او ورته وه يې ويل "لم آمنتم" نو دوی په ځواب کي ورته وويل وما لنا آه، چي خدای پاک يې په قرآن جلیل کي ددوی د ځواب حکایت ورکړی تعظیماً لجوابهم، او بعض مفسران وايي چي دغه ایمان راوړونکي نصاری چي قوم ته راغله هغو ملامتيا پر ويله، نو دوی دا ځواب ورکړی "وما لنا آه"

فَأَثَابَهُمُ اللَّهُ بِمَا قَالُوا

نو خدای پاک دوی ته جزا او عوض د خير ورکړی په سبب د قول د دوی که ما مصدریه سي او که ما موصوله سي نو عائد يې محذوف دی ای ما قالوه.

سوال: نفس قول خو سبب د ثواب نه دی، ولي چي نفس قول خو په منافقانو کي هم موجود دی؟

ځواب: ددوی قول له صحيح قلب څخه و او له نفس اعتقاد څخه و ويدل عليه ترى اعينهم تفيض من الدمع آه.

جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ وَذَٰلِكَ جَزَاءُ الْمُحْسِنِينَ ﴿۸۵﴾

جنتونه چي بهېږي به لاندي تر درختو د هغو جنتو څلور ولې اوبه، عسل، شيدې او شراب او دوی به همېشه وي په هغو جنتو کي، او دا جنتونه جزا ده د هغو کسانو چي مخلصين په ایمان او عبادت کي وي.

پوښتنه: دا ثواب او جنتونه چي ودوی ته ورکړه کېږي هغه به په ورځ د قيامت وي، نو تعبير په ماضي سره په "اثابهم" کي څرنګه وسو؟

ځواب: چونکه دا ثواب موعود د خدای ﷻ دی او خلف وعد پر خدای پاک محال دی "ان الله لا يخلف الميعاد" نو دا ثواب لکه متحقق الوقوع في الماضي دی.

درویش وايي: چي چونکه عادت الهي دادی چي په قرآن عزيز کي د مؤمنانو د ثواب سره جزا النار د کافرانو ذکر کوي وبالعکس لپاره د ترغيب او ترهيب، نو يې څخه د کفارو حال داسي بيان کړی.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَحِيمِ ﴿۸۶﴾

او هغه کسان چي کفر او انکار د دين حق کوي په زړو سره، او تکذيب کوي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایاتو زمور پہ ژبہ سرہ۔ فالمعطوف والمعطوف علي متغایران، دغہ کسان ملگري دي د اور یعني ملازمین د دوزخ دي ابد الآبدین.

درویش وایي: چي پہ صحیح حدیث کي راغلي دي چي تولہ مفسرینو ہم راوړي دي باختلاف یسیر چي علیہ الصلوٰۃ والسلام پہ یوہ موعظت کي مفصل بیان د قیامت د ورځي وکړی او د هغي ورځي سختي او احوال یې بیان کړه، او د اور بیان یې وکړی او دېري سختي خواری یې بیان کړې او خلګو تہ یې تینګ انداز وکړی چي د خلګو زړونہ یې ډېر نرم کړه او خلګو یعني صحابہ وو ډېر وژړل او ډېري اوښکي یې ہم توی کړې یوولس کسہ لہ صحابہ کرامو څخہ د عثمان بن مظعون پہ کور کي سرہ جمع سوہ چي پہ هغو کي عثمان بن مظعون او علي بن ابي طالب، عکرمہ، ابن مسعود، مقداد بن الاسود، سالم مولی حذیفہ، عبد اللہ بن عمر ﷺ او پہ یوہ روایت کي یې ابوبکر او عمر رضي اللہ عنهما ہم پکښي راوړي دي پہ هر صورت هر څوک چي وہ خو لس کسہ وہ او دوی دا مشورہ سرہ وکړہ چي موږ بہ ځیرہ کالي اغوندو چي پہ عربو یې مسوح بولي، او د جماع الآت بہ لہ ځانہ څخہ پرې کوو یعني ځانونہ بہ خصیان کوو او تمام عمر بہ روژې نیسو او ګردہ شپہ بہ تہجد کوو بیدېږو بہ نہ یعني پر فرش باندي او غوښي بہ نہ خورو او نہ بہ وازګي وغیرہ خورو او خوشبویي بہ پہ ځان یا پہ جامہ پوري نہ موږو، او د خدای ﷻ پہ مځکہ کي بہ سیاحت کوو یعني بې کورہ ژوند بہ کوو، نو دا مشورہ یو چا و علیہ الصلوٰۃ والسلام تہ ورسول، نو علیہ الصلوٰۃ والسلام د عثمان بن مظعون ﷺ و سرای تہ ورغلی، عثمان کور تہ نہ و، نو د عثمان ماینې تہ چي ام حکیم بنت امیہ وہ چي اصلي نوم یې خولہ وہ ورتہ وہ یې ویل چي دا رشتیا دہ چي ستاسي پہ کور کي عثمان او نورو کسانو داسي مشورہ کړې دہ، هغہ ډېرہ یوہ ښځہ وہ دا یې مکروہ بلل چي علیہ الصلوٰۃ والسلام تہ دروا غ ووایي او دا یې ہم مکروہ بلل چي خپل د میړہ سِر بیان کړي، نو دې ښځي داسي یو مجمل عبارت و علیہ الصلوٰۃ والسلام تہ ووایہ کہ عثمان درتہ ویلي وي نو بہ رشتیا وي، علیہ الصلوٰۃ والسلام ځندي ولاړی عثمان چي کور تہ راغلی ماینې یې د علیہ الصلوٰۃ والسلام د راتګ بیان ورتہ وکړی، نو عثمان د علیہ الصلوٰۃ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام و حضور ته ورغلی، نو علیه الصلوٰة والسلام چي ددې مشورې پوښتنه
خني وکړه هغه ورته وویل نعم، نو علیه الصلوٰة والسلام و عثمان ته وویل چي زه په
داسي کار و سره لکه تاسي چي يې قصد کړی دی نه يم امر سوی "ان لانفسكم
عليكم حقاً يعني في الاكل والشرب وقضا الشهوة مع زوجته" نو روژې نيسئ يعني
نفلي او خورئ يې هم يعني بعض ورځي نفلي روژې مه نيسئ "وقوموا" يعني د
تهجد لمونځ کوئ او بيدېږئ هم يعني في بعض الليل. عليه الصلوٰة والسلام ورته
زياته کړه چي زه هم قيام الليل کوم او هم بيدېږم "واكل اللحم" او غوښي خورم او دسم
يعني وازګه هم خورم "وآتي النسآ" زه خپلو ازواجو ته ورځم كنايةٌ عن الجماع "فمن
رغب عن سنتي فليس مني" که څوک زما له بيان سوي طريقې څخه رغبت وکړي
يعني د افراط پر خوا هغه زما له طريقې سړی نه دی دا معنا نه ده چي کافر دی؛
وروسته بيا عليه الصلوٰة والسلام خلګ يعني اصحاب کرام ﷺ سره جمع کړه او
داسي خطبه يې ورته ايراد کړه "مابال قوم حرموا النسآ والطعام والطيب والنوم
وشهوات الدنيا اما اني لاآمركم ان تكونوا قسيسين ولارهباناً فانه ليس من ديني
ترک اللحم والنسآ ولا اتخاذ الصوامع وان سياحة امتي الصوم ورهبانيهم والاجتهاد
فاعبدالله ولاتشركوا به شيئاً وحجوا واعتمروا واقيموا الصلوة وآتو الزكوة وصوموا
رمضان واستقيموا يستقم لكم. فانما هلك من هلك قبلكم بتشديد شددوا على
انفسهم فشدد الله عليهم الى اخير الحديث.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُحَرِّمُواْ طَيِّبَٰتِ مَآ أَحَلَّ ٱللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَعْتَدُوٓاْ
إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُعْتَدِينَ ۝٨٧

اې هغه کسانو چي يې ايمان يې راوړی دی تاسي حرام مه ګرځوئ يعني پر خپلو
ځانو باندي "طيبٰت" د هغو شيانو چي تاسي ته خدای حلال کړي دي يعني چي په
طبيعت کي تاسي ته خوند درکوي او لذيذ او ستاسي د نفسو اشتهاً ورته کېږي
يعني من الحلال شرعاً. كاللحم والودک وجماع الزوجات الى غير ذالک ممامر في
شان هذه الآية، او تاسي تجاوز مه کوئ تر حدود ما احل الله لكم و ما حرم عليكم ته
او يا تجاوز مه کوئ و تحريم ته د احل الله لكم كمامر في قصة عثمان بن مطعون

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ورفقائه. نو آیت مبارک نهي کوونکی دی د تحریم ما احل او له تحلیل څخه د ما حرم بلکې میانه روي کوئ لکه په حدیث کې د علیه الصلوٰة والسلام چې ذکر سوه آنفاً چې د هغه حدیث اکثره ترجمه درویش تاسي ته وکړه چې په اخیر کې د حدیث علیه الصلوٰة والسلام خطبه ورته ایراد کړه او داسي يې ورته وویل "ما بال اقوام" څه حال دی د هغو قومو یعني خلګو لکه عثمان ورفقائه "حرموا النسآ والطیب والطعام" چې پر ځان يې حرامي کړي دي ماینې یعني جماع د ماینو او خوشبويي او طعام لکه غوښي وغیره ممامر في القصة، والنوم وشهوات الدنیا لکه عثمان او نورو چې وویل چې موږ به د شپې نه بد ږدو او نه مشتهیات د دنیا یعني چې تول عمر به روژې نیسو "اما اني لا آمرکم ان تکونوا قسیسین ولا رهباناً" اما زه تاسي ته امر کوم چې تاسي قسیسین وګرځئ او نه په دې رهبان وګرځي وقد مر معنی القسیسین والرهبان فانه لیس من دیني ترک اللحم والنسآ، ولي چې زما له دین څخه نه دی نه خورک د غوښو او نه ورتګ و ماینو ته چې کنایه له جماع څخه ده ولا اتخاذ الصوامع او نه جوړول د خلوت ځانو لکه د نصاری وو د رهبانو "ان سیاحة امتي الصوم" زما د امت سیاحت یعني په بیابانو کې ګرځېدل روژه ده یعني نفلي روژې دي نیسي دا دومره ثواب لري لکه یو سړی چې کور ته نه کښېني په بیابانو کي ګرځي لکه رفقاؤ د عثمان چې اراده کړې وه ورهبانیتهم الاجتهاد، او زما د امت رهبانیت کوشش دی په دین کې یعني فرائض او واجبات وغیره پر ځای کول او له محرماتو وغیره څخه پرهېز کول. درویش وایي چې باقي ترجمه د حدیث ظاهره ده.

وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا

او تاسي خوراک د هغه شیانو چې وتاسي ته په رزق در کړه سوي دي.

پوه سه: چې "حلالاً" مفعول د "کلوا" دی او "مما رزقکم" حال دی له مفعول څخه. او حال چې مقدم سوی دی په سبب د دې چې ذوالحال يې نکره دی کما هو القانون النحوي.

فائده: عبدالله بن المبارک رحمه الله تلمیذ الامام الاعظم ابو حنیفه رحمه الله وایي چې حلال هغه شی دی چې په وجه شرعي دده په ملک کې راغلی وي. او طیب هغه ته وایي چې غذا او نما د بدن په کښې. نو ختې، خاوري او شیګې یا بل داسي شی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

چي غذا د بدن نه گرځي هغه لـه طيب ځخه خارج دی او خوراک يې مکروه دی الا علی وجه التداوي.

پوه سه: چي ددې چي من د تبعيض پکښي راغلی دی دا معلومه سوه چي بعض رزق حلال دی او بعض رزق حرام دی يعني ان الحرام رزق ايضاً عند اهل السنة والجماعة خلافاً للمعتزلة هغه وايي چي حرام رزق نه دی، وتفصيل الدلائل في شرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني رحمه الله.

وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي أَنْتُمْ بِهِ مُؤْمِنُونَ

او تاسي وېرېږئ له الله جل جلاله ځخه چي تاسي پر هغه ايمان راوړی دی.

پوه سه: چي دا آيت تاکيد دی د قوله تعالی "کلوا آه" لپاره او د مزيد تاکيد لپاره "الذي انتم آه" زيات کړی، ولي چي مقتضی د ايمان تقوی او عمل دی په امر به ونهي عنه د خدای جل جلاله، روی البخاري بسنده عن عائشة رضي الله عنها کان النبي صلی الله علیه وسلم يحب الحلوا" يعني خوږ او عسل عطف د خاص دی پر عام باندي، وفي الحديث قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الطاعم الشاکر کالصائم الصابر رواه الترمذي"

شان نزول بغوي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنهما ځخه روايت کوي چي هغه وخت چي دا آيت نازل سو "لاتحرموا آه" عثمان بن مظعون او دده ملګري رضي الله عنهم. و عليه الصلوة والسلام ته راغله دوی وويل چي موږ تولو خو قسمونه اخستي پر ما اتفقنا عليه باندي، نو زموږ د قسمونو به څه چاره وي فانزل الله تعالی هذه الاية.

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ وَلَكِنْ يُؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُمُ الْأَيْمَانَ

خدای جل جلاله تاسي نه نيسي چي لغوه قسم واخلی، لکن تاسي خدای جل جلاله نيسي په هغه قسم سره چي تاسي يې عقد کړی وي.

پوه سه: چي يمين تقويه د احد د طرفي د وجود او عدم د يو فعل پـه مقسم بـه سره او د لغوه د يمين معنا هغه بې فائدې قسم دی چي په دده پوري حکم شرعي تعلق نه لري، نو په نېز د امام اعظم رحمه الله چي سړی قسم واخلي پر يو شي چي دده غالبه گمان دا وي چي داسي به وي او هغه شی دده د گمان سره برابر نه وي لکه يو ځوک چي لـه لېري ځخه يو شی ووينې او دده خيال غالب دا وي چي دغه زيد دی، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ووايي والله انه زيد، او هغه زيد نه وي، او يا ووايي چي والله ما دي مياشتي په اوله ورځ روژه نيولې وه او دده غالبه گمان هم داغه وي لكن وروسته معلومه سي چي داغسي نه وه وعلى هذا فقس امثال ذالك، نو په داسي يمين كي نه مؤاخذه اخروي سته او نه كفاره، او يمين غموس زموږ په نيز دادى چي امر ماضي يا امر حالي قسم عمداً په دروغو واخلي لكه يو سړى چي عمداً كاذبانه قسم واخلي والله اني فعلت كذا ولم يفعله او بالعكس، او يا ووايي چي بل سړي پر ده د پور دعوه كړې وي او دى وايي والله ما له عليه دين والحال ان للشخص المذكور عليه دين وامثال ذالك، ددې قسم حكم دادى چي گناه كبيره ده چي په دې دنيا دى په گناه كي ډوبوي او په اخيرت كي يې په اور كي يعني ان عذبه الله ولهذا اسمي بالغموس، په صحيح حديث كي راغلي دي "من حلف كاذباً ادخله النار ولا كفارة فيها الا التوبة"

پوه سه: چي "في ايمانكم" جارومجرور متعلق دى په "لا تؤاخذكم" پوري او باد باللغو سببيه ده، والمعنى "لا يؤاخذكم في حق ايمانكم بسبب ماكان لغوا منها" او د منعقده معنى داده چي قصد د زړه ورسره ملگرى وي، او منعقده هغه قسم دى چي سړى وايي والله او بالله زه فلانى كار كوم په مستقبل كي او يا به فلانى كار نه كوم په مستقبل كي، نو ددې قسم حكم دادي چي كه سړى په قسم سره وفا وكړي يعني هغه زمانه مستقبل چي د ټاكلې ده يا هفته يا مياشت يا كال مثلاً په هغه زمانه كي هغه كار وكړي كه پر فعل قسم و، او يا يې نه وكړي كه پر ترك قسم و، نو دى په قسم كي بار سو يعني وفا يې په وكړه، نو پر ده هيڅ شى نسته او كه يې خلاف د قسم وكړى، نو پر ده كفاره سته چي بيان به يې راسي په قرآن مجيد كي.

پوه سه: چي مؤاخذه په يمين منعقده كي دا شرط ورسره محذوف دى اى اذا حنثتم چي له وروسته كفاره ښځه فهمېږي.

فائده: د دين محمدي ﷺ د جمهورو علماؤ او د ائمه اربعه رحمهم الله تعالى په نيز يمين حرف قسم غواړي يا ملفوظ يا مقدر، او يو نوم د خداى ﷻ به هم ورسره وي يا اجمالاً نحو والله، والرحمن، والقادر المطلق، والخالق وامثال ذالك، يا تفصيلاً نحو والذي نفسي بيده، والذي لا اله غيره، ومقلب القلوب، ورب السموات والارض، والذي بيده ملكوت كل شئ وامثال ذالك، او بعض د مشائخو د حنفيانو وايي چي هر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یو داسي اسم که غیر د خدای ﷻ وي نه مسمی کېږي لکه الله، الرحمن چي معرفه وي کما في رد المحتار بخلاف النکرة فانه یسمی به غیره تعالی فهو یمین قطعاً او هغه نومان د خدای ﷻ چي پر بل چا یې هم اطلاق روا وي لکه حلیم، کریم، قادر، وکیل، رحیم وغیرها هغه یمین نه دی مګر په نیت سره او یا په عرف کي یا په دلالت سره د حال د متکلم. او دغه په نېز د جمهورو علماؤ په هر صفت سره د خدای ﷻ یمین غوته کېږي کعزة الله، وجلال الله وکبریائه. په دي کي خو امام اعظم رحمه الله هم ورسره متفق دی. لکن په داسي صفاتو کي چي په عرف کي په هغو سره یمین نه وي رواج لکه وعلم الله، ومشیة الله، وارادة الله جمهور وایي چي دا هم یمین دی. او ابو حنیفه رحمه الله وایي چي دا یمین نه دی لعدم جریان العرف بالیمین بها.

مسئله: که سړی وایي چي زما دي په قرآن قسم وي، دا یمین دی په نېز د ائمه ثلاثه وو. او امام اعظم رحمه الله وایي چي دا یمین نه دی لعدم العرف بالیمین بالقرآن.

درویش وایي: چي د امام اعظم رحمه الله عرف د خپل عصر مراد دی والا فالعرف الیوم جار بالحلف بالقرآن. ولهذا قال الامام ابن الهمام ان الیمین بالقرآن متعارف الآن فیکون یمیناً عند ابي حنیفه رحمه الله ایضاً کما هو عند الائمة الثلثة. ولي چي امام اعظم رحمه الله چي په قرآن قسم اخسته یمین نه باله خو علت یې عدم عرف وګانه، نو چي في الزمان الحاضر عرف په جاري سو، نو مانع د یمین والي زائل سو فهو یمین عنده ایضاً وعلی هذا الیمین بالمصحف فان المراد به القرآن نه صرف کاغذان.

مسئله: که چا وویل چي زما دي قسم وي په کعبه شریفه او یا زما دي قسم وي په نبي علیه السلام دا یمین نه دی او نه پر ده کفاره سته په نېز د امام اعظم رحمه الله، او امام شافعي، امام مالک او امام احمد په مشهور روایت کي دده وایي چي قسم بالنبي یمین دی، زموږ دلیل دادی چي ابن عمر رضي الله عنه وایي "من حلف بغیر الله فقد اشرک رواه ابو داؤد"

درویش وایي: چي مراد په حدیث مذکور کي تشدید دی په حلف بغیر الله کي لا انه مشرک حقیقةً والله اعلم صاحب هدایه وایي چي عدم یمین والی په دي صورت کي دی چي والنبی وایي، او که یې داسي وویل که ما دا کار وکړی، نو زه بېزاره یم د نبي علیه السلام څخه او یا زه بېزاره یم له کعبې مبارکې څخه او یا به زه یهودي یم یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کافر یا نصارٰی یم یکون یمیناً انتهی بحذف بعض.

مسئله: که چا داسې ووېل چې پر ما د غوښو مثلاً خوراک حرام دی که ما دا فلانی کار وکړی، زمونږ په نیز یمین دی خلافاً للشافعي، زمونږ دلیل دا دی چې علیه الصلوٰة والسلام ماریه رضي الله عنها او شرب العسل پر ځان حرام کړي وه، فنزل قوله تعالٰی "یا ایها النبي لم تحرم ما احل الله لک قد فرض الله لکم تحلة ایمانکم کما في البخاري والمسلم" نو خدای پاک په دې آیت کې تحریم الحلال یمین وباله او علیه الصلوٰة والسلام قسم پر ځان مات کړی او کفاره یې ورکړه.

پوښتنه: که یو چا داسې ووېل چې پر ما یې د دنیا خواږه حرام که زه دا فلانی کار وکړم، آیا دا یمین دی او که څرنګه؟

ځواب: هو! دا یمین دی، ولې چې د مؤمن له حال څخه دا فهمېږي چې دده مراد د دنیا له خوږو څخه حلال شیان دي، نو ده یو حلال په تحریم سره چې یمین غوټه کېږي، نو د ټولو محللاتو په تحریم سره به ولې نه وي، او بعض خلګ چې وایي چې مراد د ماینه خطاوتلی دی. ولې چې دې سړي خو لفظ د جمع استعمال کړی دی ولې چې په پښتو کې خواږه جمع د خوږ ده، نو څرنګه به یوازې مراد ماینه وي فافهم فانه سانح عزیز.

مسئله: که یو سړي داسې ووېل که ما دا فلانی کار کړی وي یعني في الماضي نو زه یې یهودي او یا زه له اسلام څخه بېزاره یم، او هغه کار یې کړی و، نو دا یمین غموس دی په نیز د ابي حنیفه رحمه الله او کفاره نسته باندي البته ګناه کبیره ده. صاحب الهدایه وایي چې صحیح داده که دده په خیال یمین و نو کفاره نسته باندي، ولې دا خو الفاظ د یمین نه دي او دده ګمان غلط دی او که دده خیال دا و چې په داسې یمین سړی کافر کېږي، نو کافر دی لانه رضي بالکفر، ابو داؤد او نسائي او ابن ماجه له بریده رضي الله عنه څخه روایت کړی دی ده ووېل چې رسول الله ﷺ ووېل چې اني بریئ عن الاسلام یعني في الفعل الماضي بان قال ان فعلت فان کاذباً یعني هغه یې کړی و فهو کما قال یعني له اسلام څخه خارج سو، وان کان صادقاً یعني هغه کار یې نه وو کړی لن یرجع الی الاسلام سالماً، اسلام ته هرګز سالم نه سي راتلای، ولې داسې استعمالول ګناه، یعني البرائة عن الاسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: که سړي کړی فعل قسم په صیغه د ماضي او جوت يې کړی په نامه د خدای او یا يې يو صفت د خدای ﷻ داسي وويل اقسمت بالله او حلفت بالله او شهدت بالله او عزمت بالله لافعلن كذا زه به فلانی کار کوم فهو یمین منعقدة بلا خلاف وعليه الكفارة ان حنث، او که يې په صيغه د مضارع وويل بان قال اقسم بالله او احلف بالله فهو یمین عند ابي حنيفه واحمد وعند الشافعي لايكون يميناً الا بالنية، ولي چي احتمال سته چي دده دي مراد له استقبال څخه وعده بالقسم غرض وي. او احناف وايي چي فعل مضارع خو حقيقت ده په زمان حال کي او مجاز په استقبال د وعد بالقسم احتمال نسته نو حلف دی بالفعل، البته که سین او سوف يې ورسره ووايه، نو وعد بالقسم ده فافهم.

فَكَفَّارَتُهُۥٓ إِطۡعَامُ عَشَرَةِ مَسَٰكِينَ

نو کفاره د ماعقدتم الايمان يا كفارة د معقود الايمان والشرط محذوف ای اذا حنثتم او نقضتم.

پوه سه: چي د کفاره معنی داده چي دا پټوي ګناه د قسم ويذهب اثمها يعني ګناه د حانث يې پورته کړه دودی. ورکول دي لسو مسکینانو ته.

پوه سه: چي په نبز د امام اعظم رحمه الله كفارة قبل الحنث نه روا يعني يو وار به سړی ځان حانثوي او بيا به کفاره د دجهت چي کفاره ګناه پټوي ګناه حنث دی چي حالف دی یو ورر ګناه وکړي چي حنث وروسته ته دي هغه په کفاره پټه کړي او په حدیث کي هم راغلي دي "من حلف علي يمين وری غيرها خيراً فليات بالذي هو خير ثم يكفر عن يمينه" ترجمه که چا قسم واخستی پر يمين باندي، پوه سه! چي مراد له يمين څخه محلوف عليه فعل دی او بيا د حالف په خيال کي غير د محلوف عليه خير ورغلی.

پوه سه: چي ضمير مؤنث د غيرها راجع دی و يمين ته چي هغه مؤنث سماعي دی نو دی راتګ وکړی په هغه کار سره چي خير دی يعني په قسم کي ځان حانث کړي او وروسته دي کفاره د يمين ورکړي مثلاً سړی د ورور سره جنګ وکړي، نو ده قسم واخستی چي زه به ستاسره په ژوند وصله رحمي نه وکړم او يا به پر يوه کاسه او ستر خان ډوډی درسره وخورم الی غير ذالک نو دا سړی دي ځان حانث کړی او بيا دي کفاره د يمين ورکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: لس مسکینانو ته اطعام عام که پر وجه د تملیک وي چي هر مسکین ته نصف صاع د غنمو ورکړي او پر ډول د اباحت وي چي لس مسکینان غرمه او ماښام مېلمانه کړي هرڅونده چي یې وخوړل او څانونه یې ماړه کړه د کفارې غاړي یې خلاصي سوې هذا عند ابي حنيفة رحمه الله، او امام شافعي رحمه الله وایي چي تملیک شرط دی کفارة اليمين قیاسوي پر صدقة الفطر او زکوة باندي چي په هغو خواه مخواه تملیک غواړي او په اباحت یې غاړي نه خلاصېږي، موږ وایو دا قیاس مع الفارق دی. ولي په زکوة کي د ایتا لفظ راغلی دی یعني آتو الزكوة او په صدقة الفطر کي د ادا لفظ راغلی دی یعني في قوله ﷺ ادوا عن آه او اتیان او ادا بېله تملیکه نه حاصلېږي یعني اباحت ته آدا او ایتا نه ویل کېږي. او په کفاره کي خو لفظ د اطعام راغلی دی اطعام تملیک او اباحت دواړو ته شامل دی. بلکي ظاهره ترجمه د اطعام خو جعل الغير طاعماً وهو في الاباحة لكن تمليك بالاجماع روا دی ولهذا قال الحنيفية بالامرين.

فائده: د حضرت علي رضي الله عنه څخه روایت دی په تفسیر کي د دې آیت "اطعام عشرة مساكين" چي غرمه او ماښام به ډوډی ورکوي "ان شئت خبزاً او لحماً او خبزاً وزيتاً او خبزاً وسمناً او خبزاً و تمراً انتهى.

درویش وایي: چي دا قول د حضرت علي رضي الله عنه بیان د ماهو الاولی دی ورنه اصلي **مسئله** کفارة پر طریقه د اباحت داده چي په ماسوی د غنمو د ډوډی خو حتماً یوادم شرط دی تاچي مسکین څان ښه په موړ کړي لکه اورشینه تیکله او یا جوایني پتیري په خوړو خو به یې ادام سرې څان نه سي مړولای او د غنمو په ډوډی که ادام متعارف و، نو خو په ډوډی سره خوړل کېږي لکه غوښي. سرکه. دوښا وغیره لمن المواد مة وهو الموافقة. نو ورجي ادام نه لري.

مسئله: که په لسو مسکینانو کي یو داسي کوچنی پکښې وچي تازه د ډوډی پر خوراک راغلی و هغه نه دی حساب، ولي هغه پر یوه څای خېټه نه سي ډکولای بلکي لږ لږ خوري مګر ډېر وارونه.

فائده: که یې یوه مسکین ته لس ورځي ډوډی ورکړه په نېز د امام اعظم رحمه الله روا ده. او که یې یوه مسکین ته په یوه ورځ پر طریقه د اباحت ډوډی ورکړه د یوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورځي په ځای کي دربېږي. ولي چي يوه ورځ لس واره ډوډۍ خوک نه سي خوړلای او که يې پر طريقه د تمليک د لسو ورځو کفارة ورکړه، بعض علماً وايي صحيح کېږي او که يې و يوه مسکين ته د لسو مسکينانو طعام ورکړی پر يوه ځای که څه هم تمليکاً وي د يوې ورځي غاړي په خلاصېږي وهذا کله عند الامام الاعظم رحمه الله ع،... وللناس فيما يعشقون مذاهب. اشارة الى اختلاف المذاهب.

يوه سه: چي د هر مسکين لپاره په نېز د امام اعظم رحمه الله نصف صاع من بر او صاع من شعير او تمر وهو قول الشعبي والنخعي وهو قول علماً العراق ايضاً وقول سعيد بن جبير ومجاهد ايضاً.

فائده: ورکړه د قيمت د غنمو من الدراهم والدنانير روا ده په نېز د ابو حنيفه رحمه الله خلافاً لغيرة من الائمة.

مسئله: که يې کفاره و اهل ذمه وو ته ورکړه د امام اعظم رحمه الله په نېز روا ده ولي چي آيت د اطعام مطلق دی و لقوله تعالى لاينهاكم الله عن الذين لم يقاتلوكم في الذين الآية. او په نېز د جمهورو نه روا قياساً على الزكوة لانه لايجوز صرف الزكوة الى ذمي اجماعاً ونحن نقول ليس هٰ قياس جامع.

مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ

له منځني څخه د هغه طعام چي تاسي خپل اهل ته ورکوئ يعني الاولاد والزوجات والخدم وغيرهم.

يوه سه: چي بغوي رحمه الله د تعجب ور تفسير کوي چي وايي اى من خير قوة عيالکم وهذا بعيد من لفظ الاوسط. والصحيح ما قيل المراد المتوسط في الکيفية لا اعلى ولا ادنى. مثلاً يو چاته چي معزز گران ميلمه راسي ورجي غوښي پوډين د چرگانو د غوښو غوړمه ورجوړه وي او چي يو ميانه ميلمه ورته راسي صرف غوښي او ورجي په مهماني کي ورکوي او دده خپل د کور او عيال غالباً خوراک ښوروا وي. نو فقرا ته چي يې ورکوي دا دده عمومي خوراک دی په کفاره ورکړه کي.

سوال: دده عمومي خوراک خو ادنی دی؟

ځواب: دغه دده د کور خوراک خو په دې متوسط دی چي دده د درمياني حال سره برابر دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دا آیت دلیل دی د مذهب د ابو حنیفه رحمه الله چې اطعام پر وجه د اباحت هم روا دی یعنې تملیک نه دی ضروري کما قال غیره.

فائده: روح البیان او مظهري وایي چې من اوسط په محل کې د نصب دی یعنې صفت مفعول مطلق دی والتقدیر ان تطعموا عشرة مساکین طعاماً من اوسط آه.

أَوۡ كِسۡوَتُهُمۡ

او یا کالي د لسو مسکینانو عطف دی پر اطعام باندې.

پوه سه: چې مذهب د ابو حنیفه او د ابي یوسف دادی چې ادنی د کسوة دادی چې اکثر د بدن یې په پټ وي لکه قمیص او پرتوګ یا قمیص او لنګ نو یوازې پرتوګ په کفاره نه دی کافي که څه هم لمونځ پکښې روا دی، ولې په عرف کې چې سړي یوازې پرتوګ اغوستی وي خلګ یې لڅ بولي او لنګوټه او زخچینه صدری وغیره په کفاره کې نه دی شرط او په نېز د امام مالک او امام احمد او امام محمد رحمهم الله ادنی کسوة هغه دی چې لمونځ پکښې روا وي نو د نر لپاره یو پرتوګ فقط او یا یو لنګ فقط او یا اوږد قمیص کافي دی.

پوه سه: چې د اوږد قمیص قید درویش له ځانه وروایه، ولې چې په عصر حاضر کې د نرانو قمیصان د کوناټو تر منځه پوري وي چې په هغو کې لمونځ نه دی روا، او امام شافعي رحمه الله وایي چې په کفاره کې ادنی مایطلق علیه اسم الکسوة کافي دی نو دده په نېز یوازې لنګوټه یا یوازې لنګ یا یوازې قمیص هم کافي دی که څه هم په دغو ملبوساتو کې لمونځ نه وي روا او په یوازې خولۍ کې دده د اهل مذهب اختلاف دی چې کافي ده او که نه.

أَوۡ تَحۡرِيرُ رَقَبَةٖ

یا اعتاق دی د مریي یا بنځې.

پوه سه: چې په نېز د امام اعظم رحمه الله په کفارة یمین او ظهار کې رقبه کافرة هم روا ده لاطلاق النص فیهما بخلاف کفارة القتل خطأً، ولې چې هغه مقید ده په مؤمنه سره بالنص او د امام شافعي رحمه الله په نېز په کفاره یمین او ظهار کې هم رقبة کافره نه ده کافي، دی قیاسوي پر کفارة القتل باندې موږ وایو چې مطلق دی پر خپل اطلاق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جاري وي، او مقيد دی پر خپل تقيد كذا في الهداية وفي كتب اصول الفقه.
فائده: كلمه د "او" په خصال ثلثه وو كي د كفارة اليمين يعني اطعام او كسوة او تحرير رقبة كي لپاره د تخيير ده يعني حالف حانث اختيار لري هر يو ه چي ورکوي كما ورد في الحديث الصحيح النبوي ﷺ چي ابن عباس رضي الله عنه وايي چي څه وخت چي آيت د كفارة اليمين نازل سو، نو حذيفه رضي الله عنه وويل يا رسول الله ﷺ نحن بالخيار قال انت بالخيار ان شئت كسوت وان شئت اطعمت وان شئت احررت او كما قال رسول الله ﷺ.

فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ

او كه حالف حانث نه درلودی هيڅ شي د امور ثلثه وو څخه يعني عاجزه و دومره دده مال وچي د كور او عيال خرڅه يې كړي يا پوره نه پر باندي بالاسي چي اطعام فقرا ته يا كسوت وركړي او نه ده د ازادولو د مريي طاقت درلودی، او بعض فقها وايي چي كه حالف دومره مال درلودی چي دا ممكنه وه چي اطعام يا كسوت د فقراو يې كولای سوه او يا مريي په رانيسي او ازاد يې كړي كه څه هم د عيال خرڅه نه سي وربا ته هغه عاجزه نه دی، ولي چي د عيال د خرڅ لپاره به مزدوري وكړي و هو قول الحسن البصري وسعيد بن جبير.
مسئله: حلف كه مريي واخلي او حانث سي د هغه پوازي روژې كفاره دي، ولي چي دی قادر پر اطعام يا اكسا يا تحرير قادر لان جميع مافي يده للمولى ولاملك له على كل شئ او كه مالک دده څواني ورسره وكړي او دده يو د امور ثلثه وكړي د مريي غاړي نه په خلاصېږي كذا في المستسعى من كتب الفقه.
فائده: كه مريي حالف حانث په روژو پيل وكړی روژې يې نه وي پوره كړي چي بادار آزاد كړی او هم يې مال پيدا كړی چي قدرت پر امور ثلثه وو ورته موجود و، كفارة مالي ده.

فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ

نو پر دې عاجز باندي درې روژې نيول لازم دی.
يو سه: چي "صيام ثلثة ايام" د مبتدا محذوفي خبر دی ای فكفارته طعام الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والجملة جزا لقوله "فان لم يجد آه"

پوه سه: چي په نېز د امام مالك رحمه الله پرله پسې روژې نيول واجب نه دي، ولې چې بعض مطلق دي بل كه تتابع مستحب ده او د امام شافعي رحمه الله هم داغه مذهب دي او په نېز د امام اعظم او امام احمد تتابع شرط ده، امام اعظم رحمه الله دليل په دې وايي چي په قرآئت كي د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه داسي راغلي دي "فصيام ثلثة ايام متتابعات" او دا قرائت مشهور دی نو قيد د مطلق نص په صحيح دی.

مسئله: فقهاً وايي چي بعض داسي قسمونه سته چي پر حالف باندې مراعات فرض وي لكه سړی چي قسم واخلي چي لمونځ به په قصده نه قضا كوم مثلاً.

سوال: لمونځ خو فرض دی، نو د قسم څه فائده ده؟

ځواب: د قسم فائده يې تاكيد دی او بعض داسي قسمونه هم سته چي پر حالف يې حنث او كفاره لازمه ده لكه يو سړی چي قسم واخلي چي زه زنی كوم يا به لمونځ نه كوم مثلاً پر هغه فرض ده چي ځان دي حانث كړي او كفاره دي وركړي، وفي الحديث "من حلف ان يطيع الله فليطعه" يعني ځان دي حانثوي "ومن ان يعصيه فلا يعصيه" يعني ځان دي حانث كړي. او په قسمو كي كه حنث افضل وي لكه قسم پر هجران د مسلم حنث افضل دی، او پر ته له دغو درو قسمو څخه چي حنث او بر پكښي برابر وي ځان نه حانثول افضل دی لتعظيم اسم الله الذي حلف به.

مسئله: په وجوب كي د كفارې كه له سړي څخه په هېره قسم مات سي او كه څوک په زوره قسم په مات كړي سره برابر دي.

ذٰلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ ۚ

اى المذكور في ماقبل كفارة د قسمو ستاسي چي تاسي حلف او قسم واخلئ والمراد وحنثتم.

پوه سه: چي د كفارې وجوب خو په اجماع بعد الحنث دی لكن په دې كي اختلاف دی چي كفاره قبل الحنث روا ده او كه نه، امام شافعي او امام احمد په دغه آيت سره دليل وايي چي كفاره قبل الحنث روا ده، ولې چي په دې آيت كي يې د كفارې نسبت و ايمانو ته كړی دی و حنث ته يې نه دی كړی، او اضافت دليل دی د سببيت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د مضاف اليه لره مثل صلوة الظهر . نو دا معلومه سوه چي ايمان سبب د وجوب د كفارې دى البته وجوب الاداً بعد الحنث ده ، وهذا قول احمد ومالک والشافعي في القديم ، وعند الامام الاعظم رحمه الله نه ده روا دمخه كول د كفارې پر حنث باندي مطلقاً كه مالي وي لكه اطعام او كسوة او كه روژې وي ، دى وايي چي سبب د كفارې خو حنث دى چي گناه ده چي تعظيم د اسم الله يې نه وكړى دون نفس اليمين لان لفظ الكفارة ينبئ عن ستر الذنب وانما الذنب في الحنث دون اليمين.

وَاحْفَظُوٓا اَيْمَانَكُمْ

پوه سه: چي بعض مفسران وايي چي مراد له حفظ اليمين څخه دا دى چي تاسي پر هر شي قسمونه مه اخلئ چي دا د آدب سره د اسم الله خلاف دى ، او بعض مفسرين وايي چي قسم چي دي واخستي نو بې رعايت كوه يعني ځان مه حانثوه په شرط د دې چي دوام د يمين مفضي و ترک ته د خير نه وي لكه ترک د صلة الرحم كما حلف ابوبكر رضي الله عنه في قصة اتهام بنته عائشة رضي الله عنها بالزنى كما سيجئ في القرآن على مسطح ابن خالته الذي ينفق عليه لكونه مسكيناً مهاجراً بدرياً بسبب ان مسطح ايضاً كابن ابي والمنافقين كلهم اتخذ سهماً في اتهام عائشة رضي الله عنها بالزنى مع صفوان فلما اظهر الله تعالى برائة عائشة من الزنى في ثمانية عشر آية كما سوف يجئ تمام القصة في سورة النور من الجزء الثامن عشر . چي د صديقة عائشة بن ابي بكر الصديق رضي الله عنها برائت په قرآن سره ښكاره سو ، نو ابوبكر الصديق وويل والله لا انفق على مسطح ابداً فنزل قوله في تلک السورة "ولا ياتل الو الفضل والسعة ان يؤتوا اولى القربى والمساكين والمهاجرين في سبيل الله وليعفوا وليصفحوا الا تحبون ان يغفر الله لكم والله غفور رحيم" د آيت تفسير: قسم دي اخلي خاوندان د فضل يعني د ښو صفاتو چي مراد ځني ابوبكر رضي الله عنه او خاوندان د فراخى د رزق دي چي هم ابوبكر ځني مراد و له دې څخه چي وركوي و اقرباؤ ، مساكينو او مهاجرينو ته په لاره كي د خداى رضي الله عنه .

دروش وايي: چي په آيت مذكوره كي لفظ د جمع راغلى دى لكن مراد ځني مسطح ابن خالة ابوبكر رضي الله عنه دى . او تاسي عفوه ورته وكړئ او دده له ناوړه كار څخه چي اتهام د عائشي رضي الله عنها و په زنا سره مخ واړوئ او ستاسي نه ده خوښه چي خداى و تاسي ته بخښه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړي او خدای ﷻ غفور او رحیم دی، دا آیت چي ابوبکر ﷛ واوریدی وه یې ویل بلی احب ذالک یعني مغفرت د خدای ﷻ مي خوښ دی، او وه یې ویل چي قسم په خدای ﷻ دی که زه د مسطح انفاق منع کړم ابداً، نو ابوبکر په دغه قسم کي ځان حانث کړی او انفاق یې بیرته جاري وساتی او کفاره د یمین یې ورکړه.

درویش وایي: چي زما غرض دغه جزآ خیر و چي ابوبکر ﷛ د خیر له کاره چي صله رحمي وه د مسطح سره قسم اخستی و لکن ځان یې حانث کړی او کفاره یې ورکړه.

كَذٰلِكَ يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾

دغه رنګه لکه خدای ﷻ چي بیان کړي دي وتاسي ته احکام د خپل دین مبین اسلام ددې لپاره چي تاسي شکر ووایاست د نعمت د تعلیم د خدای ﷻ وتاسي ته چي په هغو نفع د دنیا او اخرت موجوده ده.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْاَنْصَابُ وَالْاَزْلَامُ رِجْسٌ

اې هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی ا دي شراب او قمار په هره نوع چي وي حتی د اختر په ورځو کي چي خلګ هګۍ سره جنګوي یا کتار کوي او روپۍ یې پر ایښي وي الی غیر ذالک من انواع القمار او بتان چي د عبادت لپاره تاسي درولي دي، کما في ماحول الکعبة في الجاهلیة.

یوه سه: چي انصاب جمع د نصب ده په زور د نون او په سکون د صاد، او هغه غشي چي تاسي په خیر او شر په معلوماوه چي پر یوه غشي به نوشته وه امرني ربي او پر بل به نوشته وه نهاني ربي او پر بل به نوشته وه انت مخیر.

یوه سه: چي په اهل جاهلیت کي به چي چا د سفر یا د تجارت یا د جنګ یا د نکاح د چا د لور یا خور سره الی غیر ذالک، نو د خیر او شر په ازلامو به یې معلوماوه. دا ازلام د کعبې د خادمانو په تصرف کي وه لکه چي تېره سوه چي پر یوه غشي به یو څه نوشته وه او پر بل به بل څه نوشته وه، نو دوی به پر هغه عمل کاوه.

فائده: په شریعت کي د ورته کارو لپاره مسلمانانو ته خدای او رسول استخاره ښوولې ده، لکن په اوسني زمانه کي د جاهلیت و کاروته ورته کارو لپاره کوډګر ملایان سته چي څوک ورسي چي زه د فلاني کار اراده لرم ته زما فال راوګوره دده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په کتاب کي يوه دائره نوشته وي په حساب د ابجد يا په حروفو د ابجد، وروسته بيا تفصيل ددې دائرې نوشته وي، نو کوډګر ملا و هغه ته ووايي چي سترګي پټي کړه او ددې دائرې پر يو ځای ګوته کښېږده هغه ګوته پر يوه علامه خوامخوا لګېږي، وروسته بيا ملا صاحب هغه تفصيل پسي ګوري او په هغه کي چي هر څه نوشته وه هغه بيان سائل د فال کوي.

يوه سه: چي د رجس معنا داده چي عقول سليمه بد ځني وړي او نفرت ځني کوي.

مِّنۡ عَمَلِ الشَّيۡطٰنِ فَاجۡتَنِبُوۡهُ لَعَلَّكُمۡ تُفۡلِحُوۡنَ۝

له عمل څخه د شيطان دي يعني شيطان دغه کارونه و خلګو ته ښائسته کوي نو پر هېز ځني وکړي ددې لپاره چي تاسي به خلاصون پيدا کړي ددغو عملو له جزا څخه په ورځ د قيامت.

سوال: ضمير د "فاجتنبوه" خو مفرد دی او مرجع يې ډېر شيان دي کمامر؟

ځواب: مفرد ضمير و رجس ته راجع دی چي هغه ټولو ته شامل دی.

سوال: رجس خو هم مفرد دی، نو حمل يې پر ځلورو شيانو څرنګه صحيح کېږي؟

ځواب: رجس خبر دی د يوازي خمر او د معطوفاتو د هر يوه خبر محذوف دی، او يا د "انما الخمر آه" سره مضاف محذوف دی، والتقدير "انما تعاطي الخمر الخ" نو رجس پر تعاطي محمول دی عطف المفرد علی المفرد.

درويش وايي: چي دا ځلورم آيت چي د شرابو په باره کي نازل سوی دی او تفصيل يې ددې تفسير په سورة بقره کي تېر سو، او حرمت قطعي د شرابو په سنه درې کي د هجرت وروسته تر غزا د احد نازل سوی دی.

يوه سه: چي خمر ام الخبائث دی حتی چي علما کرام په قسم سره وايي چي همېشه توب د شرابو پر ځنبلو تر مرګه پوري او ايمان به نه سي سره يو ځای، نسائي د عبد الرحمن بن الحارث څخه روايت کړی دی چي هغه وايي چي ما واورېده د عثمان بن عفان ﷺ څخه چي يو سړی تر تاسي دمخه امتو کي چي ډېر ښه د خدای ﷻ عبادت يې کاوه، نو يوې ګمراه ښځي وده ته قصد وکړی چي دغه عابد به زه ګمراه کوم، نو يې عابد ته مينځه ور واستوله چي ته راسه زموږ يوه موضوع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده ته به پکښي شاهد سي، نو عابد د ښځي سره رارهي سو. مینځي چي عابد په یوې دروازې ددننه کړی هغه به یې قلف کړی حتی چي عابد یې و یوې ښائستې ښځي ته ورساوه چي د هغې سره یو غلام ناست و. او د هغې ښځي و بغل ته د شرابو بوتل پروت و. نو هغې ښځي ورته وویل چي موږ ته د شاهدی لپاره نه یې راغوښتی بلکې ددې لپاره مو راغوښتی یې چي یا به زما سره زنی کوې او یا به دغه شراب څښې او یا به دغه غلام قتل کوې، عابد ورته وویل چي شراب راکړه وه به یې څښم، هغې چي شراب ورکړه عابد ته یې ښه خوند ورکړی، عابد ورته وویل چي ته یو ګړی ماته مهلت راکړه عابد چي د سکر درجې ته ورسېدی ښځي ته یې ور حمله کړه ښځه ورته پرېوتله عابد کلکه زنی ورسره وکړه، له زنی څخه چي فارغه سو هغې ورته وویل چي دغه غلام قتل کړه اخیر یې غلام هم په قتل کړی. نو هغې ښځي چي دی ښه ګمراه کړی د مینځي په لاس یې ورکړی او دروازې یې تولي ورخلاصي کړې دباندي یې وشاړه انتهی مع زیادة.

فائده: ترمذي د عمر بن الخطاب ﷺ څخه داسي روایت کړی دی چي ده وویل "اللهم بین لنا في الخمر بیاناً شافیاً" خدایه ته موږ ته بیان وکړی په باره کي د شرابو داسي بیان چي زموږ د زړه شفا په وسي.

درویش وایي چي د عمر ﷺ غرض حرمت و، نو نازل سو هغه آیت چي په سورت بقره کي دی "یسئلونک عن الخمر والمیسر قل فیهما اثم کبیر ومنافع للناس واثمهما اکبر من نفعهما الآیة" علیه الصلوٰة والسلام عمر ﷺ راغوښتی دا آیت یې ورته تلاوت کړی چونکه په دې آیت کي یکلخته حرمت نه و، نو عمر ﷺ بیا وویل "اللهم بینا لنا في الخمر بیاناً شافیاً" نو بیا هغه آیت د سورة النسا نازل سو "یاایها الذین آمنوا لاتقربوا الصلوٰة وانتم سکاری الآیة" بیا عمر ﷺ راوبلل سو او علیه الصلوٰة والسلام دا آیت ورته تلاوت کړی چونکه دې آیت د عمر ﷺ د زړه مراد نه کي حاصل بیا عمر ﷺ وویل "اللهم بین لنا في الخمر بیاناً شافیاً" بیا دا آیت نازل سو چي په سورة مائده کي دی "انما یرید الشیطان الی قوله فهل انتم منتهون" فدعی عمر ﷺ فقرئت علیه فقال عمر ﷺ انتهینا انتهینا د عمر ﷺ د زړه مراد حاصل سو. او د شرابو حرمت ابدي نازل سو، او عمر ﷺ بیان شافي واورېدی فرضی الله تعالی عنه کیف طلب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مرار الامة المحمدية خلاصاً من الخبائث لکن درویش وایي چي اوس هم په بعض اسلامي مملکوتو کي یا پټي یا ښکاره شراب خاني سته چي بعض فساق او فجار ورځي خپل کورو ته یي راوړي او په کورو کي یي په مزه مزه څښي اللهم صبراً.

إِنَّمَا يُرِيدُ الشَّيْطَٰنُ أَن يُوقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَٰوَةَ وَالْبَغْضَآءَ فِي الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ

اراده نه لري شیطان مګر دا چي ستاسي تر منځ عداوت او بغض پیدا کړي لکه یو انصاري چي د سعد بن ابي وقاص ﷺ سر د اوښ په کرغښي ووا هه او سر یي ورمات کړی.

درویش وایي: چي دا قصه په تفسیر کي د سورت ددې کتاب په تفصیل تېره سوې ده. او په قمار کي ګاهي داسي اندازي ته یو سړی ورسېدی چي مال به یي تو له بایلوی آخیر به یي خور یا لور په خمار کي کښېښوله هغه به یي هم بایلول اخیر چي به دېر سوځتي سو د جانب مقابل سره په عداوت او بغض بلکي په جنګ به اخته سو.

پوه سه: چي "في الخمر آه" متعلق دی په "یوقع" پوري او د عداوت او بغضا په منځ کي فرق دا دی چي هر عدو مبغض دی او عکس کلي یي نسته او کلمه د في په معنی د با سببیه ده لکه په دې حدیث کي "ان امرئة دخلت النار في هرة ای بسبب ظلمها علی هرة بان ربطها حتی ماتت جوعاً"

پوښتنه: په اول آیت کي انصاب او ازلام خو هم راغلي وه، نو تخصیص په دې آیت کي ولي د خمر او میسر وکړی؟

ځواب: دا آیت خو خطاب دی په مؤمنینو پوري والمقصود نهیهم من الخمر والمیسر. ولي چي انصاب او ازلام د مؤمن له شانه څخه دی؟

سوال: انصاب او ازلام یي ولي ورسره ضم کړه سره ددې چي هغه خو له افعالو څخه د اهل جاهلیت وه؟

ځواب: لپاره د تاکید د قبح د خمر او میسر بمعنی ان هذه الاربعة متقاربة في القبح.

وَيَصُدَّكُمْ عَن ذِكْرِ اللَّهِ وَعَنِ الصَّلَوٰةِ

او هر یو له خمر او له میسر تاسي منع کوي له ذکر څخه د خدای ﷻ او له لمانځه څخه. نو ضمیر د یصدکم په تاویل د کل واحد راجع دی و خمر او میسر دوارو ته فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

یوه سه: چي "ویصدکم" اشاره ده و مفاسد دینیه وو ته د خمر او میسر، ولي سړی چي شراب وڅښي او سکر او لذت یې وزړه او دماغ ته ولاړ سي، نو دی په لذت کي غرق وي نو د خدای ﷻ له ذکر او لمانځه څخه غافله وي او نشه وي.

درویش وایي: چي د اوسنی زماني منشیات لکه چرس او هیروئین هم دغسي شان لري لکه د خمر، او دا کسان هم په نشه کي ډوب وي نه د خدای ﷻ ذکر کولای سي او نه لمونځ او دغه قمار والا که غالب سي د غلبې په لذت کي ډوب وي او هر ګړی هغه خپلي ګټلي روپۍ حسابي ذکر الله او لمانځه ته یې هیڅ فکر نه وي، او خمار والا مغلوب و نو دی په دې فکر کي ډوب وي چي څرنګه به یوه حیله جوړه کړي چي غالبه سي. ذکر الله او لمانځه ته په زړه او دماغ کي ځای نه لري ویدل علیه التجربة.

پوښتنه: لمونځ خو په ذکر الله کي داخل و، نو د لمانځه د تخصیص به څه فائده وي؟

ځواب: فائده د تخصیص یې تعظیم د لمانځ دی په دې معنا چي منع کونکي د لمانځه لکه منع کونکي د ایمان داسي دي لان الصلوة عماد الدین کما ورد في الحدیث الصحیح او لمونځ فرق دی په منځ کي د مؤمن او کافر قال رسول الله ﷺ بین العبد وبین الکفر ترک الصلوة رواه مسلم و ابو داؤد والترمذي وابن ماجه او احمد. له حدیث څخه د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه چي له نبي عليه السلام څخه یې روایت کړی دی چي علیه الصلوٰة والسلام یوه ورځ د لمانځه بیان کاوه، نو یې وویل که چا دوام پر لمانځه وکړی کان له نوراً وبرهاناً ونجاةً یوم القیامة" او که چا دوام پر لمانځه نه کاوه "لم یکن له نوراً ولانجاةً" او په ورځ د قیامت به د قارون او فرعون او هامان او د ابي بن خلف یعني چي د علیه الصلوٰة والسلام سره یې سخته دښمني وه په کفارو کي د مکې.

یوه سه: چي یوه واقعه د خمر په اشتغال کي د لمانځه دا هم ده چي یوه ورځ عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه مهماني جوړه کړې وه وروسته د ماز دیګر تر لمانځه، نو د ډوډۍ خوړلو وروسته یې شراب هم وڅښله چي هغه وخت شراب حرام نه وه، نو د ماښام د لمانځه په وخت کي چي یې یو صحابي مخته کړی د لمانځه لپاره نو هغه وویل "قل یا ایها الکافرون اعبد ماتعبدون" په حذف د لا کلمه په ټوله سورت کي یې وو ایه، ولي چي دده د شرابو نشه په سر کي وه، نو هغه آیت نازل سو یا ایها الذین آمنوا لاتقربوا الصلوة وانتم سکاریٰ.

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا ټوله قصه مفصله په تفسیر کي د دې سورت تېره سوې ده او اعاده یې له فائدې څخه خالي نه ده.

﴿فَهَلْ أَنتُم مُّنتَهُونَ ﴿٩١﴾﴾

آیا تاسي وروسته تر ذکر د مفاسد دینیه وو د شرابو نه نهي کېږئ د شرابو له څښلو څخه.

پوه سه: چي لفظ د استفهام نهي دی د شرابو له څښلو څخه په ډېره بلیغه وجه سره کما لایخفٰی.

فوائد شتّٰی: پوه سه چي یو سړی ووایي چي زه فلاني کار کوم او متصل پسي ووایي ان شآ الله تعالی حنث او کفاره نه پر لازمېږي، او که یو سړی ووایي که ما دا فلاني کار وکړی پر ما یې ماینه طلاقه او متصل پسي ووایي ان شآ الله طلاق نه لازمېږي که څه هم هغه وکړي، او که سړی ماینې ته ووایي چي پر ما طلاقه یې ان شآ الله تعالی طلاق نه واقع کېږي، او که یو سړی و بل ته ووایي چي ما دا شی پر تا په زر روپۍ خرڅ کړی چي ایجاب یې بولي، او هغه بل ورته ووایي چي زما قبول دی ان شآ الله تعالی، نو عقد نه سو لازم، او که سړی بل سړی مکره او مجبور کړي چي ماینه به طلاقوې، دی ورته وایي چي پر ما طلاقه ده ان شآ الله تعالی طلاق نه واقع کېږي، که یو سړی بل سړي ته وایي چي ما به په دعا کي نه هېروې، نو دی وعده ورسره وکړي چي نه دي هېروم ان شآ الله تعالی، نو د وعدې وفا نه پر لازمېږي، او که یو سړی و بل ته ووایي چي مابنام زما مېلمه یې، دی ورته وایي چي بنه دی ان شآ الله تعالی، او دی مابنام مهماني ته ور نه سي ګناه کار نه دی، او که یو سړی بل ته وایي چي ستا لور مثلاً په یوه لک روپۍ مهر ماته په نکاح راکړه دی ورته وایي چي درمي کړه ان شآ الله تعالی، نو عقد د نکاح نه غوټه کېږي.

درویش وایي: چي وعلی هذا فقس امثالي ماذکرنا، البته که چا و بل ته وویل چي ته مسلمان یې دی به ورته وایي هو مسلمان یم حقاً او ان شآ الله به نه ورسره وایي ولي چي په ایمان کي شک کفر دی، او بعض امامان صاحب المذاهب وایي چي ایمان خو په وخت کي د خاتمې معتبر دي، نو دا ان شآ الله ویل وفعلي ایمان ته راجع نه بلکې و خاتمې ته د ایمان راجع دی، والخاتمة مستورة لایعلمها الا الله ﷻ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَاحْذَرُوْا

او اطاعت وکړئ د خدای او د رسول د خدای ﷻ یعني په دې مورد کې د خمر او میسر او بل په امتثال کې د ټولو واجباتو او په اجتناب کې د ټولو منهیاتو. او تاسې ډېر ډېرئ له مخالفت څخه د خدای او د رسول.

فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۹۲﴾

او که تاسې روی گرداني او مخالفت وکړئ د خدای ﷻ له اوامرو څخه نو په دې پوه سئ چې نسبته پر رسول باندې زمونږ مگر تبلیغ د اوامر الٰهیه یعني پر رسول ﷺ دانده ده لازمه چې تاسې په حتماً پر اوامر الٰهیه مجبوره وي بلکې په ذمه کې د رسول بلاغ مبین دی وبس، او رسول کریم ﷺ خو خپله وظیفه پر وجه اتم و اکمل سره اجرا کړه او له عهده څخه د رسالت خلاص سو. او پر تاسې يې حجت قائم کړی او ستاسې عذرونه يې در قطع کړه. نو که ایمان نه راوړئ نو تاسې مستحق د اور یاست ابداً.

پوه سه: چې خدای پاک جوت کړه خمر او میسر له بتانو سره ففیه تحریم بلیغ في الخمر والمیسر، او شاید دا قول د علیه الصلوٰة والسلام شارب الخمر کعابد الوثن مستفاد من هذه الآیة. وفي الحدیث الصحیح لعن الخمر وشاربها وساقیها وبائعها ومبتاعها وعاصرها ومعتصرها وحاملها والمحمولة الیه واکل ثمنها وفي حدیث عن ابن عمر رضی الله عنه قال علیه الصلوٰة والسلام من شرب الخمر في الدنیا ثم لم یتب منها حرمها في الآخرة رواه البغوي، رسول الله ﷺ وویل که چا وڅښل شراب په دې دنیا او توبه يې نه وکښل له دې گناه څخه خدای ﷻ به حرام وگرځوي پر ده په آخرت کې، وروی الترمذي وابن ماجه عن ابن عباس رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من شرب الخمر لم یقبل الله له صلوٰة اربعین صباحا که چا شراب وڅښل خدای ﷻ يې نه قبلوي لمونځ څلوېښت ورځې فان تاب تاب الله علیه" که يې وبه وکښل خدای ﷻ يې توبه قبولوي فان عاد لم یقبل الله له صلوٰة اربعین یوماً فان تاب تاب الله علیه فان عاد لم یقبل الله له صلوٰة اربعین فان تاب تاب الله علیه فان عاد في الرابعة لم یقبل الله له صلوٰة اربعین صباحاً فان تاب لم یتب الله علیه وسقاه من نهر الخبال. د طینة الخبال یا نهر الخبال په بل حدیث کې د ابن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی عن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النبي ﷺ قال لا يدخل الجنة عاق ولا قمار ولا مد من خمر، عليه الصلوٰة والسلام وويل چي نه سي داخلېدای و جنت ته ازاري يعني يا د مور او پلار او يا د استاذ، او نه قمار يعني د پر خمارباز او نه همېشه څښونکی د شرابو. رواه الدارمي وعن ابن عمر رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ ثلث قد حرم الله عليهم الجنة مد من الخمر والعاق والديوث رواه احمد والنسائي عليه الصلوة والسلام وويل چي پر درو کسانو په تحقيق خدای ﷻ حرام کړی دی جنت، د شراب څښلو عادي او ازاري او ديوث هغه سړی چي ماینه يې زنی کوي او دی په خبر وي.

درويش وايي: چي تحريم د خمر او ميسر چي په هغه تشديد سره نازل سو لکه چي دړاندي تېره سوه، نو بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم وويل چي بعض زموږ وروڼه مسلمانان خو په داسي حال کي قتل سوه يا مړه سوه پر خپل فراش باندي او دوی څښل شراب او خوړلي يې د خمار روپۍ. او خدای پاک رجس ورته ووايه، نو د هغو مړو يا قتل سوو وروڼو حال به څه وي، چي شراب يې په نسو کي وه يا شهيدان يا مړه سوه فانزل الله تعالى هذه الآية.

لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيْمَا طَعِمُوْٓا

نسته پر هغو کسانو چي ايمان يې راوړی او اعمال صالحه يې هم کړي وه گناه په هغه شي چي څښلي يې وه شراب او يا يې خوړلي وه مال د ميسر يعني د مخه تر تحريم د خمر او ميسر.

اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاَحْسَنُوْا ۭ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۳﴾

هغه وخت چي دوی له شرک څخه ځان وساتي او ايمان راوړي پر خدای ﷻ په توحيد سره، او عملونه د صالحات هم وکړي وروسته بيا د آينده شراب الخمر والميسر څخه يعني بعد التحريم ځان وساتي او ايمان ولري پر تحريم د دغو دوو کارو، او احسان کوي د خلکو سره او يا تول عملونه پر طريقه د احسان کوي کما جآ في الحديث النبوي الطويل چي په يوه برخه کي د هغه داسي راغلي دي "الاحسان ان تعبد الله كانه تراه فان لم تكن تراه فانه يراک" او بعض مفسران وايي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

چې اوله تقوی له شرک څخه ده او دوهم تقوی د ټولو محرماتو څخه ده او دریم تقوی له شبهاتو څخه ده، او د خدای پاک محسنین بندګان خوښ دي.

درویش وایي: چې جلال الدین الرومي رحمه الله په خپل کتاب مثنوي معنوي کې د احسان په باره کې داسې خواږه ابیات راوړي دي.

محسنان مردند و احسانها بماند	ای خنک آن را که این مرکب براند
ظالمان مردند و ماند آن ظلمها	وایی جانی کو کند مکر و دهان
گفت پیغمبر خنک آن را که او	شد ز دنیا ماند ازو فعل نکو
مرد محسن مرد لیک احسانش نمرد	نزد یزدان دین واحسان نیست خرد
وای آن کو مرد و عصیانش نمرد	تانه پنداری بمرگ او جان ببرد

درویش وایي: چې دا بیتونه د هغه حدیث صحیح ترجمان دي "من سن في الاسلام سنةً حسنةً فله اجرها واجر من عمل بها الى يوم القيامة ومن سن في الاسلام سنةً سيئةً فله وزرها ووزر من عمل بها الى يوم القيامة.

حکایت غریبه: یو کال په بني اسرائیلو کې وچ کالي راغلې وه، نو یو فقیر د بني اسرائیلو یو کوڅې ته ورغلی او د یوه بخیل غني د کور و دروازې ته ودریدی او داسې یې وویل "تصدقوا علي لاجل الله" نو یوې نجلۍ د غني له کوره یوه بشپړه توده ډوډۍ ورته راوړه ایستل او فقیر ته یې ورکړه، که ګوري د دباندې له خوا څخه د نجلۍ پلار غني بخیل راغلی او فقیر ته یې وویل چې دا توده ډوډۍ تاته چا درکړه؟ فقیر ورته وویل چې له دغه کوره یو نجلۍ راوه ایستل، بخیل ډېر متاثر او په کور ورننوتی او خپل د لور راسته لاس یې وریړې کړی، نو دې غني ته خدای جل جلاله په غضب سو، څه لږ زمانه وروسته ډېر مسکین سو او مړ سو، او هغه لاس پرې کړې لور یې پاته سوه چې ښځله سوه ډېره ښائسته وه یو ځوان په نکاح کړه مابنام چې سترخوان راوړه سو ښځه او مېړه پر سترخوان سره کښېنستل، ښځې چپه لاس و ډوډۍ خوړلو ته وه ایستی، ځوان ورته وویل چې رښتیا ده چې د فقیرانو اولاد بې ادبه وي ځوان ورته وویل چې راسته لاس راوه باسه او په راسته لاس ډوډۍ خوره، ښځې د مېړه د منت سره سره دوهم او دریم وار هم چپه لاس راوه ایستی، نو په خونه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي هاتفي اواز وسو چي را وه باسه راسته لاس، ولي چي هغه خدای ﷻ چي تا د هغه پر نامه په کوچني والي دودی فقیر ته ورکړې وه هغه خدای ﷻ تا ته راسته لاس صحیح سالم درکړی، نو ښځي راسته لاس راوه ایستی او خپل مېړه ته یې ټوله قصه وکړه کذا في روح البیان.

یَاأَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لَیَبْلُوَنَّکُمُ اللَّهُ بِشَیْءٍ مِّنَ الصَّیْدِ تَنَالُهُ أَیْدِیکُمْ وَرِمَاحُکُمْ

اې هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی هر آئینه امتحان به وکړي ستاسي خدای ﷻ په یو لږ شي سره چي د داسي لویو کارو څخه نه دی چي د دوی پښه به پکښي وښویږي لکه ابتلاً په بذل الانفس والاموال سره له ښکار څخه چي خدای پاک به یې د ابتلاً لپاره تاسي ته دروستوي.

پوه سه: چي "من الصید" صفت دی د "شئ ای کائن من الصید چي وبه رسیږي هغه ته ستاسي لاسونه او نیزې یعني بعضو ته به ستاسي لاس رسیږي او بعضو ته به نیزې.

پوه سه: چي ابن ابي حاتم له مقاتل بن حبان رحمه الله څخه روایت کړی دی چي دا آیت په عمره کي د حدیبیې نازل سوی دی چي علیه الصلوٰة والسلام د څورلس یا پنځلس یا شپاړس سوه اصحابو رضي الله عنهم سره په نیت د عمرې د ذي القعدې په میاشت کي له مدینې منورې څخه را روان وه لکن د مکې کفارو د مکې و دخول ته پرې نه ښول، نو دوی په حدیبیه کي چي د یو ځای نوم دی ورته واړول او ټوله محرمان وه، نو وحشي حیوانات لکه هوسی، مرغان او نور د ښکار شیان به ددوی په خېمو کي ګرځېدله چي صحابه کرامو رضي الله عنهم دومره وحوش او طیور ګاهي نه وه لیدلي، نو علیه الصلوٰة والسلام دوی منع کړه له نیولو څخه په سبب د احرام.

درویش وایي: چي قصه د عمر الحدیبیة ډېره اوږده ده چي پنځپل ځای کي به راسي.

لِیَعْلَمَ اللَّهُ مَن یَخَافُهُ بِالْغَیْبِ

پوه سه: چي لام د "لیعلم" متعلق دی په "یبلوا" پوري ولي چي دغه ابتلاً ددې لپاره ده چي خدای ﷻ هغه کسان سره معلوم او جلا کړي چي د خدای ﷻ له عذابه بیرېږي، نو به ښکار نه کوي او هغه کسان چي له خدایه نه بیرېږي او ښکار وکړي.

پوښتنه: خدای ﷻ خو ازلاً خبر و، نو د "لیعلم الله" معنی به څه وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: ذکر خو علم دی او مراد ځني وقوع د معلوم ده. فالمعنى ليعلم الله وقوع الخائف موجوداً كما يعلمه قبل وجوده چي دې ته د منطقو په کتابو کي علم تفصيلي وايي.

درویش وايي: چي پوره تحقیق د علم د باري تعالى په شرحه کي د سلم للقاضي محمد مبارک مطالعه کړئ وقل من ياتي بمثل التحقيق المذكور.

بوه سه: چي "بالغيب" له "من" څخه حال دی ای متلبساً ذالک الخائف بالغيب ای من العذاب ای من العذاب المرتب او من الله سبحانه چي د نه دی ليدلی.

بوه سه: چي خدای ﷻ دا اعلام ددې لپاره ذکر کړه قبل الوقوع تاچي مسلمانان باخبره اوسي او د ښکار له معصيت څخه صبر وکړي د احرام په حال کي دا اخبار عين رحمت او کومک دی د مؤمنانو سره.

فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۹۴﴾

نو که تجاوز وکړي یعني ښکار وکړي وروسته تر دې چي دوی ته خدای ﷻ خبر ورکړي چي دا ابتلاء ده من الله، نو هغه لره عذاب دی دردونکی. ولي چي تجاوز کونکي په دې لږ شي کي مراعات د حکم د خدای ﷻ ونه کړي، نو دی به څېړي مراعات د حکم د خدای ﷻ وکړي له لويو کارو کي لکه جهاد في سبيل الله ببزل الاموال والانفس مثلاً.

فائده: مراد له "عذاب اليم" څخه عذاب د اخرت دی که يې توبه نه وکښل. او تعزير به هم ورکول کېږي په دنيا کي او کفاره د ښکار به هم ورکوي.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ

اې هغه کسانو چي ايمان يې راوړی دی تاسي مه وژنئ ښکار په داسي حال کي چي محرمان یاست په حج یا عمره کي یاست.

بوه سه: چي صيد هغه حيوان دی چي له خلکو څخه ځان ساتي او په اصل خلقت کي وحشي وي که څه هم په اعتبار د ډېر اعتياد د انسانانو سره وحشيت پرې ايښی وي لکه هوسی. چي له کوچني والي څخه په کور کي وساتل سي، نو هغه خپل خلقتي وحشت ترک کړي یعني که يې ايله کړي هم له کوره نه وځي، وامثال ذالک كثيرة لان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العارض قد علی من الطبع، نو که په خلقت کې ماکول اللحم وي لکه سوېان او د غره پسونه او که ماکول اللحم نه وي لکه پړانګان، زمریان او لوی فیلان. لکین امام اعظم رحمه الله وایي چې د صید له حکمه څخه وتلي دي هغه شیان چې په حدیث کې راغلي دي د هغو د قتل جواز لکه مار، لړم، موږک، حدات یعني ټپوس، کارګه والذئب العادي دون غیر العادي فیجوز قتل الکلب خصوصاً العقور والفهد هم حیوان صید دی او استئناس د خلګو سره عارضي لري، او بعض علماً وایي چې سپی صید نه دی وهو غیر متوحش بالطبع بلکې طبع یې استئناس د خلګو سره دی وبه قال ابو حنیفه رحمه الله، لکن امام اعظم رحمه الله هغه حیوانات څنې ایستلي دي یعنې صید یې نه بولي چې په حدیث شریف کې یې قتل روا سوی دی لکه مار، لړم، موږک، ټپوس او کارګه لکن هغه کارګه چې مراد ترې غوښې خوري دون غراب الزرع، او لېوه او هغه ځناور چې پر خلګو تجاوز او حمله کوي لکه پړانګ، زمری وغیرها، بخلاف غیر العادي لکه چغال ګیدړه فیجوز قتل الکلب خصوصاً خروړی سپی، او بعض خلګ وایي چې سپی صید دی د خلګو سره یې الفت عارضي دی، او بعض علماً وایي چې سپی صید نه دی لانه غیر متوحش بالطبع. او ابن الجوزي رحمه الله وایي چې مراد له کلب څخه مطلق سبع دی، ولې چې علیه الصلوٰة والسلام و عتبه ابن ابي لهب ته ښېرا وکړه په دې الفاظو سره «اللهم سلط علیه کلباً من کلابک» او پر هغه زمری مسلط سو. دا قصه مخته تېره سوې ده.

درویش وایي: چې په عقرب کې ټول اقسام داخل دي لکه غالبوزه، غونډک او اهلي پیشي ښکار نه ده عند ابي حنیفه رحمه الله لعدم وحشتها وغلط من قال هي متوحشة او الفت یې عارض دی.

مسئله: که یو محرم و بل ته د صید اشاره وکړه چې هغه محرم نه و، نو هغه هغه ځی ښکار کړی د قتل جزا سته پر محرم مشیر باندې، او یا یو سړی محرم و بل غیر محرم ته دلالت وکړي عنې داسې ولاړ سه: فلانې غره وشانه مثلاً هوسې ده ښکار یې کړه، نو د ښکار جزا پر دلالت کوونکي باندې ده.

مسئله: که محرم نه و صید ته اشاره وکړه او نه یې دلالت بلکې غیر محرم پخپله ولیدی او قتل یې کړی محرمانو ته یې د غوښو خوراک روا دی کما في حدیث ابي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قتاده ﷺ چي دی محرم نه و او د غره پسه یې ښکار کړی، نو نور ملګري يې چي محرمان وه هغه غوښي ورسره وخوړلې څه وخت چي دا موضوع و علیه الصلوٰة والسلام ته پېش سوه، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چي ستاسي محرمانو څخه يو چا امر ورکړی و ابو قتاده ﷺ ته او يا يې د ښکار اشاره ورته وکړه؟ خلګو ورته وویل یا، نو علیه الصلوٰة والسلام، نو علیه الصلوٰة والسلام و محرمانو ته وویل "فکلوا ما بقي من لحمها.

فائده: د مرغه هګۍ ماتول هم په ښکار کي داخل دی خلافاً لداوٗد الظاهري.

فائده: علماوٗ اجماع کړې ده که محرم ښکار وکړي او يا ښکار ذبح کړي حکم يې د میتة دی نه يې محرم ته خوراک روا دی او نه غیر محرم ته، او ثوري ﷺ او نور علما وايي چي و غیر محرم ته يې خوراک روا دی وهو مذهب الشافعية دوی يې پر ذبیحه د سارق قیاسوي لکن قیاس مع الفارق دی فتامل.

وَمَن قَتَلَهُۥ مِنكُم مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ ٱلنَّعَمِ

که چا ښکار قتل کړی له تاسي څخه چي موٗمن محرم ځني مراد دی په قصد سره.

پوه سه: چي د "متعمداً" د قید فائده داده چي که محرم په خطأ سره او يا يې احرام هېر و او يا چا مجبور کړی پر ښکار باندي، نو پر هغه جزأ د صید نسته وهو مذهب سعید بن جبیر ﷺ او ثوري ﷺ او ابو منذر له شافعیانو څخه او جمهور علمأ وايي چي جزأ د صید پر محرم سته سوأ قتله عامداً او ناسیاً.

مسئله: که محرم و ښکاري ته په خوله ښکار وروښوو او يا يې په لاس پر هغه محرم باندي جزأ د صید لازمه ده.

درویش وايي: چي په دې مبحث کي نوري مسئلې هم سته او اختلافات د مذاهبو هم سته چي ځای د تفصیل يې کتابونه د فقهي شریفي دي دا يو څو مسئلې چي درویش راوړې عملاً بقولهم مالایدرک کله لایترک کله.

وګفته اند مشت نمونه خروار است

فائده سنیه: محرم ته خو هیڅ ځای ښکار نه دی روا که په حدود کي د حرم وي او که خارج تر هغه چي په عربي يې حِل بولي، او غیر محرم سړی په حل کي ښکار کولای سي اما په حدود کي د حرم ښکار نه دی ورته روا، حدود د حرم د مشرق پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوا شپږ میله دی او د مغرب پر خوا دوولس میله دی او د شمال پر خوا اتلس میله دی او پر مقابل یې څلیرویشت میله دي هکذا الفقیه الحنفي ابوجعفر الطحاوي.

پوه سه: چې د جزاً لفظ مرفوع دی یا خبر د مبتدأ محذوفي دی والتقدیر فالواجب علیه جزاً، او یا مبتدأ د خبر یې جارومجرور مقدم علیه محذوف والتقدیر فعلیه جزاً آه وتقدیم الخبر لصحة ابتدائیة النکرة، او جمله تولـه خبر د "من" ده وایراد الفاً لتضمن من معنی الشرط.

پوه سه: چې "جزاً" چې په تنوین وایي او وروسته مثل چې رائحي هغه هم مرفوع وایي صفت یا بدل د جزاً یې بولي، او جمهور قاریان یې جزاً بې له تنوینه مضاف بولي ومثل ته اضافت څوک بیانیه او بعض وایي چې اضافت د مصدر و مفعول ته یعني فعلیه ان یجری مثل ماقتل.

پوه سه: چې د امام اعظم او امام ابو یوسف رح په نیز مراد له "مثل" څخه قیمت دی دوی چې مثل مطلق چې شریک په نوع کې د ښکار سره وي خو اجماعاً صورة ومعنی مراد نه دی، ولي خو باید د هوسی په ښکار کي هوسی لازم سي او د هر ښکار د نوع شي لازم سي دا خو اجماعاً نه دی مراد او نه صحیح دی، نو ضروري چې مراد له مثل څخه مثل معنوي وهو القیمة، او بل دلیل دادی چې هغه ښکار چې مثل صوري نه لري لکه چوغکه او ملخ او ډیک وغیره خو مثل صوري په نعم کې نسته، نو خو قیمت به ورکوي.

سوال: مراد په آیت کي دادی چې که ښکار مثل صوري نه درلودی په هغه کي به قیمت ورکوي؟

ځواب: دا خو یا جمع بین الحقیقة والمجاز ده او یا عموم المشترک دی وقد منع العلماً کلا منها.

پوه سه: چې "من النعم" د "مثل" بیان دی "من النعم ای الابل والبقر والغنم.

سوال: خدای پاک پخپله بیان د مثل په نعم سره وکړی او قیمت لکه امام ابوحنیفه رحمه الله چې یې لازم بولي هغه خو نعم نه دی، نو حنفیه به ددې ځواب څرنګه ورکوي؟

ځواب: هغه تقدیرات چې د علیه الصلوٰة والسلام له خوا او د صحابه وو رضي الله عنهم له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خوا ذکر سوي دي تو له په اعتبار د قیمت دي نه په اشتراک صوري ظاهري، مثلاً چي شترمرغ ښکار کړي، نو مثل صوري يې اوښ دی. نو به اوښ په فديه ورکوي بلکې واجب قيمت د شتر مرغ دی وهذا هو المنقول عن رسول الله ﷺ والصحابة الكرام ﷺ فالقيمة للصيد لازم في الفدية كما قال ابو حنيفة رحمه الله دون المثل الصوري كما قاله الائمة الآخرين رحمهم الله تعالى اجمعين.

درويش وايي: چي امام مظهري په دې ځای کي ډېري اوږدې خبري له يوې خوا او بلي خوا رانقل کړي دي لافائدة فيها الا التحير للمتعلم فيما هو المراد ان شئت مصداق ماقلت فطالع تفسيره.

يَحْكُمُ بِهِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ هَدْيًا بَالِغَ الْكَعْبَةِ

چي حکم وکړي په دې جزا او قيمت په نېز د ابي حنيفه او ابي يوسف رح او يا په مثل صوري سره عند المعتبرين للمثل الصورين كسائر الائمة، نو ضمير د "به" يا راجع وجزا ته ده يا مثل ته او جمله د "يحكم" چي په حکم د نکرې كسائر الجمل صفت ده د جزا او يا د مثل. ولي نحويين وايي چي لفظ مثل نه معرفه کېږي په اضافت سره، نو روا دی توصيف د مثل او د ما اضيف اليه په جمله سره او حکم کونکي دوه کسه صاحبان د عدالت دي.

تشريح: نو په نېز د ابوحنيفه او ابو يوسف دوه کسه عادلان دي و صيد ته قيمت کښېږدي، په هغه ځای کي چي ښکار سوی دی او هغه ځای يو بيابان وي چي نه ښکار خرڅېدی او نه رانيول کېدی، او و هغه نژدې ځای که قيمت ورته کښېږدي. نو که يې قيمت د صيد رسېدی چي پسه يا غويي وغيره په رانيول کېدی، نو ښکاري اختيار لري يا دي هغه نعم په رانيسي چي په قيمت د صيد رانيول کېږي، نو دې حرم ته واستوي چي هوري ذبح او خيرات سي او که په قيمت د صيد غنم يا خرما وغيره رانيسي او هر مسکين ته نصف صاع د غنمو ورکوي او يا پوره صاع د خورما يا د اوربشو ورکوي، او يا روژې نيسي په اندازه د طعام د هر مسکين هر څو روژې چي سوې او که له قيمت څخه د صيد لږڅه بالاسوه چي طعام مسکين ته نه رسېدی يعني نصف صاع ته هغه دي خيرات کړي او يا دي د هغه په ځای کي يوه کامله روژه ونيسي، ولي چي صوم شرعي تبعيض نه قبلوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا وو تشریح د مذهب د ابو حنیفه او ابو یوسف کما بین في الهدایة ورد المحتار وغیرهما من کتب المذهب الحنیفي.

پوه سه: چي هدیاً حال دی له ضمیر څخه د "به" چي راجع و جزا یا مثل ته. والمعنی هغه هدیاوي چي رسېږي به وکعبي مبارکي ته یعني هوري به ذبح کېږي او پر مساکینو د کعبې مبارکي به تقسیم کېږي.

پوه سه: چي امام شافعي رحمه الله وایي چي لفظ هدیا مذهب د ابو حنیفه رحمه الله ردوي چي دی وایي چي قیمت د صید لازم دی. ولي قیمت خو هدیه نه ده؟

ځواب: د امام اعظم رحمه الله خو دا مراد نه دی چي قیمت هدیه ده بلکې په قیمت د صید به یا پسه یا غویی یا اوښ رانیسي او هغه به هدیه وګرځوي. نو قیمت ته هدیه ویل مجاز باعتبار مایؤل الیه دی وهذا المجاز غیر عزیز في العربیة کما في قوله تعالی "اني اراني اعصر خمراً في سورة یوسف وکما في قوله علیه الصلوة والسلام "من قتل قتیلاً فله سلبه" او یا دي هدیاً حال مقدره وي ای مقدرا کون القیمة هدیا کما في قوله تعالی "فادخلوها خالدین" لان الخلود لایکون وقت الدخول بل مقدرة في وقت الدخول. بالغ الکعبة صفت دی د "هدیاً".

سوال: هدیاً خو نکره دی او بالغ الکعبة په اضافت ومعرفې ته معرفت دی؟

ځواب: اضافت په بالغ الکعبة کي اضافت لفظي دی فلا یفید التعریف کما تقرر في النحو.

فائده: دا نه ده لازمه چي عین کعبې ته به هدیه رسوي بلکې بالغ الکعبة یې صرف ددې لپاره وواېه چي د هدیې د ذبح شرط حرم دی هر ځای چي وي په حرم کي داخل یعني خارج تر حدود د حرام به یې نه ذبح کوي.

مسئله: د هدیې غوښې به خامخوا د حرم پر مساکینو ویشي. جمهور علما وایي چي دا تقسیم واجب دی. ولي چي د بلوغ و کعبې ته دا فهمېږي چي غوښې به یې مساکینو ته د حرم ورکول کېږي. او امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله وایي چي تقسیم پر مساکینو د حرم نه دی واجب بل یتصدق علی المساکین في الحرم وغیره حسب مشیته، امام رحمه الله وایي چي چي ذبح عبادة غیر معقوله ده. نو رعایت د مکان چي حرم دی پکښې شرط دی حتی من ذبح الهدی خارج الحرم

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

لا يجوز واما التصدق باللحم فعبادة معقولة ولا دليل على تخصيص مساكين الحرم كذا في كتب فقها مذهبنا رحمهم الله تعالى.

اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ

او يا كفاره د طعام د مساكينو.

يوه سه: چي "او كفارة آه" عطف دى پر "جزا" او د ابن عامر او د نافع قرائت په اضافت د كفاره دى و طعام ته يعني كفاره تنوين نه لري، او د طعام لفظ مجرور دى او نور قرا "كفارة" په تنوين وايي او طعام په رفع سره يا عطف بيان دى كفاره او يا يې بدل دى.

فائده: كلمه د "او" لپاره د تخيير ده يعني ښكار كونكى اختيار لري كه مثل ماقتل من النعم وركوي په معنى مذكور من قبل سره چي په قيمت د ښكاو كه نعم كيدى نو كه نعم وركوي بالغ الكعبة او يا په مقدار د قيمت د ښكار غنم رانيسي او نصف ساع و مساكينو ته وركوي او يا په هغه اندازه روژې نيسي، او دا تخيير دده لپاره تخفيف پر جاني. او امام شعبي او نخعي وايي چي په جزا كي د صيد ترتيب مذكور في القرآن شرط دى.

اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ

او يا برابر د طعام سره د مساكينو دي روژې ونيسي، لكن په دې كي اختلاف دى چي مقدار د طعام د يوه مسكين څو دى، امام اعظم رحمه الله وايي چي مقدار يې نصف صاع ده من بر او يا يوه صاع د اوربشو او يا د خورما. لكه دده رحمه الله چي په صدقة الفطر كي دغه مذهب دى، او نوري كفارات يې تولي پر قياس كړي دي، او د امام شافعي رحمه الله په نبز يو مُد د هر مسكين طعام او په كفاره يمين او د ظهار او په كفارة الصوم كي هم د امام شافعي رحمه الله داغه مذهب دى.

يوه سه: چي لام د "ليذوق" متعلق دى په محذوف پوري يعني اوجبنا ذالك الجزا او الكفارة ليذوق الجاني يعني ورسېږي جاني ښكاري ته درندوالى د خپل او بد عاقبت د ښكار كولو چي د تجاوز وكړي له نهي څخه د ښكار چي خداى جل جلاله منعه كړي وو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: اصل وبال ثقل ته وایي کما في هذه المحاورة طعام وبیل ای ثقیل وکما في القرآن اخذناه اخذاً وبیلاً ای ثقیلاً.

عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ۚ وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ۚ وَاللّٰهُ عَزِيزٌ ذُو انْتِقَامٍ ﴿٩٥﴾

خدای ﷻ عفوه وکړه چي دمخه د ښکار د صید کاوه یعني في الجاهلیة او قبل التحریم او في هذه المرة، او که څوک اعاده وکړي ودې محرم کار ته یعني قتل الصید، نو به خدای ﷻ کسات واخلي له ده څخه په ورکولو سره د جزآ مذکور ثانیاً او که یې جزآ ورنه کړه نو خدای ﷻ به عذاب في الآخرة ورکړي او خدای غالب دی انتقام د هر هغه چا اخستای سي چي پر معصیت باندې دوام وکړي.

قاعده نحویه: نحات وایي چي فا پر مضارع چي جزآ واقع سي نه داخلي نو ددې مضیق څخه د ځان خلاصېدو لکه دلته داده چي فینتقم خبر د محذوفي مبتدأ ګرځوي یعني فهو ینتقم الله.

پوه سه: چي ابن عباس ﷺ و ظاهر ته ددې تللی دی، ولې چي راوي له ده څخه روایت کوي چي که څه هم ښکار وکړي په قصد سره، نو له ده څخه دې پوښتنه وکړه سي چي تر دې ښکار په احرام کي دې دمخه بل ښکار په حال کي د احرام کړی دی که جاني وویل چي هو کړی مي دی، نو د کفارې حکم دې نه پر کوي او دا دې ورته ووايي فینتقم الله منک او که هغه جاني وویل چي یا تر اوسه مي نه دی کړی، نو هغه حکم مذکور دې پر جاري کړي یعني جزآ بالنعم او یا اطعام یا روژې، او که یې بیا بل وار ښکار وکړی پر شا او پر ځیګر دې ضرب وجیع ورکړي یعني تعذیراً کذا قال البغوي لکن جمهور مفسرین وایي چي بیا دې په جزآ سره محکوم کړي ثم وثم.

أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ وَطَعَامُهُ

روا کړه سوی دی وتاسي ته یعني له جانبه د خدای ﷻ ښکار کول له دریابه څخه یعني په حال کي د احرام او خوراکي شی له دریابه.

پوه سه: چي انس ﷺ له ابوبکر صدیق ﷺ څخه روایت کړی دی چي مراد له صید البحر څخه هغه شی دی لکه ماهي چي سړی یې ښکار کړي، او له طعام البحر څخه مراد هغه دی چي دریاب یې پخپله ژوندی راوغورځوي او اوبه ځني ولاړي سي نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یا یې سرې بې تکلیف ونیسي او یا په خپله مړسو، او که په اوبو کې مړ وو چې طافي یې بولي او اوبو پر سر راختستی وو هغه مردار دی انتهی بزیادة بعض الفاظ تفسیر للحدیث. او بعض مفسرین وایي مراد له صید البحر څخه هر هغه حیوان دی چې ژوند نه سي کولای بې اوبو لکه ماهی مثلاً.

فائده: امام مالک رحمه الله په دغه آیت دلیل وایي چې روا دی خوراک د هر حیوان بحري. او قتاده، عکرمه، مجاهد، سعید بن جبیر، نخعي او سعید بن المسیب رحمهم الله تعالی وایي چې له صید البحر څخه تازه ماهی مراد دی او له طعام څخه یې چې مالګه یې پر اچولې وي مراد دی والله اعلم بالصواب.

پوه سه: چې ضمیر د "لکم" ومحرمانو ته راجع دی، روح البیان وایي چې د بحر متعارف یعني دریاب نه دی مراد بلکې عام تر هغه که واله وي، که لوګړی وي. او صید البحر چې ژوند نه سي کولای بې له اوبو که ماکول اللحم وي او که غیر ماکول اللحم وي، نو هغه چې په اوبو کې هم ژوند کولای سي او پر وچه هم لکه ایلی، چونګوښه، چنګاښ او نور ټول مرغان د اوبو هغه صید البحر نه دی بلکې صید البر ویجب الجزآ علی قاتله او امام همام فخر الدین رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کې وایي چې ټول هغه حیوانان چې په دریاب کې ښکارېږي درې قسمه دي یو ماهي دی او د ماهي ټول انواعي حلالي دي، او بل چونګوښي دي د هغو ټول اقسام حرام دي، او له دې قسمو څخه په ماسوی کې اختلاف دی امام ابو حنیفه رحمه الله وایي چې هغه حرام دی او اکثره مذاهب پر دې دي چې هغه حلال دي لعموم هذه الآیة. ابو حنیفه رحمه الله وایي چې دا آیت خو عام مخصوص منه البعض دی نو استثنا د نورو هم ځني صحیح ده وهو ماوری القسمین المذکورین.

مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ

دا صید البحر فائده ده ستاسي مقیمینو چې تازه به یې خورئ او مسافرانو لره چې وچوي یې او پر لاري به یې خوري.

پوه سه: چې "متاعاً" مفعوله د "احل" لپاره دی او "متاعاً" لفظ چې مصدر د مجرد دی په معنی د تمیعاً دی لکه سلاماً په معنی د تسلیماً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا

او حرام کړه سوی دی پر تاسي یعني له جانبه څخه د خدای ﷻ ښکار د ځمکي تر هغو پوري چي تاسي محرمان یاست بالحج او العمرة.

درویش وایي: چي ددې آیت ترجمه په روایت سره د ابن عباس رضی الله عنه داسي ترجمه کړل سوې ده چي صید البر ومحرم ته حرام دی که څه هم که یې څه هم حلال سړی ښکار کړي بې له امره او بې له اشارې او بېله دلالته د محرم او نه هم حلال سړي په نیت د محرم کړی وي، دا قول د طاوس او د سفیان ثوري رح دی. دوی دا دلیل وایي چي علیه الصلوٰة والسلام چي په ابوا کي یا په ودان کي و یو سړي علیه الصلوٰة والسلام ته حمار وحشي راوستی ژوندی، علیه الصلوٰة والسلام ور رد کړی چي علیه الصلوٰة والسلام د هغه سړي په مخ کي کراهت او خوابدتیا محسوسه کړه یعني پر دې چي زما هدیه یې ولي رد کړه، نو علیه الصلوٰة والسلام داسي ورته وویل چي موږ ستا هدیه نه ده رد کړې مګر نه ددې جهته چي موږ محرمان یو متفق علیه. نو اصله مسئله داده چي حلال سړی بې له امره او بې له اشارې او بېله دلالته د محرم ښکار وکړي نو امام اعظم رحمه الله یې و محرم ته اکل روا بولي. او دی د هغه حدیث ځواب چي حمار وحشي یې و علیه الصلوٰة والسلام ته په هدیه کي راوستی و رد کړی هغه حمار وحشي ژوندی و. نو د ژوندي قبلول خو عین ښکار دی. نو ځکه علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چي موږ محرمان یو. والدلیل علی مذهب ابي حنیفه رحمه الله هغه حدیث د قتاده رضی الله عنه چي دی وایي چي موږ ملګري و د علیه الصلوٰة والسلام سره په سفر کي د حدیبیه. نو زما ملګرو احرامونه وتړل او ما احرام نه و تړلی فرڅت حماراً وحشیاً فاصدته نو بعض چا له محرمانو څخه د هغه ښکار غوښي خوړل پیل کړه. وروسته موږ وویل چي موږ خو محرمان یو موږ یې ولي خورو. او علیه الصلوٰة والسلام تر موږ د پر د مخه و. نو موږ وویل چي راځئ چي د علیه الصلوٰة والسلام څخه پوښتنه وکړو خیر کله چي و علیه الصلوٰة والسلام ته راورسېدلو او موضوع د حمار وحشي د ښکار د ابي قتاده چي محرم نه و ورته وړاندې کړه او د محرمانو د خوراک ذکر مو هم وره وکړی. نو علیه الصلوٰة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسلام راته وويل چي کوم يوه خو به د محرمانو څخه امر يا اشاره يا دلالت نه و ورته کړی. هغو وويل يانو عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل که ستاسي سره نوري غوښي پاته وي ماته يې راوړئ، نو هغو څه غوښي ورته راوړې او هغه عليه الصلوٰة والسلام وخوړلې هکذا روی في الروايات المتفقة.

درويش وايي: چي مظهري رحمه الله حسب عادت ته مختلف روايات او مذهبونه او د هغو دلائل او جوابات يې هم راوړي دي او تقريباً درې صفحې يې په نيولي دي چي سرې صفا خبره نه سي ځني فهمولای وان شئت مصداق ماقلت فارجع الى تفسيره، او درويش د مذهبي حنيفي دلائل وايي او اختلافات د مذاهبو او روايتونه بيانوي تاچي مطالعه کونکو ته ددي تفسير اضطراب او تحير پيښ نه سي، شعر

ومن مذهبي حب الديار لاهليها　　　　وللناس فيما يعشقون مذاهب

مطلب مي دادی چي زما مذهب تصحيح د مذهب حنيفي ده له بيان سره د اختلافاتو سره د رواياتو او د مذاهبو زما کار نسته او د مظهري بيا دغه خوښه ده.

درويش وايي: چي زما سره همراي چي فقط د مذهب تشريح کوي روح البيان دی هغه هم د حنيفي مذهب تشريح او بيان او د قرآن آيت يا يو حديث هم راوړي او د نورو امامانو مذهب که رانقل کړي دا قدر وايي خلافاً للشافعي، نور يې نه دلائل رانقل کوي او بيا وروسته و هغو ته جوابات ورکول نه کوي، او بل همرايه زما تفسير مدارک دی بلکي تفسير بيضاوي دی که څه هم شافعي المذهب دی، لکن د خپل مذهب تائيد په آيت سره وکړي نور اختلافات نه ذکر کوي، او امام مظهري رحمه الله خو هر مذهب د ائمه اربعه وو بيانوي او پر هغه مذهب دلائل هم رانقل کوي بيا نو که تائيد د مذهب وکړي او که نه، داسي متضاد حديثونه هم راوړي چي جمع د هغو هيڅ امکان نه لري، تاسي د دا اوسني آيت تفسير دده په تفسير کي وګورئ نو به زما د خبري صدق او کذب درمعلوم سي.

پوښتنه: اختلافات د مذاهبو او دلائل د هر مذهب او بيا ځواب ورکول خو د فقهي شريفي په کتابو کي چناچه ته وګوره هدايه او مطالعه کړه شرحه د هدايې فتح القدير، او ته تر نظر تېر کړه رد المحتار على رد المختار او نور د فقهي کتابونه مفصل علاوه تر دې هم مطالعه کړه شرح معاني الآثار للامام الفقيه ابو جعفر الطحاوي چي هم د

Maktaba Tul Ishaat.com　　Scanned by CamScanner

حدیثو کتاب دی او اختلافات د مذاهبو بیانوي بیا ځوابات د مذهب حنیفي له خوا ورکوي، نو پر مظهري رحمه الله څه منت سته چې ورته کارونه کوي؟

ځواب: موضوع د تفسیر جلا ده چې بیان دی د معاني د قرآن کریم لغةً وصیغةً، اعراباً وبناً وذکر بعض فضائل السورة والآیات. البته که یو آیت دیوې مسئلې وي هغه ذکر کول او شان نزول د آیت پر صحیح وجه ذکر کول نه مختلف شان نزولونه چې جمع یې نه سي کېدای. او د فقهي موضوع خو افعال د مکلف ده چې په هغو کې حتماً به په بعض مسائلو کې اختلاف د ائمه وي او هر امام پر خپل مذهب دلیل یا له قرآن څخه یا له احادیثو څخه وي او بل مذهب والا به ځواب ورکوي په نقض او ابرام سره نو باید دا دوه علم تفسیر او فقه من کل الوجوه څوک سره ګډ نه کړي په تفسیر کې د قرآن مجید، دا و د عاصي درویش محمد عبید الله وینا والعلم عند الله العزیز العلام.

وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٩٦﴾

او تاسي وبېرېږئ له خدای ﷻ څخه هغه خدای ﷻ چې تاسي و هغه ته حشر کېږئ یعني په ورځ د قیامت او جزا د خیر او شر به وویني او هغه منهیات لازماً ونه کړئ چې تاسي یې ځنې منع کړي یاست التي منها الصید في وقت الاحرام.

پوه سه: چې "الیه" متعلق دی د "تحشرون" سره او تقدیم یې لپاره د حصر دی یعني لا الی غیره، په صحیح حدیث کې راغلي دي من اشتاق الی الجنة سارع الی الخیرات یعني که د چا شوق کېږي و جنت ته نو دي تلوار وکړي د خیر په کارو کې "ومن اشفق من عذاب جهنم کف نفسه عن المحرمات" او که څوک بېرېږي له عذاب څخه د دوږخ خپل ځان دي منع کړي له محرماتو څخه، مولنا رومي وایي

کافر من گر زیان کردست کس — در ره ایمان وطاعت یک نفس

جَعَلَ اللَّهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيَامًا لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ

ګرځولې ده خدای پاک کعبه مبارکه.

پوه سه: چې بیت الله شریفه چې کعبه بولې یا له جهته د چار کونجوالي او عرب هرې خونې ته چې مربع وي کعبه وایي، او مقاتل رحمه الله وایي چې کعبه چې یې بولې په سبب د جلا والي له نورو بناؤ څخه، نو ګویا دده په نبز تکعب جلا والي ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي، او بعض مفسران وايي چي كعبه يې په دې بولي چي ډېره جګه ده، څكه د بجلكي ته د سړي كعب وايي چي لارتفاعه في جانبي القدم او له هم دې سببه چي د نجلۍ تي راووزي خلګ وايي تكعبت فلانة.

پوه سه: چي "بيت الحرام" يا عطف بيان دی لپاره د مدح او يا بدل دی.

فائده: بيت الحرام يې په دې سبب بولي چي خدای پاک حرمت او عزت ورکړی دی، قال النبي ﷺ "ان الله حرم مكة يوم خلق السموات والارض"

فائده: درويش وويل چي عطف بيان دی لپاره د مدح غرض يې داوو چي لپاره د توضيح نه دی كما هو الاغلب في عطف البيان لان الكعبة لايحتاج الى التوضيح كما لا يخفٰى.

پوښتنه: د مخه احاديث خو تاسي واورېدله، او په بل صحيح حديث كي راغلي دي چي عليه الصلوٰة والسلام ويلي دي "ان ابراهيم حرم مكة شرفها الله تعالى واني حرمت المدينة" نو ددې دوو حديثو تر منځ به تعارض نه وي؟

ځواب: ابن الملك ددې پوښتنې په ځواب كي داسي وايي چي په اول حديث كي مراد دادی چي خدای پاک په لوح محفوظ كي دا ليكلي وه چي ابراهيم عليه السلام به يې ژر دی چي حرم وګرځوي انتهى.

درويش وايي: چي اولى په ځواب كي د پوښتنې داده چي په حديث اول كي مراد حرمت ذاتي د مكې مكرمې دی او په حديث ثاني كي مراد حرمت عرضي دی، والثاني حادثة من زمن ابراهيم عليه السلام او حرمت ذاتي يې قديم دی لكن ممكنه ده چي د ابن الملك رحمه الله په هم داغه مراد وي والله اعلم بالصواب.

پوه سه: چي "قيماً" يا مفعول ثاني او يا حال دی.

پوه سه: چي ابن عامر رحمه الله له قرا سبعه څخه "قيماً" بې له الفه وايي او نور قرا يې په الف سره وايي "قياماً" د قياماً معنا د مكې په ښار كي چي كعبه مباركه پكښې ده د عربو كارونه د دين او دنيا تر سره كېږي، كارونه د دين په حج او عمره او مناسك د حج دي، او كارونه د دنيا يې دادي چي په دې ښار كي د مكې په بركت د كعبې مباركي بې خوفه ژوند كولای سي، نه څوك له كفارو څخه پر دوی غارت كولای سي او نه جنګ كما حكى الله تعالى في سورة قريش "وآمنهم من خوف"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي الف ولام په "الشهر الحرام" کي لپاره د جنس دی يعني جنس الاشهر الحرم چي رجب ده او د میانی میاشت ده او د لوی اختر میاشت ده او محرم چي پښتانه يې د حس حسين مياشت بولي.

فائده: والشهر الحرام" عطف دی پر "قياماً للناس" باندي يعني دا مياشتي هم د امن او امان دي چي څوک و چاته تعرض بالقتال نه کوي.

بوه سه: چي روح البيان وايي چي مراد له شهر الحرام څخه ذو الحجة ده چي افعال د حج پکښي کېږي. او مفعول ثاني يې محذوف دی ای جعل الشهر الحرام قياماً للناس، او هم په دغه مياشت کي خلګ بې غمه او په امن سفرونه د حج کوي او تجارات هم کوي آمنين انفسهم واموالهم فكان هذا الشهر لاكتساب منافع الدين والدنيا.

تنبيه: لکه څرنګه چي خدای پاک په انبياً کرامو عليهم السلام کي تفاضل پيدا کړی دی او داغه رنګه په امتو کي د پېغمبرانو يې تفاضل ايښی دی. نو په اوقاتو او ايامو کي يې هم تفاضل پيدا کړی دی لکه عشر ذی الحجة. امام نيشاپوري رحمه الله وايي چي لس ورځي د ذو الحجة افضلي د ايامو دي وروسته د روژې تر مياشت. فضائل ددې لسو ورځو يې قرار ذيل بيان کړي دي.

(۱) په دغو لسو ورځو کي موسی عليه السلام اول مناجات د خدای سره کړي دي.

(۲) په دې ورځو کي ټوله حاجيان احرام بنده وي.

(۳) د آدم عليه السلام توبه هم په دغو ورځو کي قبوله سوې ده.

(۴) د اسماعيل عليه السلام د ذبح فديه هم په دغو لسو ورځو کي انجام سوې ده.

(۵) د هود عليه السلام نجات له عذابه د قوم دده په دغو لسو ورځو کي انجام سوی دی.

(٦) د نوح عليه السلام نجات په کښتی کي او د قوم غرقېدل په طوفان سره هم ددغو ورځو فضيلت دی.

(۸) د خيبر د فتح زيری هم په دغو ورځو کي سوی دی.

(۹) يوه روژه ددغو ورځو لکه زر روژې د نورو ورځو په ثواب کي.

(۱۰) او عبادت د يوې شپې د ذو الحجة دومره ثواب لري لکه يو سړی چي حج او عمره هر کال کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي په استحباب کي د روژو د عشر ذی الحجة او په ثواب کي د احیا اللیالي هم شک نسته، لکن امام نیشاپوري رحمه الله د یره مبالغه کړې ده والله اعلم بالصواب.

وَالْهَدْيَ

او هدي يې هم قیاماً للناس گرځولې ده لپاره د استوګني د فقراؤ د بیت الله شریفي پر شاوخوا.

پوه سه: چي هدیه نوم دی د هغه حیوان چي ادنٰی یې پسه دی، او اعلٰی یې اوښ دی چي څوک یې ورولي بیت الله شریفي ته او هورې یې ذبح کړي او غوښي یې پر فقراوو وه وېشي، نو به دغه هدیه قِوام سي د بیت الله الشریف د همسایه ګانو فقراؤ

پوه سه: چي له دې بیان څخه دا معلومه سوه چي د عید القربان په اختري کي هم دفع د حاجت د فقراؤ ده، نو اضحیه کونکي لره دا مستحب ده چي ټولي غوښي د اضحیه دي پر فقراؤ وېشي او یا اکثره حصه دې ووېشي.

فائده: د لوی اختر په ورځ حاجیان له منٰی څخه ومسجد حرام ته ځي لپاره د طواف زیارت، نور مسلمانان په اطرفو کي د عالم اسلام به وعید ګاه ته ځي.

وَالْقَلَآئِدَ

په حذف د مضاف ای ای جعل الله ذوات القلائد ایضاً قیاماً للناس.

پوه سه: چي قلائد جمع د قلاده ده چي په پښتو یې غاړګی بولي او دلته په آیت مبارک کي مراد هغه شی دی چي د هدي په غاړه یې وځړوي یا څوتي او یا د درختي یو شین ښاخ وي، نو چي دا علامه پر وي نو څوک تعرض نه ورته کوي، او نه یې له وښو څخه ګرځوي وايي چي دا هدیه د حرم ده، لکن د غوايي یا د اوښ په غاړه قلاده عادت قدیمه او عادت شرعیه دی د پسه په غاړه یې نه دی عادت.

درویش وايي: چي دا هدیې او قلائد د جاهلیت په وخت کي هم وې چي ما تعبیر په عادت قدیمه ځني وکړی لکن چونکه شرک او بت پرستي ورسره وه په جناب کي د رب جل جلاله یې هېڅ اعتبار نه درلودی هغه وخت چي اسلام منځ ته راغلی شرک او بت پرستي ولاړه دې هدیې او قلائد په دربار کي د خدای جل جلاله لوړ مقام پیدا کړی او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرآن کریم په آیتو کې خدای پاک وستایلې او د "قیاماً للناس" په مبارک عبارت یې تعبیر ځنې وکړی، په حدیث شریف کې راغلي دي چې صحیح کتابو د احادیثو یې روایت کړی دی چې علیه الصلوٰة والسلام په کال د حدیبیې چې علیه الصلوٰة والسلام سره د څورلس یا پنځلس سوو اصحابو ﷺ په نیت د عمرې راغلي وه هدایا ورسره وې لکن له بده مرغه مشرکان د مکې یې مانع وګرځېدله. نو یې هدایا هم په حدیبیه کې ذبح کړې.

ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ يَعْلَمُ مَا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الْاَرْضِ وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيْمٌ

دغه یعنې "جعل الله آه" او یا هغه چې خدای پاک ذکر کړه چې حفظ د حرمت د احرام دی. او زجاج ﷺ وایي چې "ذالک" اشاره وتوله ماسبق في هذه السورة من الاخبار بالغیب وکشف الاسرار من قوله تعالی "سماعون للکذب سماعون لقوم اخرین" ومثل اخباره بتحریفهم الکتاب چې تاسې په دې پوه سئ چې خدای ﷻ خبر دی په مافي السموات ومافي الارض، ولي چې مشروعیت د احکامو لپاره د دفع د ضرر ده او فساد د دمخه تر وقوع او جلب د منافع دی چې مرتب کېږي پر دفع المذکور باندې او پر جلب مذبور باندې او دغه اخبار الغیب دلیل دی د علم کامل شامل د خدای ﷻ. او په دې پوه سئ چې خدای ﷻ په هر شي خبر دی، دا تعمیم بعد التخصیص دی مبالغة.

اِعْلَمُوٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ وَاَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ

او په دې پوه سئ چې خدای پاک سخت دی عذاب دده. او په تحقیق خدای ﷻ بخښونکی د ګنهو دی او مهربان دی.

پوه سه: چې په دې آیت کې وعید دی د هغه چا لپاره چې هتک د محارمو د خدای پاک کوي یعنې منهیات کوي. او وعد دی د هغه لپاره چې محافظت کوي د اوامرو د خدای ﷻ.

پوه سه: چې څه وخت چې د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د وفات وخت نږدې سو خلګو ته یې داسې ورېل چې خدای ﷻ په قرآن کریم کې آیت د آسانی د آیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره د شدت جوت راوړی دی او آية الشدة يې د آية الرخا سره جوت راوړی دی تاچي مؤمن همېشه راغب او راهب وي يعني د خدای پاک و مغفرت ته راغب وي او د خدای پاک له عذابه راهب وي يعني بېرېږي.

مَا عَلَى الرَّسُولِ إِلَّا الْبَلَاغُ وَاللَّهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُونَ وَمَا تَكْتُمُونَ ﴿٩٩﴾

نسته پر رسول باندي مګر نه رسول د اوامرو او منهياتو د خدای ﷻ، يعني عليه الصلوٰة والسلام خو هغه وظيفه اجرا کړه په اتمه او اکمله وجه سره او پر تاسي باندي حجت قائم سو او خدای ﷻ خبر دی په کارو چي تاسي يې په ښکاره کوئ او په هغه کارو چي تاسي يې په پټه کوئ.

پوه سه: چي کلمه د "ما" موصوله او عائد و موصول ته محذوف دی، والتقدير "ماتبدونه وماتکتمونه" والمراد به التصديق والتکذيب علانيةً او سراً. يعني خدای ﷻ به هرچا ته جزا د خپل عمل ورکړي اما الجنة واما النار.

پوه سه: چي په دې آيت کي هم وعد دی بالجنة او هم وعيد دی بالنار.

قال السعدي الشيرازي رحمه الله.

برو علم يک ذره پوشيده نيست — که پنهان وپيدا بنزدش يکی ست

قُلْ لَا يَسْتَوِي الْخَبِيثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ أَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيثِ

ته اې محمده ﷺ ووايه خلګو ته چي نه دی سره برابر خبيث حرام مال او طيب مال که څه هم تا په تعجب کي اچوي ډېروالی د مال خبيث.

پوه سه: چي مفسرين ددې آيت شان نزول دوه قسمه بيانوي، مظهري رحمه الله په روايت د جابر بن عبدالله رضي الله عنه داسي وايي چي يو سړی هغه وخت چي عليه الصلوٰة والسلام تحريم د خمر خلګو ته بيان کړی، نو هغه سړی چي اعرابي و عليه الصلوٰة والسلام ته يې داسي ووېل چي زه يو سړی وم چي ما تجارت د خمر کاوه. نو ما په دې تجارت کي ډېري روپۍ سره جمع کړې، نو د غه مال به ماته فائده وکړي که زه عمل د خير پکښي وکړم؟ نو رسول الله ﷺ ورته ووېل ان الله لا يقبل الا الطيب فانزل الله تصديقاً لرسوله ﷺ "قل لا يستوي الآية" نو د آيت د معنا حاصل دادی چي عمل که څه هم لږ وي او په اخلاص د نيت وي او صالح وي بهتر دی تر ډېر مال چي بې اخلاصه وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او داغه رنګه انفاق د مال له حلال مال څخه بې دی تر انفاق د کثیر مال د حرامه.

درویش وایي: چې په اوسني زمانه کې بعض لوی سرمایه داران سته چې مالونه یې قطعاً حرام وي یا په بیوع فاسده وو سره او یا په رشوت ستاني سره یا په غصب وغیره سره، نو دی ګاهې ګاهې په روژه کې یو غویې ذبح کړي او خوشهاله وي چې ما خو خیرات وکړې، او یا نفلي حجونه په هغه مال حرام سره وکړي او دده نو دا عقیده وي چې په داغسې به ماته خدای پاک تول ګنهونه رابخښلي وي هیهات. له ابو هریره ﷺ څخه روایت دی چې قال رسول الله ﷺ "من تصدق بعدل تمرة ولا يقبل الله الا الطيب" که چا خیرات وکړې په اندازه سره د یوې خورما هر مال چې وي او نه قبلوي خدای ﷻ مګر نه حلال مال "فان الله يقبلها بيمينه ويربيها لصاحبه كما يربى احدكم فلوه حتى يكون مثل الجبل" بخاري مسلم، نو په تحقیق خدای ﷻ څني قبلوي په راسته لاس یعني په حسن قبول سره، ولې خدای ﷻ لره خو جسم نسته، نو قبلول په راسته لاس کنایه ده په عربي ژبه کې د حسن قبول څخه نو تربیه کوي هغه صدقه یعني ثواب یې ور مضاعف کوي لکه یو سړی له تاسي څخه چې ساتي او تربیه کوي د اسپي بیهان ګي حتی چې هغه عدل التمرة صدقه لکه غر په وزن وګرځي.

پوه سه: چې صالح او مخلص بندګان د خلګو خیر دی په نیز د خدای ﷻ تر خبیثانو بندګانو که څه هم مڅکه په ډکه وي، د سهل بن سعد ﷺ روایت دی چې علیه الصلوٰة والسلام ناست و چې یو سړی تیر سو، بل سړی چې د علیه الصلوٰة والسلام سره ناست و، و هغه ته علیه الصلوٰة والسلام وویل چې ستا څه نظریه ده په باب کې د دغه سړي. هغه ورته وویل چې دا خو یو سړی دی له اشرافو څخه د خلګو، دا سړی خو لائق دی ددې چې که چا ته مرکه وکړي یعني د لور مثلاً نو هغه یې خامخوا په نکاح ورکوي. او که چا ته د بل چا شفاعت وکړي شفاعت یې قبلوي. نو علیه الصلوٰة والسلام ساکت سو . وروسته بل سړی تیرېدی، علیه الصلوٰة والسلام ناست سړي ته وویل چې په دې سړي کې ستا څه نظریه ده هغه سړي ورته وویل یا رسول الله دا خو یو سړی دی له فقیرانو څخه د مسلمانانو . دا خو ور ددې دی چې که چاته مرکه وکړي د لور د نکاح مثلاً په نکاح یې نه ورکوي، او که چاته د چا شفاعت وکړي شفاعت یې نه اوري او که وچاته خبره وکړي هغه یې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبري ته خوږ نه نیسي، نو علیه الصلوٰة والسلام وویل چي دا دوهم سړی غوره دی تر ملئ الارض له اول سړي څخه بخاري مسلم.

درویش وایي: چي صاحب د روح البیان داسي شان نزول بیان کړی دی چي دا آیت په حاجیانو کي د یمامه نازل سوی دی چي هغه حج ته راغلي وه، او اصحابو کرامو قصد وکړی چي ددوی سره په جګړه ځان اخته کړي، ولي چي په دې حاجیانو کي یو سړی و په نامه د حطیم چي هغه یو کال دمخه مدینې منورې راغلی و او د مسلمانانو مال مواشي یې بېولي وه، نو دا بل کال چي د علیه الصلوٰة والسلام د عمرة القضا کال و چي په کال د حدیبیې پر دغه عمرې باندي صلح سوې وه، نو صحابه کرام ﷺ چي تعداد یې پنځلس یا شپاړس سوه ته رسېدی و علیه الصلوٰة والسلام ته یې وویل چي دادی حطیم سره د حجاجو د یمامه راغلی دی، نو موږ او دی سره پرېږده یعني چي موږ برید پر وکړو، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چي تاسي نه وینئ چي حطیم قلد الهدی، او علیه الصلوٰة والسلام اصحابو ﷺ ته وویل "لم یاذن لي في ذالک بسبب استحقاقهم الا من بتقلید الهدایا" ما ته خدای اجازه نه ده راکړې ددغو خلګو په جنګ، کي په سبب ددې چي دوی مستحق د امن ګرځېدلي دي په سبب د تقلید د هدایا وو. دا قصه روح البیان کړې ده وروسته یې داسي ویلي دي فنزلت هذه الآیة یعني "لا یستوي الخبیث والطیب الآیة"

درویش وایي: چي ددې قصې او د آیت متلوه تر منځ څه تعلق سته، البته دا قصه د هغه آیت سره چي د الهدي او القلائد پکښې ذکر دی ښه تعلق لري والله اعلم بالصواب في هذا الباب. د درویش په عقیده د مظهري رحمه الله علیه شان نزول ډېر زیبا او په زړه پوري دی.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ یٰٓاُولِی الْاَلْبَابِ لَعَلَّکُمْ تُفْلِحُوْنَ۝

نو تاسي له خدایه وبېرېږئ او له طیبینو څخه ځانونه جوړ کړئ او د طیب پاک مال څخه انفاق کوئ که څه هم لږ وي اې خاوندانو د عقول یعني عقول سلیمه. په امید ددې چي تاسي به فلاح یعني خلاصون له دوږخه ومومئ په سبب د تقوی "لان التقوی مدار النجاة في یوم القیامة"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي ټوله مفسرين او علماء د دين پر دې عقيده دي چي تقوىٰ لره درې مرتبې دي.

(۱) اول دا چي لـه ابدي دوږخه سړی خلاص کړي وهو الاقرار بتوحيد الله عن الشريک والاقرار برسوله کما اشير اليه بقوله تعالى "والزمهم کلمة التقوىٰ اى لا اله الا الله محمد رسول الله مع التصديق القلبي. والتحقيق ان الايمان هو التصديق القلبي والاقرار شرط لاجراء الاحکام والتحقيق في کتب العقائد.

(۲) دوهمه مرتبه د تقوىٰ داده چي متقي د عذاب سره د دوږخ مخامخ نه سي والى هذه المرتبة اشير بقوله تعالى "ولو ان اهل القرىٰ آمنوا واتقوا الآية" او ددې مرتبې تعلق په دې پوري دی چي متقي فرائض او واجبات او سنن نبويه پر ځای کړي او له ټولو محرماتو قطعيه وو څخه او له شبهاتو څخه پرهيز وکړي.

(۳) دريمه مرتبه د تقوىٰ د اخص بندګانو د خدای ﷻ او د کمل اولياء الله الکرام چي هغه مرتبې د يو طويل حديث په يوه برخه کي داسي راغلي دي "الاخلاص يعني الاخلاص الکامل ان تعبد الله کانه تراه فانه ان لم تکن تراه فانه يراک"

تنبيه: درويش وويل چي ټولـه مفسرين آه (مفسرين او علماء د اهل السنة والجماعة مراد دي) ولي چي معتزله وايي چي که مرتکب د کبيرې ګناه که بې توبې مړ سي ځای يې ابدي دوږخ دی. او روافض وايي چي مرتکب د کبيرې ګناه کافر دی. والدلائل والجوابات في کتب عقائد اهل السنة والجماعة کشرح العقائد النسفية وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني رحمه الله وشرح المواقف للعلامة عضد الدين رحمه الله وشرح السيد الجرجاني رحمه الله.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَسْـَٔلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ

اې هغه کسانو چي ايمان يې راوړی دی تاسي سوال مه کوئ يعني له عليه الصلوٰة والسلام څخه د داسي شيانو.

ددې آيت شان نزول په روايت د ترمذي او حاکم د علي رضي الله عنه داسي بيان کړی دی چي دا آيت چي نازل سو "ولله على الناس حج البيت آه" صحابه کرامو رضي الله عنهم ورته وويل يا رسول الله ﷺ في کل عام فسکت، قالوا في کل عام قال لا ولو قلت نعم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لوجبت ولو وجبت" او که چېرې په هر کال واجب سوی وای بیا به له طاقته هم نه وای پوره "فاتر کوني ما ترکتکم" ما پرېږدئ چې ما پرې ایښې یاست تاسې، یعنې پوښتنه مه کوئ چې ما تاسې پرې ایښې یاست حاصل دا چې که د هر کال لپاره وایې ما خپله درته ویل الی اخیر الحدیث فنزلت الآیة المذکورة.

فائده: سائل د في کل عام عکاشه ﷺ و، نو حاصل د حدیث دادی چې د داسې شیانو پوښتنه مه کوئ چې پر تاسې باندې مشقت وي کالحج في کل عام، او د ابن عباس ﷺ روایت دی چې علیه الصلوٰة والسلام یوه ورځ خطبه ویل او ډېر په غضب کې و له ډېرو پوښتنو څخه د خلګو د داسې شیانو چې فائده به هم نه وه پکښې.

درویش وایې: چې اکثره دغه بې ځایه او بې فائدې پوښتنې به منافقانو کولې، نو یې وویل چې تاسې د هر شي پوښتنه کوئ وه یې کړئ زه به بالفور ځواب درکوم تر هغو چې زه پر دغه ځای ولاړ یم، نو یو سړي ورته وویل چې د هغه پلار مړ چې زما پلار چېرې دی؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې په دوزخ کې دی، یو بل سړي ورته وویل چې زما پلار څوک دی؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې حذافة دی، سړي ددې لپاره پوښتنه ځنې وکړه چې خلګو به ویل چې دا سړی د حذافه زوی نه دی ارمونی دی، نو ده چې پوښتنه وکړه ددې لپاره چې که علیه الصلوٰة والسلام شاهدي ورکړه پر دې باندې چې ستا پلار حذافه دی نو بیا بې مې خلګ ارموني نه بولې، بیا علیه الصلوٰة والسلام په حال کې د غضب بار بار وویل سلوني سلوني صحابه کرام ﷺ چې حاضر وه سرونه یې پټ کړي وه ژړل یې په سبب د غضب د رسول الله ﷺ، نو عمر ﷺ ورغلی د التحیات پر ډول ورته کښېناستی او داسې یې وویل "رضینا بالله رباً وبالاسلام دیناً وبمحمد رسولاً" نو علیه الصلوٰة والسلام ساکت سو.

إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ

که تاسې ته ښکاره سي هغه ستاسې مسئول تاسې په غم کې واچوي او پر تاسې به سخت واقع سي.

درویش وایې: چې لکه پوښتنه د هر کال د حج، نو که علیه الصلوٰة والسلام نعم ویلې وای، نو په هر کال به حج فرض وای، نو د هر کال حج خو د هغو خلګو لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

چي په زمانه کي د عليه الصلوٰة والسلام موجود وه هم لوی تکليف و، او د اٸينده لپري ملکو د مسلمانانو لپاره خو تر طاقت خارج غم و، نو عليه الصلوٰة والسلام چي سکوت وکړی په قرار د هغه آيت کريمه "وما ينطق عن الهوىٰ ان هو الا وحي يوحىٰ" وروسته يې لا وواېه او دليل د لا ويلو يې دا وواېه "لو وجبت ما استطعتم" او يا هغه بل سړی چي سوال يې وکړی چي زما پلار چېري دی عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل په دوږخ کي دی، نو دا سړی به نه وای غمجن سوی، نو چي دا پوښتنه يې نه وای کړې ښه به نه وای؟ يا لکه هغه بل سړي چي پوښتنه وکړه چي زما پلار څوک دی عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چي حذيفه دی، نو دې سوال ته ضرورت و، ولي چي دې سوال خو بل اړخ هم درلودی که چېري سائل فرضاً ارموني وای، نو خو عليه الصلوٰة والسلام هغه زاني پلار وريادولو كما يدل عليه ماسيٸاتي من الآية، نو به دا سړی نه وای غمجن سوی.

وَإِن تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ

او تاسي سوالونه کوئ د دغو امور شاقه و لکه هر کال فرضيت د حج او يا نور ورته سوالونه په هغه وخت کي چي قرآن نازلېږي تاسي ته به هغه مسئول عنه ښکاره کي دای نو بې اخير کارخه وای.

پوه سه: چي دغه دوې شرطيې چي يو پر بل عطف دي يعني "ان تبدلكم وان تسئلوا عنها آه" داوړې صفت د اشياً دي چي نتيجه د دغو دوو مقدمينو منع د سوال ده فافهم.

درويش وايي: چي امام ابو منصور الماتريدي السمرقندي الحنفي رحمه الله په خپل تفسير کي چي نوم يې تاويلات اهل السنة والجماعة دی په تفسير کي ددې آيت "يا ايها الذين آمنوا لاتسئالون عن اشياً الآية" داسي وايي، يحتمل انيكون النهي عن مسئلة لم تكن لهم حاجة اليها فنهوا عن ذالک الى ان تقع لهم الحاجة فنعد ذالک يسالون كانهم سئالوه عن التبيان قبل ان يحتاجوا اليه ثم يحتمل بعد هذا ان كان على ابتدآ السؤال كان من اهل النفاق يسئالون سؤال تعنت لا سؤال استرشاً انتهى، جلد ثاني سورة المائدة ص٨۴.

پوښتنه: په نېز د امام ابو حنيفه رحمه الله امر مطلق له قرينو څخه نه تکرار د ماموربه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غواړي او نه يې احتمال لري كما تقرر في اصول الفقه. نو ددې قول د عليه الصلوٰة والسلام "لوقلت نعم لوجبت" لكه څنګه چي تېره سوه معنا به يې څه وي؟

ځواب: ددې قول معنا داده چي كه عليه الصلوٰة والسلام نعم ويلی وای. نو دا به ناسخ وای د امر مطلق د حج لابيانًا له. ولې چي د اصول الفقه په كتابو كي وايي چي تاخير د بيان تر وخت د حاجت نه دی روا نو ددوی سوال يعني "افي كل عام" ته به حاجت نه وای.

فائده: له دې بيانه دا ظاهره سوه چي پوښتنه او سوال د مجمل لكه اقيموا الصلوٰة آه او يا د بشكل لكه په دې آيت كي "فعدتها ثلثة قرو" وغير ذالک روا دی كما جا في الحديث النبوي "انما الشفا العي السوال" يعني جوړ والی او دوا د جهل د مرض پوښتنه ده. بلكې ممنوع هغه پوښتنه ده چي شرع نه وي په راغلې لكه حج هر كال. يا پوښتنې د بني اسرائيلو چي قصې يې په سورت بقره كي تېري سوې عن لون البقرة المامورة بذبحها وغير اللون مما ذكر هنالک.

عَفَا اللّٰهُ عَنْهَا ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ۝ قَدْ سَاَلَهَا قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ

خدای ﷻ عفوه وكړه د هغو سوالو د امور شاقه چي تاسي كوله كالحج في كل عام، يعني بيا داسې سوالونه مه كوئ، او خدای ﷻ بخښونكی دی د ګناه او حلم لري چي سړی د ګناه په سبب ژر نه نيسي.

پوه سه: چي په "قد سالها قوم" كي ضمير مؤنث راجع دی و "اشيا" ته چي دمخه په آيت كي ذكر سو او يا راجع دی و "مسئلة" ته چي "لاتسئالوا" دلالت پر وكړی لكن مطلق مسئله نه هغه مسئله بعينها چي په الي كل عام كي ذكر سوه بل امثالها

پوښتنه: "سئال" خو متعدي په "عن" سره وي نحو سئلت عنه، مظهري ﷫ ددې پوښتنې په ځواب كي وايي چي عن ورسره محذو فدی ای سئل عنها د مثال په توګه بني اسرائيل چي امر سوه په ذبح د بقرې نو دوی سوالونه شروع كړه ماهي وما لونها شق ذالک عليهم يعني ددوی د سوالو له سببه خدای پاک پر دوی سختي وكړه چي د يؤتيهم پر بقره د يو يتيم يې چي پلار يې صالح سړی ؤ و رتيه كړه او كه دوی په سوالو خبري نه وای اوردې كړي هره بقره چي ذبح كړې وای ددوی مقصد پكښي حاصلېدی لكن شددوا علی انفسهم فشدد الله عليهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي تیر له قصه د بقرې په تفسیر کي تېره سوې ده فراجع، او ثمودیانو له صالح علیه السلام څخه د اوښې په باره کي سوال وکړی چي اخیر هغه اوښه سبب د عذاب استیصال ددوی وګرځېدله. او عیسی علیه السلام قوم له ده څخه د اسماني سترخوان په باره کي سوال وکړی چي اخیر ددوی لپاره سبب د عذاب وګرځېدی. او یا بني اسرائیلو وروسته تر موسی علیه السلام خپل نبي شمویل علیه السلام ته وویل چي ته موږ ته یوه مَلِک میعن کړه چي موږ د جالوت جبار سره جنګ وکړو تر بیرغ د هغه ملک لاندي نبي ورته وویل "قد جعل الله لکم طالوت ملکا" او بني اسرائیلو د طالوت له سلطنته انکار وکړی الی اخیر القصة وقد مرت.

ثُمَّ أَصْبَحُوا بِهَا كَٰفِرِينَ ﴿١٠٢﴾

وروسته دوی وګرځېدل په سبب د سوالو مذکوره ددوی چي دمخه نژدې هغه مختلف سوالونه د انبیاء علیهم السلام څخه تېر سوه کافران. ولي چي دوی عمل ونه کړی او انکار یې وکړی له امروا به څخه.

درویش وايي: چي ابو ثعلبه الخشني رحمه الله وايي چي خدای جل جلاله فرائض پر خلګو مقرر کړي دي تاسي له وړاندي څخه د هغو سوال مه کوئ تر فرضیت د خدای جل جلاله او نهي یې کړي دي له بعضي شیانو څخه. نو تاسي بې پردګي له هغو مه کوئ. او خدای جل جلاله حدود وضع کړي تاسي تر هغو تجاوز مه کوئ. او له بعضي شیانو یې عفوه کړې ده په هغو کي تاسي بحث مه کوئ.

درویش وايي: چي حسین الواعظ الکاشفي الهروي رحمه الله په خپل تفسیر پارسي کي وايي (پس نیکبخت آن است که از حال دیگران عبرت گیرد بقول وفعل فضولي اشتغال ننماید ودرین باب گفته اند)

بگوی آنچه گفتن ضرورت شود   دیگر گفتهارا فروبند در
بجای آر فعلی که لازم بود   زافعال بیحاصل اندر گذر

درویش وايي: چي له دې قسمه څخه یوه عبرتناکه واقعه واورئ. راوي وايي چي یو سړی و چي د قاضي امام ابو یوسف رحمه الله مجلس ته به ډېر راتلی او همېشه به پټه خوله ناست و. یوه ورځ امام ابو یوسف رحمه الله و هغه ته وویل چي ته ولي یا خبري یا د یوې مسئلې پوښتنه نه کوې؟ هغه سړي ورته وویل اخبرني ایها القاضي متی یفطر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصائم، قال اذا غابت الشمس، ماته خبر راکړه اې قاضي چي څه وخت به روژه ماتوي روژياتي، امام يوسف رحمة الله عليه ورته ووېل چي لمر ولوېږي، هغه سړي ورته ووېل که لمر تر نيمي شپې نه لوېدی امام رحمة الله عليه وخندل او د جرير بيت يې ووايه

وفي الصمت زين للخلی وانما صحيفة لبن المرء ان يتكلما

په پټه خوله والي کي زينت دی د بې عقل سړي، او کاغذ د عقل د سړي دادی چي خبري وکړي يعني هوښيار او بې عقل په خبرو سره معلومېږي.

مَاجَعَلَ اللّٰهُ مِنْۢ بَحِيْرَةٍ

پوه سه: چي مراد له جعل څخه جعل شرعي دی چي يوه مفعول ته مضاعفېږي، والمعنى ماوضع وسن الله. کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق د نفي.

فائده: د اهل جاهليت دا قانون و چي د دوی اوښه به پينځه واره لنګه سوه څلور به يې ښځي راوړې او پنځم به يې نر راوړی، نو دوی به ددې اوښي غوږ ورڅاک کړی بيا نو ددې اوښي سپرتيا او شيدې وهرچاته حرامي وې او هيڅ چا به له اوبو څخه دا اوښه نه شړله. نو د بحيرة وزن فعلية دی مشتق دی له بحر څخه وهو الشق. او له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي هغه پينځم نر به يې ذبح کاوه نرو او ښځو دواړو به يې غوښي خوړلې. او که به يې پينځم عيال هم ښځه وای د هغې غوږونه به يې هم ورڅاک کړه.

وَلَا سَآئِبَةٍ

نه سائبه خدای جل جلاله مشروع کړې ده.

پوه سه: چي "سائبة" عطف دی پر "بحيرة" باندي او کلمه د لا لپاره د تاکيد د ماده.

فائده: د اهل جاهليت عادت دا وچي يو سړی به په سفر تلی. نو به يې ووېل که زه له سفره په عافيت او سلامتيا راغلم، او که به ناجوړی و، نو به يې ويل که زه جوړ سوم، نو زما اوښه سائبه ده. نو د سائبه حکم عيناً لکه د بحيره داسي و في التحريم الانتفاع بها په سپرتيا کي يا د شيدو په خوړلو کي. نو د سائبة وزن د فاعلة دی او مشتق دی له دې محاورې څخه د عربو ساب الماٴ يسيب سيباً اذا جرى على وجه الارض، نو سائبه اصطلاحي د جاهليت هم مالک خوشي کړه هره خواته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي څي، او بعض اهل تفسير وايي چي د چا اوښې به په جاهليت کي دوولس واره انثى راوړه، نو هغه به دوى سائبه کړه يعني په حکم کي لکه بحيره او شدې به يې و مېلمه ته روا وې، نو که به بيا دغه اوښه لنګه سوه د هغې غوږ به يې ورچاک کړی او له موره سره به يې خوشي کړه، نو دې اوښې ته به يې بحيرة بنت السائبة ويله.

فائده: بعض مفسران وايي چي سائبة خو پر وزن د فاعلة دی لکن په معنا د مفعولة دی ای المسيبة نحو عيشة راضية ای مرضية.

درويش وايي: چي د عيشة راضية په باره کي مطول ته رجوع وکړئ.

وَلَا وَصِيلَةٍ

او نه وصيله خدای ﷻ مشروع کړې ده.

درويش وايي: چي والکلام في عطفها کالکلام في عطف ولا سائبة کمامر عن قريب فتذکر.

فائده: په جاهليت کي که په د چا مېږي لور راوړه هغه به د مالک وه او که به يې نر راوړی هغه به د دوی د بتانو وچي دوی به خدايان بلله، او که به يې مېږ غبرګه لنګه سوه يو نر او يوه ښځه به يې راوړه، نو دوی به ويل دې لور وصل کړی خپل ورور ته يعني خپل ورور يې د ذبح پر نامه له خدايانو وساتي، نو نر به يې هم د خدايانو پر نامه نه ذبح کاوه، نو وزن يې فعيلة په معنی د فاعلة دی، او مظهري ﷫ وايي چي وصيلة هغه مېږ ده چي اووه واره لنګه سي، نو دوی ورته ګوري که يې اووم نر و دوی يې ذبح کوي، نرانو او ښځو دواړو به يې غوښي خوړلې، او که به يې ښځه راوړه هغه به يې په خپلو پسو کي ايله کوله، او که به غبرګه لنګه سوه نر او ښځه به يې راوړه، نو نر به يې په سبب د انثی ژوندی پرېښو، او دا به يې ويله وصلت اخاها، او ښځه لور چي به لويه سوه شيدې يې حرامي وې ددوی پر ښځو باندي، او که به يو مړ سو يعني مردار به سو، نو نرو او ښځو دواړو خوړی او دا يې د خدای ذبيحه بلله او لېږي او نږدې قريبانو ته به يې غوښي په تحفه کي استولې.

وَلَا حَامٍ

او نه خدای ﷻ مشروع کړی دی حام، حام هغه مېنده اوښ ته وايي چي دده د ملا له نطفې څخه به لس واره اوښې لنګې سوې، نو دوی به ويل قد حمی ظهره يعني

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

دي اوښ خپله ښا له سپرتیا ځخه وساتله، نو بیا نه څوک نه پر سپریدل او نه یې بار پر باندې کاوه او نه یې په یې، دا اوښ له اوبو ځخه منع کاوه. نو صیغه یې د اسم فاعل له بابه حمی یحمی دی په معنی د منع.

فائده: د "حام" اصل حامي و، د یا حرکت یې حذف کړی تخفیفاً اذا کانت ضمة او کسرة لانهما ثقیلتان في الیآ. وروسته یې یا حذف کړه په سبب د التقآ الساکنین له تنوینه سره فصار حام کما تقرر في علم الصرف او چې مړ یعنې مردار به سو. نرانو او ښځو د اړو به یې غوښې خوړلې.

درویش وایي: چې د بخاري په حدیث کې چې له سعید بن المسیب ﷺ څخه یې روایت کړی دی ددغو الفاظو په مختصر ډول داسې تعریفونه کړي دي چې بحیره هغه اوښه ده چې دوی جاهلیت والا بې شدې د بتانو پر نامه پرې ایښې وې، نو هیڅ چا نه لوشل. او سائبه هغه اوښه ده چې دوی به خوشې کړه د خدایانو یعنې بتانو پر نامه، نو چا به بار نه پر وری او نه به پر سپریدی، او وصیله هغه اوښه ده چې د بکارت وروسته یوه ښځه جونګی راوړه وروسته به یې بله جونګی راوړه دا به هم دوی د خدایانو پر نامه خوشې کوله. او حام هغه منده اوښ و، چې څو کاله چې دوی ورته مقرر کړي وه مندویې به یې وکړه دا اوښ هم دوی د بتانو پر نامه خوشې کاوه هیڅ بار به یې نه پر وری او نه پر سپریدی.

درویش وایي: چې والله اعلم بالصواب في هذه التفاسیر الواردة في شان البحیرة والسائبة والوصیلة والحام.

وَلٰكِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يَفْتَرُونَ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ ۖ وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴿١٠٣﴾

لکن دغه کسان چې کافران دي په قصد دروغ وایي پر خدای ﷻ چې دوی وایي ان الله امرنا بها چې موږ خدای ﷻ په دغه کارو سره امر کړی یو او اکثر د دوی عقل نه لري چې تحریم او تحلیل نسبت و خدای ته کوي، بلکې دوی تقلید د خپلو آباو واجداد وجهال کوي.

ږه سه: چې په لفظ کې د اکثر اشاره ودې ته ده چې بعض د دوی په بطلان سره د دغو کارو لکن حب او تقلید او مانع د دغو کارو ګرځېدلي دي.

ضمیمه: د درویش په خیال شخصي دا مختلف روایات چې په بیان د بحیره او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سائبه وغیره چي وارد دی سبب یې دادی چي مشرکان د مکې مختلف اقوام وه چا بحیره وسائبه وغیره پر یوه قانون کوله او بل چا پر بل قانون کوله. نو هر راوي ته چي کوم قانون رسیدلی و پر هغه قانون یې روایت د بحیره وسائبه وغیرهما کړی دی فلا تناقض بین هذه الروایات المتضادة بحسب الظاهر في الواقع ونفس الامر فافهم فان هذا سانح جدید والله الموفق.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ وَإِلَى الرَّسُولِ قَالُوا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ آبَاءَنَا

چي ودوی ته وویل سي یعني د ناصح له خوا څخه چي علیه الصلوٰة والسلام و، چي تاسي راسئ رجوع وکړئ په تحلیل او تحریم کي د شیانو و هغه کتاب ته چي خدای ﷻ نازل کړی دی یعني القرآن العظیم الشان. او رسول ته چي محمد ﷺ دی.

یوه سه: چي "والی الرسول" عطف دی پر "الی ماانزل الله" باندي. نو دوی وایي چي کافي او بس دی موږ لره هغه طریقه چي موږ پر هغه لاړ پیدا کړه زموږ پلرونه یعني شرک او بت پرستي.

یوه سه: چي "حسبنا" مبتدا ده او "ماوجدنا" یې خبر دی.

فائده: په دې ځواب د دوی دا معلومه سوه چي دوی پر بت پرستی هیڅ دلیل نه لري بې له قصوره د عقل او تقلید د اباؤ ددوی. ولي چي که یې کوم عقلي یا نقلي دلیل درلودای هغه به یې ویلی وای.

أَوَلَوْ كَانَ آبَاؤُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ شَيْئًا وَلَا يَهْتَدُونَ ﴿١٠٤﴾

آیا دوی اقتدا په پلرو پسي کوي په داسي حال کي چي پلرونو ددوی علم نه درلودی پر هیڅ شي او نه یې هدایت درلودی.

سوال: نفي د علم د شي عموماً ددوی د پلرو څخه څرنګه صحیح دی؟

ځواب: مراد نفي د علم دی پر طریق حق موصل الی الله ته بقرینة المقام.

یوه سه: چي واو لپاره د حال دی او همزه د انکار پر داخل سو. نو مراد نفي د انکار د تقلید الاباء دی چي اباء جاهلان او ګمراهان وي. ولي سړی چي تقلید کوي د هغه چا دا دي کوي چي هغه پر حقې لاړي او هدایت باندي وي لکه علیه الصلوٰة والسلام او مؤمنان. حسین واعظ کاشفي هروي رحمه الله وایي (یعني ایشان جاهل وګمراه بودند تقلید ایشان نافع نیست بلکې تقلید عالم می یابد تاکار به تحقیق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انجامد) جلال الدین رومي رحمه الله په مثنوي کي وايي.

از مقلد تامحقق فرقها است — این یکی کوهست وان دیگر صدا است
دست دربینازنی آیی مراه — دست در کور می زنی افتی بچاه

درویش وايي: چي په اسئلة الحکم کي شیخ علي دداح داسي وايي اما ماورد في الاحادیث النبویة في حق الدجاجلة وظهورها بین الامة فلاشک عند اهل العلم ان الدجاجلة هم الائمة المضلون یعني علما سو لاسیما من متصوفة الزمان یعني د تکلفي صوفیانو ددې زماني چي پیران ځانونه بولي او خلیفه ګاني چي خلک خپل و مریدی ته په حیلو سره رابولي. علي وايي وقد شاهدناهم قاتلهم حیث ماکانوا انتهی، قال الشاعر الفارسي.

بروی وریا خرقه سهلست دوخت — گرش باخدا درفروشي نکوست
بنزدیک من شیر وراهزن به است — کی فاسق بود پارسا پیرهن

حافظ شیرازي رحمه الله وايي

قلندری نه بریشست وموی یا ابرو
حساب راه قلندر بدانکه موی بمواست
گذشتن از سرمو در قلندری سهلست
چوحافظ انکه زسر بگذرد قلندر اوست

بیت

قلندران حقیقت به نیم جو نخرند — قبای اطلس آن کس که از هر غاریست

یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا عَلَیْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا یَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَیْتُمْ ؕ

اې هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی تاسي ته ضرر نه سي رسولای هغه کسان چي ګمراهان دي چي تاسي پر هدایت یاست.

پوه سه: چي جارومجرور یعني "علیکم" اسم فعل دی مجموع مرکب په معنی د الزموا دی، نو ځکه یې "انفسکم" ته نصب ورکړی دی. والمعنی الزموا اصلاح انفسکم باداً الاوامر اللهیة وترک المنکرات.

پوه سه: چي "لایضرکم" جمله مستانفه ده "من" فاعل د "لایضرکم" دی.

درویش وايي: چي ددې آیت شان نزول تقریباً په اکثریت د مفسرینو دادی چي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانانو سره به ډېر غم ورسره و د کافرانو چي کاشکي دوی هم مسلمانان سوي وای بسبب القرابات او غیرها بینهم وبینهم، نو خدای ﷻ مسلمانانو ته اطمنان ورکړی چي تاسي چي پر هدایت او پر دین د اسلام یاست تاسي ته کفر د اقاربو یا نور تاوان نه لري، او مجاهد او ابن جبیر وایي چي دا آیت په شان کي د د یهودو او نصرای وو نازل سوی دی، نو معنا د آیت داده چي اې مؤمنانو چي تاسي اصلاح د خپلو ځانو کوئ تاسي ته تاوان نه کوي کفر د اهل کتابو چي تاسي پر هدایت او صراط مستقیم یاست، نو خپل جزئیه ځني اخلئ او دوی و خپل کفر سره پرېږدئ، ابن ابي حاتم د عمر مولی عفرة څخه روایت کړی دی چي دا آیت په هغو کسانو کي نازل سوی دی چي یو سړی به مسلمان سو او مور پلار یا ورور به یې کافران وه، نو دې مسلمان چي به شیریني د ایمان په زړه کي محسوسه کول، نو مور پلار یا ورونه به یې هم اسلام ته دعوت کړه هغو به ورته ویل حسبنا ماوجدنا علیه آبائنا، نو مسلمان به ډېر غمجن سو، نو خدای ﷻ مسلمانانو ته اطمنان ورکړی چي تاسي چي پر هدایت یاست د مور او پلار یا ورونو کفر و تاسي ته تاوان نه رسوي لانه لکل امرء ماعمل.

فائده: ددې آیت معنا دا نه ده چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته ضرورت نسته، ولي چي د مسلمانانو د هدایت یو لازم دادی چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر به کوي په قدر د طاقت، یعني یا بالضرب والغضب کالامرا، او یا په ژبه لکه علما او یا به په زړه کي بد ځني وړي، له ابوبکر صدیق ؓ څخه روایت دی چي ده وویل "یا ایها الناس" تاسي دغه آیت یعني "یاایها الذین آمنوا علیکم انفسکم لایضرکم من ضل" او ترجمه یې ځایه کوي یعني چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته ضرورت نسته چي سړی په خپله پر هدایت وي، ابوبکر ؓ زیاته کړه چي ما له علیه الصلوٰة والسلام څخه اورېدلي دي چي خلګو یعني مسلمانانو چي منکر یعني في الدین ولیدی ولم تغیروه یعني بالنهي عنه حسب الطاقة قریب ده چي خدای ﷻ پر ټولو عذاب نازل کړی یعني فاعل المنکر وتارک النهي عن المنکر، رواه ابن ماجه والترمذي، او روایت کړی دی ترمذي وابن ماجه د ابي ثعلبه الخشني ؓ څخه په تفسیر کي ددې آیت "علیکم انفسکم لایضرکم من ضل اذا اهتدیتم" دی وایي چي ما سوال وکړی له علیه الصلوٰة والسلام څخه ددغه آیت، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیه الصلوٰة والسلام راته وویل چې بلکې تاسي امر بالمعروف کوئ یو وبل ته او نهي عن المنکر کوئ تر هغه وخته چې تا ولیدل چې د بخل او حرص اطاعت کړل کېدی. خلګ یعنې مسلمانان د دنیا حریصان او بخیلان وه او د خواهشات نفسانیه وو مسلمانانو متابعت کاوه او دنیا خلګو غوره کړې وه او ذي رای خپله رایه یې خوښه وه یعني د بل چا خبري یې نه منلې.

درویش وایي: چې لکه د اوسنی زماني ملایان چې په یو مسجد کي امام سو ځان ته د مجتهد درجه ایږدي او د بل عالم که څه هم وجدانآ دی پوهېږي چې تر ما عالم دی بلکې که یې څه هم استاذ نه مني او تا داسي یو کار ولیدی چې چاره نه وه ځني فعلیک نفسک یعني ته لازمه وګرځوه اصلاح د خپل ځان ودع امر العوام او پرېږده کار د عوامو یعني امر بالمعروف ودوی ته او نهي عن المنکر ددوی فان ورائکم ایام الصبر چې ستاسي په مخ کي ورځي د صبر دي فمن صبر فیهن قبض علی الجمر که صبر وکړي په هغو ورځو کي په موټه کي به یې سکروټه وي والمعنی علی التشبه یعني لکه په موټه کي چې یې سکروټه وي للعامل فیهن اجر خمسین رجلاً یعملون مثل عمله قالوا اجر خمسین رجلاً منهم قال خمسین رجلاً منکم. حمید الله غزنوي رحمه الله وایي:

چو بینم دین احمد درغریبی دلم سوزان وزچشم خون جاری

درویش وایي: چې بغوي رحمه الله وایي ددې آیت په تفسیر کي له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي روایت کړی دی چې تاسي امر کوئ بالمعروف او نهي کوئ عن المنکر که خلګو ستاسي نصیحت نه منی او پر تاسي یې رد کاوه فعلیکم انفسکم ابن عباس رضي الله عنه وروسته وویل چې د قرآن بعض آیتونه چې د هغو تاویل او وقوع دمخه تر نازلېدو د قرآن د آیتو تېره سوې وي لکه هغه آیتونه چې د یهودو او نصاری په دمخني وقائعو کي نازل سوي دي، او بعض داسي آیتونه چې د هغو تاویل په زمانه کي د علیه الصلوٰة والسلام ښکاره سوی لکه انکار د یهودو او نصاری ومشرکینو پر نبوت د علیه الصلوٰة والسلام او طعن پر قرآن کریم ویل وامثال ذالک. او بعض داسي آیتونه دي چې تاویل یې وروسته تر وفات د علیه الصلوٰة والسلام لږ زمانه ښکاره سوی چې بعض اقوام په خلافت د ابوبکر الصدیق رضي الله عنه له زکوٰة څخه یې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

انکار وکړي، او بعض داسي آیتونه دي چي تاویل به یې په اخیره زمانه کي پیدا کېږي لکه تابع والی د مسلمانانو د نصاری وو کما في هذا الزمان، او بعض داسي آیتونه دي چي تاویل به یې په ورځ د قیامت سي من الحساب والجنة والنار، ابن عباس ﷺ زیاته کړه چي تر هغه وخته پوري چي ستاسي او خواهشات سره برابر او یو وي او فرقې فرقي نه یاست گرځېدلي او یو له بله سره په جنگ نه یاست اخته سوي، نو امر بالمعروف او نهي عن المنكر کوئ او چي زړونه مو سره مخالف سوه او ډلي ډلي سولاست او یو له بل سره په جنگ اخته سولاست فامرٌ ونفسه، یعني سرې وخپل کار ته سره پوهېږي فعند ذالک یجیئ تاویل هذه الآیة یعني "یاایها الذین آمنوا علیکم انفسکم" الی اخیر الآیة.

إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٠٥﴾

او خاص خدای ﷻ ته رجوع ده ستاسي یعني په ورځ د قیامت، نو خدای ﷻ به تاسي خبر کړي په هغه څه چي تا یې عمل کاوه په دنیا کي، نو هر چاته به د عمل جزا ورکړي، اما الجنة واما النار.

پوهه: چي مرجع مصدر میمي دی او کلمه د "ما" موصوله ده عائد یې محذوف دی ای بماکنتم تعملونه ففي هذه الآیة وعد للمؤمنین ووعید للكافرین، ورځ د لوی اختر ده او په دغه کال حج اکبر هم د حاجیانو خدای ﷻ نصیب کړی سنه ۱۴۲۷ ه ق.

درویش وایي: چي بغوي، بخاري، ترمذي او ابوداؤد د متقارب المعنی روایات کړي دي، ابن عباس ﷺ چي تمیم داري او عدي بن بدا چي دوی دوه نصارٰی وه د تجارت په نیت د شام پر لور روان سوه او ددوی ملگری بدیل مولی د عمرو چي مسلمان هم و په دې تجارت کي ددوی سره راهي سو، شام ته چي ورغله بدیل ناجوړی سو، نو ده له هوښیاری څخه کار واخستی هرڅه تجارتي شیان چي دده سره ورسره وه هغه یې تول په یو کاغذ کي نوشته کړه او کاغذ یې خپل د اغوستلو په کالو کي کېښېښوی او هغه خپل دوه نصارٰی ملگري یې په دغه کاغذ نه کړه خبر او دا وصیت یې ورته وکړی که چېري زه مړ سوم زما دغه کالي به زما وقریبانو ته وسپارئ، نو بدیل ﷺ وفات سو، او نصراني ملگرو یې هورې په شام کي خاورو ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وسپاری، وروسته نصرانیانو دده په غوټه کي وکتل یو د سپینو زرو جام پکښې و چي وزن یې دري سوه مثقاله و او په سرو زرو نقشي جوړ و، هغه جام نصرانیانو واخستی پټ یې کړی وروسته چي نصرانیانو خپل تجارت وپای ته ورساوه او مديني منوري ته راغله، د بديل ﷺ کالي یې د هغه و قريبانو ته وسپارل، هغو چي غوټه خلاصه کړه په کالو کي یې هغه خط پیدا کړی چي هغه ټوله شیان چي دده وه پکښې نوشته وه چي په هغو کي یو جام مذکور هم و، نو اقربا د بديل ورغله تمیم داري او عدي ته او ورته وه یې ویل چي زموږ قریب بديل د مریضۍ په حالت کي د تداوي لپاره یو شی خرڅ کړی هم و، هغو نصرانیانو ورته وویل یا، بیا هغو ورته ورته وویل چي د خپلي نفقې لپاره یې یو شی خرڅ کړی؟ هغو ورته وویل یا، نو د بديل اقرباؤ ورته وویل چي موږ دده په کالو کي یو خط پیدا کړی چي هغه ټوله هغه شیان چي دده سره وه في وقت المرض نوشته وه چي په هغو کي یو جام و د سپینو زرو چي طلا کاري پر سوې وه چي دري سوه مثقاله یې وزن و، چي اوس ستاسي په راوړو شیانو کي د بديل هغه جام نسته، نصرانیانو ورته وویل چي موږ نور په هیڅ نه یو خبر، موږ ته یې صرف دومره وصیت وکړی چي دا زما غوټه او کالي زما قریبانو ته ورسوئ او موږ دده په جام هیڅ علم نه لرو، نو د بديل قریبانو دا واقعه تر علیه الصلوٰة والسلام پوري ورسول، نو دا آیت نازل سو.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِينَ الْوَصِيَّةِ اثْنَانِ

اې هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی شاهدي ستاسي تر منځ چي یو ته ستاسي مرګ حاضر سي په هغه وخت کي چي مریض وصیت کوي د دوو کسو شاهدي ده.

بوه سه: چي "شهادة بینکم" مبتدأ ده او "اثنان" یې خبر دی په حذف د مضاف، والتقدير "شهادة بینکم شهادة اثنين.

درویش وايي: چي باعث د حذف د دادی چي حمل د اثنان چي خبر دی پر شهادت صحیح سي کما لا يخفى.

فائده: دا جمله چي مرکب ده له مبتدأ او خبره څخه لفظ خو یې جمله خبریه ده نکن په معنا د انشا ده یعني يشهد اثنان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: شهادت دلته په معناد اشهاد دی ای الاحضار ووصیت کولو ته کما یدل علیه القصة.

فائده: اذا حضر" ظرف دی د شهادت په معنا د اشهاد.

فائـده: د "اذا حضر احدکم الموت" معنی ده اذا ظهرت امارات الموت لانفس الموت لانه لایمکن الایصا حین احضار نفس الموت.

مسئله: د دوو کسانو حضور بنا پر اولی دی ورنه د یوه سړي حضور هم کافي دی د وصیت لپاره.

ذَوَا عَدْلٍ مِّنكُمْ أَوْ آخَرَانِ مِنْ غَيْرِكُمْ

چي دغه دوه کسه خاوندان د عدالت وي ستاسي مسلمانانو څخه "ذوا عدل" صفت دی د اثنان ذوا عدل یې له دې سببه ووایه چي عادلان د مسلمانانو قابل د اعتماد وي، "او آخران من غیرکم" عطف دی پر اثنان باندي، والمعنی او شهادة اخرین من غیر اهل دینکم یعني اهل الذمة په ابتدا کي د اسلام چي مسلمانان شاهدان نادر وه خصوصاً په حال کي د سفر، نو د اهل ذمه وو شهادت هم روا وو بیا په دې آیت منسوخه سوه واشهدوا ذوی عدل منکم، نو اوس د ذمي شهادت که په هر دین کي وي پر مسلمان نه قبلیږي، ولي شاهدي خو قسم د ولایت ده ولا ولایت للذمي علی المسلم او شاهدي د ذمي پر ذمي باندي روا ده لان اهل الذمة بعضهم اولیا بعض.

إِنْ أَنتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْأَرْضِ

که تاسي سفر کاوه په مځکه کي.

پوه سه: چي "ان" شرط دی ځواب یې فاصابتکم دی، او انتم مرفوع علی شریطة التفسیر یعني اصل داسي و ان ضربتم انتم في الارض بیا یې ضربتم حذف کړی وروسته یې ضربتم د هغه تفسیر او بیان راوړی.

سوال: ددې حذف کولو او بیانولو فائده څه ده؟

ځواب: فائده یې اولاً انتظار دی وعامل ته "انتم" وروسته دفع د انتظار ده، علما د علم معاني وایي چي هغه علم چي تر انتظار وروسته حاصل وي هغه علم الذ او اثبت في العقل وي والی هذا اشار المولی الجامي قدس سره في کتابه یوسف زلیخا... چه خوش باشد که بعد از انتظاری،،،،،، بامید رسد امیدواری.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَصَابَتْكُم مُّصِيبَةُ الْمَوْتِ

نو تاسي ته ورسېدی مصيبت د مرګ، والاضافة بيانية، يعني نو تاسي سره است چي دغو دوو کسانو من غيرکم وصيت وکړی او خپل مال ودوی ته په لاس ورکړی، وروسته چي هغو دوو کسانو د ميت مال راوړی بعض ورثه د ميت پر هغو د خيانت دعوه وکړه يعني د مړي له مال څخه تاسي يو شی پټ کړی کالجام المذکور في القصة او هغو دوو کسانو د خيانت انکار وکړی.

پوښتنه: پر دې تقديراتو چي موږ وکړه قرينه څه شی ده؟

ځواب: قرينه داده چي ورثه وو ته د بديل ميت کاغذ ورسېدی چي جام پکښي ذکر و، نو ورثه وو د بديل هغو دوو کسانو ته وويل چي جام مو څه کړی هغو دوو کسانو انکار وکړی چي جام موږ نه دی ليدلی فافهم.

تَحْبِسُونَهُمَا مِن بَعْدِ الصَّلَوٰةِ

يوه سه: چي "تحسبونهما" صفت دی د "اثنان" عادلان که د مسلمانانو څخه وي او که من غيرهم. مطلب هغه کسان چي حاضر وي په وخت کي د ايصا د ميت، او بعض مفسران چي تخصيص کوي په اخرين فقط هغه صحيح نه دی، ولي چي شک وورثه وو ته د ميت خو خاص په آخران من غيرکما پوري نه دی بلکي چي جام ورک سو د ورثه د ميت شک د پټولو پر دواړو قسمو شاهدانو سته. والحاصل تاسي يعني ورثه د ميت به درويي هغه دوه کسان چي په ايصا کي د ميت حاضر وه او د خيانت في الجام څخه دی.

يوه سه: چي کلمه د "من" زائده ده او مراد له "صلوٰة" څخه صلوٰة العصر دی بجعل اللام للعهد الخارجي بقرينة ان وقت الصلوٰة المذکورة وخت دی د اجتماع د خلګو او وخت دی د اجتماع د ملکو حفظه وو د ورځي او د شپې په دغه وخت کي او بل په قرينه ددې چي تر اهل اديان ددغه وخت تعظيم کوي او له حلف کاذب څخه ځان ساتي، او بل په قرينه ددې چي په صحيح حديث کي ثابته ده چي عليه الصلوٰة والسلام چي به چاته قسم ورکاوه په هم دغه وخت کي يې ورکاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ اِنِ ارْتَبْتُمْ

نو دغه دوه کسه که منکم وي او که من غیرکم وي قسم به اخلي په خدای ﷻ سره، که تاسي ددوی په خیانت کي شکیان واست اې ورثه وو د میت.

پوه سه: چي دا شرط جمله معترضه ده فائده یې داده که شک او ارتیاب د ورثه د میت د هغو کسانو په خیانت کي نه وي فلاحاجة الی تحلیفها . فالمعنی که تاسي شکیان واست اې وارثانو د میت په خیانت کي د هغو کسانو ، او هغه کسان له خیانت څخه منکر وه، نو دي حاکم الوقت و دوی ته قسم ورکوي.

پوه سه: چي "ان ارتبتم" چي شرط دی پر جزا یې "فیقسمان" دلالت کوي، نو د قسم جواب دا عبارت قرآني دی.

لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا

ای لانستبدل یعني شرا مجاز ده له استبدال څخه او ضمیر د به یا راجع دی وقسم ته یا والله "ثمنا" ای عوض الدنیا مراد یې دادی چي زموږ غرض دنیاوي نه دی چي ورثه د میت یې پر موږ دعوی کوي، یعني قسم موږ کاذباً نه اخلو بلکي موږ په خپل وینا کي صادق یو موږ خیانت نه دی کړی.

وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى

که څه هم وصي صاحب د قرابت د میت وي لکن ورثه د میت دعوی د خیانت پر لري ددې آیت مطلب دادی چي قسم ورکول یوازي په اجنبي پوري خاص نه دی بلکي قریب ته چي نور ورثه دعوه د خیانت پر وکړي او دی منکر وي قسم به ورکړه کېږي.

وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ

او موږ نه پټوو شهادت د خدای ﷻ یعني هغه شاهدي چي موږ یې امر کړي یو په ادا کولو سره.

پوه سه: چي مراد له شهادت څخه شهادت متعارف نه دی، ولي په ځای کي څو ځای د شهادت متعارف نسته بلکي مراد څني اظهار الحق دی او اخبار بالصدق د وصیت په باره کي د میت که څه هم پر ځان شاهدي ادا کوي یعني د میت قریب او خیانت یې کړی وي که چي نور ورثه پرده باندي بد ګمان وچي ده به شی پټ کړی وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ الْآثِمِينَ ۞

نو مونږ دغه وخت چي حق پټ کړو د ګناه کارانو له ډلي څخه به یو.

په صحیح حدیث کي راغلي دي چي څه وخت چي دغه آیت نازل سو رسول الله ﷺ د مازدیګر لمونځ وکړی، نو تمیم او عدي چي نصاریان وه په نبږ د منبر نبوي داسي قسم ورکړی چي ووایاست بالله الذي لا اله الا هو چي مونږ خیانت نه دی کړی په شي کي چي مونږ ته راکړل سوی دی د بدیل له خوا څخه یعني هیڅ شی مو نه دی پټ کړی، هغو دواړو دا قسم واخستی، نو علیه الصلوٰة والسلام دوی خوشي کړه.

بوه سه: چي سعید بن جبیر له ابن عباس ﷺ څخه داسي روایت کړی دی چي څو زمانه وروسته د بدیل هغه جام په مکه مکرمه کي پیدا سو، د بدیل قریبانو له هغه سړي څخه چي جام ورسره پوښتنه وکړه چي دا جام تاته چېري په لاس درغلی؟ هغه سړي ورته وویل چي ما له تمیم او عدي څخه رانیوی، د بدیل قوم چي بني سهم یې بلل په خبره سوه، نو تمیم او عدي ته ورغله چي مونږ خو جام پیدا کړی په مکه مکرمه کي او هغه سړي وویل چي ما دا جام د تمیم او عدي څخه رانیولی دی، تاسي خو ویل چي مونږ د بدیل په ترکه کي خیانت نه دی کړی!؟ دوی دوو داسي ځواب ورکړی چي مونږ خو دا جام له بدیل څخه رانیولی و، نو د بدیل ورثه وو ورته وویل چي مونږ تاسي ته وویل چي بدیل خو به یو شی د خپل ما في الید څخه د تداوي یا نفقې لپاره نه وي خرڅ کړی تاسي ویل یا. نو اوس څرنګه تاسي وایاست چي مونږ له بدیل څخه رانیولی و، تمیم او عدي په ځواب کي ورته وویل چي مونږ د رانیولو شاهدان نه درلوده، نو مونږ د رانیولو خبره پټه وساتله. ولي که مونږ اقرار کړی وای چي مونږ له بدیل څخه رانیولی دی تاسي د شاهدانو مطالبه کوله. نو ځکه مو د شرا معامله پټه وساتله، نو د بدیل ورثه وو د تمیم او عدي قضیه و علیه الصلوٰة والسلام ته ورسول، نو دا آیت نازل سو.

فَإِنْ عُثِرَ عَلَىٰٓ أَنَّهُمَا اسْتَحَقَّآ إِثْمًا

که علم راغلی و ورثه ته د میت واصل العثر الوقوع علی الشئ، پر دې باندي چي دغه دوه وصیان د میت چي مراد ځني دلته تمیم او عدي دي دوی مستحق

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

گرځبدلي دي يعني يو داسي فعل يې کړی دی چې هغه سبب گرځېدلی دی د گناه، چې هغه خيانت و ددوی چې جام يې پټ کړی بیا يې په دروغو قسمونه هم پر واخستله چې موږ په جام نه يو خبر او وروسته يې دعوه ددې وکړه چې موږ جام له بديل څخه رانيولی و تاچي دوی له ځانو څخه تهمت د خيانت لرې کړي او معامله يې تر دې ځايه راورسول چې ورثه وو د بديل ته يقين سو خيانت د عدي او تميم.

فَاٰخَرٰنِ يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِيْنَ اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْاَوْلَيٰنِ

ای رجلان آخران مبتدأ ده "يقومان مقامهما" خبر دی د مبتدأ. ودريږي دا دوه کسان په ځای کې د هغو دوو چې پر خيانت د هغو دوو د بديل د ورثه وو علم راغلی

سوال: آخران خو نکره ده، نو څرنگه مبتدأ واقع سوه؟

ځواب: په حذف د موصوف كما اشرنا اليه ای رجلان آخران.

پوه سه: چې مراد له مقام څخه د هغو دوو مقام د شاهدی نه دی لکه هغو دوو چې ادا کړه او حق شاهدي نه وه بلکې مقام د حبس او تحليف يعني قسم ورکول دي نورو دوو ته لکه اولو دوو ته چې يې ورکړی.

پوه سه: چې "من الذين" حال دی له فاعل څخه د "يقومان" ای من ورثة الميت چې حق د تحليف لري پر دوی اول دوه کسان، يا معنا دا ده هغه دوه کسه چې اقرب وه ميت وي او وارثان يې وي يعني دا دوه وارثان دي قسم واخلي پر کذب د اولو دوو

فائده: تخصيص د دوو اخران په سبب د خصوص د واقعې دی د بديل چې وارثان يې دوه کسان وه، او که يې وارث يو و هغه ته به قسم ورکوي، او که يې ورثه تر دوو بالا وه تولو ته به قسم ورکوي.

پوښتنه: آخرانو ته ولې قسم ورکول کېږي؟

ځواب: په حديث شريف کې راغلي دي "البينة على المدعى واليمين على من انكر" په موضوع کې د بديل خو تميم او عدي دعوه د شرا د جام وکړه له بديل څخه لکن شاهدان د شرا يې نه درلوده او ورثه د بديل له شرا څخه منکر وه، نو خو دوی ته حلف "قسم" راجع سو.

پوه سه: چې ضمير د "عليهم" راجع دی "والذين" ته چې مراد ځني ورثه د ميت دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَآ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا

نو دا دوه قسم واخلي په خدای ﷻ سره پر خیانت د اولینو او پر کذب د شرا د جام له میت څخه کمامر ان الاولین ادعوا الشرا من بدیل المیت.

یوه سه: چي د "یقسمان" مفعول خو محذوف دی وهو کذب الاولین کمامر في الترجمة او د "لشادتنا" سره بل فعل محذوف دی ای ویقولان، یعني قسم زموږ احق په قبول سره دی تر قسم د اولینو کما في قوله تعالی "فشهادة احدهما اربع شهادات انه لمن الصادقین" یعني دوی به وایي چي زموږ شاهدي په دې احق بالقبول ده چي موږ رشتیا وایو او دوی به دروغ وایي.

وَمَا اعْتَدَيْنَآ ۖ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾

او موږ تجاوز نه دی کړی تر حق په قسم کي، ولي که موږ تجاوز وکړو موږ به د ظالمانو له ډلي یو، ولي چي ظالم هغه څوک بولي چي باطل په ځای کي د حق ایږدي.

درویش وایي: دا آیت چي نازل سو دوه کسه له قریبانو څخه د بدیل سهمي ولاړ سول چي د یوه نوم عمرو بن العاص و او د بل نوم مطلب بن وداعة السهمي و، نو د مازدیگر وروسته یې قسم واخستی.

پوښتنه: دا دوو کسانو څرنگه قسم اخستی چي بدیل ﷺ دا جام پر تمیم او عدي باندي نه دی خرخ کړی، نو دوی څه علم درلودی؟

ځواب: دوی قسم داسي نه دی اخستی چي نه یې دی خرخ کړی حتی یرد ماذکر بلکي دوی داسي قسم واخستی چي موږ علم نه لرو چي بدیل به دا جام پر تمیم او عدي باندي خرخ کړی وي وهذا القسم صحیح فتامل.

درویش وایي: چي مطلب د مذکوره آیتونو دادی چي څوک ناجوړی سي او عقل یې پر ځای وي او بعض علامات د مرگ ورته ښکاره سي او د وصیت اراده لري باید دوه کسه عادلان چي دده له نسبه څخه وي، او که یې له نسبه څوک نه و حاضر بیا دې دوه کسه عادلان دده په دین شریکان شاهدان کړي پر وصیت خپل او که نه اهل نسب وه نه اهل دین وه یعني چي په سفر کي وي بیا دوه نور کسان چي په دین نه وي سره شریکان هغه دي پر وصیت شاهدان کړي لکه په مانحن فیه یعني د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بدیل سهمي په مرګ کي چي بې له عدي او تمیم چي نصارٰی ول څوک نه وه، نو که هغو شاهدانو ترکه د میت راوړه او ورثه د میت په هغه سره قانع وه فلا حاجة الی شيئ من التحلیف وغیره، او که ورثه وو ته د میت څه شک پیدا سو چي بعض شیان د ترکة المیت به دوی پټ کړي وي او خیانت به یې کړی وي، نو دوی ته دي قسم ورکړي چي موږ له شاهدی او ترکة المیت څخه شی نه دی پټ کړی په تغلیظ د وخت یعني ورروسته د ماز دیګر تر لمانځه، نو که هغو قسم واخستی، نو خلاص سول، وروسته که ورثه وو د میت د ترکة المیت ددوی سره ولیدی ورثه وو چي پو ښتنه څني وکړه چي دا شی خو زموږ د میت دی او شاهدانو دعوه وکړه چي موږ دا شی له میت څخه رانیولی دی، نو ورثه دې قسم واخلي او ددوی په قسم دي عمل وکړل سي، د میت د ورثه د قسم وجه د پره تر ذې تېره سوه فتذكر. وهذا احاصل الآیات المتلوة في قصة بدیل فاحفظه.

ذٰلِكَ

دغه حکم الهي چي قسم دي هغه دوو وصیانو ته ورکوي په نېز د شک د خیانت د وصیانو . او بیا دي قسم ورکوي ورثه وو ته د میت که چیري دعوه وکړه وصیانو په رانیولو سره له میت څخه او بیا دي عمل د ورثه وو په قسم سره کوي.

أَدْنَىٰٓ أَن يَأْتُوا۟ بِٱلشَّهَٰدَةِ عَلَىٰ وَجْهِهَآ أَوْ يَخَافُوٓا۟ أَن تُرَدَّ أَيْمَٰنٌۢ بَعْدَ أَيْمَٰنِهِمْ

نژې ده ودې ته چي راتګ به کوي وصیان په شهادت سره یعني په اظهار الحق سره او په صحیح بیان سره د هغه څه چي میت ودوی ته ویلي وه پر هغه طریقه سموعه من المیت من غیر خیانت "او یخافون آه" عطف دی پر "ان یاتوا" یعني اقرب ودې ته چي اوصیا دي بېرېږي چي رد به سي قسم و ورثه وو ته پر انکار د دعوې د وصیانو وروسته تر قسمو د وصیانو او د رصیانو رسوایي پکښي رلسي، نو ددې رسوایي له کبله باید د میت وصیان د حق اظهار وکړي.

وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْمَعُوا۟ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴿١٠٨﴾

ای احفظوا احکام الله واتقوا الله. او تاسي اوریٔ ما امرکم الله به. اوریده اجابت الله. هدایت نه کوي یعني که تاسي د خدایه نه وبېرېږئ او سمع د قبول د احکامو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ونه کړي نو تاسي قوم فاسقين سئ، او خدای و فاسقانو ته هدایت ودلیل ته یا لاري ته د جنت نه کوي.

پوه سه: چي جمله "واتقوا الله" معطوف ده پر مقدر باندي ای احفظوا احكام الله و اتقوا الله.

مظهري رحمه الله وايي چي پر دغه تفسير دا آيت د شان نزول سره هم برابرېږي او آيت هم محكم بې نسخه پاتېږي، ولي قسم د وصي په نېز د انكار له خيانت څخه او يمين او وارث په نېز د انكار دده له دعوې څخه د وصي چي ما دا شی له ميت څخه رانيولی دی د اوس هم ثابت دی او هغه خبره هم صحيح کېږي چي مفسرين وايي چي د سورة مائدې هيڅ حكم منسوخ نه دی.

سوال: په فقهي شريفي کي وايي چي لايجوز شهادة الكافر على مسلم في شئ من الاحكام" او دمخه تېره سوه په تفسير کي ددې قول د خدای ﷻ "منكم" ای من اهل دينكم وملتكم اومن غيركم ای من غير ملتكم، او دا تفسير منقول دی له ابن عباس رضي الله عنه، او ابو موسیٰ اشعري، سعيد بن المسيب، مجاهد او له عبيده رضي الله عنه څخه نو پر دې تقدير خو شهادت د كافر پر مسلمان يعني عند الوصية وجود پيدا کړي، ددې سوال په ځواب کي امام نخعي رحمه الله او نور هم وايي چي په ابتدا کي د اسلام شاهدي د اهل ذمه پر مسلمان باند مقبوله وه ثم نسخت.

درويش وايي: چي پر دې جواب مخالفت له قوم څخه چي وايي په سورة مائده کي هيڅ حكم منسوخ نسته لازمېږي، او شريح رحمه الله داسي ځواب ورکړی دی من كان بارض غربة لم يجد مسلماً يشهد على وصية فاشهد كافرين فشهادتها جائزة ولايجوز شهادة كافر على مسلم الا على وصية.

درويش وايي: چي پر دې ځواب هغه قانون چي لايجوز شهادة الكافر على مسلم في شئ من الاحكام عام مخصوص منه البعض دی، يعني الشهادة على الوصية، نو پر دې ځواب نه نسخ د هيڅ حكم د سورة المائدة لازمېږي او شاهدي پر وصيت باند د كافر ثابته پاتېږي فهذا الجواب هو الاسلم، او ددې ځواب تائيد کوي دا قول د شعبي رحمه الله چي يو سړی و له مسلمانانو څخه چي ده ته د وفات وخت ورسېدی په وطن د قوقا کي، نو دې سړي مسلمان نه کړی پيدا چي پر خپل وصيت يې شاهد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي، نو بې دوه کسه د اهل کتابو شاهدان د خپل وصیت وګرځوله. نو هغو دوو اهل کتابو ترکه د میت وکوفې ته راوړه او امام اشعري رضي الله عنه ته ورغله او دا موضوع یې ورته بیان کړه، نو امام اشعري رضي الله عنه ورته وویل چې دا یو داسې موضوع ده چې وروسته تر علیه الصلوٰة والسلام یعني د بدیل په موضوع کې نه ده پېښه سوې، نو امام اشعري رضي الله عنه و هغو دوو اهل کتابو ته قسم ورکړی او ددوی شاهدي یې ومنله، ولې چې ورثه د میت اعتراض د خیانت نه پر وکړی او که چېرې دوی اعتراض د خیانت کړی وای نو قسم به بیا ورثه ته عائد کېدای کما في مسئلة بدیل ﷺ.

فائده: په شرعه شریفه کې شاهدي اخبار کول دي د هغه شي چې شاهدان پکښې حاضر وي یا معاینةً لکه افعال نحو القتل والزنٰی وغیرهما او یا سماعاً لکه بیع وشراً والاجارة وغیرها من العقود والاقرارات بالدیون والامانات وغیرها، نو شاهدانو ته هلته شاهدي روا ده چې دی پکښې حاضر وي او علم یې پر راسې او وایه وري او هغه وخت شاهدانو ته روا ده چې هغه حادثه او واقعه هم ورپیاد سي. له دې سببه په صحیح حدیث کې راغلي دي "اذا علمت مثل الشمس فاشهد والا فدع" که تاته واقعه معلومه وه لکه لمر یعني یقین کامل دي سو نو شاهدي ادا کړه او که داغسې نه وه درمعلومه، نو بې پرېږده یعني که څه شک او شبه په مشهود علیه په زړه کې در ګرځېدله بیا شاهدي پرېږده مه یې ادا کوه.

حکمت: په شاهدي کې حکمت دادی چې حقوق د خلګو خوندي سي مثلاً د یو چا پر بل چا پور باندي و هغه ورته منکر و په شاهدانو دا حق ژوندی کېږي، او بل حکمت دادی چې عقود په منځ کې د خلګو له انکار څخه خلاصېږي لکه عقد، بیع، شرا او عقد نکاح وغیر ذالک. ولهذا ورد في الحدیث النبوي ﷺ "اکرموا شهودکم فان الله یستخرج بهم الحقوق"

مسئله: که پر چا ادا د شاهدي متعینه وه ده ته نه ده روا چې له کولو څخه یې منع وکړي لان في منعه تضیع الحقوق.

مسئله: که په خط کې نور شاهدان هم وه بې له ده چې په هغو سره هم حق ثابتېدی، نو د امتناع له شاهدي څخه روا ده لان الحق لایضیع بامتناعه.

مسئله: په حدودو کې لکه زنٰی، قتل وغیرهما شاهد مخیر دی که شاهدي ادا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوي او که ستر او پرده پر اچوي، ولي چي اقامت د حد بنه کار دی او ستر د مسلمان هم ښه کار دی ومع ذالک الستر افضل، وفي الحدیث الصحیح من یستر علی مسلم ستر الله علیه في الدنیا والآخرة.

يَوْمَ يَجْمَعُ اللَّهُ الرُّسُلَ فَيَقُولُ مَاذَا أُجِبْتُمْ

هغه ورځ چي خدای ﷻ جمع کړي تو له رسولان یعني په ورځ د قیامت، نو خدای ﷻ ووایي و رسولانو ته چي تاسي ته څه ځواب درکړ له طرفه د امتیانو ستاسي.

پوه سه: چي "یوم" یا منصوب دی په "اذکر" مقدر سره یا منصوب دی په "لایهدي" سره او یا منصوب دی په "اسمعوا" سره یعني د "اسمعوا" مفعول به دی حذف د مضاف یعني "اسمعوا" خبره "یوم" یا منصوب دی په "احذروا" مقدر سره.

پوه سه: چي "ماذا" منصوب محلاً په "اجبتم" سره یعني مفعول مطلق یې دی.

پوه سه: چي دا سوال لپاره د توبیخ د قومو د رسولانو دی کما یسئل الموؤدة بای ذنب قتلت لپاره د توبیخ د قاتل د دوی دی.

قَالُوا لَا عِلْمَ لَنَا إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ ﴿١٠٩﴾

رسولان ووایي موږ لره هیڅ علم نسته چي موږ ته څه ځواب راکړه سو، په تحقیق ته اې خدایه بلیغ علم درلودونکی په غیبو شیانو سره.

پوښتنه: رسولان په دې خبر وه چي امت کافره زموږ تکذیب وکړی، نو څرنګه په کلمه د لا نفي جنس دوی نفي علم له ځان څخه کوي، او بل سوال دادی چي رسولان خو پر امتو شاهدي ادا کوي د تکذیب ددوی، نو دا نفي او هغه شاهدي د دوی به څرنګه سره جمع سي؟

ځواب: ابن عباس رضی الله عنه او حسن بصري او مجاهد وایي چي ورځي لره قیا اهوال او زلازل سته چي د هغو په سبب زړونه له ځایه څخه بې ځایه ګرځي او عقول په فزع اکبر کي واقع کېږي چي له ځواب څخه د بېخي غافل ګرځي، نو ځکه دوی ځواب له لا علم لنا سره ورکړی، وروسته چي بیا زړونه د دوی ځای ته راسي او نهایت هول د قیامت پورته سي بیا شاهدي پر اممو ادا کوي فارتفع التعارض وصح الجواب بلا علم لنا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي مراد له غيب څخه غيب عن الخلق لا عن الله لانه لا غيب عن الله تعالى نو دوی گويا داسي ورته وويل چي ته خدای ﷻ علام الغيوب يې او موږ علم نه لرو مگر پر ما نشاهد باندي، امام بخاري رحمه الله له انس رضي الله عنه څخه روايت کړی چي نبي عليه السلام وويل چي بعض اصحاب زما حوض کوثر ته زما راوستل سي چي زه يې هم وپېژنم بېرته يې د دوږخ پر خوا روان کړی زه ملکو ته ناري کړم اصحابي اصحابي فيقول لاتدري ما احدثوا بعدک.

درويش وايي: چي شايد دا به هغه کسان وي چي وروسته تر وفات د عليه الصلوٰة والسلام مرتد سوي وه.

پوښتنه: څرنگه صحيح دی ذهول د عقولو د انبياً عليهم السلام او خدای ﷻ په شان کي ددوی وايي "لايحزنهم الفزع الاکبر" بعض مفسران په ځواب کي ددې پوښتني وايي چي فزع اکبر خو دخول د جهنم دی دا خو د ټولو انبياً عليهم السلام څخه منفي دی. قال السعدي الشيرازي قدس سره في هذا الباب.

دران روز کزفعل پرسند وقول	اولو العزم راتن بلرزد زهول
بجای که دهشت خورد انبياً	تو عذر گناه را چی داری بيا
برادرز کار بدان شرم دار	که در روی نيکان شوی شرمسار
سر از جيب غفلت بر آور کنون	که فردا نماند بخجلت نگون

او له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي دا ځواب د انبياً عليهم السلام لاعلم لنا الآية په بعض احوالو کي د قيامت دی، او هغه وخت دی چي د جهنم د بري وي او ټولو امتونو زنگون کيښناست وي او هيڅ ملکه مقربه او نه بني مرسل وي مگر دا وايي نفسي نفسي، نو به دغه وخت زړونه د انبياً عليهم السلام او عقول ددوی له ځايه بې ځايه سي، نو په دې حال کي رسولان وايي لا علم لنا الآية. اللهم اجرنا من عذاب الدنيا وهول يوم القيامة يعني الهول الممتد المفضي الى دخول جهنم بحرمة سيدنا وسيد الرسل محمد ن المصطفى عليه السلام.

اِذْ قَالَ اللّٰهُ یٰعِیْسَى ابْنَ مَرْیَمَ

پوه سه: چي تفسير روح البيان کلمه د اذ منصوب بولي په فعل مقدر سره، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ترجمه يې داسې کړې ده اذکروا ايها المؤمنون وقت قول الله تعالى لعيسى بن مريم وهو يوم القيامة. او مظهري رحمه الله تقديرات ورسره کړي او ويلي يې دي چې دا اذ بدل دی د "من يوم يجمع الله الرسل آه" ددې ابدال په مناسبت کې يې ډېر مقدر عبارات ويلي دي چې عقل سليم ابا ځني کوي په اخير کې مظهري هغه تقدير مشهور اولاً او اخيراً داسې راوړی دی او منصوب باضمار اذکر.

اذْكُرْ نِعْمَتِىْ عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ

ته په ياد کړه نعمت زما پر تا باندې او ستا پر مور باندې. والمقصود له اذكر څخه شکر د نعمت دی.

پوه سه: چې لفظ نعمت که څه هم مفرد دی لکن مراد ځني جنس دی. نو ټولو نعمتو ته شامل دی.

فائده: د عيسىٰ عليه السلام د مور چې مريمه ده نعمت د خدای جل جلاله پر دې باندې دادی چې دا يې پاکه ساتلې وه د ما اتهم اليهود عليها او دا يې لوړه کړې ده پر نساً العالمين باندې کما ورد في الموضع الآخر من القرآن العزيز.

پوه سه: چې درويش چې تفسير د ذکر د نعمت په شکر سره په متابعت د حسن بصري رحمه الله او صحيح خبره داده چې مقصود تکليف د عيسىٰ عليه السلام په شکر سره نه دی. ولې چې دا خبره عيسىٰ عليه السلام ته په ورځ د قيامت کول کيږي او په قيامت کې وخت د شکر د تکليف تېر سوی په دنيا کې بلکې مقصود وادي چې دا خبره حجت سي پر کفربه. ولې چې خدای پاک وده ته معجزات باهرات ورکړي وي کاحيا الموتیٰ وابراٌ الاکمه والابرص وغير ذالک. او سره د يهودانو دی ساحر باله. او بعض نصاریٰ وو ده په حق تر حد تجاوز وکړی چا ابن الله باله. او بعضو دی خدای باله. او بلې ډلې د نصاریٰ وو ثالث ثلثه باله. نو په يادول د خدای جل جلاله و عيسى ته به حسرت او ندامت سي پر دواړو ډلو د يهودانو او د مذکوره ډلو د نصاریٰ وو.

پوه سه: چې دا قول د خدای جل جلاله خو اجمال د نعمتو د خدای جل جلاله پر عيسى عليه السلام باندې ؤ ثم ذکر الله وروسته تفصيلاً خدای جل جلاله يو يو نعمت د خدای پر عيسى ذکر کړی وقالوا التفصيل بعد الاجمال اوقع في الذين. نو د تفصيل لپاره خدای پاک وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ أَيَّدتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ تُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا

اى قويتك دا ظرف دى د نعمتي.

يوه سه: چي اکثره مفسرين وايي چي له "روح القدس" څخه جبرائيل عليه السلام مراد دى.

سوال: جبرائيل عليه السلام خو ټولو انبيا عليهم السلام ته وحي راوړې، نو د عيسى تخصيص په جبرائيل سره په څه و؟

ځواب: وجه د تخصيص يې داده چي جبرائيل د عيسى سره ملګري و من وقت الصبى الى ان رفع الى السما فائدة اضافت د روح القدس ته اضافت دى د موصوف وصفت ته اى الروح المقدسة، او بعض مفسرين وايي چي مراد روح د عيسى عليه السلام دى او د تقدس معنى په قوت پر مقابله د يهودانو سره په ظهور د معجزاتو باهراتو سره.

يوه سه: چي دا جمله "تکلم الناس آه" يا حال ده د "ايدتک" او يا جمله مستانفه ده مهد په لغت عربي کي زانګو ته وايي او مراد ځني حال د طفوليت دى في الغاية. والمعنى چي تا خبري کولې د خلګو سره په حال کي د غايت کوچني والي چي حالت د مهد دى.

سوال: خبري په حال کي د مهد که څه هم معجزه وه لکن خبري د حال د کهولت خو هر څوک کوي، نو د کهلاً وراوړلو ته څه ضرورت و؟

ځواب: په کهلاً کي اشاره ودې ته ده چي خبري د عيسى عليه السلام في حال المهد والكهولة سره برابري وي في انه يتكلم بالحكمة والعقل الكامل في الوقتين المذكورين على السوا، ولې چي عيسى عليه السلام هغه وخت چي په زانګو کي و، او خلګو ده مور مريمه ملامتوله چي تا خو ميړه نه درلودى، نو دي ځرنګه زوى پيدا سو، يعني تو تا زنى کړې ده، نو عيسى عليه السلام له مور څخه د زنى د تهمت د دفع لپاره داسي وويل "اني عبد الله آتاني الكتاب وجعلني نبيا وجعلني مباركا اينما كنت واوصاني بالصلوة والزكوة مادمت حيا".

درويش وايي: چي دا تکلم د عيسى عليه السلام وقت المهد ووقت الكهولة على نهج واحد من غير تفاوت معجزة عظيمة له، او هيڅ نبي ته دا معجزه نه ده په برخه سوې نه دمخه او نه وروسته او هر معجزه لکه د عيسى عليه السلام لپاره چي نعمت دى د مور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره يې هم نعمت دی، ولې په دې نعمتو سره ددې پاکوالی له زنی څخه لکه يهودانو چې ددې په باره کې اظهر من الشمس ښکاره کېږي، ولې چې ولد الزنی دومره لوی رتبې ته نه سي رسېدلای لکه عيسی عليه السلام چې ددې زوی و ورسېدی

يوه سه: چې کهل هغه سړي ته وايي چې دېرش کاله يې تېر سوي وي، او په سر کې يې بعض وېښتان سپين سوي وي، روي ان عيسی عليه السلام بعث نبياً وهو ابن ثلثين سنة" نو ده دېرش مياشتې نبوت په مځکه کې وکړی بيا اسمانو ته پورته کړه سو، او هم پر دغه سن به بېرته دنيا ته راځي او کهل به وروسته ګرځي كذا في كتب التفاسير، روح البيان، مظهري، روح المعاني، تفسير ماتريدي، تفسير بغوي والله اعلم بالصواب.

وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْإِنْجِيلَ ۚ

عطف دی پر ايد تک او دا نعمت په ياد کړه چې ماتاته وښول جنس کتب الهية المنزلة فاللام للجنس، او مراد له حکمت څخه علم او فهم دی د معاني د کتب متقدمه وو او اسرار د هغو کتابو او تورات مې هم در وښو چې کتاب د موسٰی و او انجيل هم چې ستا خپل کتاب دی.

سوال: په جنس کتابو کې خو تورات او انجيل هم داخل وه نو د بيا راوړلو يې څه وجه ده؟

ځواب: بېرته راګرځېدل يې لپاره د شرف ددې دوو کتابو دی.

وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْـَٔةِ الطَّيْرِ بِإِذْنِي فَتَنْفُخُ فِيهَا فَتَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِي وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ بِإِذْنِي ۖ

يوه سه: چې دا ذکر د يل نعمت دی پر عيسٰی عليه السلام او عطف دی پر ماقبل "اذ" او دا يوه بله معجزه ده د عيسٰی عليه السلام.

فائده: د خلق معنی دلته تصوير دی معنی داچې تا به له ختو څخه يو صورت جوړ کړی په مثل د هيئت د مرغه يعني خلق په معنا د اعطا الروح نه ده ولې هغه خو خاص په خدای جل جلاله پورې ده، ومعنى الآية په ياد کړه هغه وخت چې تا به له ختو څخه تصوير د هيئت مرغه وکړی زما په اجازه او په اسانه کولو سره، نو تا به پوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړه په هغه صورت کي، نو هغه هیئت د مرغه به ژوندی مرغه وګرځیدی زما په اجازه یعني په خلق الروح فیها فخلق الله ظهر ظاهراً علی ید عیسیٰ فلهذا انسب الخلق الی عیسیٰ علیه السلام.

درویش وایي: چي یهودانو له عیسیٰ علیه السلام تعنتاً وغوښتل چي ته موږ ته له ختو څخه شوپرک جوړ کړه او بیا پر پوه کړه چي ژوندی سي او په هوا سي، نو عیسیٰ دغسي وکړه یعني ختي یې راواخستلې او د شوپرک هیئت یې څني جوړ کړی او پر پوه یې کړه او هغه ژوندی سو په حکم د خدای ﷻ او په هوا سو.

درویش وایي: چي تر هغو چي دوی ورته کتل په هوا و چي ددوی له سترګو څخه غائب سو راولوېدی پر مځکه.

فائده: دوی ولي تخصیص د شوپرک ورته وکړی ددې سببه چي شوپرک له اعجب العجائب څخه د خلق الله دی.

(۱) شوپرک خالص غوښي او وینه ده بڼکې نه لري او الوځي.

(۲) زېږدل یې لکه د نورو حیواناتو یعني هګۍ نه لري لکه د نورو مرغانو چي له هګۍ څخه چیچي راوځي.

(۳) شوپرک غولانځه لري چي له هغې څخه شیدې راوځي او دده اولاد یې روي لکه د ښځو د تیو څخه چي شیدې راوځي.

(۴) له ورځي په سترګو نهویني او د شپې صرف دوه ساعته دی په سترګو ویني، د لمر لوېدو وروسته یو ساعت، او چي سپېدې راوچوي یو ساعت قبل ان یسفر جداً.

(۵) شوپرک دغسي خاندي لکه انسان.

(۶) شوپرک حیض او نفاس لري لکه د ښځو.

درویش وایي: چي دا کار چي یې وکړی او یهودانو هم ولیدی سره وه یې خندل وقالوا هذا سحر مبین، لعنة الله علیهم اجمعین آمین، او ته جوړولای سې موږ زاده روند یعني ستا په دعا سره موږ زاده روند بینا کېږي، او ته جوړولای سې پیس یعني ستا په دعا سره جوړېږي.

پوه سه: چي انتهائي درجه د پیس داده چي پوستکی یې سپین سي چي په ستني یې ووهي وینه نه راباسي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: دد غو مرضو تخصیص یې ولي وکړی؟

ځواب: دا دوه مرضه یعني علاج الاکمه والابرص له دائرې ځخه د طبي علاج له قدیمي زمانې ځخه تر اوسه بیا تر قیامته پورې په ټوله نړۍ کې د علاج قابل نه و او نه دی لکه پر دې باندې چې د ټولو یوناني طبیبانو او د ډاکټرانو اتفاق دی.

وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰى بِاِذْنِىْ

یعني له قبرو ځخه به دې راژوندي کول مړي په اذن او اراده زما، په یو روایت سره په غوښتنه د بني اسرائیلو یې سام بن نوح علیه السلام ژوندی کړی او دوه نور کسان او یوه ښځه چې تفصیل یې په سورت آل عمران کې مذکور دی.

درویش وایي: چې دلته یوه مهمه فائده سته چې لږ مفسرانو په تفصیل سره بیان کړې ده چې فائده داده، چې رب العزت ﷻ عادت په جاري چې هر صنعت چې په زمانه کې د هر نبي چې خدای په رسالت ډېر پر مخ تللی صنعت وي د هغې زمانې نبي ته د هغه صنعت مشابه معجزه ورکوي تاچې په هغه صنعت کې چې د زمانې خلګ ډېر مهارت پکښې لري عاجزه وګرځوي تاچې دوی په دې پوه کړي چې دا نبي رشتیا نبي دی، ولي چې موږ یې په خپل ماهرانه صنعت کې عاجزه کړو. مثلاً په وخت کې د موسیٰ علیه السلام د فرعون په اتباعو سحر او جادو او شی له خپل حال او ماهیت ځخه وبل حال او ماهیت ته اړول په رویت کې د خلګو ډېر پر مخ تللی رواج یې درلودی حتی چې فرعون د موسیٰ علیه السلام د مقابلې لپاره اوویا زره کارکونکي د سحر او جادو سره جمع کړه، نو موسیٰ علیه السلام ته یې ددوی د مروج صنعت سره مشابه معجزه ورکړه چې لکړه به یې وغورځول کوچنی مار به و وروسته به لوی مار ځني جوړ سو . او بله معجزه یې داورکړه چې لاس به یې له لستوڼي ځخه را ویستی داسي شعاعې به یې کولې لکه د لمر او چې بېرته به یې په لستوڼي کې داخل کړی پر خپل عادي حال به وګرځېدی الی غیر ذالک. او د عیسیٰ علیه السلام په زمانه کې طبابت او ډاکټري ډېره پر مخ تللی صنعت و په اهل زمانې کې لکه جالینوس د هغې زمانې پر مخ تللی طبیب و، نو عیسیٰ علیه السلام ته خدای پاک د طبابت مشابه معجزه ورکړه چې ټوله طبیبان د هغې زمانې یې عاجزه کړه لکه دمخه چې تېره سوه من ابرا الاکمه والابرص واحیا الموتی چې دا کار د ټولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماهرینو د طبابت له توان او طاقت څخه وتلی کارو، او هیڅ چا یې مقابله نه سوای کولای، او د سیدنا ونبینا وحبیب ربنا ﷺ په زمانه کې د فصاحت او بلاغت او ژبیارې توب ډېره لویه چرچه وه حتی شاعر او بلیغ چې به یو د قصیده جوړه کړه، نو د نورو شاعرانو د ازموینې لپاره به یې د کعبې شریفې پر دروازه وځړول، او نورو شاعرانو به یې مقابله کوله حتی اوله قصیده چې د کعبې شریفې پر دېوال یې وځړول د امرء القیس الکندي قصیده وه چې د قصیدې اول بیت یې دادی

قفانبک من ذکری حبیب ومنزل		بسقط اللوی بین الدخول فحومل

الی اخیر القصیدة. وروسته بیا بل شاعر قصیده جوړه کړه، د امرء القیس قصیده ته ورته قصیده په فصاحت او بلاغت کې ثم وثم چې اووه قصیدو ته ورسېدې چې اووه سره قصیدې په شکل د کتاب چې معلقات سبعه یې نوم دی په مدارس عربیه وو کې د عربي قدیم د زدکړې لپاره مروج دی.

درویش وایي: چې دغه کتاب که څه هم انفع دی تر تفاریق العصی لکن له بده مرغه د هر عالم او مدرس لاسونه ددغه کتاب غاړې ته رسېږي. گفته شده انجیر خوردن نه کار هر مرغیست، نو بناً علی هذا رسول کریم ﷺ ته قرآن عظیم الشان معجزه باقیه کر الازمان ومر الدهور ورکړه چې په کتاب عزیز کې دا اعلان خدای پاک وکړی "وان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فاتوا بسورة من مثله" یعني کا تاسي اې کفارو د مکې په شک او انکار کې یاست له هغه کتاب څخه چې ما نازل کړی دی پر خپل محمد رسول الله ﷺ باندې په دې معنا چې دی به دا کتاب له ځانه جوړوي او منزل من عند الله به نوي لکه قریشو د مکې به دغه ویله، نو تاسي چې هم بلغاً یاست او په عربي ښه پوهېږئ مثل د یو کوچني سورت جوړ کړئ او مقابله د قرآن په وکړئ چنانچه سورت قرآني پر دېوال ځوړند سو او بلغاً د عدنان او فصحاً د قحطان ورته راجمع سو د لکن مثل د هغه قصیر سورت یې جوړ نه کړی حتی چې له خپلو ځانو څخه یې د عجز تورولی په دې الفاظو دفع کاوه "انهم سحروا تسحیراً" یعني محمد ﷺ په موږ سحر وکړی او موږ یې له ایتان د مثل د سورت عاجزه وگرځولو.

درویش وایي: چې ولله الحمد والمنه دا معجزه قرآني او دا اعلان قرآني اوس هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باقي دی او باقي به وي الى يوم القيامة.

پوښتنه: کفارو او بليغانو د قريشو به يو شی ويلی وای چې دا مثل د سورت مذکوره دی د ضد له لاري، ولي دوی داسې ونه کړه؟

ځواب: دوی پر نام بدی، بيرېدله ولي چې نبايد يو بل بليغ به ووايي چې ته دا ليکلی کلام وګوره او سورت قرآني وګوره فبينما بعد المشرق والمغرب.

سوال: چا به مثل د قرآن جوړ کړی وي لکن په مرور د زماني به مخفي پاته سوی وي؟

ځواب: په قرآن مجيد کې حاميان په اوله دوره کې د اسلام محدود کسان وه هغه مخفي نه سوه پاته، او که مثل د قرآن کريم چا جوړ کړی وای او سره ددې چې حاميان په لکو يهودان او مشرکان د نړۍ وه او په کوروړو نصارٰی د دنيا وه، نو هغه به ولي مخفي پاتېدی او سره ددې چې نشريات عامه د يهودو او د نصاری و اوس بر سرکار او اقتدار دي، نو که مثل د قرآن د چا سره وای په مکرره تبليغاتو د نشريات عامه به يې چهاپ ته سپارلي وای، او په راډيو ګانو او تلويزونانو به يې بيانولې، لکن بحمد الله داسې نه وسوه وهذا دليل على صحة كون القرآن الكريم من جانب الله العزيز الحكيم لا من كلام البشر الكريم ﷺ.

درويش وايي: چې چونکه قرآن عزيز معجزه باقيه وه نو ما دومره طويله تشريح وکړه ورنه معجزې د آنحضرت ﷺ وسلګونو بلکې وزرګونو ته بالغه دي كما هي مشروح في كتب الاحاديث الشريفه وكتب السير والمغازي النبوية.

درويش وايي: چې من كان عنده عقل سليم من الشهوات والعناد فليدخلوا في دين الله افواجاً.

وَإِذْ كَفَفْتُ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ عَنكَ

يوه سه: چې دا جمله عطف ده پر "اذ علمتک" باندې او په ياد کړه يا عيسٰی منع او دفعه کړه بني اسرائيل له تا څخه چې دوی ستا د قتل اراده کړې وه.

إِذْ جِئْتَهُم بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ مِنْهُمْ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٠﴾

چې تا راتګ وکړی ودوی ته په معجزاتو ظاهراتو سره لکه چې عنقريب تېرې سوې، نو وويل هغو کسانو چې کافران وه د بني اسرائيلو چې نه دی دغه چې عيسٰی راتګ په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی دی مگر سحر دی ښکاره، ردوا معجزاته په دلیل د ماسولت لهم انفسهم من الکفر فبقوا علی مرض الکفر ولم یعالجوا هذا المرض من عیسیٰ الحکیم الهي.

حکایت: شبلي نعماني رحمه الله ناجوړی و، نو قریبانو وه ملکي شفاخانې ته یوړی. نو دده د علاج په باره کې علي بن عیسیٰ چې وزیر و وه خلیفة المسلمین ته خط نوشته کړی چې شبلي ناجوړه دی یو ښه طبیب ورته راواستوه، نو خلیفه هم د طبیبانو مشر ورته راواستوه، چې په دین نصاری و، نو شبلي ته دده دوا فائده نه کوله. نو هغه نصراني طبیب شبلي رحمه الله ته وویل چې که زه وپوهیږم چې ستا دوا په یوه توته غوښو زما د بدن کیږي ما به دریغ کړي وای. شبلي رحمه الله ورته وویل چې زما تداوي له لږ شي ستا د بدن له غوښو څخه کیږي، زنار له غاړي وکاږه او کلمه ووایه. طبیب بې له درنګه وویل "اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً رسول الله" دا خبر تر باچا پورې ورسېدی، بادشاه وژړل چې ما خو طبیب و مریض ته استولی و، زه نه وم خبر چې ما مریض یعني نصراني طبیب و طبیب ته استولی دی یعني شبلي رحمه الله ته. وفي هذا قال الامام الیافعي رحمه الله

اذا ما طبیب القلب اصبح جسمه   علیلاً فمن ذا للطبیب طبیب

فقل هم اولوا علم لدنی وحکمة   آلهیة یشفی بذالک قلوب

وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ

عطف دی علی "واذ کففت" او عامل د "اذ" محذوف دی ای اذکر یا محمد الی الناس.

یوه سه: چې حوارین جمع د حواري ده چې معنا یې مخلص او برگزیده ده. مشتق من الحور وهو البیاض الخالص اصحاب د عیسی چې په دې نامه مسمیٰ سوه لخلوص نیاتهم ونقاً سرائرهم دغه حواریون بعض د بادشاهانو زامن وه او بعض ښکار کونکي د ماهیانو وه او بعض یې دوبیان وه. او بعض یې رنګرېزان وه.

درویش وایي: چې بعض مفسرین چې وایي حواري مشتق دی له حور څخه چې سپین والي ته وایي دا حوارین تول دوبیان وه چې د خلګو کالي به یې پریولله او سپین به یې کړه فقط غلط غلطاً عظیماً کما لا یخفی او مراد له وحي څخه یا الهام دی په زړو کې ددوی او یا پر ژبه د عیسیٰ علیه السلام ورته وویل سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَنْ اٰمِنُوْا بِیْ وَ بِرَسُوْلِیْ

چي تاسي ايمان راوړئ پر ما يعني ما په وحدانيت سره ومنئ او ايمان راوړئ زما پر رسول چي عيسیٰ عليه السلام دی.

سوال: په شمة النحو کي وايي.

آن را در پنج جا مفتوح خوان | بعد قول وبعد علم وبعد ظن درميان
چون در آيد در خبر او لام نيز | دائماً مفتوح خوانی ای عزيز

دلته خو اَن وروسته تر وحي واقع دی، نو ولي مفتوح دی؟

ځواب: روح البيان وايي ان مفسرة لما في الايحاد من معنى القول ويحتمل ان يكون مصدرية قاله المظهري لکن پر دي دا سوال وارديږي د وحي مفعول بايد جمله وي فافهم.

قَالُوْٓا اٰمَنَّا وَاشْهَدْ بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ ﴿۱۱۱﴾

حواريونو وويل چي موږ ايمان راوړی پر خدی او پر رسول د خدای چي عيسیٰ دی. او ته اي عيسیٰ په دي سره چي موږ مخلصان په ايمان کي يو فلا يرد چي ايمان او اسلام خو يو دی، نو وروسته تر ايمان ذکر ته د اسلام څه ضرورت و، وحاصل الدفع ان الايمان ههنا بمعنى الاخلاص.

اِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيْعُ رَبُّكَ اَنْ يُّنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ

درويش وايي: چي دا آية معرکة الآرا دی د مفسرينو او اهل النقل تر منځ.

يوه سه: چي "اذ" منصوب دی په اذکر مقدر سره، او ظاهري معنی ددې آيت خو داده چي په ياد کړه هغه وخت چي وويل حوارينو چي اې عيسیٰ د مريم زويه آيا د خدای جل جلاله ستا دا په طاقت پوره ده، نو دا ظاهره ترجمه خو دا لازمه وي چي حوارينو د خدای جل جلاله په قدرت کي شک و، وهذا مناف لقول الحواريون امنا واشهد بانا مسلمون، نو بعض مفسران وايي چي "ليستطيع" په معنی د اطيع دی لکه استجاب چي په معنا د اجاب دی، نو معنا د آيت داسي ده آيا ستا اطاعت به وکړي يعني ستا په خوله به وکړي که ته سوال ځني وکړې. عامر شعبي رحمه الله وايي چي علي رضي الله عنه ددغه آيت داسي ترجمه کوله هل يطيعک ربک، نو ترجمه يې هغه ده چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش هم دا اوس بیان کړه فلا اشکال في هذا السوال. او په حدیث شریف کي راغلي دي "من اطاع الله اطاعه" که چا اطاعت د خدای وکړی یعني د خدای قول یې عملي کړی خدای به دده اطاعت وکړي یعني دده قول او خواست به قبول کړي، او ددې ترجمې تائید کوي، کسائي قرائت "هل تستطیع" په صیغه د خطاب وعیسی ته نو پر دې قرائت "ربک" منصوب دی مفعوله به دی. مګر پر دې قرائت حذف د مضاف لازم دی، نو معنا د آیت داده چې اې عیسی ستا په طاقت پوره ده سوال ربک نو لفظ د سوال محذوف دی یعني چې ته خدای ته خواست وکړې او او خدای ستا د سوال اجابت وکړي، ددې پوښتنې معنا داده چې ته خو اې عیسی مانع او صارف د سوال کولو نه لرې.

درویش وایي: چې په مخاطب صیغه ویل قرائت د حضرت علي، عائشه، ابن عباس او مجاهد ﷺ دی، وهي قرائت معاذ بن جبل ﷺ کما رواه الحاکم في المستدرک سیدتنا عائشة ﷺ وایي چې حوارین اعلم بالله وه چې داسې به وایي هل یستطیع یعني په صیغه د غیبت، مقصود د دې دا و چې قرائت د خطاب صحیح دی.

درویش وایي: چې مظهري ﷺ داسې اجمالي اشاره کړې ده په نقل له بعض علماؤ څخه چې دا قول د حواریون یعني یستطیع ربک پر ظاهر بنا دی، دی وایي چې دا خبره ددوی هغه وخت وه چې په دوی کي معرفت د قدرت الهي محکم سوی نه و. او دوی بشر وه حدیث العهد بالجاهلیة وه، نو ځکه دا ددوی قول یعني هل یستطیع ربک نهایت عظیم ویاله. او ددوی له قول څخه چې امنا واشهد باننا مسلمون یې بعید ویاله، او داسې یې ورته وویل اتقوا الله ان کنتم مؤمنین، یعني لاتشکوا في قدرة الله علی کل شئ. او روح البیان ددوی دا سوال داسې څرګندوي دی کان ذالک السوال في امرهم قبل ان یستحکم معرفتهم بقدرة الله کما نقله المظهري عن بعض العلماء. لکن روح البیان ددې دلیل ویلی دی چې دوی په دې سوال کي بې ادبي د عیسی ﷺ سره وکړه حیث لم یقولوا یارسول الله او یا روح الله، بلکي عیسی ﷺ یې په خالص نامه مخاطب کړی او نسب یې ور مورته دده وکړی، او بل بې ادبي یې د خدای ﷻ سره وکړه او داسې یې وویل "هل یستطیع ربک" دا عبارت خو ددوی چا سره مناسب و چې هغه په کمال قدرت کي د خدای ﷻ شک وېني یعني انه تعالی یقدر علی مایشا کیف یشا.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

روح البيان وايي ثم اظهروا دنائة همتهم وخساسة مقصدهم. ولې چي طلب وکړي په مثل د عيسىٰ چي ابرأ الاكمه والابرص واحيا الموتى يې کولای په قدرت د خدای ﷻ دوی فائده دنيويه فانيه څنې وغوښتل. او دوی رغبت نه کړی ښکاره په فائده دينې باقي کي، او که چېرې دوی فائده دينيه غوښتې وای، نو فائده دنيويه به هم ورسېدلې وای، قال اله تبارک وتعالى من كان يريد حرث الآخرة يزد له في حرثه يعني في الدنيا ومن يريد حرث الدنيا نؤته منها وماله في الآخرة من خلاق.

فائده: مائدة هغه سترخان ته وايي چي پر هغه طعام موجود وي په شرعه کي هغه شي ته وايي، اېښوول د طعام پر مځکه باندې د عليه الصلوٰة والسلام خوښ و يعني چي د خوراک کاسه پر مځکه پرته وای، وروسته پر سترخان چي هغه پر مځکه اوار وي خوښ و، او پر مېزو باندې دوډۍ خوړل فعل د بادشاهانو او متکبرينو دی تاچي په وخت کي د خوراک سر کښته کېدو ته ضرورت نه وي. او د يکره پر سترخوان فعل د عربو دی.

قَالَ اتَّقُوا اللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١١٢﴾

دا جمله مستانفه بيانيه ده جواب د سوال مقدر دی يعني چي حواريونو هغه خپل غوښتنه پېش کړه، نو عيسىٰ عليه السلام په ځواب کي څه ورته وويل. عيسىٰ عليه السلام دا ورته وويل چي له خدايه وبيرېږئ. يعني داسي غوښتني مه کوئ که تاسي مؤمنان یاست پر کمال قدرت د خدای پاک او پر نبوت زما ولې چي کامل مؤمن بې ځایه غوښتني او معجزات نه غواړي خصوصاً په داسي شک آميزو الفاظو سره لکه چي حواريونو وکړه.

قَالُوا نُرِيدُ أَن نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا

حواريونو وويل په عذر کي چي زموږ سوال د شک له وجهي نه دی بلکي ددې لپاره چي موږ خوراک ددې مائدې او سترخوان اسماني څخه. چي زموږ زړونه مطمئن او ارام سي.

بوه سه: چي ايمان بالغيب ته چي مشاهده ورضم سي دې ته اطمنان قلبي وايي كما في قصة ابراهيم عليه السلام. قال "رب ارني كيف تحيي الموتى قال اولم تؤمن قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بلی ولکن لیطمئن قلبي"

درویش وايي: چي ګڼ شمېر محدثينو له سلمان فارسي ﷺ څخه داسې روايت کړی دی چې حوارينو چي له عیسی علیه السلام څخه د مائدة من السما وکړه عیسی علیه السلام جداً ادا غوښتنه ددوی مکروه او بده وګڼل او ورته وه يې ويل اقنعوا بما رزق کم الله في الارض، قناعت او صبر وکړی په هغه څه چي خدای ﷻ وتاسي ته په ځمکه کي درکړي دي او د مائده غوښتنه پرېږدئ، ولي که دا مائده نازله سوه د خدای ﷻ له خوا به ستاسي اخيري امتحان وي يعني که مو کفران د دغه نعمت وکړی ستاسي د دنيا او اخرت نقصان به وګرځي لکه ثمود چي له صالح علیه السلام د ناقې سوال وکړی، اخیر هغه ناقه ددوی د هلاک سبب وګرځېده وقصته مشهورة، نو په ځواب کي د عیسی علیه السلام حوارينو دا خبره وکړه نريدان ان ناکل منها".

وَنَعْلَمَ أَن قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّٰهِدِينَ ﴿١١٣﴾

او موږ په دې يقين کامل سره پوه سوو چي تا موږ ته رښتيا ويلي دي په دعوى کي د نبوت، او بعض مفسرين وايي چي عیسی علیه السلام دوی امر کړه چي دېرش ورځي روژې ونيسئ چي روژې مو پوره کړې هر شی چي له خدايه وغواړئ هغه به درکړي دوی چي روژې پوره کړې، نو يې د مائدې سوال وکړی، نو پردې تقدير معنی د آيت داده چي موږ به پوه سو چي تا د روژو په باره کي موږ ته رښتيا ويلي دي. او موږ به شاهدان وګرځو پر مائده د نورو لپاره او پر وحدت د خدای ﷻ او ستا پر نبوت بعد ان آمنا بذالک بالغيب.

درويش وايي: چي راويان د تاريخ عيسوي وايي چي چونکه حوارينو عيسی علیه السلام مجبوره کړی پر طلب د مائدې عیسی علیه السلام غسل وکړی او د وړيو کالي يې واغوستل او دوه رکعته صلوة الحاجة يې ادا کړی او سر يې کښته وځړاوه پر طريقه د عجز او سترګي يې پټي کړې او وه يې ژړل، ددې موضوع حکايت په قرآن مبارک کي دادی.

قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مِّنَ السَّمَاءِ تَكُونُ لَنَا عِيدًا

وويل عيسی بن مريم يا الله ته زموږ رب يې نازل کړې پر موږ مائده د اسمان له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواخخه چي دغه مائده يعني ورځ د نزول ددې اختر وي يعني د خوشحالۍ ورځ او مونږ به ددغې ورځي تعظيم کوو مونږ او تر مونږ وروسته امتيان زما.

پوه سه: چي عيد خوشحالي ده وروسته تر غم. بعض اهل التاريخ وايي چي ورځ د نزول د مائدې د يکشنبې ورځ وه، ولهذا اتخذ النصارىٰ هذا اليوم للعبادة والفراغ من الامور الدنيوية الى يومنا هذا في جميع اراضي النصارىٰ.

لِّأَوَّلِنَا وَءَاخِرِنَا وَءَايَةً مِّنكَ

هم زمونږ د اولو مذهب هم زمونږ د وروسته نصارىٰ وو لپاره، او دليل واضح او کامل به سي پر کمال قدرت ستا او پر صحت د نبوت زما.

پوه سه: چي مراد له "اول" څخه اهل د زماني ددوی دی او له "اخره" مراد هغه نصارىٰ دي چي تر دوی وروسته راځي.

پوه سه: چي "اية" بدل دی د "لنا" څخه باعادة الجار او "منک" په حذف د متعلق صفت د "اية" دی ای اية کائنة منک.

درويش وايي: چي هره ورځ د خوشحالۍ عيد دی لعود السرور فيه، نو د جمعې ورځ د مسلمانانو د پاره عيد ده ولي د خدای عظيم رحمت په شپه او ورځ کي د جمعې پر مسلمانانو نازلېږي ځکه په حديث شريف کي راغلي دي که مسلمان د جمعې په شپه يا ورځ قبر ته وسپارل سي د قبر له عذابه به په امان وي. او دغه ورځ د عرفات د حاجيانو لپاره ورځ د عيد ده، ولي چي ددوی کبيره او صغيره گنهونه په دغه ورځ وربخښل کېږي. او داغه رنګه د يو ګران دوست راتګ د کور والا لپاره عيد بلل کېږي. والى هذا اشار الشاعر البليغ.

عيد وعيد وعيد اجتمعن يوم الجمعة وعرفة ووجه الحبيب

وَارْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ﴿١١٤﴾ قَالَ اللَّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ

او مونږ ته رزق راکړې او ته خير د رزق ورکونکو يې. وويل الله تعالىٰ زه مائده نازلوم پر تاسي باندي.

پوه سه: چي "اني منزلها" کي اجابت دی د دعا د عيسىٰ عليه السلام والمعنى زه نازلوم مائده له اسمانه څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي بعض له قرا سبعه څخه دا کلمه په تشدید د زا وايي چي له بابه د تفعیل سي لپاره د تکثیر یعني مرةً بعد اخرٰی. او بعض قرا یې په تخفیف وايي چي له بابه د افعال سي والمکتوب في المصاحف هو الاول لانه قرائة نافع وهو المروج في المصاحف.

فَمَن يَكْفُرْ بَعْدُ مِنكُمْ فَإِنِّىٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابًا لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدًا مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١١٥﴾

نو که څوک کفر وکړي او ددې نعمت عظمی شکر پر ځای نه کړي وروسته تر نزول د مائدې له تاسي څخه، زه هغه په عذابوم په داسې عذاب سره چي هغه سي به هیڅ له عالمیانو څخه نه وي په عذاب سوی.

پوه سه: چي "لا اعذب" صفت دی د عذاباً او ضمیر د اعذبه راجع دی وعذابا ته. والمعنی لا اعذب بمثله فتامل، ولي دوی چي کفر وکړی وروسته تر نزول د مائدې تو له مسخه سول او سرکوزان وګرځېدل چي دومره سخت عذاب د دنیا په بني آدمو کي چاته نه دی ورکړه سوی. نعوذ بالله من غضب الجبار ومن عذاب النار.

درویش وايي: چي ټوله قصه د مائدې په روایت د سلمان فارسي رضي الله عنه داسي ده په کتاب د روح البیان والمظهري مع تفاوت یسیر چي هغه وخت چي عیسی علیه السلام د مائدې د نزول له اسمانه خواست وکړی یو غټ سترخوان و په رنګ سور په منځ کي د دوو وریځو یوه وریځ یې پر سر سربېره وه او بله وریځ یې لاندي وه او بني اسرائیلو ټولو ورته کتله کرار کرار راکښته کېدل او په منځ کي د خلګو کېښېنول سو، نو عیسی علیه السلام وژړل او داسي یې وویل چي خدایه ته ما له شاکرینو بندګانو څخه وګرځوې یعني چي د مائدې د معجزې شکر ادا کړم، خدایه ته دا مائده رحمت وګرځوې عقوبت یې مه ګرځوې، یهودانو ورته کتل او داسې دوی تر اوسه نه وو لیدلی او داسي خوشبويي د مائدې دوی نه وه بوی کړې، نو عیسی علیه السلام وویل چي ور ولاړ دي سي احسنکم عملاً نو سترخوان دي خلاص کړي شمعون الصغار چي د حوارینو مشر و عیسی علیه السلام ته یې وویل چي ته حقداره یې په دې سره چي سترخوان خلاص کړې، نو عیسی علیه السلام ولاړ سو غسل یې وکړی یا یې اودس تازه کړی او دوه رکعته اوږد لمونځ یې وکړی او ډېر یې وژړل، نو یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سترخوان خلاص کړی او داسي یې وویل بسم الله خیر الرازقین پر سترخوان پوخ ماهی (کب) پروت وچي نه یې پر بدن وزر وه او نه یې په غوښو کي هډوکي وه او په غوړو بریان پوخ وچي غوړي څڅي څخېدل وسر ته د ماهي مالګه پرته وه او د لکې و خواته یې سرکه وه او پر شاوخوا د ماهي تهول خوراکي بقول پراته وه ماسوی د ګندني او پیازو څخه، او پینځه داني فطري هم پرتې وې چي پر یوې فطرې د زیتون غوړي پراته وه او پر بله تیکله عسل پراته وه او پر بله تیکله د لم غوړي یا د غوا غوړي پراته وه او پر څلورمه فطره پنیر پروت و. او پر پینځمه فطره د لاندي غوښې پرتې وې. نو شمعون و عیسی ﷺ ته وویل چي دا طعام د دنیا له طعام څخه دی که د اخیرت؟ عیسی ﷺ ورته وویل چي دا نه د دنیا طعام دی او نه د اخیرت بلکې دا د خدای ﷻ د عظیم قدرت نوی مصنوع دی. نو خوریاست ای حوارینو هغه شی چي تاسي غوښتی یمددکم ویزدکم من فضله. نو حوارینو ورته وویل یا روح الله اول ته شروع په خوراک وکړه عیسی ﷺ ورته وویل معاذالله ان اکل منها بلکې هغه کسان دې وخوري چي دا مائده یې غوښتله. نو حورایین وبېرېدله او دوی وویل چي موږ یې هم نه خورو. نو عیسی ﷺ مسکینان، مریضان او د پیس د مرض مریضان او د آتشک د مرض مریضان او شلان او یا په یوه بله ناجوړی مبتلا خلګ یې سره راټول کړه او ورته وه یې وویل کلوا من رزق الله ستاسي دي دارو سي او د نورو لپاره دي بلا. نو یو زر او دروسوو (۱۳۰۰) خلګو تر مړتیا خوراک څني وکړی چي فقرا، نر او ښځي او شلان او نورو ناجوړان وه او ماهی پر هغه خپل اول حالت دی. وروسته مائده پورته سول د آسمان پر خوا او خلګو ورته کتل حتی غابت من اعینهم، نو له دې مائدې څخه چي په شل خوراک کړی و هغه به پر پښو ولاړ سو او که په هر مرض مبتلا سړي به خورک کړی و هغه به روغ رمټ سوله او که به فقیر خوراک څني کړی و هغه به غني سو. نو هغه چا چي خوراک نه څني وکړی هغه پښېمانه سوه چي کاشکي موږ هم خورک څني کړی وای. نو دا مائده به څلوېښت ورځي د څاښت په وخت کي راتله. نو چي بله ورځ راغله تول له اغنیا او فقرا او کوچنیان لویان نر او ښځي پر راغوند پدله خوراک به یې څني کاوه تر زواله پوري چي زوال به سو مائده به بیر ته پورته سوه او بني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسرائیلو به ور ته کتله، وروسته بیا یوه ورځ نه بله ورځ راتله. بیا خدای پاک و عیسی علیه السلام ته وحي وکړې چي زما مائده او رزق خاص د فقرا او مساکینو لپاره وګرځوه اغنیا مه پرېږده، دا اعلان چي عیسی علیه السلام وکړی پر اغنیا باندي به ده پرېوتل حتی چي په خپله شک ور ولوېدی او خلګو ته به یې شک ور اچاوه چي دا مائده د خدای له خوا نه ده او خلګو ته به یې ویل ترون المائدة حقا من السماء، نو خدای پاک و عیسی علیه السلام ته وحي وکړې چي ما د مائده د نزول په وخت کي دا شرط ایښی و چي که چا وروسته تر نزول کفر او انکار وکړی عذبته عذابا لا اعذبه احدا من العالمین کما مر من قبل، عیسی علیه السلام وویل که ته عذاب ورکوې ستا بندګان یعني پر عذاب یې قدرت لري وان تغفر لهم فانک انت العزیز الحکیم. وروسته خدای پاک درې سوه درې دېرش (۳۳۳) کسان چي منکران وه خدای مسخ کړه پر دې ډول چي دوی ماښام د خپلو ماینو سره په ځای کي پرېوتله سهار چي راکښېښستل سرکوزان وه په لارو کي به ځغاستله او هر ځای چي به یې د انسان مرداري پیدا کړه هغه به یې خوړله، خلګو چي دا حیرت انګېزه واقعه ولیدله ورغله عیسی علیه السلام ته یې بغاري چیغاري د بېرې وهلې، او هغه سرکوزانو چي به عیسی ولیدی تر سترګو به یې اوښکي تویدلې او پر عیسی علیه السلام به شا وخوا راګرځېدله نو عیسی علیه السلام به هر یوه ته په نومانو نعره کوله چي ته فلانی یې هغه به سر ورته ښوراوه یعني هو! او په عین حال کي به یې تر سترګو اوښکي تویدلې او پر خبرو یې قدرت نه درلودی درې ورځي ژوندي وه بیا مړه سوه کما هو حکم الممسوخ، او بغوي رحمه الله وایي چي خلاص بن عمرو د عمار بن یاسر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چي هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه کړی دی چي دا مائده غوښي او ډوډۍ وه او دوی ته وویل سوه چي دا مائده به جاري وي تر څو چي تاسي خیانت پکښي ونه کړئ. یعني د بلې ورځي لپاره غوښي نه پټوئ دغه ورځ نه وه تېره سوې چي دوی خیانت شروع کړی فمسخوا قردة وخنازیر.

درویش وایي: چي د بغوي تر روایت پوري خو د روح البیان او مظهري سره موافقت و، نو د ماقبل او د بغوي د روایت جمع خو امکان لري چي دادي تعدد د واقعې وي، وروسته بیا مظهري دوولس روایته نور راوړي دي او لویو صحابه وو او تابعینو ته یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منسوب کړي بېله ذکره د اسانیدو. والله اعلم بصحتها وبین تلک الاقوال التي نقلها المظهري تباعد کما بین السماء والارض. وایراد مثل هذه الروایات یزداد في قلوب السامعین الشکوک والشبهات کما لایخفی علی من طالع تفسیره.

وَإِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيْنِ مِنْ دُونِ اللَّهِ

یعنې ذکره کړه اې محمده ﷺ وخلکو ته وخت ددې قول د خدای ﷻ و عیسی علیه السلام ته په ورځ د آخرت لپاره د سرزنش د هغو نصاری وو چې عیسی یا خدای بولي یا ابن الله بولي یا یې ثالث ثلثه بولي په دې معنا چې عیسی علیه السلام اقرار وکړي په حضور کې د ټولو اهل محشر په خپلې بندګي سره او دی اقرار وکړي چې ما خلګ امر کول په عبادت سره د خدای ﷻ. او سدي رحمه الله وایي چې دا قول د خدای ﷻ و عیسی علیه السلام ته هلته دی چې دی یې و اسمان ته پورته کړی ده یې دلیل یې دا ویلی دی چې کلمه د "اذ" لپاره د ماضي ده او قال هم ماضي ده. یعنې د اخرت د ورځې خبره نه ده. ولې اخرت خو مستقبل دی لیس بشئ. ولې هغه خبره یا وخت چې متیقن الوقوع وي لکه د قیامت ورځ د هغه تعبیر په ماضي روا دی بلکې په قرآن کې واقع دی کما في قوله تعالی "ولو تری اذ فزعوا" اې عیسی زوی د مریم آیا تا ویلي دي خلګو ته یعنې النصاری چې تاسي وګرځوئ ما او زما مور خدایان.

پوه سه: چې لفظ د "امي" یې ووایه او مریم یې نه وویل لپاره د توبیخ د کافرانو یعنې نصاری وو په دې معنا چې عیسی علیه السلام چې له مریمې څخه زېږېدلی و او حادث و د مور و تربیې ته په وخت کې د کوچنیوالي محتاجه و. نو دی به څرنګه ووایي چې ما او مور خدایان وبولئ. او سره ددې چې خدای خو لم یلد ولم یولد دی او عیسی علیه السلام خو مولود دی او مور یې والدة ده او ددوی تر منځ تجانس في الماهیة سته او خدای ﷻ خو لم یکن له کفوا احد دی.

فائده: په علم معاني کې وایي چې تقدیم د مسند الیه پر مسند فعلي باندې لپاره د تاکید د نسبت دی کما في قولک زید ضرب. نو ددې قاعدې په رڼا کې چې په دې جمله کې یاعیسی چې مسند الیه دی پر مسند باندې چې قلت دی لپاره د تاکید د نسبت دی. ولې چې دا خبره د عیسی علیه السلام له شانه ډېره لېرې وه، نو یې تاکید

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکری ففي هذا ایضاً توبیخ للکفرة فافهم هذه الدقیقة.

پوه سه: چي "من دون الله" حال دی له فاعل څخه د "اتخذوني" کانه قیل صیروني وامي الهین ای معبودین متجاوزین عن الوهیته تعالی ومعبودیته والمراد اشراکهما به سبحانه لان احداً من النصاری لم یذهب الی القول بالهیهما ای عیسی ومریم مع القول بنفي الهیته تعالی.

درویش وایي: چي ابو رؤف رحمه الله وایي چي عیسی علیه السلام چي دا خطاب الهي واوري. نو د بدن تولـه اندامونه به یې ورپېږدي او د هر وېښته تر بېخ به یې وینه راووزي. او دا خطاب که څه هم ظاهراً د عیسی علیه السلام سره دی لکن حقیقةً یې د امت سره دی. ولي چي عادت الهي دادی چي د کفارو سره خبري نه کوي ولا ینظر الیهم.

قَالَ سُبۡحَٰنَكَ

ځواب د سوال دی چي عیسی علیه السلام به خدای جل جلاله ته څه ځواب وایي یعني خدای په ځواب کي د خدای جل جلاله.

پوه سه: چي سبحانک یعني لفظ د سبحان یا اسم مصدر دی یا علم مصدر دی فعل یې محذوف دی یعني اسبحک سبحاناً زه ستا ستاینه او پاکي وایم له هغه قول څخه چي ستا د شان لائق نه وي یعني اتخذوني وامي الهین کما یدل علیه قوله.

مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أَقُولَ مَا لَيۡسَ لِي بِحَقٍّۚ إِن كُنتُ قُلۡتُهُۥ فَقَدۡ عَلِمۡتَهُۥۚ

نه ښایي ما لره چي زه دي وایم هغه خبره چي ما ته حق نه وي. که چېري ما دغه خبره کړې وي چي ستا د عظیم شانه سره لائقه نه وي نو ته خو زما پر هغه خبره علم لرې یعني عذر ته حاجت نشته. ولي چي ته خبر یې چي ما نه دي ویلي ولي که ما ویلي وای نو ته به خبر وای، له دې سببه.

تَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِي وَلَآ أَعۡلَمُ مَا فِي نَفۡسِكَۚ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلۡغُيُوبِ ﴿١١٦﴾

چي ته خبر یې چي زما په نفس او زړه کي وي او زه نه یم خبر په مخفیاتو چي ستا په علم کي وي. ولي ته اي خدایه خبر یې د هر بنه په هغه څه چي له بندګانو څخه غیب او پټ وي یعني ماکان في الماضي ومایکون في المستقبل.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه: چي اطلاق د نفس پر خدای ﷻ چونکه شرعاً نه دی روا، نو مراد له نفس څخه ذات د خدای ﷻ دی او تعبیر له ذات څخه چي په نفس کړی مشاکلة مثل جزاً سیئة سیئة.

مَا قُلْتُ لَهُمْ إِلَّا مَا أَمَرْتَنِي بِهِ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ

ما خلګو ته نه دي ویلي مګر نه هغه خبر چي ته زه په امر کړی وم من التوحید کمایدل علیه مابعده، چي تاسي عبادت کوئ یعني خدای ﷻ یو وبولئ شریک مه ورته وایاست او خدای ﷻ زما خالق دی او ستاسي هم خالق دی.

پوه سه: چي "ان" سره د مدخوله بیان د ضمیر په "به" کي او یا "ان" مفرد دی د "ما امرتني"

وَكُنتُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا مَّا دُمْتُ فِيهِمْ ۖ فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي

او زه وم شهید یعني مراقب د احوالو د دوی من الکفر والایمان یعني امرهم بالایمان ومانعهم عن الکفر والعصیان او د قول باطل او اعتقاد باطل څخه مي منع کوله.

پوه سه: چي له وفات څخه معروفه معنا نه ده مراد وهو الموت لان عیسیٰ عليه السلام في السماء وینزل في قرب القیامة حکماً عدلاً مجدداً لدین محمد ﷺ لان دین نفسه منسوخ، بلکې د "توفی" معنا اخذ الشئ کاملاً ومنه الوفات المعروف، نو د عیسیٰ عليه السلام په باره کي معنا قبضتني یعني اسمانو ته دي ځني بوتلم.

كُنتَ أَنتَ الرَّقِيبَ عَلَيْهِمْ ۚ وَأَنتَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴿١١٧﴾

ته وې اې خدایه محافظ ددوی د اعمالو، نو ستا د رقیب معنا داده چي ته چاته اراده د عصمت وکړې نو هغه به یا په دلائلو عقلیه وو سره له کفره منع کړې او یا به رسول ورته راواستوې او کتاب به پر نازل کړې کما ارسل محمد ﷺ مع القرآن العزیز، او ته یې خدایه شاهد پر هر شي په علم ازلي سره یعني من قولي وفعلي وقولهم وفعلهم یعني ته به جزاً ورکړې د هر چاته یعني زما او ددوی د قول او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فعل په ورځ د قيامت.

إِن تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ ۖ وَإِن تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ

که ته عذاب ورکوې دوی ته، نو په تحقيق دوی ستا بندګان دي ولا اعتراض على المالک المطلق فيما فعل بلکې خصوصاً اذا عبدوا غيرک او تا پيدا کړي دي او يا شکر د بل وايي او نعمتونه تا ورکړي دي. او که ته بخښنه ورته کوې، نو په تحقيق ته اې خدايه قادر او غالب يې پر ثواب او عقاب، نو ستا عقاب وچاته په سبب د عجز ستا نه دی او حکيم يې چې هيڅ کار ستا له حکمته خالي نه دی، نو که څوک په عذابوې ستا عدل دی او که چا ته ثواب او جنت ورکوې ستا فضل دی.

پوښتنه: خبره د عيسى عليه السلام خو په کافرانو کي وه. نو څرنګه دی وايي "وان تغفرلهم آه" او سره ددې چې د کافر بخښنه خو منفي ده شرعاً؟

ځواب: غفران د کافر په مقتضٰی د وعيد الٰهي ممنوع دی دا ددې سره منافي نه دی چې مغفرت ته د کافر ممتنع لذاته دی حتٰی چې پر ترديد مذکور د عيسٰی سوال وارد سي.

سوال: د قول عيسٰی معنا طلب دی د مغفرت وکفارو ته؟

ځواب: يا داسي نه ده بلکې تسليم د امر الٰهي او تفويض دی و ارادې او حکمت ته د خدای پاک، والقرينه که د عيسٰی عليه السلام مطلب طلب د مغفرت د کفارو وای، نو خو داسي به يې ويلي وای فانک انت الغفور الرحيم.

درويش وايي: چې له عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې عليه الصلوٰة والسلام د خدای جل جلاله ددې قول تلاوت يې وکړی د ابراهيم عليه السلام په باره کي "رب فانهن (بتانو) اضللن کثيراً من الناس (په سبب د عبادت ددوی) فمن تبعني فانه مني ومن عصاني فانک انت العزيز الحکيم" او د عيسٰی عليه السلام په باره کي يې هغه آيت هم ووايه "ان تعذبهم فانهم" نو عليه الصلوٰة والسلام ووېل اللهم امتي امتي (خدايه زما امت رابخښه) وبکٰى" نو خدای پاک و جبرائيل عليه السلام ته وويل "اذهب الى محمد وربک اعلم" نو ته سوال ځني وکړه چې پر څه شي دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وژړل، نو جبرائیل راغلی او د علیه الصلوٰة والسلام څخه یې پوښتنه وکړه او علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې خپل د امت په باره کې مې وژړل، نو جبرائیل علیه السلام د علیه الصلوٰة والسلام ځواب خدای پاک ته ورساوه، نو خدای جل جلاله وجبرائیل علیه السلام ته وویل چې ورسه محمد ته ووایه چې زه په تا خوشاله کړم د امت په باره کې او غمجنوم دې نه یعنې په ورځ د قیامت.

قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ

خدای پاک وویل چې دا ورځ ده یعنې یوم القیامة چې نفع رسوي صادقانو کسانو ته یا معنا داده چې منافق نه وي. یا معنا داده چې محسنین في العبادة وي کما ورد في الحدیث الاحسان ان تعبد الله کان تراه الی اخیر الحدیث الطویل المشهور الذي رواه البخاري. ددوی صدق یعنې په دنیا کې.

پوه سه: چې "قال" ماضي ده لکن په معنا د مضارع ده اي یقول الله تعالی لعیسی یو القیامة.

پوه سه: چې د جمهورو قراؤ قرائت په پیښ د "یوم" دی نو خبر د "هذا" دی او مضاف وینفع ته دی وتمام الجملة مقولة لقال. او نافع رحمه الله یې په زور وایي، د زور وجه یې داده چې ظرف د قال ای قال الله هذا الکلام لعیسیٰ په هغه ورځ چې صادقین ته آه او یا یوم سره د زوره خبر د هذا دی لکنه پر فتحه یې مبني کړې دی ولې چې مضاف و مبني ته دی.

سوال: یوم "خو مضاف و "ینفع" ته دی چې هغه معرفه ده؟

ځواب: یوم" یوازې مضارع ته نه دی بلکې ټولې جملې ته دی.

درویش وایي: چې په شرح جامي کې راغلي چې جمله له قسمه څخه د مبني الاصل ده فلا یرد مایتوهم.

پوښتنه: د خدای جل جلاله ددې قول حکمت څه دی یعنې قال الله الآیة؟

ځواب: حکمت یې دادی چې له کلام څخه توهم کېدی چې د بخښنه د کفارو لپاره غواړي، نو خدای جل جلاله یې دفعه وکړه چې هذا یوم ینفع الآیة یعنې دون الکاذبین الکفار في الدنیا یعنې و هغو ته د مغفرت امید نشته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: مور صدق د دنیا ووایه ولي چي په اخرت کي که څوک رشتیا ووایي کما في قوله تعالی في حق الکفار یوم القیامة لم نک من المصلین لم نک نطعم المسکین. دا خبره خو ددوی رشتیا وه او که دروغ وایي کما في قوله تعالی حکاته عن قول الکفار في یوم القیامة والله ربنا ماکنا مشرکین الآیة یوهم فائده دوی ته نه کوي.

شپاړسم فائده: پوه سه چي اخترونه څلور دي د څلورو قومونو لپاره.

(۱) اختر دی د ابراهیم علیه السلام د قوم چي په دغه ورځ دده د لوی بتخاني بتان مات کړه حین خرج قومه الی عید لهم.

(۲) د موسی علیه السلام د قوم اختر دی او دغه اختر ته خدای جل جلاله اشاره کړي ده په سورة طه کي "قال (ای فرعون) ان موعدکم یوم الزینة الی اخیر الآیة.

(۳) د عیسی علیه السلام د قوم اختر دی ودي اختر ته خدای پاک اشاره کړي ده په دي آیت کي "ربنا انزل علینا مائدة الی ان قال تکون عیداً لنا الی اخیر الآیة.

(۴) اختر دی د امت د علیه الصلوٰة والسلام ددي امت اخترونه دري دي یو عید مکرر دی په هره هفته کي. او دوه اختره په کال کي یو یو وار راځي من غیر تکرار في سنة واحدة. عید متکرر په هر هفته کي د جمعي مبارکي ورځ ده. چي د عید الاسبوع په نامه په عربي کي ورته ویل کیږي دا اختر د هغه مسلمانانو دی چي هغه پینځه لمونځونه په شپه او ورځ کي کوي چي خدای پاک پر دوی فرض کړي دي په کامله وجه د ارکانو و واجباتو او سننو او مستحباتو په جماعت سره یې ادا کړي وي، نو د جمعي ورځ ددوی اختر دی چي خدای پاک ودوی ته به عفوه د ګنهو کوي په حدیث شریف کي راغلي دي که څوک وفات سي د جمعي په شپه یا د جمعي په ورځ "امن من فتنة القبر او کما قال" په دغه ورځ د جمعي کامل سوی دی خلق د آدم علیه السلام وفیه ادخل الجنة وفي اخرج من الجنة الی الارض، او د جمعي په ورځ امر د دنیا ختم کیږي او د صور شپېلی پوه کل کیږي او د جمعي په ورځ مسلمانان سره جمع کیږي پر اوریدلو د ذکر او موعظت او د جمعي پر لمانځه. او خدای پاک دا ورځ ددوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره اختر او د خوشالی ورځ ګرځولي ده، او د جمعې په لمانځه کي څه ناڅه مشابهت سته د حج، ځکه چي په یو روایت کي راغلي دي چي د جمعې لمونځ حج المساکین دی، سعید بن المسیب رضی الله عنه روایت کړی دی چي حضور ﷺ وویل چي د جمعې لمونځ ماته محبوب دی تر نفلي حج، او د جمعې لمونځ کول سبب دی د بخښني د ګنهو تر بلې جمعې پوري چي په منځ کي د دوو جمعو کبائر ګنهونه ونه کړي کما ان الحج المبرور یکفر ذنوب تلک السنة الی الحجة الاخری کذا فی روح البیان، او هغه دوه اختره چي په یوه کال نه مکرر یږي بلکي هر یو په کال کي یو وار راځي یو عید الفطر چي په پښتو یې کوچنی اختر بولي چي د روژې د میاشتي روژې پوره ونیسي چي عذر شرعي نه وي او روژه د اسلام له ارکانو څخه دریم رکن دی، نو چي مسلمان د روژې د میاشتي پوره ورژې ونیسي، نو دی مستحق دی چي خدای پاک به مغفرت ورته کوي او عتق من النار به ورکوي، او دویم اختر غیر مکرر عید النحر دی چي په پښتو یې لوی اختر بولي وهو اکبر العیدین و افضلهما او دا اختر اصلاً مرتب دی پر اکمال د حج چي څلورم رکن دین د اسلام دی فاذا اکمل المسلمون حجهم غفرلهم او اکمال د حج په وقوف سره عرفات تر سرکېږي وهو الرکن الاعظم، وروی انس رضی الله عنه چي علیه الصلوٰة والسلام چي مدینې منورې ته راغلی، نو مدینې والو دوې ورځي درلودې چي هغو خوشالی کولې، نو علیه الصلوٰة والسلام وویل چي ددې دوو ورځو په بدل کي خدای تاسي ته دوې ورځي نورې د خوشالی درکړي دي چي ستاسي تر اصطلاحي دوو ورځو بهتر دی یوم الفطر والاضحی چونه علیه الصلوٰة والسلام دا ورځي معیني کړي دي تر نني ورځي پوري دغه دوې ورځي عموماً د مسلمانانو د خوشالی ورځي دي.

درویش وایي: چي اوس خدای پاک په دې آیتو کي بیان د نفع د صادقین کوي،

لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَاۤ اَبَدًا ؕ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ؕ

دوی لره دي جنتونه چي بهېږي به لاندي تر درختو د هغو او د قصورو د هغو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولې يعني عسل، او به شيدې او شراب او دوی په همېشه وي په دغو جنتو کې چي بيا نه مرگ سته او نه خروج ابداً. خدای ﷻ له دوی څخه راضي دی په سبب د صدق او اخلاص په دنيا کي او دوی له خدايه راضي په حسن ثواب سره چي نه د چا سترگو ليدلی دی او نه د چا غوږو اورېدلی دی يعني بالتفصيل او نه د چا پر زړه ور گرځېدلی دی.

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴿١١٩﴾

دا دخول د جنت لوی په کاميابي ده لانها باقية ابداً بخلاف حطام الدنيا من الاموال و الاولاد والقصور والسيارات فانه مكدرة بكدرة الفنا فلا يكون فوزاً فضلاً عن ان يكون عظيماً اللهم اجعلنا من اهل فوزک العظيم برحمتک يا ارحم الراحمين آمين.

لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴿١٢٠﴾

او خاص خدای لره ده بادشاهي او تصرف د اسمانو او د ځمکي او د هغو شيانو چي په اسمانو او ځمکي کي دي او خدای ﷻ پر هر شي چي اراده يې ورته وسي قادر او توانا دی.

پوه سه: چي په دې آيت سره رد دی پر نصاری باندې په باره کي د عيسی ؑ او د ده د مور، او ددوی د کذب بيان دی، ولې چي خدای ﷻ لره ده خاصه سلطنت او تصرف د اسمانو او د ځمکي او چي په اسمانو او ځمکي کي دي که عقلا وي او که غير عقلا وي يتصرف فيها كيف يشآ ايجاداً او اعداماً واماتةً واحياً وامراً ونهياً بېله د مدخليت د بل چا. او دا مذکوره امور د طاقت د عيسی او مور د ده خارج دي فكيف يكون هو وامه الٰهين. سعدي شيرازي رحمه الله ميگويد

نيست خلقش را دگر کس مالکی	شرکتش دعوی کند جزها لکی
واحد اندر ملک و او يا رنی	بند گانش راجز او سالارنی

پوه سه: چي مظهري رحمه الله وايي چي خدای ﷻ من فيهن نه وو ايه تغليباً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

للعقلاً او ما فیهن یې ووایه عقلا یې د غیر عقلا وو تابع وګرځول، بیانو مظهري ددې توجیه کړې ده.

درویش وایي: چې په هیڅ ځای کې د قرآن مبارک عقلا د غیر عقلا وو تابع نه دي ګرځول سوي. دا د مظهري رحمه الله تکلف بنا پر مشهور دی چې کلمه د من د عقلا لپاره ده او کلمه د ما د غیر ذوی العقول لپاره ده، والحق ان کلمة ما عامة لذوی العقول وغیرهم کما في شرح الجامي.

درویش وایي: چې خاتمه د تفسیر د سورة المائدة د توفیق الهي ودرویش عاصي ته. الحمد لله الذي وفقني لتفسیر سورة المائدة والصلوٰة والسلام علی خیر الخلیقة وآله وصحبه الکملة.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا
سکین او pdf سو. ددعا محتاج احمدي!
واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ته تفسیر ددې سورة ماته اسانه کړې او په حسن قبول سره يې راڅخه قبول کړې او خير باقي يې وګرځوې.

سُورَةُ الْاَنْعَامِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَةٌ وَّخَمْسٌ وَّسِتُّوْنَ اٰيَةً وَّعِشْرُوْنَ رُكُوْعًا

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

ټولـه تعريفونـه خـاص خـدای ﷻ لـره دي هغـه خـدای ﷻ چي پيدا کړي يې دي اسمانونه يعني ومافيها من الشمس والقمر والنجوم وغيرها مما لا يعلمه الا الله. مځکه او په مځکه کي چي دي من الحيوانات والنباتات والمعدنيات، او هر يو له دغو دروبيا مشتمل دي پر ډېرو اجناسو او انواعو كما لا يخفى او هر نوعي لره خيل خيل خواص او مراتب او فوائد سته که يې څوک پېژني او که نه.

پوه سه: چي "الحمد لله" مبتدا او خبر دی ددې اخبار فائده داده چي خدای ﷻ محمود دی که يې څه هم څوک حمد نه وايي او دی مستغني دی له حمد څخه د عبادو، او بل باعثه کول دي د بندګانو چي تاسي بايد اقتدا په فعل پسي د خدای يعني د خدای ﷻ حمد ووياست چي ګټه يې وتاسي ته راجع ده، او الف ولام په الحمد کي لپاره د استغراق دی ای کل حمد لله په نېز د اهل السنة والجماعة او لپاره د جنس دی په نېز د معتزله وومآل المذهبين واحد كما في المطول.

پوه سه: چي سورة الانعام نازل سوی دی په مکه مکرمه کي د شپې له خوا جملة واحدة او اوويا زره ملکې ورسره وې چي د مشرق او مغرب منځ يې ټوله نيولی وو او دوی په لوړ آواز تسبيح او تحميد وايه حتی چي قريبه وه چي د مکې مځکه دي لرزه سي، نو عليه الصلوة والسلام چي دا ژور تسبيح او تحميد د ملکو واورېدی نو يې وويل سبحان ربي العظيم سبحان ربي العظيم او پر سجده پرېوتی.

په حديث مرفوع کي راغلي دي که څوک سورة الانعام ووايي هغه ته دعا د مغفرت کوي هغه اوويا زره ملکې او عليه الصلوة والسلام په کاتب د وحي ټوله دغه سورة نوشته کړی په هغه شپه کي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: آیا شکر د منعم لکه استاذ پر تعلیم دده چې عاق شده شاګرد نه وي واجب نه دی؟ او دغه رنګه شکر د سلطان چې عادل وي او شکر د محسن پر احسان دده واجب دی کما جا في الحدیث من لم یشکر الناس لم یشکر الله. نو دا حمدونه او شکرونه خو د بندګانو دي. نو څرنګه به صحیح وي کل حمد لله؟

ځواب: مراد په کل حمد لله کې عام دی که صریحاً او ظاهراً وي او که التزاماً او باطناً وي. نو دغه حمدونه چې په پوښتنه کې ذکر سوه که څه هم ظاهراً د غیر الله دي لکن په حقیقت کې هغه هم راجع وخدای ﷻ ته دي. مثلاً په صورت کې د احسان چې څوک نعمت وبل ته ورکړي مثلاً انګور یا انار الی غیر ذالک خالق ددغو موادو د احسان خدای ﷻ دی. او بل دا چې په زړه کې د محسن چا ورواچول چې د فلاني سړي سره احسان وکړه خدای ﷻ ور واچول. نتیجه داده فلا محسن الا الله ولا مستحق للحمد الا هو.

فائده: په دې آیت کې خدای ﷻ حمد مربوط په اسم ذات سره وګرځاوه اشارة الی انه تعالی مستحق للحمد لذاته. او علاوه پر هغه په بعض آیاتو قرآنیه وکې حمد مربوط په بعض صفاتو سره ګرځول سوی دی. او بعض آیتونه په افعالو پوري د خدای راغلي دي اشارةً الی الاستحقاق الصفتي والافعالي ایضاً.

سوال: خدای پاک سموات د جمع په صیغه راوړه او ځمکه یې په مفرد لفظ راوړه سر یې څه دی؟

ځواب: مفسرین په یوه خوله وایي چې د یوه اسمان ماهیت له بل اسمان څخه جلا دی او ځمکه که څه هم اووه طبقې ده کما قال الله تعالی في موضوع آخر ومن الارض مثلهن لکه ماهیت چې یې یو دی فرق یې یوازې په عوارضو سره لکه وچه ځمکه لند ځمکه. او صرفي وجه یې داده چې جمع د ارض پر ارضون کما جا في بعض الکتب خلاف القیاس ده. ولې چې جمع په واو او نون سره د ذوی العقول لپاره ده او جمع قیاسي یې چې اراضي دی ثقیل ده.

فائده: له خلق څخه مراد ایجاد دی بېله مثال سابقه.

یوه سه: چې خدای پاک اسمانونه ومافیها په دوو ورځو کې پیدا کړي دي یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یکشنبه او دوشنبه او مځکه وما فیها یې هم په دوو ورځو کې پیدا کړې یعني سه شنبه او چهار شنبه.

فائده: تخصیص د سموات او مځکې چې خدای پاک په ذکر سره وکړی له دې سببه چې اسمانونه او مځکه لوی په ده مخلوقات د خدای ﷻ دي چې خلګ یې ویني. دا قید چې خلګ یې ویني ددې لپاره چې تر اسمانو او مځکې لوی مخلوق خو په واقع کې سته لکن هغه خلګ نه ویني لکه عرش، جنت، جهنم، شجرة الطوبی او ملائکه چې جبرائیل علیه السلام شپږ سوه وزره لري الی غیر ذالک مما یعلمه الله. او بل سبب د تخصیص یې دادی چې په اسمانو او مځکه کې فوائد سته مثلاً په اسمانو کې لمر، سپوږمۍ او ستوري چې اهل ارض ته رڼا ورکوي د ورځې یا د شپې وبالنجم هم یهتدون" او په ستورو سره د بر او بحر لارې پیدا کوي، او په مځکه کې فوائد لامتناهیة سته من الحیوانات الماکولة اللحم وغیرها کالفیل والحمار والبغل والاشجار المثمرة وعامة ارزاق العباد په مځکه کې دي. او نور جواهرات او معدنیات من الحدید والذهب والفضة والرصاص وغیرها ومن اللعل والفیروزج والعقیق الی غیر ذالک.

فائده: له یوه اسمانه تر بل اسمانه پورې د پینځو سوو کالو مسافت دی. اختلاف العلما. بعض علما وایي چې اسمانونه افضل دي تر مځکې. لکن صحیح دادہ چې مځکه افضله ده. ولې چې انبیا علیهم السلام په سبب د خلق د آدم علیه السلام ټول له مځکې څخه پیدا دي او انبیا علیهم السلام خپل ټوله عبادت په مځکه کې کړې دی او رسالت او نبوت یې ټوله په مځکه کې سر ته رسولی دی. او اسباب د حیوة الدنیا چې مزرعة الآخرة دي ټوله په مځکه کې دی او د مځکې په ژوند سره جنتونه د مسلمانانو لاس ته ورځي الی غیر ذالک من فوائد الارض او انبیا علیهم السلام ټوله په مځکه کې مدفون دي. او مځکه دار الخلافة ومزرعة الآخرة ده کمامر. او افضله د مځکې هغه ټوټه ده چې هغه پر جسد انور د آنحضرت ﷺ په مدینه منوره کې شاوخوا راګرځېدلې ده، او دویمه درجه افضله د مځکې بقعة الحرم المکي ده. او دریمه درجه د بیت المقدس بقعه ده. او څلورمه درجه بقعه د مدینې منورې ده او شام په بیت المقدس کې داخل دی الی غیر ذالک من المواضع الشریفة لکه مقابر د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اولیاً الله او مساجد جامعه ثم وثم.

فائده: کعب احبار وایي چي دغه آیت یعني الحمدلله الذي خلق الآیة اول آیت دی په تورات کي او اخیر آیت دی په تورات کي الحمدلله الذي لم یتخذ ولداً.

پوښتنه: تورات خو عربي نه و بلکې سریاني و او دا د قرآن مبارک آیتونه خو عربي دي، نو څرنگه به د کعب احبار خبره صحیح وي؟

ځواب: د کعب د خبري اول د تورات او اخیر د تورات معنا داده چي معنا یې یوه ده که څه هم الفاظ یې مختلف دي والله اعلم. له ابن عباس ﷺ څخه روایت دی چي خدای پاک شروع د پیدا کولو د اسمانو او مځکي په حمد سره فقال الحمدلله الذي خلق السمٰوات والارض او ختم یې هم په حمد سره وکړی یعني قوله تعالی "وقضي بینهم بالحق وقیل الحمدلله رب العالمین. درویش وایي وهذا من معجزات القرآن الکریم ولایسع مثل هذه الفاتحة والخاتمة طوق البشر.

وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ

او خدای ﷻ پیدا کړي ده تاریکي او نور یعني رڼا.

درویش وایي: چي مفسرین اختلاف لري په تفسیر کي ددې آیت. حسن بصري وایي چي مراد له ظلمات څخه کفر دی او مراد له نور څخه ایمان دی. نو پر دې جمع د ظلماتو او مفرد راوړه د نور ظاهره ده، ولي چي انواع د کفر ډېري دي کالشرک والیهودیة والنصرانیة والدهریة والمجوسیة، او نور یو دی وهو الاسلام. له ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي علیه الصلوٰة والسلام یوه ورځ موږ ته خط مستقیم په گوتي مبارکي سره ولیکی بیا یې وویل هذا سبیل الله یعني لار ده سیده کوږ والی نسته پکښې، بیا یې پر رسته او چپه طرف د خط مستقیم ډېر خطونه ولیکل او وه یې ویل چي دا نوري لاري دي او هره لار د شیطان ده چي خلک ودغو لارو ته رابولي لکه کفر، زنی، لواطت او نور ورته گنهونه بیا علیه الصلوٰة والسلام دا آیت ووایه "هذا صراطي مستقیماً فاتبعوه ولا تتبعوا السبل فتفرق بکم عن سبیله" رواه احمد والنسائي والدارمي.

درویش وایي: چي پر دې هم جمع د ظلماتو چي لاري د شیطان دي او افراد د نور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي طريق مستقيم د ظاهر دی او پوه سه چي په دې آيت رد دی پر مجوسيانو چي دوی وايي خالق د نور خدای دی او خالق د ظلمت شيطان او دواړه واجب الوجود دي.
او داغه رنګه رد دی پر ثنويه چي عالم لره دوه واجب الوجود خدايان وايي يعني خالق د خير د شيانو او د فائدمندو چي د انسانانو نفع پکښې وي د هغه خالق نوم يزدان دی او د مضرو شيانو چي د انسانانو په ضرر تماميږي نوم يې اهرمن دی.

پوه سه: چي ظلمات يې تر نور دمخه کړی، ولي چي عربو بلکې شريعت حساب د هفتې يا د مياشتې له شپې څخه شروع کوي او شپه ځای د ظلمت ده او ورځ ځای د نور ده، نو ظلمت تر نور وجوداً دمخه دی. او بعض مفسران يې دا وجه وايي چي اجسام حامله د ظلمت ډېر دي او اجرام حامله د نور لږ دي، فالنور بالنسبة الى الظلمة كالواحد بالنسبة الى المتعدد.

فائده: ثنويه وايي چي ظلمت او نور قائم بنفسهما دي يعني له قسمه د جوهر دي، او اسلام وايي چي قائم بغيرهما دي يعني له عرض قسم څخه دي او له مقوله د کيف دي يعني دواړه نور او ظلمت کيفيت دي چي قائم په جسم منير او جسم مظلم پوري دي.

درويش وايي: چي په دې فائدې سره هغه سوال دفع سوه چي د بعضې اشخاصو په اذهانو کي ورګرځي چي ظلمت خو عدمي دی او په قانون کي د حکمت جعل په عدمي شي پوري تعلق نه سي نيولای وجه الدفع ظاهر کما لا يخفى.

درويش وايي: چي ما دمخه وويل چي فالنور بالنسبة الى الظلمة آه ددې خبري توضيح داده چي د شپې په يوه خونه کي سل يا زر شيان پراته وي او څراغ يا برق نه وي نو له شيان مظلم تاريک وي په سترګو نه معلوميږي چي څراغ يا ګروپ په خونه ولګوي نو له شيان معلوم سي او وليدل سي فاحفظ فانه سانح جديد. او د روح المعاني او روح البيان او تفسير مظهري دغه چي تاسي واورېدی حاصل دی.

ثُمَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ ۝

بيا هغه کسان چي کافران دي.

پوه سه: چي "بربهم" متعلق دی په "يعدلون" پوري، معمول يې مقدم کړی لپاره د

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

اهتمام په شان سره د هغه. او عدل برابرولو ته وايي. والمعنی چي وروسته تر دغو دلائلو د خالقيت د خدای وحده چي د الحمد لله څخه شروع سوي دي بيا هم کفار نورشيان چي عبارت له بتانو څخه دي له خدای سره يې برابروي په استحقاق کي د عبادت. نو ثم د استبعاد دی له برابري څخه د مشرکانو نور شيان يعني بتان د خدای ﷻ سره. بلکي د دغو دلائلو په ربنا کي مشرکانو پوازي او پوازي مستحق د حمد او شکر او عبادت خدای ګڼلای چي معطي د ټولو نعمتو دی. لکن دوی داسي ونه کړه نو ځکه يې ثم لپاره د استبعاد ذکر کړی.

پوه سه: چي "ثم الذين كفروا" عطف دی علی قوله الحمد لله او يا عطف ده پر خالق باندي، دا وه هغه معنی او تفسير د دې آيت چي روح البيان ذکر کړی دی. او مظهري با د بربهم متعلق په کفروا پوري بولي او د يعدلون سره جار او مجرور محذوف بولي يعني يعدلون عنه. نو ترجمه داسي کېږي د مظهري پر تفسير چي وروسته هغه کسان چي کفر کوي په خدای ﷻ سره چي مشرکان دي روی ګرځاني کوي له خدای ﷻ څخه وبل شي ته چي بتان دي.

درويش وايي: چي ترجمه د روح البيان پر دې مبني ده چي د عدل معنا تسويه ده او د مظهري د تفسير بناً پر دې ده چي يعدلون مشتق دی له عدول څخه چي معنا يې روی ګرځاني ده. دواړه تفسيره خو صحيح دي لکن تفسير د روح البيان ډېر زيباً او له تکلف څخه د حذف خالي دی فعليک بالتامل.

فائده سينة: پوه سه! چي د دې آيت په تفسير کي يعني له الحمد لله الذي څخه بيا تر يعدلون پوري اولياً الکرام او ارباب القلوب يو ښائسته تفسير د اشارې په ډول داسي کوي آسمانونه د زړو يعني چي مشابه د اسمانو سره دي او ځمکه د نفوسو پيدا کړي دي او تاريکي يې په نفوسو کي پيدا کړي دي دا ظلمات د نفوسو عبارت دی د صفاتو بهيميه وو. او اخلاق شيطانيه او صفاتو سبوعيه وو او حيوانيه وو څخه دی او نور يې په زړو کي ايښی دی. دا نور عبارت دی د صفاتو ملکيه او د اخلاق روحانيه څخه. نو هغه سړی چي غالبه سي پر ده نور الهي قلبي ملکي روحاني، نو هغه سړی ميل کوي و بندګی. او عبادت ته د خدای ﷻ او دعوت د انبياً عليهم السلام قبلوي ويؤمن بالله ورسوله او د شريعت زيور په ځان

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوري کوي فالله تعالى وليه فيخرجه من ظلمات الصفات الذميمة الشيطانية والبهيمة الى الصفات الملكية واليه اشير في قوله تعالى "الله ولي الذين آمنوا يخرجهم من الظلمات الى النور" او پر هغه چي غالب سي صفات ذميمه او ملكات شيطانيه او خواهشات ذميمه نفسانيه او هوائيه او پر شهواتو د دنيا خوند اخلي، نو طاغوت يعني شيطان دده ولي وګرځي، نو دا سړی طاغوت وباسي له نوره څخه د صفاتو ملكيه او روحانيه وو وظلمات ته د صفات بهيميه وو كما ورد في قوله تعالى "والذين كفروا اولياهم الطاغوت يخرجونهم من النور الى الظلمات" او هم دغه ده معنا ددې قول د خدای ﷻ في هذه الآية "ثم الذين كفروا بربهم يعدلون" درويش وايي چي دا تفسير د اشارې د تاويلات نجميه وو.

حکایت: يو جماعت له فقهاؤ څخه د يمن لپاره د امتحان د عارف بالله ابي الغيث ابن جميل قدس سره چي په يو شي كي يې دده د ولايت امتحان كاوه، چي يمنيان فقهاء وشيخ ابي الغيث رحمه الله ته نژدې راغله شيخ ابي الغيث ورته وويل مرحباً بعبيد عبدي ښه راغلاست ای بندګانو زما د بنده. دا خو ظاهراً د كفر خبره وه. نو ددوی ډېر نفرت څني وسو. نو دوی ولاړه وشيخ الطريقين او امام الفريقين وبالذبيح اسماعيل بن محمد الحضرمي قدس سره. نو دوی د ابو الغيث خبره ورته وكړه يعني چي داسي كفر امېزه خبره يې موږ ته وكړه. نو شيخ اسماعيل ورته وخندل او ورته وه يې ويل چي ډېره ښه خبره يې درته كړېده انتم عبيد الهوى والهوى عبده. يعني تاسي بندګان ياست د خواهشات نفسيه وو چي هوى يې بولي او هوى بنده وه د ابو الغيث رحمه الله. ولنعم ماقيل.

قدر زر زرګر شناسد قدر جوهر جوهري

هُوَ الَّذِي خَلَقَكُم مِّن طِينٍ

خدای ﷻ هغه ذات دی چي تاسي انسانان يې پيدا كړي ياست له ختو څخه چي خاوري او اوبه سره ګډي كړي، نو په عربي يې طين بولي.

سوال: نسبت د خلق له ختو څخه يې وتولو انسانانو ته وكړی، او سره ددې چي انسان خو له نطفې څخه د مور او پلار پيدا كېږي على الاكثر؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: هو، لکن اصل د ټولو انسانانو چې ابو البشر آدم علیه السلام له ختو خدای ﷻ پیدا کړی و او موږ د هغه اولاد یو، نو ګویا موږ ټوله هم له ختو څخه پیدا یو بالواسائط. له ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت دی چې علیه الصلوٰة والسلام وویل خلق آدم من تراب یعني مخلوط په اوبو سره چې ختې سوې بیا یې پرېښو حتّٰی کان حمأً مسنوناً یعني بد بویه شي وروسته یې انساني اعضا ورڅخه جوړه کړه یعني په وسائط د ملکو په تعلیم د خدای ﷻ بیا یې پرېښو چې وچ سو او شرنګی یې وکړی لکه کودري، هغه لوښي چې په اور پوخ سوي وي ثم نفخ فیه من روحه فصار بالبشر، او د آدم علیه السلام قد شپېته ګزه و.

حکمت: خدای ﷻ آدم علیه السلام ددې لپاره له خاورو څخه پیدا کړی چې مقام د خاورو تواضع او مسکنت دی، او تواضع او مسکنت مقام د ثبات او د رفعت دی. ولهذا ورد في الحدیث من تواضع لله رفعه الله. قال علیه الصلوٰة والسلام اللهم احیني مسکیناً وامتني مسکیناً واحشرني في زمرة المساکین ویدفن غالباً کل انسان په هغه ځای کي چې دده جزء د ختې په اول خلقت د آدم علیه السلام اخستیه سوی وي، موږ غالباً ددې لپاره وو ایه چې بعض انسانان لکه هندوان مړي په اور سوځي ښخوي یې نه او بعض انسانان په دریاب کي غرق سي ماهیان یې وخوري وهکذا نور هم، لکن اکثره انسانان سړی په قبر کي ښخوي لکه مسلمانان عند القدرة او یهودان او نصارٰی او مشرکی العرب، امام مالک رحمه الله وایي چې زه لوی فضیلت د ابوبکر او عمر رضي الله عنهما دا بولم چې په حجره کي د علیه الصلوٰة والسلام سره مدفون دي، نو ګویا طینت د علیه الصلوٰة والسلام ددوی سره یو دی.

درویش وایي: چې مفسرین ټوله تقریباً په اتفاق وایي او له سدي رحمه الله څخه روایت کوي چې جبرائیل علیه السلام ته خدای ﷻ وویل چې ورسه د مځکي له یوه او بل ځایه خوږه، ترخه او تروه خاوره وغیرها من اقسام التراب راوړه د آدم علیه السلام د خمیر لپاره، مځکي د خدای ﷻ په قدرت سره جبرائیل علیه السلام ته وویل اعوذ بالله منک چې ته به زما څخه خاوره وړې او زما اجزا به راکموې، نو جبرائیل علیه السلام بیرته د خدای ﷻ له مراعات خالي لاس راغلی، خدای پاک ورته وویل چې ولې دي خاوره نه راوړه؟ جبرائیل علیه السلام ورته وویل "یارب انها اعاذت بک" بیا یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

میکائیل علیه السلام پسي واستاوه مخکي بیا اعوذبالله منک ورته وویل، نو هغه هم د خاوري په راوړلو کي کامیابه نه سو لمراعات اسم الله تعالی. بیا ملک الموت عزرائیل علیه السلام پسي واستاوه. خو مخکي خپل استعاذه و عزرائیل علیه السلام ته هم پیش کړه، نو عزرائیل علیه السلام ورته وویل انا اعوذ بالله ان اخالف امره تعالی، نو مختلف الالوان خاوره چي یې له مخه تېره سوه راټوله یې کړه فلذالک اختلف الالوان بني آدم، بیا یې په امر د خدای جل جلاله په دې خاوره کي خوړې، ترخې او تروې اوبه واچولې او خمیره یې کړه ولذالک اختلف اخلاق بني آدم، نو خدای جل جلاله وویل رحم وکړی جبرائیل او میکائیل پر مځکه باندي، او تا یعني عزرائیل رحم نه وکړی، نو خامخا زه قبض د روحانو د هغه چا چي له دې خاورو څخه پیدا کېږي تاته سپارم، بیا نو لکه د مخه چي تېره سوه د آدم علیه السلام تصویر انجام سو.

درویش وایي: چي تر دې ځایه او مامر من قبل روایت د بغوي رحمه الله و، او قریب و روایت ته د بغوي احمد او ترمذي او ابو داؤد له ابو هریره رضي الله عنه عن النبي صلی الله علیه وسلم څخه کړی دی.

ثُمَّ قَضٰٓى اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ مُّسَمًّى عِنْدَهٗ

وروسته خدای پاک لیکلی دی د هر انسان لپاره یو اجل یعني حد معین له زماني څخه چي هغه وخت راسي دی به مري یعني د تر هغه اجل معین نه د مخه مري او نه وروسته. قال الله تعالی ماتسبق من امة اجلها ومایستاخرون.

یو سه: چي کلمه د "ثم" لپاره د تفاوت او فرق په منځ کي د خلق د انسانانو او د تقدیر د آجالو د دوی.

فائده: اجل په لغت کي عبارت دی اخیري مدې د یو شي لاعن اولها وسیظهر فائدة هذه القائدة فیما سیاتي قریباً.

یو سه: چي "اجل مسمٰی" مبتدا ده او "عنده" یې خبر دی، یعني بل اجل چي لپاره د بعث بعد الموت دی مثبت دی په علم کي د خدای جل جلاله چي هغه هیڅ تغیر نه کوي او علم نه لري پر وخت د هغه هیڅ څوک نه مجملاً او نه تفصیلاً. او اجل الموت چي اجل اول و هغه معلوم دی اجمالاً په اماراتو او علاماتو سره که څه هم معلوم تفصیلاً نه دی یا په دې سره معلومېږي چي عمرونه د انسانانو د هري زماني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غالباً څو دي. او د اجل د بعث بعد الموت چي اجل بولي په اعتبار ددې چي دا زمانه د درنګ ددوی په قبرو کي په اعتبار ددې چي ابتدا د ورځي د قيامت ده لکه په اجل اول کي چي اجل په اعتبار ددې چي دا اخیره مده د ژوند ده لاکونه اول مده د ممات ده لمامر في الفائدة السابقة.

بوه سه: چي حکماً د اسلام وايي چي د هر انسان دوه اجله دي. یو اجل طبعي بولي او بل اجل اختراي بولي، دوی وايي چي اجل طبعي هغه بولي چي که سړی پر خپل طبعیت او مزاج پاته سي او عوارض خارجيه او امراض مهلکه نه سي ورپېښ نو دده د ژوند موده به تر هغو پاته وي چي رطوبات دده د بدن غالبه سي او حرارت طبعي ختم سي، نو به مړ سي. او اختراى اجل دي ته وايي چي مرګ په یوه سبب د اسبابو خارجيه ورپېښ سي، کالحرق او الغرق ولدغ الحشرات السمية لکه مار، لړم غونډک، وغیرها چي يې وخوري من الاسباب عن جسده اخترام وقطعي ته وايي نو ګويا دغو اسبابو دده اجل ورقطعه کړی. مثاله چي یو غویی یا پسه چي قصاب يې بې ناجوړیه نه کړي ذبحه. نو دا غویی یا پسه به تر خپل طبعي مرګه پوري پاته وي. او که يې قصاب د خپلې ګټې لپاره ذبحه کړي، نو دا د غویي یا پسه اجل اختراميي دی.

سوال: دا حکماً د اسلام څرنګه دا خبره کوي چي اجل دوه قسمه دی او سره ددې چي په قرآن مجید کي راغلي دي "ماتسبق من امة اجلها" ؟

خواب: د قرآن مجید ددې آیت مراد دادی چي اجل معلوم عند الله دمخه نه سي کېدای او نه وروسته او خدای پاک ته د هر چا که په اجل طبعي مري او که په اجل اختراميي مري معلوم دی نه تقدیم پکښي کېږي او نه تاخیر. اجل اختراميي خو زموږ په علم کي دی، ددې ځواب تائید هغه خبر کوي چي د ټولو عقائدو په کتابو کي وايي چي مقتول پر اجل مړ دی یعني په علم کي د خدای ﷻ نو پر دې بعض ناپوهانن اعتراض کوي چي مقتول چي پر اجل مړ سو، نو قاتل ولي پر قصاصېږي شرعاً. ددې سوال ځواب د عقائدو ټوله کتابونه داسي ورکوي چي مقتول خو په صورت جوړ و هیڅ مریضي چي دده مرګ دې سبب وي نه وه پکښي. نو که قاتل نه وای وژلی نو به هم مقتول ژوند کړی وای. د عقائدو د کتابو عربي عبارت داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی فکان القاتل قطع عنه اجله. فلذا یقتص من القاتل، نو دا خو عین معنی د اجل اخترامي وه. او دا چي دوی وايي چي که قاتل نه وای وژلی ده به نور ژوند کړی وای دا عین معنا د اجل طبعي ده والله اعلم بالصواب.

درویش وايي: چي وهذا حاصل ما في روح البیان وغیره من کتب التفسیر وحاصل مافي کتب العقائد لاهل السنة والجماعة. بخاري او مسلم د ابن مسعود ﷺ روایت کړی دی قال حدثنا رسول الله ﷺ وهو الصادق المصدوق ان خلق احدکم یجمع في بطن امه اربعین نطفة ثم یکون علقة مثل ذالک یعني په څلوېښت ورځي کي ثم یکون مضغةً مثل ذالک یعني په څلوېښت ورځي کي ثم یبعث الله الیه ملکاً باربع کلمات فیکتب عمله واجله ورزقه وشقي او سعید ثم ینفخ في الروح. علیه الصلوٰة والسلام چي هم صادق دی هم یې خدای ﷻ تصدیق کړی دی چي پیدائښت ستاسي په دې ډول دی چي څلوېښت ورځي نطفه یعني په رحم کي د مور او تصرف د قدرت پر جاري وي حتی بیا نو علقه سي یعني جامده وینه وګرځي بیا هم تصرف د قدرت پر جاري وي حتی بیا نو مضغة وګرځي لکه ژوولې غوښه هم څلوېښت ورځي. یعني بیا نو اعضا انساني د مضغة وروسته پیدا سي حتی چي اعضا د بدن پوره سي بیا ملکه خدای ﷻ ورته راواستوي په څلورو خبرو نو ملکه نوشته کړي یعني ښوونه د خدای ﷻ (۱) چي اول یې عمل نوشته سي یعني چي نیکو کار به وي او که به بد کرداره وي. (۲) اجل یې نوشته سي یعني که طبعي وي او که اخترامي حسب علمه تعالی (۳) رزق نوشته سي یعني فقیر او مسکین به وي او که به غني او کروړ پتي پیدا ل به وي (۴) سعید یعني نېکبخته مسلمان به وي او که به شقي بدبخته وي یعني کافر. وروسته بیا روح پکښي پوه سي یعني ژوندی انسان تر یا ښځه وګرځي الی اخیر الحدیث بطوله.

ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ۝

پوه سه چي کلمه د "ثم" لپاره د استبعاد ده یعني وروسته تر دې چي تاسي ته ښکاره سوه چي خدای ﷻ خالق ستاسي دی او خالق ستاسي د اصولو دی، او تاسي ژوندي ساتي تر پوره والي پوري د اجل. نو باید سړی پوه سي چي ددلسي مقتدر خدای ﷻ د قضا او علمه څخه هیڅ شی خارج نه دی نو لکه اول پر پیدائښت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستاسي چي قدرت درلودی پر ستاسي پر اعاده په ورځ د قيامت کي هم قادر دی، وليس اول الخلق باهون عليه من الاعادة نو سره سره ددې معلوماتو چي تاسي ته حاصل سوه بيا هم تاسي ايها المشركون شک کوئ په بعث بعد الموت کي دا ډېره بعيده عقيده ده ستاسي.

پوه سه: چي له عائشي ﷺ څخه روايت دی قالت قال رسول الله ﷺ ستة لعنهم ولعن الله وكل نبي مجاب" د سيدتنا عايشي ﷺ څخه روايت دی دې وويل چي رسول الله ﷺ وويل شپږ قسمه خلگ دي چي ما لعنت پر ويلی دی او خدای پاک هم لعنت پر کړی دی او هر نبي چي مجاب الدعوة وي لعنت پر ويلی دی "الزائد في كتاب الله" اول هغه سړی دی چي په قرآن کي چي كتاب الله دی زياتوب وکړي.

پوه سه: چي زائد في كتاب الله روافض دي چي قرآن مبارک چي د پرش جزء دی دوی نور لس پر بالا کړي دي، او دوی وايي چي دا لس حضرت عثمان ﷺ څني ساقط کړي دي. او دوی وايي چي سورة احزاب دومره اوږد و لکه سورة البقره، نور عثمان ﷺ څني ساقط کړی او موجوده سورة احزاب يې پرېښو.

درويش وايي: چي لعنهم الله كيف يقولون هذا، او سره ددې چي جمع د قرآن اول په خلافت کي د ابوبکر ﷺ سوې ده په مشوره د ټولو صحابه کرامو ﷺ او بيا تجديد د جمع د قرآن په خلافت کي د عثمان ﷺ سوی دی په حضور کي د موجودين صحابه کرامو ﷺ، نو عقل دا څرنگه قبلوي چي دومره ډېر قرآن لکه دوی چي وايي ساقط کړی او موجوده قرآن په اجماع د قرا د صحابه وو، او د نورو صحابه وو په اجماع تابعينو ثم وثم دغه قرآن مجيد چي د ټولي نړۍ د مسلمانانو له لاسونو او کورونو کي دی. فالروافض كفروا بقولهم هذا بالاجماع" والمكذب بقدر الله" او چي له تقدير څخه د خير وشر له جانبه څخه د خدای پاک منکر وي.

درويش وايي: چي مكذب د تقدير د خدای ﷻ معتزله دي چي دوی خالق د افعالو د بندگانو بندگان بولي بدون مداخلة ارادة الله كما في كتب العقائد "والمتسلط بالجبروت" او چي ځان يې مسلط کړی پر مسلمانانو په زور سره يعني بدون بيعة اهل الحل والعقد.

درويش وايي: چي متسلط بالجبروت ظالمان بادشاهان دي او ظالمان رئيس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جمهوران دي "ليعز من اذله الله ويذل من اعزه الله" چي دی عزت ورکړي وهغه چاته چي خدای ﷻ ذلیل کړی وي یعني الفساق والفجار شاربين الخمر الى غير ذالک اودی ذلیل کړي هغه څوک چي خدای ﷻ عزت ورکړی وي چي علماً حقاني دي او روحانيون اتفاقي دي "والمستحل لحرمة الله" او چي حلال ګڼي هتک د حرمت د خدای ﷻ.

درویش وایي: چي دا دله مرجئه بولي چي بندګان مجبور محض بولي نه قدرت او نه کسب بنده ته وايي، نو دا ډله په حقیقت کي له ثواب او عقابه څخه د قیامت د ورځي منکر دي، ولي چي د دوی په نيز بندګان لکه جمادات داسي دي خدای ﷻ چي يې پر هره خوا ګېلوي روان دي "والمستحل لعترتي ماحرم الله" او بل هغه څوک دي چي زما د اولاد حرمت نه ساتي.

پوه سه: چي اولاد د علیه الصلوٰة والسلام د سیدتنا فاطمي ﷺ اولاد دي چي سیدان يې بولي الى يوم القيامة.

درویش وایي: چي دا اشاره وقاتلانو ته د حسن او حسين و اولادهما ﷺ. او دا ډله په نامه د خوارجو یادېږي "بل پرې ښونکوی دی زما د سنت هر سنت چي وي که فعلي وي او که قولي او که حالي وي.

درویش وایي: چي چي تارک د سنت نبویه تولِه اهل اهوأ دي لکه شیعه ګان وغیرهم او تولِه فساق او فجار رشوت خواره شراب نوشان قمار بازان او د استاذانو بي حرمتي کونکي الی غير ذالک من اهل الکبائر او هغه کسان چي پر ګناه صغیره باندي همېشه توب کوي اللهم احفظني من لعن الله ومن لعن رسوله ﷺ امين بفضلک وکرمک.

وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ ط

پوه سه: چي د "هو" ضمیر راجع دی ولفظ "الله" ته چي موصوف په صفاتو مذکوره وو سره دی او لفظ "الله" يې خبر دی لکن په اعتبار د معنی وصفي یعني المعبود الحق او "في السموٰت آه" متعلق دی په لفظ "الله" سره ولي چي د لفظ "الله" څخه مراد معنی وصفي ده نو تعلق د حرف جر پوري صحيح دی، والمعنی خدای ﷻ معبود بالحق دی په اسمانو او مځکه کي یعني مستحق د عبادت دی دی لاغیره کما في آية اخرى وهو الذي في السما آله وفي الارض اله.

فائده: دا نه ده لازمه چي خدای ﷻ په اسمانو او مځکه کي معبود دی، نو ده لره

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اسمان يا ځكه مكان وي فانه تعالى منزه عن المكان والزمان.

پوښتنه: ظاهر ددې آيت خو دادی چې خدای ﷻ په خپله په اسمانو او ځمكه كې دی، نو په معبود سره ترجمه تاچې وكړه له دې سببه چې خدای ﷻ لره مكان پيدا نه سي دليل د نفي د مكان څه دی؟

ځواب: قاضي بيضاوي رحمه الله ددې آيت په ترجمه كې صرف دومره ويلي دي چې چونكه خدای ﷻ كامل علم لري په مافي السموٰت ومافي الارض سره نو گويا خدای ﷻ پخپله په اسمانو او ځمكه كې دی لكن درويش وايي چې په زړه پوري ځواب ددې پوښتنې او د اعتبار وړ ځواب او دليل په نفي د مكان د خدای څخه هغه دی چې امام الحرمين ابو المعالي عبدالملك رحمه الله چې استاذ د امام غزالي رحمه الله هم دی او د عقائدو د اهل السنة والجماعة په باب كې منل سوی لوی امام دی، او په شرح المواقف كې داسې راغلي دي وهو مذهب امام الحرمين، پر دې دليل دی چې دی لوی امام دی پر نفي د مكان خدای ﷻ لره، او د هغه قصه داده چې امام الحرمين د لوی سرمايه داره سړي ميلمه و، نو علماً د هغه وخت او نور د دنيا غټ سرمايه داران چې خبر سوه چې امام الحرمين د فلاني سړي په كور كې ميلمه دی سره راغونډ سوه د هغه سړي په كور كې، نو د خبرو په جريان كې يوه سړي د اهل مجلس وويل چې څه دليل پر نفي د مكان خدای ﷻ لره سته او سره ددې چې خدای ﷻ وايي "الرحمٰن على العرش استوىٰ" يعني دا آيت خو په ظاهره سره مقتضي ددې دی چې د خدای ﷻ مكان عرش دی، نو امام الحرمين ورته وويل چې دليل په هغه آيت سره دی چې حضرت يونس عليه السلام د ماهي په نس كې وويل "لا اله الا انت سبحانك اني كنت من الظالمين" حاضرين علماً حيران سوه چې ددې آيت او د نفي د مكان د خدای ﷻ څه مناسبت سره سته، او دوی د امام الحرمين څخه ددې دليل توضيح وغوښتل، امام الحرمين ورته وويل چې دباندې يو مسكين سړی ولاړ دی چې زر درهمه پور پر باندې دی، نو كه څوك د هغه پور ادا كړي نو زه به توضيح ددې دليل درته وكړم، صاحب الضيافة وويل چې دادی زه به زر درهمه و هغه مديون ته وركړم هغه زر درهمه و هغه مسكين مديون ته وركړه نو امام الحرمين ته يې وويل چې اوس توضيح د دليل پر نفي د مكان د خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راته وکړه، نو امام الحرمین وویل چي رسول اللهﷺ چي په شپه د معراج الی ماشاً الله من المرتبة العلیا ته ورسیدی، نو داسي یې د خدای ﷻ مخاطبه وکړه "لااحصٰی ثناً علیک انت کما اثنیت علٰی نفسک، او یونس علیه السلام چي په تاریکیو کي د دریاب په نس کي د ماهي و داسي یې وویل "لا اله الا انت سبحانک اني کنت من الظالمین" نو علیه الصلوٰة والسلام فوق العرش خدای ﷻ مخاطب کړی په انت سره او یونس علیه السلام په قعر البحر په نس کي د ماهي هم خدای ﷻ مخاطب کړی په انت سره. او انت خو خطاب د حضور دی. نو که خدای ﷻ لره مکان علوي یا مکان سفلي وای نو دواړه خطابه په څرنګه صحیح سوي وای فعلم انه لیس له مکان فاثنٰی علیه اهل المجلس من العلماً.

يَعْلَمُ سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُونَ ۝

خبر دی خدای ﷻ په هغه پټو خبرو چي تاسي یې په زړو کي ساتئ، او خبر دی په هغه چي تاسي یې اعلانیه کوئ. او خبر دی خدای ﷻ په هغه کارو چي تاسي یې په اندامو یا په سترګو کوئ لکه نظر بالشهوة ونا محرمي ښځي ته یا په ژبو لکه غیبت، بهتان، دروغ یا په لاسو الی غیر ذالک من المعاصي که د شر کارونه وي لکه مامر او که د خیر کارونه. لکه په ژبو قرآن پاک یا بل ذکر، په غوږو وعظ اوریدل الی غیر من افعال الخیر. والمعنٰی نو خدای ﷻ په ورځ د قیامت درکړی ان کان خیراً فخیر وان کان شراً فشر. دا جمله دوهم خبر دی د "هو"

درویش وایي: چي ژوند د دنیا لویه سرمایه ده کما ورد "الدنیا مزرعة الآخرة" باید دا عزیزه سرمایه په ښو کارو کي ولګوئ، یو محقق شاعر وایي

حیف باشد که عمر انسانی — چون بهایم بخواب وخور گذرد
آدمی میتواند از کوشش — که از مقام فرشته در گذرد

چنانچه سعدي قدس سره در معراج آنحضرتﷺ میگوید

چنان گرم در تیه قربت براند — که درسدره جبریل ازو باز ماند
بدو گفت سالار بیت الحرام — که ای حامل وحی برتر خرام
بگفتا که بیروی بالم نماند — اگر یک سر موی بر تر پرم
فروغ تجلي بسوزد پرم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ مِّنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ۝٤

او نه راځي ودوی ته یعني اهل مکه ته یو آیت له آیتو څخه د خدای ﷻ یعني المعجزات الدالة علی حقیقة رسالة رسول الله ﷺ وصحت القرآن المنزل علیه مثل انشقاق القمر یعني دوه ځایه کېدل د سپوږمۍ چي دوی یعني ټولو هم ولیدله چي څورلسم تاریخ د میاشتي و، قصه د انشقاق القمر دا وه چي د ابو جهل کره دوه یا دري کسه د اهل کتابو مېلمانه راغلي وه او ابو جهل ودوی ته وویل چي په موږ کي یو نفر دی یعني دده خبیث اشاره و علیه الصلوٰة والسلام ته وه، دی وایي چي زه نبي یم او موږ یې سحرګر بولو، نو تاسي خو اهل کتاب یاست نو موږ ته به دا معلومات را نه کړي چي دی اوس رښتیا رسول دی او که جادوګر دی؟ هغو ورته وویل چي موږ یې معلومولای سو که یې ته په موږ ووینې، ولي چي موږ ته معلومه ده چي د ساحر سحر پر اسمان اثر نه سي کولای صرف پر مځکه د سحر جادو محصور وي، ابو جهل ورته وویل چي اوس دستي به یې زه په تاسي ووینم، نو څورلسم تاریخ د هغې میاشتي و، ابو جهل ورغلی او علیه الصلوٰة والسلام یې له کوره راویستی او ورته وه یې ویل چي دا کسان ستاڅخه یوه معجزه غواړي که تا هغه معجزه دوی ته ښکاره کړه زه به هم ایمان راوړم او دوی به هم ایمان راوړي، علیه الصلوٰة والسلام و هغو ته وویل چي تاسي څه غواړئ؟ هغو ورته وویل چي ته اشاره ودې سپوږمۍ ته وکړه چي دوه ځایه سي، یوه حصه د جبل ابي قبیس تر شا ولاړه سي او پاته نیمه حصه د جبل ابي قبیس ودې بلې خوا ته سي او بیرته سره یو ځای سي، په بعض روایاتو کي راغلي دي چي دري واره دا شق القمر مکرر به واقع کېږي، علیه الصلوٰة والسلام په سبابه ګوته سره اشاره ورته وکړه، نو سپوږمۍ لکه دوی چي ورته ویلي وه یو وار یا دري واره پر منځ سره پرې سوه او بیا بیرته سره یو ځای سوه، علیه الصلوٰة والسلام وویل اشهدوا او خلګ د مکې اکثره وینې وه او دا موضوع یې ولیدله، په روایت د ابن مسعود رضي الله عنه نو هغو دوو یا درو اهل کتابو ایمان راوړی او ملعون ابدي ابو جهل وویل چي د دنیا د ساحرانو سحر پر مځکه چلېږي او د مکې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ساحر سحر پر اسمان هم وچلېدی روان سو او ایمان یې نه راوړی، او بله معجزه د علیه الصلوٰة والسلام دا وه چې شګو او ډبرو خبرې وکړې، د هغه قصه داسې وه چې ابو جهل په کور کې ناست و او په شګو کې یې لاس واهه، نو دده په زړه کې دا را وګرځېدله چې دا پېنځه شپږ شګې به زه په موټ کې پټې ونسم او محمد ته به ووایم که ته رشتیا نبي یې دا زما په موټه کې شی به راوښیې، نو علیه الصلوٰة والسلام یې پیدا کړی او هغه خبره یې ورته وکړه. علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې ښوونه خو یې اسانه ده که دغه ستا د لاس شیانو کلمه شهادت ووایه، نو ته ایمان راوړې؟ ابو جهل ورته وویل چې دا به ډېره عجیبه خبره وي چې زما د لاس شی به کلمه شهادت وایي، نو هغو شګو په بلند آواز چې ابو جهل هم واورېدی داسې وویل "اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً رسول الله" ابو جهل هغه شګې وغورځولې او علیه الصلوٰة والسلام ته یې وویل چې پر شګو دې هم سحر تاثیر وکړی الی غیر ذالک من المعجزات الباهرات.

پوه سه: چې کلمه د "من" زائده ده حکمت یې استغراق د نفي دی کما تقرر في کتب النحو. او پوره معنا د آیت داده چې نه راځي و اهل مکې ته یو آیت یعني معجزه له معجزاتو څخه د خدای ﷻ مګر نه په داسې حال کې راځي چې کفار د مکې د هغو آیاتو روی ګرداني کوي یعني په مقتضی د هغو آیتو عمل نه کوي یعني چې ایمان دي راوړي.

پوه سه: چې کلمه د "من" په "من آیات ربهم" کې لپاره د تبعیض ده یعني بعض آیات ربهم.

فَقَدْ كَذَّبُوا بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُمْ

نو دوی تکذیب وکړی د حق چې قرآن دی، وقیل بمحمد ﷺ، چې ودوی ته هغه راغلی چې قرآن یا علیه الصلوٰة والسلام دی.

پوه سه: چې "فقد کذبوا" تفریع ده د ماقبل فانهم لما اعرضوا عن الآیات کلها کذبوا بالحق الذي جائهم فانه ای الحق من الآیات یعني چې په خپله حق چې قرآن پاک دی هم له معجزاتو څخه و. لقوله تعالی "وان کنتم في ریب مما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة مثلهﷺ.

تنبیه: پخپله ذات انور د علیه الصلوٰة والسلام هم معجزه وه، ولې چې دی چې زو کړی ؤ امي ؤ، یعني لم یقرٔ ولم یکتب في زمان الجاهلیة او قوم یې تول بت پرستان وه او ده مبارک هرگز له کوچنیوالي بیا تر لوی والي پورې وبت ته سجده نه ده کړې، او قبل النبوة د داسې ښائسته اخلاقو څښتن ؤ چې اهل مکه به دی امین مکه باله، او څونکه بعد النبوة قرآن دده موافق د کتب قدیمه وو سره و، نو ځکه قسیسون او احبار او رهبان دده نبوت مانه.

درویش وايي: والكلام فيه طويل غاية الطول فاعرضنا عن ايراه كاملاً.

فَسَوْفَ يَأْتِيهِمْ أَنْبَٰٓؤُا۟ مَا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ۝

پس ژر دی چې رابه سي دوی ته یعني کفارو ته د مکې خبرونه د هغه شیانو چې دوی چې په هغه سره بې پسخند واهه، یعني یا په ورځ کې د قیامت او یا په تېز د ظهور او غلبه د اسلام پر شاوخوا د مدینې پر یهودانو باندې او په فتح کې د مکې خبرونه د هغه شیانو چې دوی به په هغه سره پسخند واهه، یعني بعث بعد الموت او یا غلبه او یا ارتفاع د امر د اسلام په بدر کې او یا په نورو غزاوو کې د علیه الصلوٰة والسلام، اللهم انصر الاسلام والمسلمین ودمروا هلک اعدآ الذین من کانوا وحیث کانوا في زوایا الارض آمین.

أَلَمْ يَرَوْا۟ كَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَبْلِهِم مِّن قَرْنٍ

آیا نه ویني کفار مکه یعني په سفرو کې ددوی وه شام ته چې ددې رؤیت څخه به دوی عبرت اخستی واي.

یوه سه: چې "اهلکنا" خبر دی په معنی د کثیراً، او کلمه د "من" زائده ده، ولې چې "اهلکنا" په خپله متعدي دی.

فائده: قرن قوم ته وايي چې په یوه زمانه کې سره جمع وي او جمع یې قرون ده کما في قوله علیه الصلوٰة والسلام خیر القروني قرني، یعني هغه کسان چې د ماسره یو ځای ه ژوند کې، اقول ضعیفه په اندازه کې د قرن (۱) څلوېښت کاله (۲) لس کاله (۳) شل کاله (۴) دېرش کاله (۵) پینځوس کاله (۶) شپېته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کاله (۷) اوویا کاله (۸) اتیا کاله (۹) یو سل او شل کاله، والاصح چي يو قرن سل کاله دی، ولي چي علیه الصلوٰة والسلام و عبدالله بن بشر المازني ﷺ ته وويل "امک تعيش قرنا" نو هغه د سلو کالو دی.

خوانندگان محترم د درویش عمر اوس تخمیناً لس کاله تر قرن اصح کم دی. نو والله اعلم چي دا ارمان به زما خدای جلت قدرته پوره کړي چي دا تفسير پایه تکمیل ته ورسوم او که زه مړ سم تفسير به مي يتيم سي.

مَكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ مَا لَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ

چي موږ دوی ته قرار ورکړی و په مځکه کي يعني اسباب د معيشت او د ژوندانه چارو پر مخ بیولو کي لوی قدرت مي ورکړی و، هغه شيان چي تاسي ته مي نه وه درکړي، يعني قوة في الابدان او مالونه او نور اسباب د عيش.

پوه سه: چي جمله د "مكنا في الارض" مجرور محلاً ده صفت د "قرن" ده او ضمير د "هم" چي جمع راوړي که څه هم راجع و "قرن" ته دی په اعتبار د معنی د "قرن"

پوښتنه: په اول کي خدای پاک "مکناهم" په خپله متعدي کړی ومفعول ته چي "هم" دی، او په دې بل ځای کي یې متعدي کړی په حرف جر سره؟

ځواب: چونکه "مكنا" د تمکين مشتق دی چي باب د تفعیل دی او متعدي بنفسه دی، نو اول عبارت پر خپل ظاهر دی او په دوهم لام د تقویه د عمل دی. او دا بل ځواب چي دوهم که پر تعدیه ووېل سي، نو څو لفظ یې داسي راتلی "مالم نمكنكم" او دا لفظ پر ژبه درونډ و ځکه یې لام ورسره زيات کړی، او روح البيان حرف جر محذوف بولي ای مکنا لهم، نو دده په نیز باب د تفعیل دلته لازمي دی لانه قد يجئ لازماً كما في الشافية.

پوه سه: چي کلمه د ما موصوفه ده په معنی د شیأ ده منصوب ده چي معفول ثاني دی د مكناهم په تضمين سره د معنا د اعطيناهم چي متعدي و مفعوله ته دی اویا مفعول مطلق دی فالمعنى مكناهم شيئاً من التمكين لم نمكن لكم مثلهم. او ابن عباس ﷺ ددې آيت ترجمه داسي کړې ده امهلناهم في العمر مالم نعمركم مثلهم مثل قوم عاد و ثمود.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نکته: خدای ﷻ اهل مکه ته په صیغه د غیبت وویل یعنې الم یروا ای کفار مکه لعدم اهلیته لخطاب الملک العزیز الجبار، او چې محمد ﷺ په دوی کې ؤ نو یې خطاب ورته وکړی یعنې مالم نمکن لکم.

وَأَرْسَلْنَا السَّمَاءَ عَلَيْهِم مِّدْرَارًا وَجَعَلْنَا الْأَنْهَارَ تَجْرِي مِن تَحْتِهِمْ

او موږ راواستاوه باران پر دوی پې درپې او موږ وګرځولې ولې چې بهېږي لاندې تر دوی یعنې لاندې تر درختو او د کورو ددوی.

پوه سه: چې "وارسلنا آه" عطف دی پر "مکنا" باندې، او "السما" په معنا د باران دی، د "مدرارا" وزن مفعال دی، ابن عباس ﷺ یې ترجمه په متتابع سره کړې ده لکه درویش چې وکړه، او مظهري ﷫ په مشتق د "دَر" په معنی د شیدو بولي، او په شیدو کې خیر کثیر دی د عربو بلکې شرعاً هم شیدې ښه غذایي خواړه دي، نو معنی د مدرارا یې داسې کړې ده کثیر النفع چې په اوقاتو د حاجت د خلګو وي، یعنې ددوی د زراعت او باغو او کارېږو او چنو پکښې فایده وي، او ابن الشیخ وایي چې مدرارا صیغه د مبالغې ده یعنې کثیر الدوره یعنې د متتابع ورکوي لکه ابن عباس چې ؤ او درویش یې هم ترجمه په پې درپې سره وکړه.

فَأَهْلَكْنَاهُم بِذُنُوبِهِمْ

نو موږ دوی هلاک کړه په سبب د ګنهو ددوی یعنې چې دوی ته به خدای ﷻ رسولان ور ولېږل او دوی به یې تکذیب وکړی، او هغه ددوی ښو باغو او سرایو او ښه ژوند چې خدای ﷻ دمخه تر ارسال الرسل او د دوی د تکذیب ودوی ته ورکړی فائده ونه کړه او نه یې عذاب د خدای ﷻ له دوی څخه دفعه کړی.

وَأَنشَأْنَا مِن بَعْدِهِمْ قَرْنًا آخَرِينَ ﴿٦﴾

او موږ پیدا کړي دي وروسته تر دوی بل قرن خلګ لکه دوی چې تر دزی دمخه وه.

فائده: ددې آیاتو مطلب دادی چې قریش پر علیه الصلوٰة والسلام ایمان نه راوړي، نو دوی به هم لکه دمخه قرون خدای ﷻ هلاک کړي.

فائده: په دې آیتو کې تنبیه ده پر کمال قدرت د جل سلطانه په دې معنی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إهلاک د قرونو د خدای ﷻ وه سلطنت ته کوم تاوان نه دی رسولی، چه خوش گفت آنکه میگوید.

پند گیر از مصائب دیگران تانگیرند دیگران زتو پند
نرود سوی دانه مرغ پران جو دیگر مرغ بیند اندر بند

ودیگر محقق گفته دربیان بجا آوردن شکر نعمت الهي.

شکر نعمت نعمتت افزون کند کفر نعمت نعمت از کفت بیرون کند

او دا معنا ددې قول د خدای ﷻ ولئن شکرتم لازیدنکم ولئن کفرتم ان عذابي لشدید. دیگر محقق میگوید

دریغ آدمی زاده پر محل چوباشد چو انعام بل هم اضل

ددې بیت معنا داده چې څوک چې د انبیا علیهم السلام څخه انکار کوي او د الهاماتو څخه د اهل الله او د کراماتو څخه د اولیا الله هم روی گرداني کوي په سبب د مغروری په شهواتو د دنیا او کوټیو او بنګلو او په درهمو او د دینارو سره، نو دغه خلګ لکه چارپایان بلکې تر هغو هم اضل دي. ولې چې چارپایانو انکار د حق نه دی کړی او دوی وکړی.

یوه سه چې کلبي او مقاتل وایي چې نضر بن الحارث، عبدالله بن ابي امیة او نوفل بن خویلد یوه ورځ و علیه الصلوٰة والسلام ته چې دی په مکه مکرمه کې و او ورته وه یې ویل چې اې محمده موږ پر تا ایمان نه راوړو تر هغو پورې چې ته یو کتاب مجموعه له اسمان څخه چې څلور ملکې به ورسره وي. او هغه ملکې به زموږ په حضور کې شاهدي ادا کوي چې دا کتاب من عند الله دی او ستا لپاره شاهدي ادا کوي چې دی د خدای رسول دی، نو خدای ﷻ دا آت ددوی په رد کې نازل کړی.

وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا فِيْ قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوْهُ بِاَيْدِيْهِمْ لَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝

که موږ نازل کړو پر تا باندې لکه دوی چې غواړي یو کتاب یعني لیکلی پر کاغذ، او دوی مسه کړي هغه مکتوب.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

یوه سه: چي خدای ﷻ مس بالید ذکر کړی او داسې یې نه وویل چي دوی یې په سترګو ووینې له دې جهته چي په ملموس کي هيڅ وجه د سحر نه جاري کېږي بخلاف المبصر ولي چي دوی بيا وايي چي زموږ چشم یې وکړه، هر آئینه وايي په هغه کسان چي دوی کفر مختاره کړی دی نه دی دغه مکتوب مګر سحر دی ښکاره د تعنت او عناد له کبله.

وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ

او وايي کفار د قريشو ولي نازلول کېږي پر محمد باندي يوه ملکه يعني چي زموږ سره خبري وکړي چي محمد زما نبي دی. لکه په بل ځای کي د قرآن ورته مضمون ددوی د قول خدای ﷻ داسې رانقل کړی لولا انزل معه ملک فيکون معه نذيراً.

وَلَوْ أَنْزَلْنَا مَلَكًا لَقُضِيَ الْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُونَ ۝

که موږ نازله کړو ملکه يعني دده سره لکه دوی چي يې طلب کوي، نو به فيصله د اهلاک ددوی سوی وای د خدای ﷻ له خوا، ولي عادت الهي دادی قديماً ر دي جاري دی چي موافق د غوښتني د کافرانو خدای ﷻ معجزه نازل کړي او بيا هم دوی ايمان نه راوړي هغه کافران خدای ﷻ هلاکوي کما في ناقة صالح عليه السلام، نو وروسته تر نزول د ملکي دوی يعني کفارو ته د قريشو مهلت نه ورکول کېږي طرفة العين يعني يو چشم زدن، او مجاهد رحمه الله وايي چي د قضی الامر معنی داده چي قيامت به قائمېږي او ضحاک وايي چي ملکه که په خپل صورت ملکي ځان ښکاره کړی وای دوی به له ببري څخه مړه سوي وای.

درويش وايي: چي هغه اوله معنا ډېره زېبا ده اود اکثرو مفسرينو مختاره ده.

وَلَوْ جَعَلْنَاهُ مَلَكًا لَجَعَلْنَاهُ رَجُلًا

که موږ ګرځولای مطلوب ددوی ملکه، يعني ملکه به مو په صورت د يو سړي ورته را استولې وای. لکه په ډېر اوقاتو کي به جبرائيل عليه السلام په صورت د دحية بن خليفه کلبي و عليه الصلوٰة والسلام ته راتلی او خبري او وحي به يې ورته راوړلې کما ورد في حديث عائشة رضي الله عنها علی ما رواه البخاري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکمت: قوة بشري ددې توان او طاقت نه لري چي ملکه په خپل صورت ملکي کي ووینې بلکې بعض افراد د انبیاً علیهم السلام چي گاهي يې ملکې په خپل صورت ملکي کي لیدلي ده هغه په سبب د قوت قدسي ددوی، نو کفار کله توان د ملکي د لیدلو لري په خپل صورت ملکي، نو ځکه خدای ﷻ وویل لجعلناه رجلاً.

وَلَلَبَسۡنَا عَلَيۡهِم مَّا يَلۡبِسُونَ ۝٩

او موږ به پوشیده کړي کار پر دوی چي ملکه په صورت بشري کي ور ته راغلې وای یعني دوی به په ملکیت د ملکي نه پوهېدلای بلکې ویلای به يې ما هذا الا بشر مثلکم لکه دوی چي امر د نبي ﷺ پوشیده کړی ؤ سره ددې چي امر او معامله د رسالت د علیه الصلوٰة والسلام خو اظهر من الشمس وه په سبب د معجزاتو ظاهراتو متکاثراتو متوالیاتو. نو اوس خدای ﷻ د علیه الصلوٰة والسلام د تسلي لپاره دا آیت نازل کړی.

وَلَقَدِ ٱسۡتُهۡزِئَ بِرُسُلٖ مِّن قَبۡلِكَ

پوه سه: چي لام موطئه د قسم محذوف دی او کلمه د قد لپاره د تحقیق ده او تنوین په رسلٍ کي لپاره د تعظیم او تکثیر دی او په من قبلک کي مضاف محذوف دی ای قبل زمانک. ومعنی الآیة والله په تحقیق پسخند وهل سوی دی لکه ستا قوم چي په تا پسخند وهي په نورو رسلانو چي په عدد ډېر وه او صاحبان د عظمت وه. نو ته ډېر غم مه کوه لان البلیة اذا عمت هانت.

فَحَاقَ بِٱلَّذِينَ سَخِرُواْ مِنۡهُم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ۝١٠

نو احاطه وکړه او یا نازل سوه پر هغو کسانو چي مسخرې به يې کولې له دوی ځخه هغه څه چي وه به دوی یعني کافران په هغه سره پسخند به يې واهه یعني هغه عذاب الٰهي چي انبیاً علیهم السلام به دوی په بېرول که ایمان نه راوړئ پر نازل سو یعني ستا پر قوم به هم احاطه وکړي او نازل به سي هغه شی چي ستا قوم په هغه پسخند واهه من العذاب الالهي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي هغه عذاب چي کفارو د قریشو به پسخند په واهه پر دوی په ورځ د بدر نازله سوه چي ددوی اوویا غټ سرکوزان په شمول د ابوجهل مردار سوه، او اوویا کسه په حصارت ونیول سول ثم وثم.

یوه سه: چي کلمه د ما موصوله ده او د به ضمیر راجع ودغه موصوله ته دی.

فائده: یوه سه دا چي استهزا په انبیا علیهم السلام ره او په اولیا الله د گمراهانو او د سرکښانو عادت دی او دا عادت جاري في کل زمان دی په حدیث شریف کي راغلي دي چي یوه ورځ علیه الصلوة والسلام په مسجد حرام کي ناست ؤ یو څو کسان د فقراؤ د مسلمانانو ورسره ناست وه بلال، صهیب، عمار بن یاسر وغیرهم، نو ابو جهل سره د یو څو کسانو تېرېدی ابو جهل وویل یزعم محمد ان هولا ملوک الجنة، نو یې سره وخندل د پسخند پر دول. نو خدای ﷻ وه ابوجهل ته او سره د نورو گمراهانو دده سره یعني ابو جهل وارو ته جزا دده استهزا د بدر پر میدان اوویا کسو ته ورکړه، وفي ذالک عبرة لاولی الابصار. مثنوي مولوي معنوي.

نی ترا حفظ زبان زا زارکس — نی نظر کردن بعبرت پیش وپس
پیش چه بودیامرگ ونزع خویش — پس چه باشد مردن یاران زپیش

په صحیح حدیث کي دي چي په وخت کي د اخیري ناجوړۍ رسول الله ﷺ وه صحابه وو ﷺ ته داسي ویل وکړه چي ما وتاسي ته دوه نصیحت کونکي پرېږ ایښي دي یو ناطق یعني خبري کوي او تاسي یې اورئ، او بل صامت یعني پټه خوله ناست دی مگر وخلگو ته نصیحت کوي، ناطق قرآن کریم دی او صامت مرگ دی.

حکایت: یو شیعه ؤ چي ابن هیلان یې باله په حق کي د صحابه کرامو ﷺ داسي ناوړه او د گمراهي خبري کولې چي پر بیان یې قلم د درویش دلاوري نه سي کولای، یوه ورځ ده په کور کي دهوال نړاوه دهوال پر را ایله سو او دی تر دهوال لاندي مړ سو، نو قریبانو دی په جنت البقیع کي چي عمومي هدیره د علیه الصلوة والسلام له وخته څخه ده ښخ کړی، دوهمه ورځ چي یې قریبان ورغله نو ابن هیلان په هغه قبر کي چي دوی پکښي ښخ کړی ؤ نه ؤ، او نه یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه خاوري وي، چي وروسته تر دفن دده قريبانو پر قبر اچولي وي او د قبر خښتي پر خپل ځای وي لکن مری نه ؤ يعني مړی کښل سوی ؤ حتی چي هره ورځ به د ډېر مسلمانانو د عبرت لپاره دي قبر ته ورتله چي يو له هغو څخه نو موړی سړی قاضي جمال الدين رحمه الله ؤ. او دا سلسله چي خلګو به واوربدله د لېري ځايو څخه به ورتله وكان هذا جزاً سبه واستهزائه باصحاب رسول الله ﷺ ورضي الله تعالى عنهم اجمعين.

درویش وايي: چي دا حکايت امام سخاوي رحمه الله دده په کتاب المقاصد الحسنة کي راوړی دی.

قُلۡ سِيرُوا فِي الۡاَرۡضِ ثُمَّ انۡظُرُوا كَيۡفَ كَانَ عَاقِبَةُ الۡمُكَذِّبِيۡنَ ⑪

ته ووايه اي محمده وكفارو ته د مکې تاسي سفر وکړئ يعني په فکر او عبرت په مځکه کي للتجارة وغيرها بيا نو وګورئ يعني چي سفر کي د اقوام مهلكه هلاک الاستيصال واردسي چي څرنګه سوی دی اخير کار د مکذبينو د رسولانو فاعتبروا منه چي ستاسي اخير کار به هم داغسي وي ان لم يؤمنوا بمحمد ﷺ او همېشه توب وکړئ پر کفر.

پوه سه: چي اخير کار د امم ماضيه لکه قوم لوط عليه السلام وثمود قوم صالح عليه السلام الى غيرهم چي کفر ددوی او تکذيب د انبياً دوی ته په ميراث پرېښو هلاک استيصال د دوی في الدنيا والعذاب الاليم في الآخرة وذالک هو الخسران المبين.

درویش وايي: چي ټولو مفسرينو دلته يو سوال مطرح کړی دی چي دا آيت د قرآن کريم په بل ځای کي داسي راغلی دی "قل سيروا في الارض فانظروا كيف كان عاقبة المكذبين" او په موجوده آيت کي د "ثم" راوړل، نو سوال دادی چي نحويين وايي چي کلمه د فا د تعقيب بلا مهلة ده او ثم لپاره د تراخي دی فکيف التوفيق بين الفا ثم په يوه موضوع کي ده چي په کيفيت د حال د مکذبينو دی، قاضي بيضاوي رحمه الله او صاحب المدارک داسي ځواب ورکړی حاصل يې دادی چي ايجاب د سير في الارض په هغ آيت کي چي سيروا في الارض فانظروا ځ صرف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لپاره د نظر دی په حال او عاقبت کې د مکذبینو، او په دې آیت "قل سیروا في الارض ثم انظروا آه" بلکې معنی ددې آیت داده چې سیروا في الارض لاجل التجارة مثلاً چې مباح دی او نظر وکړئ په عاقبت کې د مکذبینو چې واجب دی، نو په لفظ کې "ثم" تنبیه پر دې ده چې د مباح او د واجب ډېر فرق ستره او صاحب د روح البیان داسې خواب ورکړی دی که کلمه د "ثم" للتفاوت بین الواجبین، نو دده په نیز سیر في الارض هم واجب دی لکونه وسیلة الی النظر والتفکر بالعبرة في احوال المکذبین کیف هلکوا بعذاب الاستیصال الذي هو الواجب.

درویش وایې: چې دا نبأ پر دې ده چې علماً ټوله وایي چې مقدمه د واجب چې دلته تفکر دی في حال المکذبین ددې مقدمه سیر في الارض دی، نو سیر في الارض هم واجب دی، او مظهري داسې خواب ورکړی دی چې سیر یې ټولو مساکنو کې د مکذبینو من الامم السابقة وخو متراخي دی نظر و ابتداً ته سیر نو اول فکر وهل په حال کې د مکذبینو په اول کې د اجزاً د سیر بلا مهلت مرتبېږي فاورد الفاً لذالک، او تر پایه پورې سیر خو په ډېر مهلت سره راځي، نو تفکر په حال کې د مکذبینو جمیعاً په مهلت سره حاصلېږي، نو له دې وجهې یې "ثم" راوړی.

درویش وایې: چې ددې سخت سوال د جوابو بېل بېل د دغو نوموړو د عربي تفسیرو ځخه د هر طالب او امام د طاقت ځخه وتلی کار دی، مثل انجیر خوردن نه کار هر مرغی است.

فائده: ددې مثل معنا داده چې په ډېرو کتابو کې راځي چې په مرغانو کې وي داسې مرغه ستره چې په صورت هم کوچنی دی لکن خدای ﷻ په خپل قدرت سره دونده لوی ستونی ورکړی دی چې انځیر ته ور حمله کړي پوره انځیر په یوه پلا تېروي، او نور مرغان لږ لږ د انځیر دانې پرې کوي او خوري یې په یوه پلا یې نه سي تېرولای فتفکر في هذا المثل او د ممثل به سره ربط ورکړه.

درویش وایې: دا کاروته نو د توفیق دي ..... نه خوار عبید الله ضعیف دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ لِّمَنْ مَّا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

ووایه اې محمده لپاره د الزام د خصم چې کفار د مکې وه، هغه چا لره دي هغه شیان چې په اسمانو او مځکه کې دي، ذوي العقول دي او که غیر ذوي العقول دي په اسمانو کې ملکې او ستورې دي، او په مځکه کې انسانان او جنیان دي او نور حیوانات او نباتات او معدنیات دي، یعني دا شیان د چا مخلوق، مملوک او عبید دي.

قُلْ لِّلّٰهِ ؕ

ته ووایه چې د خدای ﷻ دي، ولې چې پر دې خبره مشرکان هم د اسلام سره موافق دي.

درویش وایي: چې ددې خبرې ځواب په غیر الله سره هیڅ څوک نه سي ورکولای بې له دهریانو چې هغه عالم لره صانع نه وایي.

فائده: کلمه د "من" په لمن کې استفهامیه ده او جار ومجرور خبر دی او مبتدا یې ما في السمٰوات ده.

كَتَبَ عَلٰى نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ؕ

پوه سه: چې دا جمله مستانفه ده او تر امر لاندې داخله ده یعني "قل"، دا جمله ددې لپاره خدای پاک راوړه چې خدای مهربان دی پر بندګانو، ولې چې ژر عذاب نه پر لازموي بلکې مهلت ورکوي چې دوی په خپلو زړو کې فکر وواهي او د خدای ﷻ د توحید او د قدرت آیات په ځانو او آفاقو کې ملاحظه کې او د رسولانو په معجوزو کې هم په نظر د پند اخستلو وکړي نه د تعنت او عناد په سترګو وګوري، او بل رحمت د خدای ﷻ دادی چې د بندګانو توبه او رجوع د کفر او معصیت څخه قبلوي.

پوه سه: چې د "کتب علی نفسه آه" معنا داده چې خدای ﷻ رحمت پر ځان لازم کړی او واجب کړی دی لکن تفضلاً واحساناً والا فلا یجب علی الله شئ في الحقیقة لا بالوجوب الشرعي ولا بالوجوب العقلي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: خدای ﷻ چي په خپل ذات ځخه په نفس سره وکړی، نو د هغو کسانو قول چي وايي اطلاق د نفس پر خدای ﷻ ناروا دی شرعاً مردود سو، بغوي ﷫ وايي چي ابو هريرة ﷛ له عليه الصلوٰة والسلام ځخه داسي روايت کړی دی قال رسول الله ﷺ لما قضى الله الخلق كتب كتاباً فهو عنده فوق العرش ان رحمتي غلبت غضبي وفي رواية ان رحمتي سبقت غضبي.

ترجمه: خدای ﷻ چي اراده وکړه و پيدا کولو ته د مخلوق، نو يو کتاب يې وليکی يعني ملکې يې په کتابت سره امر کړې چي هغه کتاب په نېز د خدای ﷻ پر عرش سربېره دی، او په هغه کتاب کي يې دا نوشته کړه چي زما رحمت زما پر غضب غالب دی، او په بل روايت کي زما رحمت زما تر غضب وړاندي دی، او په بل حديث کي چي روايت يې مسلم کړی دی له ابو هريره ﷛ ځخه چي رسول الله ﷺ وفرمايل چي خدای پاک خپل رحمت سل حصې کړی دی يوه حصه يې پر انس او جن او حيواناتو او بهائمو وغير ذالک ووېشل، نو په هغه يوه رحمت دوی يو پر بل مهرباني او تعاطف کوي، او د هغه رحمت له کبله احوش پر خپلو شفقت کوي او ما يحتاج الله وربرابروي، او نهه نيوي (۹۹) حصې د خپل رحمت يې ځندولي دي چي په هغو برخو سره رحم کوي پر خپلو بندګانو يعني ايمان والا وو په ورځ د قيامت.

درويش وايي: چي دا حديث ډېر د اميد حديث دی لپاره د مؤمنانو ولي چي ددې دينا رحمت کافرانو، وحوش، طيور، بهائم، انس او جن ټولو ته شامل سو، نو نه نوي (۹۹) رحمته د رب العزت په ورځ د قيامت چي کفره او وحوش وغيرها له منځه ولاړ سي او يوازي مؤمنان پاته سي ځونده مؤمنان به په بره کي ونيسي او شفاعت قبول د انبياً عليهم السلام او د اولياً الله الكرام والملائكة هم د هغه برخه ده.

درويش وايي: وقد ساء من هذا لحديث على مجرد التمثيل بمجرد العقلية الا دلائل العقلية، وقال قلت لعل المراد بعدد المائة التمثيل آه. له عمر بن الخطاب ﷛ ځخه روايت دی ته مينځياني چي سبي يې بولي راوستول سي يوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښځه وه له سبې ځخه چې شدې یې تر تیو تویدلې په نورو سبیو کې ځغاستله هر کوچنی چې په یې پیدا کړی د خپل تیو شیدې به یې ورکولې او په نس پورې به یې تینګ نیولی و، درویش وایي چې ددې ښځې زوی یا لور په سبې کې نه وه راغلی، نو ځکه دې داسې بد حالې کوله او د سبې اولادونه به یې وتې ته اچول او خپل د عیال مینه او محبت یې په ماتاوه، نو علیه الصلوٰة والسلام خلګو یعنې صحابه کرامو ﷺ ته وویل چې ستاسې وزره ته لوېږي چې ددغې ښځې خپل اولاد موجود وای دې به اور ته اچولی وای؟ قلنا لا، نو علیه الصلوٰة والسلام وویل "لله ارحم بعباده من هذه بولدها" انتهی الحدیث باختصار یسیر.

لَيَجْمَعَنَّكُمْ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا رَيْبَ فِيهِ

یوه سه: چې لام موطئه د قسم محذوف دی ای والله لیجمعنکم، زه به تاسې سره جمع کړم.

فائده: بعض مفسران ددې آیت ترجمه داسې کوي چې زه به تاسې وساتم په قبرو کې او د الی یوم القیامة متعلق محذوف بولي، یعنې مبعوثین الی یوم القیامة یعنې هورې به تاسې ته جزا د شرک او معاصي درکړي که څه هم په دنیا کې یې تاسې ته مهلت درکړی و، په سبب د خپل رحمت ولم یعاجلکم في الدنیا بالعقوبة هغه ورځ د قیامت چې په هغې هیڅ شک نشته.

درویش وایي: چې پر دې ترجمه دا آیت مخصوص په کافرانو مشرکانو سره دی، او بعض مفسران وایي چې کلمه د الی په معنا د في دی، نو معنی د آیت چې زه به سره جمع کړم په ورځ د قیامت لیجازیکم باعمالکم الحسنة بالجنة واعمالکم السیئة من الکفر والمعاصي بالنار.

درویش وایي: چې پر دې تقدیر دا آیت عام دی مؤمنانو او کافرانو لره ټولو ته شامل دی والله تعالی اعلم بمراده في کتابه.

درویش وایي: چې دا دعا د شیخ اکبر والمسک الازفر والکبریت الاحمر محي الدین ابن العربي قدس سره اللهم ارحمنا اذا عرق الجبین وکثر الانین، وبکی علینا الحبیب ویئس منا الطبیب اللهم ارحمنا اذا وارانا التراب وودعنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الاحباب وفارقنا النعیم وانقطع النسیم، اللهم ارحمنا اذا نسي اسمنا وبلی جسمنا واندرس قبرنا، وانطوی ذکرنا، اللهم ارحمنا یوم تبلی السرائر وتبدی الضمائر وتنشر الدواوین وتحشر الموازین، اللهم یا حي یا قیوم یا رحمٰن یا رحیم برحمتک نستعین.

درویش وایي: چي دا مناجات د شیخ اکبر مناجات شریفه ومناجات لطیفه مقبولة دي برحمته تعالی التامة ماترک فیها خیر الدنیا والآخرة.

الَّذِينَ خَسِرُوٓا أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢﴾

هغه کسان چي په تاوان کي یې اچولي دي خپل ځانونه په سبب د شرک او د شائع کولو د راس المال د فطرة سلیمة، او عقل سلیم دديې سبب چي فطرت سلیمه او عقل سلیم باید دوی سبب د ایمان گرځولی وای، لکن دوی شرک او کفر مختاره کړی، نو هغه یې د لاسه ورکړی وذالک هو الخسران المبین، او په رحمت عامه د خدای ﷻ چي سبب به د جنت گرځېدای عذاب او عقوبت د خدای یې رانیوی ابداً ابداً، وذالک الاستبدال خسران اخیر دی ددوی.

یوه سه: چي موصول مبتدا ده او جمله د فهم لایؤمنون یې خبر دی وایراد الفا لتضمن الموصول معنی الشرط، ولي چي خسران مذکور سبب د عدم ایمان دی د دوی.

وَلَهُۥ مَا سَكَنَ فِى ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ ۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿١٣﴾

او خدای ﷻ لره دي ملکاً وخلقاً وعبیداً هغه شیان چي استوگنه لري نو سکن د سکنٰی څخه مشتق دی.

سوال: د سکنٰی اضافت خو د مکان ته کېږي کما في قوله تعالی وسکنتم في مساکن الذین ظلموا انفسهم. او دلته یې ولیل او نهار ته نسبت وسو چي زمان دی؟

ځواب: دا نسبت مجاز دی والمراد مایمر علیه اللیل والنهار او یا له سکون څخه مشتق دی والمعنی ماسکن وتحرک في اللیل والنهار.

سوال: د سکون زمان خو شپه ده ورځ د حرکت لپاره ده؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: نعم لکن چي اکتفا یې له یوه ضد څخه په بل وکړه کما في قوله تعالی سرابیل تقیکم الحر. یعني والبرد. روی کفار مکة و علیه الصلوٰة والسلام ته راغله او ورته وه یې ویل یا محمد ﷺ موږ پوهېږو ته باعثه کړی یې پر دعوه د رسالت او دعوت د توحید د خدای ﷻ فقر او مسکنت. نو موږ به په قبیلو کي د عربو تاته چنده وکړو چي د ټولو مکې والو به ته لوی غني وګرځې ته دا دعوت د خدای ﷻ د توحید پرېږده او د پلار او نیکه ګانو دین ته رجوع وکړه، فانزل الله تعالی هذه الآیة "وله ماسکن في اللیل والنهار ﴿﴾" نو معنا د آیت داده چي مستقر شیان په شپه او ورځ کي خاصة لله دي نو خدای ﷻ اراده وکړي چي خپل رسول اغني الناس وګرځوي، نو هغه خدای ﷻ کولای سي، نو دا ستاسي دعوه ستاسي غلطي ده چي دی د فقر له کبله د رسالت او دعوت توحید دعوه په مخه را اخستي ده، بلکې ده پخپله تر غنٰی د دنیا فقر او مسکنت اختیاراً خوښ کړی دی کما جا في الحدیث ایضاً.

پوښتنه: خدای ﷻ په هر ځای کي د قرآن کریم لیل تر نهار دمخه راوړی دی حکمت یې څه دی؟

ځواب: شپه لپاره د خدمت او عبادت د مولا ده بدون الریا، او ورځ لپاره د خدمت د اهل وعیال ده چي مخلوق دی که څه هم په ورځ کي عبادت د مولی سته لکن د ریا او سمعې څخه به خالي نه وي اللهم الالخواص الاولیا الله تعالی او مناجات د انبیا علیهم السلام ټوله د شپې سوي دي کمناجات موسٰی ﷺ ومعراج النبي ﷺ وهکذا خواص اولیا الله تعالی ولیلة القدر چي تر زر میاشتي خدای ﷻ خیر بللې ده هم شپه ده هي حتی مطلع الفجر ولیس في الایام مثل لیلة القدر اصلاً. اولیا الله وایي چي هغه څوک چي په سر د شپې او په خوند د مناجات د مولی سره او په حلات د یوازي والي د مولی جل سلطانه خبر نه وي، نو هغو ته ورځ محبوبه ده لکه عوام الناس او علما د رسومو، حافظ شیرازي وایي

هر گنج سعادت که او داد به حافظ — از یمن دعایی وورد سحری بود

قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ

ته ووایه اې محمده ﷺ وقریشو او نورو خلګو ته چي آیا زه بې له خدایه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خپل ولي او معبود گرځوم.

پوه سه: چي دا استفهام انکاري دی چي زه داسي نه کوم چي پیدا کونکی د کتم څخه د عدم د ټوله اسمانو او مځکه یعني مع مافیهما من عجائب القدرة التي لاینتهی الی علمها عقول العقلا٘ زه دي ولي او معبود وګرځوم.

پوه سه: چي اضافت د فاطر و سمٰوات او ارض ته اضافت معنوي دی. نو ځکه صفت د لفظ "الله" چي معرفه ده واقع سو.

سوال: نحاة خوايي چي اضافت د صفت و معمول ته لفظي دی د تعریف فائده نه کوي؟

ځواب: هغه خو هلته ده چي صفت په معنی د حال یا استقبال وي نو اضافت یې لفظي د تعریف نه فائده کوي، دلته خو صفت چي فاطر دی په معنی د ماضي دی نو اضافت یې معنوي دی، او حال دادی چي خدای ﷻ رزق ورکوي د رزق محتاجه ته او د ته رزق نه ورکول کیږي وتخصیص الطعام لشدة احتیاج الناس الیه والا فکل مخلوق عائد الیه تعالی.

قُلْ إِنِّيٓ أُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٤﴾

ووایه اې محمده یعني مشرکینو ته د مکې او نورو ته چي زه امر کړل سوی یم د خدای ﷻ له خوا څخه چي زه به اول هغه څوک یم چي اسلام به راوړم، ولي چي نبي خو تر ټوله امت دمخه وي په اسلام راوړلو کي او هر ګز ته مه ګرځه له مشرکینو څخه.

پوه سه: چي "لاتکونن" عطف دی پر امرت.

پوښتنه: امرت خو اخبار دی او لاتکنن خو انشا٘ ده نو څرنګه به یې عطف صحیح وي؟

ځواب: د "لاتکونن" سره وقیل لي مقدر دی والتقدیر وقیل لي لاتوکنن نو داهم جمله خبریه ګرځي.

قُلْ إِنِّيٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّي عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾

ته ووایه اې محمده چي په تحقیق زه بیریږم چي عصیان د خدای ﷻ وکړم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني په سبب د شرک بالله له عذاب ځخه د ورځي يوې چي د قيامت ورځ ده.

مَنْ يُصْرَفْ عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهُ

درویش وایي: چي "من يصرف عنه" بعض قرا په پېښ د يا او په فتح د را وايي يعني پر صيغه د مجهول او ضمير مستتر د يصرف راجع دى و عذاب ته او ضمير د عنه راجع دى ومن ته، نو معنا د آيت داده چي له چا ځخه چي مصروف سي عذاب په دغه ورځ يعني د قيامت، نو خداى ﷻ پر هغه سړي رحم كړى دى چي نجات له عذاب ځخه ور كړي او جنت ور په نصيب كړي بدون الاستحقاق من العبد بل برحمته تعالى، او بعض قاريان يې په زور د يا او په زېر د را وايي يعني پر صيغه د معلوم، نو پر دې قرائت ضمير مستتر د يصرف راجع وه ربي ته دى او ضمير د عنه كما كان راجع دى ومن ته او مفعول د يصرف محذوف دى اى العذاب او يومئذ ظرف دى يصرف او پر دواړه تقديره من مبتدا ده متضمن معنى لره د شرط ده او فقد رحمه خبر دى ولهذا دخله الفا.

وَذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْمُبِينُ ⑯

او دغه ده كاميابي ښكاره.

فائده: مبين خو اسم فاعل د باب د افعال يعني ابان چي د مبين معنا ښكاره كول دي د شي هغه معنى دلته نه ده صحيح نو اهل لغت او اهل تفسير او اهل صرف تو له وايي چي باب د آبان گاهي په معنى د مجرد راځي چي بان دى په معنى د ظهر هغه معنا دلته مراد ده.

فائده: ددې آيت ځخه دا معلومه سوه چي د خول د جنت لازم دى د صرف سره د عذاب او په منځ كي د جنت او دوزخ بل منزل نسته كما يقوله المعتزلة.

وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِنْ يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ⑰

كه تا ته ورسوي خداى ﷻ يو ضرر لكه فقر، مرض او عذاب، نو پر دفعه د ضرر بل ځوک قدرت نه لري بې له خداى ﷻ والايلزم عجزه تعالى وهو محال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

منافي للالوهية، او كه تاته ورسوي خير لكه صحت د بدن، غنى، والاولاد وغيرها، نو خداى ﷻ پر هر شي قدرت لري يعني څوک يې بيا نه سي درڅخه اخستلاى اذ لا راد لفضله. په حديث شريف كي چي روايت يې بغوي كړى دى له ابن عباس ﷺ چي دا حديث روح البيان او مظهري هم نقل كړى دى چي نبي ﷺ ته يوه غاتره ملک د فارس كسرىٰ په هديه كي را استولې وه. نو عليه الصلوٰة والسلام پر سپور و او يوه مرانده (وابنكى) د بزې د وېښتانو يې ور اچولې وُ، ابن عباس ﷺ وايي چي بيا يې زه هم تر شا سپور كړم. غاترې چي يو ګړى رفتار وكړى، نو عليه الصلوٰة والسلام ماته وكتل و قال يا غلام قلت لبيک يا رسول الله احفظ الله. يعني د خداى د شريعت او قرآن او د قرآن مجيد د احكامو ساتنه كوه. يحفظک خداى ﷻ به ستا ساتنه كوي له آفاتو، بلياتو او غمو څخه مثلاً، او يا معنا داده احفظ الله د خداى ﷻ مراعات كوه ته به خداى ﷻ پيدا كړې په مخكي. يعني په حضور علمي سره و اذا استعنت فاستعن بالله كه دي كومک غوښتى له خداى ﷻ څخه كوک غواړه لانه تعالى على كل شئ قدير.

درويش وايي: چي دا سي حديثونه ډېر ددې معنا دانه ده چي مريض به دوا نه كوي او كه فقير وي كسب به نه كوي الى غير ذالک لان الدنيا دار الاسباب بلكي د حديث دا معنا ده چي په وخت كي د مرض چي څوک دوا كوي شافي في الحقيقة به خداى ﷻ بولي كسب به سبب عادي بولي الى غير ذالک، يو شاعر وايي.

گر توكل ميكني دركار كن كشت كن پس تكيه برجبار كن

درويش وايي: چي حديث مذكور طويل و په اختصار سره نقل كړل سو، ترمذي وايي چي دا حديث صحيح او حسن دى.

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ ﴿١٨﴾

او خداى ﷻ غالب دى سربېره پر بندګانو او خداى ﷻ حكمت والا دى، بې فائدې او بې حكمته كار نه كوي او خبر دى د مخلوقاتو په ټولو احوالو.

يوه سه: چي "هو القاهر" مبتدأ او خبر دى، او "فوق عباده" يې خبر ثاني دى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او له فوقیت څخه مراد ذوقیت حسي نه دی لتنزهه تعالی من المکان بلکې مراد فوقیت په قدرت دی، یعني هیڅ بنده هیڅ کار نسي کولای بې له ارادې دده.

فائده: په دې آیت کې غلبه د خدای او علوشان د خدای ﷻ مشابه کړی د علو مکاني حسي سره فعبربه عنه علی طریقة الاستعارة التمثیلیة کما تقرر في علم البیان.

حکایت: شیخ عبدالواحد بن زید قدس سره وایي چې موږ یو څو نفره په کښتۍ کې سپاره وو چې کښتۍ تندې هوا واخستله او موږ یې یوې جزیرې ته بلا اختیاره ورسولو او په هغه جزیره کې یو سړی وچې د بت عبادت یې کاوه. موږ ورته وویل چې سړی یې ته د څه شي عبادت کوې دې وبت ته اشاره وکړه. شیخ عبدالواحد وایي چې دا ستا خدای ﷻ خو زموږ په وطنو کې خلګ په لاسو جوړوي، نو دا خدای ﷻ نه دی چې ته یې عبادت کوې، نو ده راته وویل چې تاسې نو د چا عبادت کوئ، ما ورته وویل چې موږ د هغه خدای ﷻ عبادت کوو چې اسمان او عرش لري او په مځکه کې یې قدرت چلېږي او په ژوندو او مړو کې د هغه قضأ او حکم جاري دی تقدست اسمائه وجلت قدرته وکبریائه. نو ده راته وویل چې دا خدای نو تاسي ته چا درونبوو؟ ما ورته چې خدای ﷻ موږ ته رسول کریم راواستاوه، نو هغه رسول موږ ته راوښوی، نو ده راته وویل چې هغه رسول نو څه سو؟ ما ورته وویل هغه رسول چې خپله وظیفه د رسالت وېپای ته ورسوله نو هغه وفات سو، ده راته وویل چې د هغه رسول ستاسي سره یو شی پاته دی؟ ما ورته وویل چې موږ ته یې کتاب الله پرېښو چې په هغه کې احکام الهیه امر او نهي موجود دي. نو ده راته وویل چې تاسي هغه کتاب الله په ما وویني. فانه ینبغي ان یکون کتاب الملوک حساناً. نو ما مصحف شریف ورته راواخستی، ده راته وویل چې زه خو یې نه سم ویلای. ته یې راته ووایه، نو ما یو سورت ورته شروع کړی، نو هغه سړی په ژړا سو تر هغو یې ژړله چې ما سورت ختم کاوه، وروسته یې وویل ددې کتاب د صاحب باید څوک عصیان ونه کړي، نو زموږ په ښوونه یې "لا اله الا الله محمد رسول الله" وویل او مسلمان سو او اسلام یې هم ښه پالی، بیا چې موږ له جزیرې څخه راوتلو دی هم په کښتۍ کې

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

راسره ملگری سو، څه موده وروسته وفات سو علی احسن حال والحمدلله المتعال.

درویش وایي: چي دا حکایت ددې قول سره د خدای ﷻ "وان یمسسک بیا تر وهو الحکیم الخبیر" پوري مربوط دی فتامل هداک الله.

له کلبي رحمه الله څخه روایت دی چي قریش مکه و علیه الصلوٰة والسلام ته راغله او ورته وه یې ویل چي موږ ته ووایه چي څوک ستا پر نبوت او رسالت شاهدي ادا کوي، موږ خو هیڅ څوک نه دي لیدلي چي ستا د رسالت تصدیق دي وکړي. او ستا په باره کي موږ د مدینې د یهودانو سره هم پوښتنه کړې ده، هغو راته نوشته کړي دي چي زموږ په کتاب تورات کي د محمد په نامه د نبي ذکر نسته، نو دا آیت نازل سو.

قُلْ اَیُّ شَیْءٍ اَکْبَرُ شَهَادَةً ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ شَهِیْدٌۢ بَیْنِیْ وَبَیْنَکُمْ ۟

پوه سه: چي "شئ" په معنا د موجود دی او پر هر موجود یې یې اطلاق روا دی یعني پر خدای ﷻ هم د شي اطلاق روا دی، دا په بیان او تفصیل کي د سورت بقرې مطالعه کړه، د ای شئ معنا داده ای شاهد، د اکبر معنا اعظم او جلیل القدر، نو د اعراب له لاري ای شئ مبتدأ ده او "اکبر" یې خبر دی، او "شهادة" تمیز د نسبت دی یعني شهادت ای شاهد اکبر، نو که دوی اقرار وکړی چي خدای ﷻ لوی شاهد دی فیها، او که دوی اقرار ونه کړي، نو ته ورته ووایه الله شهید.

پوه سه: چي لفظ "الله" مبتدأ ده او خبر یې محذوف دی یعني اکبر شهادةً خبر یې حذف کړی په قرینه د سوال، او "شهید بیني آه" د مبتدای محذوفي خبر دی یعني هو شهید بیني وبینکم، او سلیسه ترجمه د آیت داده چي ته اې محمده ووایه په ځواب کي د سوال د کفارو د مکې چي دمخه یې ذکر تېر سو، کوم شی دی اعظم از روی شهادت یعني تر خدای ﷻ، او که دوی دا ځواب درنه کړی، نو ته ورته ووایه چي خدای ﷻ اکبر دی شهادةً تر شهادت د مخلوق لأن علم المخلوق پر تولو شیانو احاطه نه لري او علم د خدای ﷻ محیط دی بجمیع الممکنات من العلویات والسفلیات، او هغه خدای ﷻ شاهد دی زموږ او ستاسي تر منځ یعني چي زه صادق یم په دعوه کي د رسالت او تاسي عناداً او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تکبر آزما له نبوت څخه انکار کوئ.

پوه سه: چي د خدای ﷻ شهادت پر صدق د رسول الله ﷺ په دعوه کي د رسالت اظهار دی د معجزاتو باهراتو دده پر لاس لکه شق القمر في مكة المكرمة كما اشير اليه بقوله تعالى اقتربت الساعة وانشق القمر، وان يروا كل آية لا يؤمنون بها ويقولوا سحر مستمر.

فائده: اعلی د معجزاتو د عليه الصلوٰة والسلام قرآن کریم دی په دې سبب چي معجزه باقيه ده، ولي هغه اعلان چي قرآن پاک وکفارو ته د مکې کړی ؤ "ان كنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فأتوا بسورة من مثله" هغه اعلان اوس هم پر ځای قائم دی.

درویش وایي: چي تفصیل د آیت مذکوره ددې تفسیر په سورة بقره کي تېر سوی دی فراجع اليه هم ددې سببه چي قرآن پاک لويه معجزه ده، نو خدای پاک وهغې معجزې ته د اشارې لپاره دا آیت د ماقبل سره متصل راوړی.

وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَٰذَا الْقُرْآنُ لِأُنذِرَكُم بِهِ وَمَن بَلَغَ ۚ

او ماته وحي کړه يعني له جانبه د خدای ﷻ ددې قرآن معجز چي پر احوال د مبدأ او معاد او د ملک وملکوت مشتمل دی او لاري د رسېدلو وه رضاً الهي او جنت ته، او لاري د غضب الهي او د دخلو و دوزخ ته په اکمله توګه پکښي مذکور دي تاچي زه وبېروم په دې قرآن سره تاسي يا اهل مکه له عذاب څخه د قيامت د ورځي، او هغه څوک چي دا قرآن ورورسېږي.

پوه سه: چي "ومن بلغ" منصوب دی عطف دی پر ضمیر د "کم" چي مخاطبين د اهل مکه وه.

فائده: مراد د من بلغ هغه موجودين د عصر نبوي کافران دي ثم وثم الی يوم القيامة من الجنة والناس.

درویش وایي: چي له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چي عليه الصلوٰة والسلام وويل "بلغوا عني ولو آية" تاسي زما څخه رسوي يعني و خلګو ته که څه هم يو آيت وي "وحدثوا عن بني اسرائيل ولاحرج" او تاسي نقل کوئ د بني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسرائیلو په دې قتل کي حرج او ګناه.

درویش وايي: چي مراد له بني اسرائیلو څخه مؤمنان ددوی دي لان الکفار منهم قد بدلوا التورات وغیروه وکتموا منه اشیاً کنعوت النبي ﷺ او علیه الصلوٰة والسلام زیاته کړه ومن کذب علي متعمداً فلیتبوءُ مقعده من النار" او که چا دروغ وویل پر ما باندي په قصد سره، نو جوړ دي کړي ځای خپل په اور کي.

پوه سه: چي کلمه د "فلیتبوا" ظاهراً امر دی لکن مراد ځني اخبار دی یعني ځای یې په اور کي جوړ کړی کذا قال الشارحین لهذا الحدیث والحدیث رواه البخاري ومسلم، او له ابن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله ﷺ وفرمایل "نضر الله عبداً سمع مقالتي فحفظها ووعاها واداها فرب حامل فقه الی من افقه منه" خدای ﷻ دي تازه او سرسبز لري هغه څوک چي واوري زما خبري او په یاد یې کړي او په یاد کي یې وساتي. او بیا یې ورسوي بل چا ته.

پوه سه: چي فرب آه علت دی ورسولو وبل ته والمعنی ډېر حامل د فقهي او د احکامو د حدیث وي لکن هغه څوک چي دا حدیث ورسره وي هغه به په استخراج د احکامو د دین د هغه حدیث څخه تر راوړلو والا وده ته افقه وي.

درویش وايي: صدق رسول الله ﷺ ولي چي احادیث د رسول الله ﷺ د بعضو داسي صحابه کرامو ﷺ څخه مروي دي چي هغو ته به خدای ﷻ اجتهاد نه وُ ورکړی، نو چي هغه حدیث وتابعینو ت ورسېدی هغو ته خدای ﷻ ملکې د اجتهاد ورکړي وې، ډول ډول احکام یې ځني استخراج کړه، کالامام ابو حنیفه رحمه الله ومحمد بن ادریس الشافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله وامام احمد بن حنبل رحمه الله.

تنبیه: د موجوده زماني وهابیان، سلفیان او اهل حدیث وايي چي د ائمه اربعه رحمهم الله تعالیٰ و تقلید ته څه ضرورت دی؟ موږ هغه حدیثونه وایو او په معنا یې پوهېږو. اې بدبختانو تاسي د حدیث په صیغه او اعراب او بلاغت خو هیڅ شک نه یاست حتیٰ چي د کلمة طیبه لا اله الا الله صحیح ترجمه نه سئ کولای، نو تاسي له تقلید څخه څرنګه خلاص یاست، نه هر که سر بتراشد قلندری داند، وګفته اند انجیر خوردن نه کار هر مرغی است. البته صحیح ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي مونږ د امامانو د خير القرون تقليد کوو. او تاسي د نورو معلوم الحاله کسانو چي په سوو کلونه تر خير القرون ودنيا ته وروسته راغلي دي تقليد کوي، ببين تفاوت راه از کجا تاکجا. قال محمد بن القرضي من بلغه القرآن فكانما رئ محمداً عليه الصلوٰة والسلام.

أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَىٰ

آيا تاسي نو شاهدي ادا کوئ چي سره د خدای ﷻ نور معبودان او خدايان شته.

پوه سه: چي حاصل ددې آيت له دوی څخه اقرار د شرک غوښتل دي او استفهام لپاره د انکار دی يعني بايد دادی چي تاسي شاهدي پر شرک ورنه کړئ او په عين حال کي استبعاد د شرک د دوی هم دی.

قُلْ لَا أَشْهَدُ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَٰهٌ وَاحِدٌ

ته ورته ووايه چي زه خو شاهدي نه ادا کوم يعني په ما تشهدون به من ان مع الله الهة اخرىٰ، او ته ورته ووايه چي الله خو يو دی يعني مستحق د عبادت او د وجوب الوجود او د تخليق اود ترزيق او د نورو صفاتو د کمال دی يعني هيڅ شی دده سره شريک نسته لا في السمٰوات ولا في الارض فضلاً عن الهتكم اى الاصنام التي جمادات محض دي چي نفع يې و عابد ته په عبادت کي ددوی نه رسيږي، او که يې څوک عبادت نه کوي پر ضرر و هغه ته قدرت نه لري.

سوال: د "هو" ضمير خو راجع دی وه لفظ "الله" ته او لفظ "الله" خو جزئي حقيقي دی او په جزئي کي خو تعدد ممکن نه دی کما قال المناطقة نو حمل د اله واحد څه فائده کوي.

ځواب: له اله واحد څخه مراد نفي د مطلق تعدد نه دی بلکې مراد ځني وحدت دی په وجوب الوجود وما يتبعه من صفات الجلال والجمال وهو حمل مفيد بلا ريبة.

پوه سه: چي ددې ځواب هلته ضرورت سته چي ما د انما کافة سي، او که ما موصوله سي او ضمير د هو راجع سي وما موصوله ته او هو اله صله د موصول سي او لفظ د واحد خبر د موصول مع الصلة سي فلا حاجة الى الجواب، ولي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنا د آیت داسي ده چي په تحقیق هغه څوک چي مستحق د عبادت دی په سبب د وجوب الوجود او د نورو صفات کمالیه وُ. یو دی فکیف یتوهم عدم افادة الحمل کما لایخفی علی من تدبر في معنی الجملة المذکورة کما ذکرنا.

وَاِنَّنِيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹﴾

او په تحقیق زه بېزاره یم د هغه شي څخه چي تاسي شریک گرځوئ په استحقاق د عبادت من اصنامکم الجمادات.

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ اَبْنَآءَهُمْ

هغه کسان چي مورږ دوی ته کتاب ورکړی دی یعني یهودان پېژني علیه الصلوٰة والسلام یعني په نبوت سره لکه خپل زامن چي پېژني، ولي چي په تورات کي د علیه الصلوٰة والسلام تول نعوت موجود دي او تورات ددوی سره موجود دی، او بیا سره د معرفت یې له نبوت څخه انکار کوي حفظاً لریاستهم یعن یعلمائهم علی العوام واخذ الاموال منهم في الصدقات وغیرها فاشتروا بآیات الله في التورات ثمناً قلیلاً.

یوه سه: چي علیه الصلوٰة والسلام چي مدینې منورې ته راغلی او عبدالله بن سلام او نور ملگرو یې ایمان پر راوړی، نو یوه ورځ عمر رضي الله عنه د عبدالله بن سلام څخه پوښتنه وکړه ددې آیت په باره کي "الذین آتیناهم آه" په دې ډول چي تا هم علیه الصلوٰة والسلام داغسي وپېژندی لکه خپل زوی؟ عبدالله رضي الله عنه ورته وویل نعم، او زیاته یې کړه چي زما معرفت د علیه الصلوٰة والسلام په نبوت سره اشد دی تر معرفت د خپل زوی، عمر رضي الله عنه ورته وویل چي دا له څه سببه؟ عبدالله رضي الله عنه ورته وویل چي د علیه الصلوٰة والسلام نبوت ماته په کتاب الله تورات سره معلوم سو چي په تورات کي هیڅ مجال او ځای د کذب نشته او زما زوی خو په ظاهر الحال سره زه خپل زوی بولم او یقین نه پر لرم ولي چي احتمال سته چي زما مانیني دي زنا کړې وي او زما زوی دي ولد الزنی وي، نو عمر رضي الله عنه عبدالله بن سلام رضي الله عنه پر تندي مچ کړی او ورته وه یې ویل چي دا ستا ایمان یو قوي ایمان دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِينَ خَسِرُوٓا أَنفُسَهُمْ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾

هغه کسان چي په تاوان کي يې واقع کړي دي خپل ځانونه، نو هغه پر نبي ﷺ ايمان نه راوي لعلمه تعالى في الازل بانهم لايؤمنون باختيارهم.

درويش وايي: چي دا آيت شامل دی اهل کتاب يهودانو ته چي دوی نعوت د عليه الصلوٰة والسلام چي په تورات کي وه پټ کړه او په زړو کي ددوي خو يقين وچي محمد ﷺ خو نبي منعوت في التورات دی لکن د تعنت او ضديت له لاري او خپل د حفظ رياست له لارې ملا يان ددوی په خوله ايمان نه پر راوړي، او هم شامل دی مشرکانو ته چي هغو خپل قطرة سليمه التي فطرالله الخلق عليها کما جا في الحديث الصحيح "کل مولود يولد على فطرة الاسلام الى اخير الحديث المشهور" مشرکانو بيا دا کار وکړی اتباعاً لاباتهم واجدادهم في عبادة الاصنام، مظهري ﷫ دا آيت خاص په اهل کتابو پوري ګرځولی دی.

فائده: الذين" سره د خپل صلې مبتدأ ده او جمله د فهم لايؤمنون يې خبر دی وايراد الفا في الخبر للايذان بسببية الخسران الازلي لذالک فافهم.

فائده: في بيان الخسران المبين لهؤلاً الضالين من اهل الکتاب والمشرکين، ابن ماجه او بيهقي دا حديث له ابي هريرة ﷜ څخه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ مامنکم من احد الا وله منزلان منزل في الجنة ومنزل في النار (نسته هيڅ څوک ستاسي څخه مګر نه ده لره دوه منزله يعني ځايونه سته يو منزل په جنت کي دی او يو منزل په اور کي دی) فاذا مات يعني الکافر فدخل النار ورث اهل الجنة منزله فذالک قوله تعالى اولئک هم الوارثون (نو چي مړ سي کافر او اور ته داخل سي، نو په ميراث وړي اهل جنت منزل د هغه کافر يعني هغه منازل د کافرانو خدای ﷻ پر مؤمنانو تقسيم کړي، نو دغه معنا د دي قول د خدای ﷻ په باره کي د مؤمنانو اولئک يعني المؤمنين دوی دي وارثان يعني د منازلو د اهل النار في الجنة) فهو اهو المراد بالخسران.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۗ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ ﴿٢١﴾

او څوک دی لوی ظالم، والاستفهام للانکار يعني نسته لوی ظالم تر هغه چا

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

چي قصداً دروغ ووايي پر خداى ﷻ يعني مثلاً دعوه د نبوت وكړي لكه مسيلمة الكذاب او اسود عنسي وغيرهما. يعني قال اوحي ولم يوح اليه شئ اويا تكذيب وكړي د آياتو د خداى ﷻ.

پوه سه: چي له آيتو څخه د خداى ﷻ يا آيات منزله في القرآن مراد دي، او يا معجزات د الله پر توحيد د خداى ﷻ او پر صحت د نبوت د عليه الصلوٰة والسلام نو په دې آيت دليل دى پر دې چي عليه الصلوٰة والسلام لمن د دروغو څخه په دعوه كي د رسالت پاك ده او تنبيه پر دې هم ده چي كافران اظلم الناس دي، او بعض مفسران وايي چي معنى د آيت داده چي څوک دي لوى ظالم تر هغه چا چي پر خداى ﷻ دروغ وايي او نسبت د ولد او شريک ورته كوي او بتان چي دبري دي د هغو په باره كي وايي چي هؤلاء شفعائنا عند الله او كذب بآياته.

پوښتنه: پر دې ترجمه خو مناسب به داوي چي په ځاى كي د او كذب يې واو عاطفه راوړى واى، ولي چي دوى خو داغه دواړه كارونه كول چي هم يې پر خداى دروغ ويل كما مر او هم يې تكذيب د آياتو د خداى ﷻ كاوه.

ځواب: د "او" راوړل په ځاى كي د "واو" تنبيه ده پر دې چي هر يو له ددې دوو كارو افراط دى فكيف اذا اجتمعاني هؤلاء، په تحقيق فلاح او خلاصون له عذابه د خداى ﷻ نه سي پيدا كولاى ظالمان.

پوه سه: چي مراد له ظلم څخه ظلم غير متناهي دى وهو الكفر لا الظلم المتعارف في المؤمنين فافهم.

وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ثُمَّ نَقُولُ

هغه ورځ چي زه دوى يعني كافران سره جمع كړم چي ورځ د قيامت ده يعني سره ددې معبودينو چي بتان وه.

پوه سه: چي مكتوب قرائت په موجوده مصاحفو كي په صيغه د متكلم مع الغير دى او يعقوب ﷺ چي له قرا سبعه وو څخه دى په يا د غيبت يې وايي يعن "يحشرهم" او ضمير مستتر راجع و خداى ﷻ ته دى.

فائده: ظرف منصوب دى په فعل محذوف. وجه د حذف يې داده چي د سامع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذهن هر فعل ممکن ته ولاړېدای سي په ورځ د قیامت "یدهشون یوم، وتدنوا الشمس منهم یوم" او د هر سړي خوله د خولي واګه سي یوم، او د هر سړي خوله به اوویا باغه وبهېږي، وامثال ذالک ممایقع في هذا الیوم لکن درویش وایي چي تر ټولو اسهل او اشهر في امثاله دادی چي یوم منصوب په اذکر مقدر سره ای اذکر یا محمد للناس یوم آه.

یوه سه: چي "ثم نقول" عطف دی پر نحشر باندي او کلمه د "ثم" لپاره د تراخي ده د نقول وروسته تر حشر ډېره زمانه، وفي الحدیث قال رسول الله ﷺ کیف بکم ستاسي به څ حال وي اذا جمع کم الله چي یاتاسي سره جمع کړي کما یجمع النبل في الکتانة لکه څوک چي جمع کوي غشي په بغل ځولی، کي خمسین الف سنة پنځوس زره کاله لا ینظر الیکم او خدای ﷻ تاسي ته نه ګوري یعني چي سوال درڅخه وکړي، رواه الحاکم. او له ابن عمر ؓ څخه روایت دی چي پینځوس زره کاله به خلګ په تاریکه کي ولاړ وي لاتکلمون، رواه البیهقي.

لِلَّذِیْنَ اَشْرَكُوْٓا اَیْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِیْنَ كُنْتُمْ تَزْعُمُوْنَ۝

هغه کسانو ته چي شرک یې کړی و چېري دي هغه بتان چي د خدای ﷻ سره مو په عبادت ګډ کړي وه، هغه شرکا چي دا زعم باطل درلودی چي دا زموږ خدایان بتان د خدای ﷻ سره برابر دي په استحقاق کي د عبادت، او دا یې هم زعم ؤ چي بتان به شفعا وي زموږ په ورځ د قیامت.

یوه سه: چي مراد له دې استفهام څخه توبیخ او شرزنش د کافرانو.

ثُمَّ لَمْ تَكُنْ فِتْنَتُهُمْ اِلَّآ اَنْ قَالُوْا وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِیْنَ۝

یوه سه: چي ایراد د لفظ "ثم" دلیل ددې دی چي دوی ډېره زمانه په جواب کي د سوال د خدای ﷻ فکر وواهه چي څه جواب ورکوو، او مراد له فتنې څخه کفر د دوی دی، والمضاف محذوف ای عاقبة کفرهم.

فائده: لفظ د "فتنة" مرفوع دی چي اسم د "تکن" دی او خبر یې "الا ان قالوا" دی، او استثنا مفرغ ده یعني مستثنی منه یې محذوف دی ای شئ من الاشیا وقول من الاقوال الا ان قالوا والله ربنا آه، او له فتنې څخه مراد هغه کفر مستتر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددوی دی چي دوی مدة اعمارهم في الدنیا مختار کړی و، او فخر به یې په کاوه لکن نن ورځ د قیامت په ځواب کي د سوال د خدای ﷻ له کفر څخه بېزاري ښکاره کړه بقولهم والله ربنا آه، او یا د فتنې جواب ددوی دی المذکور او تعبیر چي د جواب څخه په فتنه وکړه لانه کذب بحت.

سوال: دوی ولي دا جواب انکاري ورکړی او دوی په دې پوهېدله چي دا ځواب انکاري فائده نه کوي لعلمه تعالی بکفرهم؟

ځواب: له ډېره حیرته او د هشته څخه یې دا دا ځواب انکاري مختاره کړی لان الغریق یتشبث بکل حشیش. بعض مفسران وایي چي مشرکان چي د قیامت په ورځ د خدای ﷻ مغفرت عامه و اهل توحید ته ووینې. نو دوی یو وبل ته وایي چي راځئ موږ به له شرک څخه انکار وکړو شاید چي موږ به هم د اهل توحید په ډله کي تېر سو. نو ځکه دوی وایي والله ربنا ماکنا مشرکین. لکن خدای ددوی پر خولو مهر د سکوت ولګوي. نو اعضا او جوارح ددوی پر دوی شاهدي د کفر او شرک ادا کړي فلا ینفعهم الانکار.

انظُرْ كَيْفَ كَذَبُوا عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿٢٤﴾

وګوره ته اې محمد ﷺ او اې مخاطبه څرنګه دوی دروغ وویل پر خپلو ځانو حیث قالوا والله ربنا ماکنا مشرکین ففیه تعجب لکفرهم. او ورک سوه له دوی څخه هغه شی چي دوی یې افترا کول په حق کي د بتانو چي دوی به زموږ شفاعت کوي په نېز د خدای. نو هغه خبري ټولي باطلي او پوچ ولاړي.

پوه سه: چي "وضل" عطف دی پر "کذبوا" او تر انظر لاندي دی. او کلمه د ما یا موصوله ده او عائد محذوف دی اې مایفترونه. او یا مصدریه ده اې افترائهم.

فائده: کیف" حال دی له فاعل څخه د کذبوا دمخه یې کړی له دې سببه چي استفهام صدر د کلام غواړي، او مضمون د جملې مفعول دی د انظر، والمعنی انظر کذبهم علی انفسهم متکیفین بای کیفیة حیث لایفیدهم.

شان نزول: پوه سه! چي ابو سفیان بن حرب او ابو جهل بن هشام او ولید بن المغیرة او نضر بن الحارث وعتبة وشیبة چي دواړه زامن وه د بیعه او امته او أبی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دوا ړه زامن وه د خلف او حارث بن عامر ګردو غوږ ونیوی وقرآن ته چي علیه الصلوٰة والسلام يې تلاوت کاوه، نو دوی ونضر ته وويل چي ما يقول محمد؟ هغه ورته وويل چي نه يم خبر چي څه وايي، ژبه او شونډان خو يې ښوروي او زما خيال دی چي د پخوانيو خلکو دروغ وايي لکه ما چي به تاسي ته قصې د امور ماضيه کولې، او نظر به ډېري قصې د اعاجمو ور دوی ته کولې، ابو سفيان وويل چي زما په خيال بعض خبري د محمد حق دي، ابو جهل ورته وويل کلا لانقر بشیٔ من هذا، نو خدای پاک دا آیت نازل کړی.

وَمِنْهُم مَّن يَسْتَمِعُ إِلَيْكَ ۖ وَجَعَلْنَا عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ أَكِنَّةً أَن يَفْقَهُوهُ وَفِي آذَانِهِمْ وَقْرًا ۚ وَإِن يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا ۚ

بعض له دوی څخه هغه کسان دي چي تا ته غوږ نسي چي قرآن وايي او موږ ګرځولي دي پر زړو ددوی پردې کراهة ان يفقهوه او په غوږو کي ددوی ثقل او کڼ والی دی يعني ستا قرائت په سماع د قبول نه اوري او که هره معجزه د معجزاتو څخه ووينې ايمان نه پر راوړي، ولې چي سترګو ددوی غشاوت يعني پردې دي معنوي چي حق نه په ويني کمامر في اوائل سورة البقرة، چي ددې غشاوة څخه تعبير هوري کړی دی په غشاوة التعامي يعني قصداً وعناداً او تکبراً خان ړوند نه ګرځوي. او تقليد د اباؤ او اجدادو په بت پرستی کي يې تر ايمان بمحمد ﷺ غوره کړی دی.

حَتَّىٰ إِذَا جَاءُوكَ يُجَادِلُونَكَ

يوه سه: چي "حتی" له حروف عاطفه وو څخه دی چي پر جملو داخلېږي او "اذا" ظرف زمان دی متضمن دی معنا لره د شرط او "يجادلونک" جواب دی يعني چي دا کفار تا ته درسي ستا سره بحث کوي.

يوه سه: چي جدال او مجادله ناحقه بحث ته وايي کما تقرر في کتب المنطق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَقُولُ الَّذِينَ كَفَرُوٓا إِنْ هَٰذَآ إِلَّآ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٢٥﴾

پوه سه: چي "يقول" تفسير دی د "يجادلونک" او "الذين كفروا" وضع د مظهر ده په ځای کي د مضمر يعني "يقولون" نه دی دا قرآن مګر د دروغو قصې د پخوانيو خلګو.

فائده: "اساطير" جمع د اسطورة ده لکه اضاحيک جمع د اضحوکة ده يعني د خندا خبره. او اعاجيب جمع د اعجوبة يعني د تعجب وړ خبره.

وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۖ

درويش وايي: چي ددې آيت په تفسير کي د مفسرينو اختلاف دی، روح البيان خو فقط دومره ويلي دي چي کافران د مکې خلګ نهي کوي د قرآن او د عليه الصلوٰة والسلام له متابعت څخه. او دوی خپل ځانونه لېري ساتي اظهاراً لغاية نفرتهم من القرآن ومن عليه الصلوٰة والسلام. بعضې نورو مفسرينو هم ورته تفسير کړی دی. لکن مظهري رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي دا آيت په ابو طالب عم النبي ﷺ کي نازل سوی دی، والمعنى ابو طالب مشرکين له دې څخه منع کول چي عليه الصلوٰة والسلام ته به ازار ته رسوي او په خپله ابو طالب له ايمان څخه پر نبي عليه السلام ځان لېري ساتی، نو پر دې تقدير ضمير د "هم" چي جمعه دی وه ابو طالب او دده و همکارانو ته راجع دی. او له سعيد بن ابي هلال څخه روايت دی نزلت في عمومة النبي ﷺ، نو پر دې تقدير ضمير د جمع پر خپل ظاهر دی، او دا اکاګان د عليه الصلوٰة والسلام بالذات او بالواسطة لس کسه وه چي دغه لس کسان په پټه او په ښکاره د عليه الصلوٰة والسلام له ازاره سخت مدافعان وه.

درويش وايي: چي بغوي داسي روايت راوړی دی چي رئيسان د مشرکانو د مکې وه ابو طالب ته چي د عليه الصلوٰة والسلام سکه اکا وه. او د بني هاشم د قبيلې رئيس هم وه راغله او ابو طالب ته يې داسي وويل چي زمونږ د قبائلو يو ځوان واخله مونږ يې تا ته دربخښو ته محمد ﷺ مونږ ته په لاس راکړه چي مونږ يې مړ کړو. ابو طالب ورته وويل چي دا خو د انصاف لار نه ده چي زه به خپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زوی یعني محمد تاسي ته په لاس درکوم چي تاسي یې مړ کړئ، او ستاسي زوی چي د محمد په عوض کي یې راکړئ زه به یې درساتم.

په حدیث شریف کي راغلي دي چي علیه الصلوٰة والسلام خپل اکا ابو طالب ته دعوت د اسلام ورکړی، نو ابو طالب ورته وویل چي که ددې بیره نه وای چي قریش به ماته پیغور راکړي که زه ایمان راوړم ما به ایمان راوړی وای، او ستا سترګي به مي په خونکي کړي وای، لکن مدافعت دي کوم تر څو چي زه ژوندی یم، او دا خواړه ابیات ابو طالب وویل.

والله لن یصلوا الیک بجمعهم	حتی اوسید وا في التراب دفینا
فاصدع بامرک ما علیک غضاضة	وابشر وقر بذاک عنک عیوناً
دعوت و عرفت انک ناصحي	لقد صدقت وکنت ثم امیناً
و عرضت دیناً قد علمت بانه	من خیر ادیان البریة دیناً
لولاً حذاز الملامة و مسبة	لوجدتني سمحاً بذاک مبیناً

تبصره: درویش وایي: چي هرڅو ازار چي د قریشو د مکي له خوا څخه و علیه الصلوٰة والسلام ته ورکړه سوی دی کما جا في الآحادیث الصحیحة هغه په داسي وخت کي ورکړه سوی دی چي ابو طالب وفات سو. ولي چي په ژوند کي د ابو طالب هیڅ چا توان او طاقت نه درلودی چي علیه الصلوٰة والسلام ته دي یو لږ ازار ورسوي، ځکه چي ابو طالب یې حامي او محافظ مطلق ؤ، او قریشو تولو د ابو طالب چي د بني هاشم د قوم رئیس ؤ، مراعات کامل یې کاوه.

وَاِنْ يُّهْلِكُوْنَ اِلَّآ اَنْفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُوْنَ

او دوی نه هلاکوي په عداوت سره د علیه الصلوٰة والسلام وعدم الایمان به وبالقرآن مګر خپل ځانونه هلاکوي. ولي ضرر ددوی ته راجع دی لا الی النبي ﷺ لانه تعالی یتم نوره ولو کره الکافرون او دوی په دغه نه پوهیږي چي ضرر مو ږ ته راجع دی.

وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلَى النَّارِ

که ته وویني اې محمد ﷺ او یا هر لیدونکي چي کافران حاضر کړي اور ته یعني دوږخ او ددوی پر اور علم راسي او بیا هم ورداخل کړه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ځواب د "لو" محذوف دی یعني لرئیت امراً فظیعاً عجیباً.

﴿فَقَالُوا يَٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾

نو دوی یعني دغه کسان چي اورته حاضر سوه او د اور شدت یې ولیدی وایي به چي کاشکي موږ بیرته ګرځول سوي وای ودار الدنیا ته چي دار العمل وه، نو بیا به موږ تکذیب نه کولای په آیاتو سره د خدای ﷻ یعني آیات القرآن الدالة علی البعث بعد الموت، او موږ به له مؤمنینو څخه ګرځېدلي وای.

پوه سه: چي کلمه د "یا" لپاره د نداً ده او منادی یې محذوفه ده ای یا قوم. او "لیت" لپاره د تمنٰی دی او "نرد" جواب د تمنٰی دی. منصوب دی په "ان" مقدره سره قبله او "لانکذب" پر عطف دی هم منصوب دی. او بعض قرأ دواړه یعني "ولا نکذب ونکون" په رفع سره وایي چي عطف یې بولي پر "نرد" باندي او یا یې حال بولي له فاعل څخه د "نرد" او یا واو په دواړو کي استینافي بولي.

﴿بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا يُخْفُونَ مِن قَبْلُ﴾

پوه سه: چي بل اضراب دی له ارادې څخه د ایمان چي ددوی له تمنٰی څخه وفهمېدی یعني داغسي نه ده بلکې زړونه یې له کفر څخه تنګ سوه یعني بلکي ښکاره سوه ودوی ته جزاً ده هغه شي چي دوی پټاوه دمخه یعني في الدنیا من النفاق کما في المنافقین، او یا اهل الکتاب یهودانو پټول نعوت د علیه الصلوٰة والسلام چي په تورات کي وه.

﴿وَلَوْ رُدُّوا لَعَادُوا لِمَا نُهُوا عَنْهُ وَإِنَّهُمْ لَكَٰذِبُونَ﴾

او که دوی رد کړل سي ودنیا ته فرضاً دوی به بیا وګرځي وخپل کفر او معاصیو ته چي دوی ځني نهي سوي وه، او د اخیرت عذاب به یې بالکلیة هېر سي. ولي چي جاهل سړی تر پښنو لاندي مځکي ته ګوري، او دوی داسي قوم دی چي عادت ددوی درواغ دي. نو ددوی دا خبره هم درواغ ده چي موږ به تکذیب د آیتو د خدای ﷻ نه کوو، او ایمان به راوړو. وفي المثنوي.

آن ندامت از نتیجه رنج بود | نه زعقل روشني چون ګنج بود

چونکه رنج شد آن ندامت شد عدم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په دې بیت کي اول شد په معنا د رفت دی او دوهم شد په معنا د سو فافهم.

میکند اوتوبه وبخیرد بانگ لو ردوا لعادوا میزند

درویش وایي: چي ددې آیت مصداق په دنیا کي هم څرګند ستهٔ مثلاً یو سړی وي د زنٰی سره عادت لري بیا یوه سخته ناجوړي پر راسي نو دی د ناجوړي په حال کي د خدای سره ټینګه وعده کوي چي خدایه که تا ماته صحت کامل راکړی زه به بیا زنٰی نه کوم، خیر د ناجوړی په وخت کي دا ناري او زاري او بیا زنٰی نه کول پر خدای ﷻ ده ډېري ووهلې، هغه ؤچي خدای ﷻ دی جوړ کړی یو څو ورځي خو یې هغه زاري او توبه په یاد وه وروسته چي بنه کامل صحت ته ورسېږي او څه زمانه د صحت پر تېره سي بیرته هغه دی وي هغه زنٰی. وقس علی الزنا ما کان من المعاصي المعتادة لشخص حین نزل علیه عذاب الدنیا فصدق الله تعالی لوردوا لعادوا وانهم لکاذبون.

وَقَالُوٓا۟ إِنْ هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوثِينَ ۝

او دوی به ویل یعني منکری البعث من المشرکین، په دنیا کي نه دي ژوندي زموږ مګر دغه د دنیا ژوند دی او نه یو موږ مبعوثین بعد الموت.

پوه سه: چي ضمیر د "هي" وحیوٰة ته راجع دی بقرینة مابعده.

فائده: وقالوا" عطف دی یا پر "لعادوا" یعني لردوا قالوا، او یا عطف دی پر "نهوا" باندي یعني "لو ردوا لعادوا لما نهوا عنه" او یا واو استینافي دی "وقالوا" جمله مستانفه ده بذکر ماقالوه في الدنیا.

درویش وایي: چي توجیه ډېره په زړه پوري او بې تکلفه ده.

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُوا۟ عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ

که چېري ته ووینې اې محمد ﷺ هغه وخت چي کفار ودرول سي و خدای ﷻ ته.

پوه سه: چي وقوف و خدای ﷻ ته مجاز دی له حبس څخه ددوی لپاره د سوال او توبیخ او بعض مفسران وایي چي کلمه د "علی" په معنی د لام ده ای لقضا ربهم وجزائه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: جواب د "لو" دلته هم محذوف دی لکه دمخه ای لرئیت امراً فظیعا.

قَالَ أَلَيْسَ هَٰذَا بِالْحَقِّ ۚ قَالُوا بَلَىٰ وَرَبِّنَا ۚ قَالَ فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ

دا آیت جواب د سوال دی چي خدای پاک نو څه ورته وایي په دغه ورځ چي دوی وقفوا علی ربهم سوه، اول خدای پاک ورته وایي پر ژبو د ملکو د عذاب آیا نه دی دغه بعث بعد الموت او ثواب او عذاب په حق سره؟ دوی ورته وایي چي هو حق زموږ دی قسم دي په رب سره زموږ وي.

درویش وایي: چي دوی ته چونکه حال د بعث بعد الموت ښه واضح سو، نو ځکه یې ځواب مؤکد په قسم ورکړی، نو خدای پاک ورته ووایي تاسي نو اوس ورئ او برداشتوئ عذاب یعني د اور په سبب د هغه چي تاسي کفر کاوه، ولیس هذا في ذوق الفم بل بمعنی جربوا.

پوه سه: چي کلمه د ما مصدري ده ای بسبب کونکم تکفرون، او دا هم احتمال سته چي کلمه د ما موصوله وي، نو بیا عائد وما ته محذوف دی ای بالشئ الذي کنتم تکفرونه ای تنکرونه من البعث بعد الموت والثواب والعقاب.

قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِلِقَاءِ اللَّهِ ۖ

په تحقیق تاوان وکړی هغو کسانو چي تکذیب یې کاوه په دنیا کي په ملاقات د خدای ﷻ چي مراد څني بعث بعد الموت دی.

پوه سه: چي له بعث بعد الموت څخه یې تعبیر په ملاقات د خدای وکړی له دي سببه چي د بعض کسانو لپاره لکه مؤمنان دغه بعث بعد الموت سبب رؤیت د خدای ﷻ گرځي، لکن کافران چونکه بعث بعد الموت نه مانه او دغه رنگه د جنت او دوږخ څخه منکر وه، نو له دوی څخه فوت نعیم مقیم او ددوی په برخه سو عذاب الیم، وذالک هو الخسران العظیم.

پوه سه: چي چونکه معتزله له رؤیة څخه د خدای ﷻ منکر دي نو دوی ددې نعمت عظمی څخه محروم دي، او چونکه د گناه کبیره مرتکب چي بې توبې مړ سي له شفاعت او مغفرت څخه د خدای ﷻ هم منکر دوی له دوو عظیمو نعمتو څخه هم محروم دي، وعن ابي هریرة ﷺ قال الله تعالی انا عند ظن عبدي بي، له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابراهيم ادهم رحمه الله ځخه روايت دی مايسرني ان لي نصف الجنة بالروية (مانه خوشحاله کوي دا چي ماته نيمی د جنتو راکړي په مقابل کي د رؤيت الهي، ولي چي خدای پاک د کفارو په باره کي وايي کلا انهم عن ربهم لمحجوبون. ځامخا حجاب د خدای جل جلاله د کافرانو په برخه دی، نو د مؤمن په برخه ملاقات د خدای جل جلاله دی، اللهم ارزقنا رؤيتک في جنة النعيم بفضلک العظيم.

حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً

حتّٰى چي دوی يعني کافرانو ته راسي قيامت ناببره.

پوه سه: چي قاضي ناصر الدين البيضاوي رحمه الله وايي چي حتّٰى غاية يعني پای دی د کذبوا لا لخسروا، ولي خسران د دوی خو ابدي دی لا غاية له.

سوال: تکذيب د دوی خو تر پايه تر مرگ د دوی دی لا الی قيام الساعة.

ځواب: مراد له ساعت ځخه دلته ساعت يعني قيامت صغرٰی دی وهو ساعت موتهم فانه من مات قامت قيامته کما ورد في الحديث الصحيح القبر روضة من رياض الجنان او حفرة من حفرات النيران.

پوه سه: چي بخاري او مسلم روايت کړی دی له عائشي رضي الله عنها چي بعض کسان د اعرابو يعني صحرايي کسانو ځخه به راتله و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او له ده ځخه به يې پوښتنه کول چي ساعت يعني قيامت کله دی. نو به عليه الصلوٰة والسلام وکتل چي په دغو سائلينو کي يو کشر هلک و، نو يې داسي وويل که دغه هلک ژوندی پاته سي تر زړوالي به نه ورسېږي حتّٰى تقوم عليکم ساعتکم.

درويش وايي: چي ددې حديث په معنا کي د دين خارج کسانو داسي سوال کړی دی، چي له ساعت ځخه خو قيامت مراد دی نو قيامت په سوو کلونه دادی تېر سوي دي لکن قيامت تر اوسه نه دی قائم سوی؟

والجواب عن هذا السوال چي د عليه الصلوٰة والسلام مراد قيامت صغرٰی دی وهو الموت کمامر او قرينه پر دې ارادې داده چي عليه الصلوٰة والسلام اضافت د وحاضرينو ته وکړی قال حتّٰى تقوم عليکم ساعتکم، که مراد ساعت کبرٰی وايي نو هغه په حاضرينو پوري ځه کار نه لري، هغه د ټولو انسانانو شريکي ساعت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعلى تقدير التسليم يعني چي مونږ ومنو چي مراد قيامت كبرىٰ دى. نو چونكه مرگ مقدمه د ساعت ده كمامر فكان الموت هي الساعة الكبرىٰ. نو پر دې تقدير خلاف د رايې د بيضاوي هم ممكن دى يعني چي حتىٰ دي غايت د خسران وي، ولي خسران د تجارت خو دادى چي سړى په تجارت راس المال هم د لاسه وركړي، نو په وخت كي د مرگ د مړه په لاس كي راس المال نه سو پاته، ولي چي راس المال د گټو د اخيرت خو حيوٰة الدنيا ده، نو زمانه ددوى د خسران پاى ته ورسېدله، ولي چي راس خلاص سو وروسته خو زمانه د مفلسى ده.

بوه سه: چي "بغتة" يا منصوب على الحالية يعني حال كون المجئ بغتة او يا مفعول مطلق دى ولي فجائة نوع د مجئ ده، والله اعلم بمراده في كتابه.

قَالُوا يٰحَسْرَتَنَا عَلٰى مَا فَرَّطْنَا فِيهَا

درويش وايي: چي دا جمله د "اذا" جزا ده يعني پر دوى باندي چي ناببره قيامت راسي، نو دوى داسي ووايي اې زمونږ غم پر هغه شي چي مونږ تقصير كړى په هغه كي، يعني ايمان په ژوند كي د دنيا.

بوه سه: چي دوى حسرت په صورت كي د ندا راوړى له جهته د شدت پښېماني ددوى پر تفريط، نو گويا دوى وايي چي حسرته چېري يې راځه چي اوس دي وخت دى ، او "فرطنا" مشتق د تفريط څخه دى ومعناه التقصير في الامر المهم ومرادهم الايمان والطاعة، او د "فيها" ضمير راجع دى و "حيوٰة الدنيا" ته بلا ذكر المرجع صراحةً للعلم به من المقام او يا ضمير راجع دى و ساعت ته يعني مونږ تقصير كړى ؤ په امر كي د قيامت چي د هغه لپاره مو ايمان او طاعت نه وكړى چي اوس زمونږ د نجات سبب گرځېدلى واى.

فائده: حسرت سخت غم او پښېماني ته وايي، او كلمه د "ما" مصدريه ده اى على تفريطنا في امر الساعة.

وَهُمْ يَحْمِلُونَ أَوْزَارَهُمْ عَلٰى ظُهُورِهِمْ

او دوى راخستي وه (چي له قبرو څخه راووزي) خپل اعمال قبيحه پر خپلو شاوو باندي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دا وه لفظي ترجمه د آيت لكن پوه سه! چي د دې آيت حل او كشف ومزيد تحقيق ته ضرورت لري (۱) دا جمله يعني "وهم آه" حال ده له فاعل څخه د "قالوا (۲) اوزار جمع د وزر ده چي په لغت كي دروند بار ته وايي لكه په دې محاوره كي وزر ته اې حملته ثقيلاً او له دې سببه وزير ته د مملكت وزير وايي، ولي چي د وزير پر غاړه د مملكت دېر درانه كارونه پراته وي، او گناه ته هم وزر وايي لغاية ثقله على صاحبه (۳) حمل له صفاتو څخه د اجسامو دی لا من عوارض المعاني يعني لكه دلته چي مراد گنهونه دي. نو كفر او معاصيو ته تشبيهاً او تمثيلاً حمل ويل كېږي (۴) ذكر د ظهور بناً پر غالب دی ولي چي دروند بار خلگ په شا وړي (۵) معنا د آيت: چي كافران حسرت كوي په ورځ د قيامت پر دې چي موږ په دنيا كي هيڅ عمل د حسناتو من الايمان والطاعات خو نه وكړى او حال هم دادی چي اوس مو درانه بارونه د كفر او سيئاتو په شا دي.

أَلَا سَآءَ مَا يَزِرُونَ ﴿۳۱﴾

آگاه اوسه چي بد شی دی هغه څه چي دوی يې حمل كوي يعني الكفر والمعاصي.

درويش وايي: چي له سدي او ابن ابي حاتم څخه روايت دی چي مؤمن چي په ورځ د قيامت له قبره راووزي يو بناسته او ډېر خوشبويه صورت يې په مخه ورسي او هغه صورت ورته ووايي ته ما پېژني؟ دی ورته ووايي لا. هغه ورته ووايي چي زه خو ستا عمل صالح يم يعني خدای ﷻ تاته مصور كړم. نو ته زما په شا سه، ولي په دنيا كي زه ستا ډېر په شا سوى يم، په دې معنا چي سره له مشقته تا زه پاللى يم، لكه دروند بار چي دې په شا وي.

درويش وايي: چي بعض مفسران د خدای ﷻ د دې قول تاويل "يوم تحشر المتقين الى الرحمن وفداً، اى ركباناً" په دغه سپرتيا د عمل صالح كړى دی، او كافر چي له قبره را پاڅي، يو ډېر بد مخه بدبويه صورت په مخه ورسي او هغه صورت ووايي چي ته ما پېژني؟ دی ورته ووايي يا، هغه صورت ورته ووايي چي ستا كفر او عمل خبيث يم، په دنيا كي ډېر ته پر ما سپور سوى يې يعني خپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نفسي خواهشات دي په ما پر ځای کوله. نن بیا زه پر تا سپر یږم او د هغه آیت "وهم یحملون آه" په دغه سره بعض مفسرانو کړی دی.

درویش وایي: چي پر دې تقدیر حمل پر خپل ظاهر دی یعني تمثیلات او تشبیهاتو گذشته وو ته ضرورت نشته. ولي کفر او معاصي که څه هم اعراض دي لکن په اخرت کي خدای ﷻ په صور حسنه وو او سیئه وو ښکاره کوي کمامر آنفاً.

وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۗ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ۗ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٣٢﴾

په حذف د مضاف ای ما اعمال الدنیا یعني هغه عملونه چي متعلق په دنیا پوري دي من حیث هي هي، د حیثیت فائده چي په ژوند کي د دنیا خو سړی عبادت هم کوي، وحاصل الجواب چي عبادات خو متعلق په دنیا من حیث هي پوري نه دي، بلکي دا خو متعلق په اخیرت پوري دي لان الدنیا مزرعة الآخرة کما ورد في الحدیث الصحیح مگر نه لهو او لعب دی.

پوه سه: چي دا آیت جواب دی د هغه سوال د مشرکانو ان هي الا الحیوٰة الدنیا. او لهو هغه فعل ته وایي چي سړی له ماینفع له فعل څخه منع کوي لکه په وخت کي د لمانځه چي سړی گپن کوي یا غېږ باسي یا تلویږون ته ناست وي جماعت پر پرېږدي الی غیر ذالک. واللعب فعل لا یکون له غرض صحیح او نه منفعت پر مرتبېږي.

درویش وایي: چي فاللهو واللعب متقاربان في المعنی او هر آئینه دا آخیرت په حذف د مضاف ای الاعمال المتعلقة بنفع الآخرة کالعبادات المتوجه خیر للذین یعني ښه دی لپاره د هغه چا چي له خدایه بېرېږي، ولي چي دا عملونه متقیان رسوي ورضی الهي ته او نعیم مقیم ته د جنت. آیا اې خلکو تاسي عقل نه لرئ چي لهو او لعب پرېږدئ او دا اعمال د متقینو نه سئ کولای حتی لار د متقینو مختاره کړئ.

فائدة في جمیع القرآن: هر ځای چي تر همزه د استفهام فا یا واو یا ثم چي حروف عطف دي نو معطوف علیه وروسته تر همزه مقدر تا چي صدارت د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استفهام فوت نه سي لکن هر ځای معطوف علیه به مناسب د مقام سره محذوف بولي لکه دلته ای اتفعلون اللهو واللعب لا اعمال آخرة فلا تعقلون، ولي چي سړی تر قلیل فاني کثیر باقي مختار کړی هغه عاقل سړی دی.

فائده: دنیا چي دنیا بولي یا په سبب ددې ده چي تر اخیرت نژدې ده نو دنیا پر دې تقدیر مشتق ده له دنو څخه چي معنی یې قرب ده، او یا یې له دې سببه دنیا بولي چي ردي او خسیس شی دی، نو پر دې تقدیر مشتق ده له دناءت څخه په معنی د خسمت وعدم الحرمة لها.

حکمت: خدای ﷻ اخیرت یعني نعیم د اخیرت او الیم د اخیرت غائب وساتله له سترګو څخه، ولي که جنت او دوږخ په دنیا کي ظاهره کړی وای، نو به هیڅ کافر انکار نه کاوه او تکالیف الهیه به د خلګو څخه پورته سوي وای، ولي چي خلګو تولـه د جنت لار اختیارولـه، او د دوږخ لار یې پرېښولـه، لکن خدای ﷻ حکمت الهي خو موږ ته اختیار راکړی دی که د جنت پر لار ځئ او که د دوږخ.

یوه سه: چي د عقل سالم چي په امورو کي د دنیا او اخیرت فکر ووهي چي کوم یو زما لپاره خیر دی، نو به کارونه د اخیرت مختاره کړي من الایمان والطاعات لانها قویة ابدیة خالصة من المضرات تر امور د دنیا لانها فانیة عنقریب مشوبة بالمصائب والافات والامراض والبلیات بداهة بدون الاستدلال.

حکایت: جعفر بن ابي سلیمان رحمه الله وایي چي زه او مالک بن دینار رحمه الله په بصره کي ګرځېدلو، نو موږ یوه کوڅه او بنګله ولیدله چي په تعمیر یې یو ځوان حسن الوجه اخته و، او پر بنایانو او مزدورانو یې امرونه کول چي دا ځای داسي جوړ کړئ او فلانی ځای داسي جوړ کړئ، نو موږ دغه قصر ته داخل سوو، او مالک د قصر چي په بنا د قصر مصروف و، سلام ورواچاوه او هغه د سلام ځواب راکړی، نو مالک بن دینار و ځوان ته وویل چي ته د څونده دراهمو مصرفول پر دې قصر لرې؟ ځوان ورته وویل سل زره درهمه، نو مالک بن دینار ورته وویله چي دا روپۍ ماته نه راکوې چي زه یې په حقه لار مصرف کړم یعني فقرا او مساکینو ته یې ورکړم، او ستا به زه ضامن سم پر خدای ﷻ باندي چي تا ته به تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې قصر خیر درکوي سره د ولدانو او حورو او خادمانو چي په هغه قصر کي به خېمې ولاړې وي د سرو زرو ښائسته په جواهراتو او د خاورو په ځای بې زعفران او د چا لاس به نه وي وهلي بلکې په قدرت کامله د خدای ﷻ په جوړي سوي وي د مالک بن دینار رحمه الله خبرو په ځوان کي تاثیر وکړی، ځوان قلم او کاغذ راوغوښتل چي ماته ضمانت خط راکړه، نو مالک بن دینار نوشته کړه.

بسم الله الرحمن الرحيم

هذا ما ضمن مالك بن دينار لفلان بن فلان اني ضمنت لك عن الله قصراً في الجنة بدل قصرك هذا كما وصفته والزيادة على الله. اشتريت لك بهذا المال اعني الدارهم التي اراد الشاب صرفها في قصر الدنيا قصراً في الجنة في ظل ظليل افسح من قصرك هذا بقرب العزيز الجليل ثم طوى الكتاب واعطاه الشاب" او مالک بن دینار هغه دراهم چي ځوان ورکړه په فقرا او مساکینو یې تولله تقسیم کړه پر ځوان څلوېښت ورځي پوره نه سوې تېرې چي وفات سو. او اقرباؤ ته یې دا وصیت وکړی چي دا مکتوب د مالک بن دینار زما او د کفن په منځ کي کښېږدئ. قریبانو ځوان دفن کړی او مکتوب یې هم ورسره دفن کړی، او مالک بن دینار په شپه د وفات د ځوان یو کاغذ په محراب کي ولیدی پروت دی نو کاغذ یې راواخستی او خلاص یې کړی چي په هغه کي نوشته وه هذه برائة من العزيز الحكيم الى مالك بن دينار وفينا القصر الى الشاب الذي ضمنت له وزيادة سبعين ضعفاً.

درویش وایي: روى الترمذي والحاكم عن علي رضي الله عنه چي ابوجهل ونبي عليه السلام ته وویل چي موږ ستا تکذیب نه کوو بلکې موږ د هغه کتاب چي تا راوړی دی یعني په هغه کي امر د توحید دی او زموږ د خدایانو سپکاوی سته تکذیب کوو، نو دا آیت نازل سو.

قَدْ نَعْلَمُ إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّٰلِمِينَ بِـَٔايَٰتِ اللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾

موږ علم لرو چي په تحقیق شان دادی چي تا په غم کي اچوي هغه خبره چي دوی تاته وایي یعني ابوجهل کمامر، نو ته مه خوابدی کېږه ولي چي دوی خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستا تکذیب نه کوي لکن ظالمان زما د آیاتو قرآنیه وو څخه منکر دي یعني فعلینا حسابهم وجزائهم یوم الحساب. بیضاوي وایي چي "قد" لپاره د کثرت د فعل دی او د زیادت د فعل او ضمیر د انه لپاره د شان دی، له سدي ﷫ څخه روایت دی چي اخنس بن شریف او ابو جهل سره یو ځای سوه نو اخنس وه ابو جهل ته وویل یا ابا الحکم چي د ابو جهل کنیت وو په جاهلیت کي ته حال د محمد بن عبد الله راته ووایه چي دی صادق دی او که کاذب دی او دلته خو هیڅ څوک نسته چي زما او ستا خبري دي اوري. ابو جهل ورته وویل والله ان محمداً الصادق لکن زه چي یې نه منم سبب دادی چي بیرغ د قریشو د بنو قصي په لاس کي او سقایه د زمزم هم ددوی سوه او کلي د کعبې هم ددوی په لاس کي سوه او نبوت هم په ددوی کي سو. نو نورو قریشو ته څه شی پاته سو. فانزل هذه الآیة والله اعلم. شان نزول هذه الآیة.

سوال: په دې آیت کي ظالمین ذکر سوه آیا ضمیر کافي نه و؟

ځواب: ظالمین یې د دلالت او تنبیه پر ظلم ددوی وکړه په سبب د حجود د دوی.

وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ مِّن قَبْلِكَ

او په تحقیق سره تکذیب کړه سوی دی د رسولانو له جانب څخه د قومو د دوی لکه ستا قوم چي ستا تکذیب وکړی.

درویش وایي: چي په دې کي تسلي ده و علیه الصلوٰة والسلام ته چي دا تکذیب عادت قدیمه دی په مطول کي وایي چي د رسل تنوین لپاره د تکثیر او تعظیم دی ای رسل ذو عدد کثیر وذو آیات ومعجزات عظام.

فَصَبَرُوا عَلَىٰ مَا كُذِّبُوا وَأُوذُوا حَتَّىٰ أَتَاهُمْ نَصْرُنَا

پوه سه: چي کلمه د ما مصدریه ده، والمعنی نورو رسولانو صبر وکړی پر تکذیب ددوی یعني د قوم له خوا او پر زهیرولو د دوی د قوم له خوا. وګرځول خدای ﷻ غایت د صبر نصر. نو معنا داده چي ته هم صبر وکړه تاته به هم نصر د جانبه د خدای ﷻ راسي، ولقد صدق الله وعده في البدر وفتح اطراف قرى المدینة وبالآخیر فتح مکة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ ۚ

بدلونکی نشته د مواعید د خدای ﷻ د رسولانو لکه د ابراهیم علیه السلام سره چي یې وعده کړې وه پر نصر د نمرود او د موسیٰ علیه السلام سره پر نصر د فرعون، او د عیسیٰ علیه السلام په نصر پر بني اسرائیلو الی غیر ذالک. قال الله تعالی "لقد سبقت کلمتنا لعبادنا المرسلین انهم لهم المنصورون وان جندنا لهم الغالبون" او په بل ځای کي یې داسي ویلي دي "انا لننصر رسلنا" وفي موضع آخر کتب الله لاغلبن انا ورسلي" او چي قانون الهي داسي دی چي رسولانو ته نصر ورکوي ولو بعد حین فلا فائدة في اضطراب الرسل بل علیهم الصبر حتی یجیئ النصر.

وَلَقَدْ جَآءَكَ مِنْ نَّبَإِى الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٣٤﴾

او په تحقیق تاته رسېدلی دی یعني په قرآن کریم کي بعض له خبرو څخه د رسولانو.

پوه سه: چي کلمه د "من" زائده ده په نېز د اخفش. او سیبویه وایي چي کلمه د "من" زائده ده په اثبات کي نه سي کېدای. ومعنی الآیة علیه الصلوٰة والسلام ته خدای پاک وایي چي ستا د تسلي لپاره کافي خبري د رسولانو تاته رسېدلی دی.

فائده: چونکه علیه الصلوٰة والسلام ډېر حریص ؤ پر ایمان د قوم او هغو چي به یوه معجزه وغوښتل. د خدای له خوا څخه د علیه الصلوٰة والسلام به دا خوښه وه چي خدای ﷻ دا معجزه په دوی لیدلې وای طمعاً في ایمانهم. نو دا آیت نازل سو.

وَإِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ إِعْرَاضُهُمْ فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تَبْتَغِيَ نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَآءِ فَتَأْتِيَهُمْ بِآيَةٍ ۚ

که چېري پر تا سخت پرېوزي روی ګرداني ددوی ستا له ایمان څخه بما جئت به، نو که ستا له طاقته پوره وي چي ته طلب کړې یو ځېر زمین سوری او یا ځینه و اسمان ته، او ته ودوی ته راوړې یوه معجزه د ځمکي لـه نفق څخه او یـا د اسمان له خوا څخه.

پوه سه: چي ځواب د شرط ثاني محذوف یعني فافعل او تولـه دوهمه جمله

Maktaba Tul Ishaat.com　　　　　Scanned by CamScanner

جواب د شرط اول ده، والحاصل چي ستا د طاقته اتیان د آیت نه دی پوره نو ځان په تکلیف کي مه واقع کوه که څه هم اعراض ددوی پر تا سخت پرېوځي بلکې صبر وکړه الی ان یاتي الله بامره.

یوه سه: چي نفق هغه زېر زمین سوري ته وایي چي بله خوا ته هم لار لري لکه نافقاتي د سمساري غار.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدٰى فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ۝

او که د خدای ﷻ مشیت او اراده وای، نو به یې جمع کړي وای ټول په پر هدایت په جمع د قسر او الجا لکن لم یشا ذالک، لحکم غامضة منها الفرق المؤمن بالاختیار والکافر باختیاره والمطیع باختیاره والعاصي بالاختیار فیتمیز بها اهل الجنة والنار، ولي چي په صورت کي د مشیت القسر والالجا الی الایمان لا یتمیز بین المستحق للجنة والمستحق للنار، والدخول في الجنة او النار بلا ایمان بالاختیار او الکفر بالاختیار خلاف حکمة العزیز الجبار ولا یفرق في صورة القسر الفرق بین الصدیق الاکبر ابوبکر الصدیق ﷺ وبین عدوالله ورسوله ابو جهل الزندیق في علمه الازلي وهکذا في الاشخاص الاخر، نو مطلب دادی چي علیه الصلوٰة والسلام ته تعلیم د صبر کوي او منع کوي له تعب څخه په دې باره کي چي قریش ولي ایمان نه راوړي، نو په اخیر کي خدای ﷻ خپل حبیب ته سخت لفظ استعمال کړی او وه یې ویل فلاتکونن من الجاهلین ته مه ګرځه له ډلي څخه د جاهلانو کسانو. ولي چي تکلیف وځان ته ورکول په هغه شي چي هغه فائده نه کوي چي ایمان د قریشو ټولو دی او جزع په ځای کي صبر قانون د جاهلانو دی.

یوه سه: چي مفعول د "شا" محذوف دی لدلالة الجواب علیه، والمعنی لو شا الله هدایتهم اجمعین.

درویش وایي: چي په منځ د مولٰی حق او د حبیب مطلق لپاره د نفع د حبیب چي لفظ استعمال سي هغه حق دی، نو داسي الفاظ لپاره د تربیې او د تادیب د علیه الصلوٰة والسلام دي کما ورد في الحدیث النبوي ﷺ ان الله ادبني فاحسن تادیبي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِنَّمَا يَسْتَجِيْبُ الَّذِيْنَ يَسْمَعُوْنَ

قبلونه د دعوت ستا نه كوي مگر هغه كسان چي دوى اوري ستا خبري په سماع د تدبر ستا په خبرو كي حتى چي قبول ستا د خبرو دي پر مرتب سي يعني الايمان او هغه كسان ستا دعوت نه قبلوي چي ستا خبري پر طريقه د استهزا اوري.

وَالْمَوْتٰى يَبْعَثُهُمُ اللّٰهُ ثُمَّ اِلَيْهِ يُرْجَعُوْنَ ﴿۳۶﴾

پوه سه: چي مراد له موتٰى څخه كافران دي، خداى پاک ودوى ته موتٰى وويل ولي چي ددوى پر زړو مهرونه دي چي په حق كي فكر نه وهي، او په غوږو كانه دي او پر سترگو يې پردې دي، چي په غوږ حق نه اوري من حيث انه حق او په سترگو نه ويني معجزې من حيث انها معجزة لا سحر. نو مړي دغسي كسان وي چي عقل او حواس خمسه يې تولمعطل وي. نعوذ بالله من ذالک. نو دا مړي ژوندي كوي په ورځ د قيامت او بيا به يې وخداى ته راجع كړي او خداى به لائق الحال ودوى ته جزا وركړي.

وَقَالُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ اٰيَةٌ مِّنْ رَّبِّهٖ

ويل به رؤساؤ د قريشو ولي نه نازلوي پرده يعني عليه الصلوٰة والسلام يوه معجزه د صدق دده په دعوه كي د رسالت له جانبه څخه د خداى ﷻ.

پوښتنه: معجزې د عليه الصلوٰة والسلام د صدق خو دوى ډېري ليدلي وې لكه شق القمر كما في قوله تعالى "اقتربت الساعة وانشق القمر ۞" او يا تسبيح د سنگريزو په لاس كي د ابوجهل چي دا دوې ډېري ستري معجزې وې، نو دوى بالا تر دې آيت د صدق له عليه الصلوٰة والسلام څخه غوښتي؟

ځواب: دوى د خپل تعنت او جهالت له سببه دا معجزه غوښتله چي د مكې مځكه ډېره تنگه ده په سبب د شاوخوا غرو ته دې خداى ﷻ ته ووايه چي دا غرونه لېري كړي، او داغه رنگه د مكې مځكه بېله جاري اويو ده ته دې خداى ته ووايه چي يوه جاري وياله د مكې په منځ كي جاري كړي. او د صفا غر د سرو زرو وگرځي الى غير ذالک مما اقترحوه تعنتاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿قُلْ إِنَّ اللّٰهَ قَادِرٌ عَلٰى أَنْ يُنَزِّلَ اٰيَةً وَّلٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ﴾

ته ورته ووايه چي په تحقيق خداى ﷻ خو قادر دى پر دغو آيتونو چي تاسي يې تعنتاً غواړئ لکن اکثره ددوی نه پوهېږي يعني که ددوی د غوښتني سره موافق خداى پاک وکړي او بيا هم دوی ايمان رانه وړي، نو سبب د استيصال هلاک به ددوی وګرځي کما هو عادة الله لکه چي په ناقه کي د صالح ؑ خداى پاک و هغو کافرانو ته جزاً د استيصال ورکړه او يا په غوښتنه د مائدي له اسمانه چي بني اسرائيلو له عيسى ؑ څخه کړي وه، نو چي دوی ايمان رانه وړی تو له سرکوزان وګرځېدله او بيا هلاک سوه کمامر في سورة المائدة.

فائده: انسان څلور قسمه دی په باره کي د دين (۱) سعيد بالنفس والروح في لباس السعادة وهم الانبياً عليهم السلام واهل الطاعة بدون الريا والنفاق.
(۲) شقي بالنفس والروح في لباس الشقاوة وهم الكفار والمصرون على الكبائر بلا توبة (۳) شقي بالنفس والروح في لباس السعادة مثل بعلم بن باعور وبرصيصيا، او د اوسني زماني کوډګران غيب ويونکي په نامه ملايان. او يا جمع کونکي د مالونو د تګي په لار په صرف نامه پيران (۴) سعيد بالنفس والروح في لباس الشقاوة كبلال وصهيب وسلمان في اوائل امرهم ثم بدل الله لباسهم بلباس التقوى والهداية الكاملة ﷺ.

﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّا أُمَمٌ أَمْثَالُكُمْ﴾

نشته يو دابه په مځکه کي (والدابة مايدب في الارض) او نه يو مرغه چي الوځي په خپلو وزرو مګر هغه ټوله امتونه لکه تاسي انسانان په خلق کي او په مرګ کي او غذا کي او په طلب کي د رزق او په صحت کي او په مرض کي والبعث بعد الموت کي والمراد چي هيڅ فضيلت تاسي انسانان پر هغو نه لرئ الا بمعرفة الله تعالى بالتوحيد وجمال صفاته وجلال اوصافه.

يوه سوال: چي "يطير بجناحيه" يې لپاره د تاکيد او دفع د مجاز ووايه، ولي چي ډېر چابک سړي ته هم طائر ويل کېږي مجازاً واستعارة للاشتراک في السرعة فتامل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ إِلٰى رَبِّهِمْ يُحْشَرُوْنَ ﴿۳۸﴾

او مونږ نه دي پرې ايښي په لوح محفوظ کې هيڅ يو شي.

بوه سه: چې "من" زائد دی لپاره د استغراق د نفي دی. او شئ که څه هم لفظاً مجرور دی لکن په محل کې د نصب دی مفعول مطلق دی د "فرطنا" ای شيئًا من التفريط. او مفعول نه دی ولي چې فرط په خپله متعدي دی او يا مراد د کتاب څخه قرآن کريم دی. ولي چې پر قرآن کريم هر شی چې په دين کې حاجت ورته وي يا مجملاً يا مفصلاً موجود دی يا بعبارة النص او يا په اشارة النص او يا په دلالة النص او يا په اقتضا د نص کما تقرر في علم اصول الفقه. ونسب الى الامام الاعظم. شعر: جميع العلم في القرآن لكن... تقاصرت عنه افهام الرجال

ثم يعني بيا وروسته د قيامت په ورځ تاسي دا ټوله امم خدای پاک ته حشر کېږي ليجازي الله كلاً بعلمه ان كان خيراً فخير. وان كان شراً فشراً.

بوه سه: چې له ابي هريرة ﷺ څخه په صحيح سند ثابته ده. ده وويل چې يحشر الخق كلهم يوم القيامة حتى البهائم والدواب والطير فبلغ من عدل الله تبارك وتعالى چې بې ښکر حيوان چې جما يې بولي به له ښکر والا څخه چې قرناً يې بولي کسات د ظلم وراخلي. وروسته خدای پاک ټولو حيواناتو ته ووايي "كونوا تراباً" ټول خاورې سئ ولې چې بهائم او حيواناتو ته جنت نشته. او نه دوږخ. نو کافران چې د حيواناتو دا حال ويني. نو هر يو به ووايي ياليتني كنت تراباً" يعني کاشکي زه هم خاورې سوی وای يعني له دوږخ څخه خو به خلاص وای.

وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا صُمٌّ وَّبُكْمٌ فِي الظُّلُمٰتِ

او هغه کسان چې تکذيب کوي زما د آياتو يعني الآيات القرآنية بانها اساطير الاولين. او يا د معجزاتو زما چې عليه الصلوٰة والسلام ته مي ورکړې دي بانها سحر مبين کاڼه دي چې د آيات قرآنية په سماع د تدبر او قبول نه اوري جمع د اصم ده "بكم" جمع د ابكم ده يعني ګونګيان دي چې په حق سره خبري نه کوي د توحيد. او يا كون القرآن من عندالله العزيز العلام. او په تاريکی کې د کفر او د جهل او د عناد دي او په تاريکه د تقليد د آبا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "في الظلمات" خبر بعد الخبر د الذين دی.

مَنْ يَّشَاِ اللّٰهُ يُضْلِلْهُ ۭ وَمَنْ يَّشَاْ يَجْعَلْهُ عَلٰي صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ

که د خدای ﷻ مشیت او اراده سي د اضلال د يو چا هغه گمراه کوي او چي اراده يې سي د هدايت د يو چا هغه پر سمه لار گرځوي يعني دين الاسلام.

پوه سه: چي مفعول د يشأ دواړه ځايه محذوف دی. يعني اضلاله في الاول وهدايته في الثاني كما اشرنا الى ذالك في ترجمة الآية.

قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ

ووايه ته اي محمده ودي مشركانو ته د مكې. تحقيق هذه اللفظة اى ارئيتكم. فرا نحوي وايي چي عرب وايي ارئيتك وهم يريدون اخبرنا. او محقق تفتازاني وايي وانما وضعوا الاستفهام عن العلم. او رؤية البصر لطلب الخبر لان رؤية البصر سبب للعلم والعلم سبب للاخبار فوضع السبب موضع المسبب. والمعنى تاسي خبر راكړئ اي مشركانو د مكې چي ستاسي خدايان به تاسي ته فائده ورسوي چي تاسي رابولي په وخت د عذاب الله في الدنيا او يا چي پر تاسي قيامت راسي. او دا خو معلومه په تجربه ده چي د بتانو هيڅ فائده په دفع كې د عذاب نه رسېږي. نو ځكه بيضاوي وايي چي استفهام لپاره د تعجب دی يعني تاسي د داسي معبودانو ولي عبادت کوئ چي نفع او اميد مو ورته نسته.

مزيد تحقيق: پوه سه! چي كاف حرف خطاب دی چي د تاكيد لپاره د ضمير مخاطب فاعل راوړی دی لتاكيد الاسناد لامحل له من الاعراب كالكاف في اياک بلكې دا كاف پر احوال د مخاطب دلالت کوي من الافراد نحو اياک والتثنية والجمع نحو اياكم والتذكير نحو اياک بفتح الكاف والتانيث نحو اياک بكسر الكاف. نو حقيقت د لفظ خو طلب د خبر دی يعني الاستفهام لكن جرد عن معنى الطلب واستعمل في العرف في الاخبار عن شئ.

اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ اَوْ اَتَتْكُمُ السَّاعَةُ اَغَيْرَ اللّٰهِ تَدْعُوْنَ ۚ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ

که تاسي ته راسي عذاب د خدای ﷻ يعني په دنيا کې لکه نورو امتونو ته چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغلی ؤ، او یا راسي وتاسي ته قیامت سره د خپلو اهوالو او مخاوفو، آیا د خدای څخه به غیر تاسي بولئ یعني په دفع کي د عذاب استفهام انکاري دی که تاسي رښتیا وایاست چي بتان آلهة دي نو څو هغه خواست وکړئ په دفع کي د عذاب د قیامت.

بَلْ اِيَّاهُ تَدْعُوْنَ فَيَكْشِفُ مَا تَدْعُوْنَ اِلَيْهِ اِنْ شَآءَ وَتَنْسَوْنَ مَا تُشْرِكُوْنَ ﴿٤١﴾

بلکي خاص الخاص تاسي خدای ﷻ ته خواست کوئ په دفع کي د عذاب متوجه وتاسي ته، نو خدای پاک هم کشف کوي یعني لیري کوي هغه مصیبت چي تاسي خواست کړی دی خدای ﷻ ته د کشف که اراده سوه د خدای وکشف ته هغه یعني په دنیا کي نه په اخیرت کي، ولي وما دعاً الکافرین الا في ضلال، او ستاسي څخه هېر سي هغه بتان چي تاسي یې عبادت کاوه.

پوه سه: چي مراد نسیان حقیقةً نه ده بلکي لازم د نسیان وهو الترک ای تترکون الهتکم في ذالک لانکم تعلمون ان القادر علی کشف الضر هو جل ذاته دی.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰٓى اُمَمٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَاَخَذْنٰهُمْ بِالْبَاْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمْ يَتَضَرَّعُوْنَ ﴿٤٢﴾

او قسم په خدای دی چي موږ استولي دي یعني رسولان وِ امتو ته تر تا دمخه نو موږ ونیول چي دوی تکذیب د رسولانو وکړی په سختئ او فقر سره او په امراضو په افاتو سره یعني في الانفس والاموال والاولاد، ددې لپاره چي دوی به تضرع او عجز وکړي یعني له کفره به توبه وکاږي په عجز سره او د رسولانو خبره به ومني، او ډېر تذلل به بخش وغواړي.

پوه سه: چي تنوین د امم لپاره د تکثیر دی ای الی امم کثیرة، او کلمه د من په قبلک کي د ابتداً د غایت ده ای کائنة من قبل زمانک پر مذهب د کوفیانو کما قولهم نمت من اول اللیل وصمت من اول الشهر، او مظهري او سنان چلپي هم وایي چي من زائد دی په نېز د هغه چا چي زیادت د من په کلام موجب کي روا بولي، واما عند غیره، نو کلمه د من په معنی د "في" ده کما في قوله تعالی "اذا نودي للصلوٰة من یوم الجمعة ای في یوم الجمعة"

پوه سه: چي لفظ د "فا" په "فاخذناهم" کي فصیحیة ده یعني اظهار ددي کوي چي کلام مبني دی پر محذوف باندي ای فکذبوا رسلهم فاخذناهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَوْلَآ إِذْ جَآءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا۟ وَلَٰكِن قَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ ٱلشَّيْطَٰنُ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ

نو ولې چې دوی ته راغلی وای عذاب زمونږ دوی به تضرع کړې وای یعني له کفر څخه به یې توبه کښلې وای، معنی دا چې تضرع یې ونه کړه او پښېمانه سوه، کلمه د "لکن" لپاره د استدراک ده یعني څه سبب ؤ چې دوی تضرع او پښېماني ونه کړه یعني ددوی زړونه سخت وه چې په هغه باساً د غفلت د خوابه بیداره نه سوه، او ښائسته کړی ؤ ودوی ته شیطان هغه څه چې دوی یې عمل کاوه من الکفر والمعاصي، نو دوی ښه ګڼل سیئات اعمالهم او په خپلو اعمالو خوشحاله وه په تزیین د شیطان.

فَلَمَّا نَسُوا۟ مَا ذُكِّرُوا۟ بِهِۦ

څه وخت چې دوی هېر کړه "نسیان دلته په معنا د ترک دی" یعني چې دوی پرېښو هغه شي چې دوی ته نصیحت په کړه سوی ؤ له رسولانو د خوا څخه او اوامر او نواهي راغلي وه او په باسا او ضراسره له خوبه څخه د کفر او عصیان نه سوه ویښ، او لار د تضرع او توبې یې نه کړه مختاره، بیت

چون فرود آید بلای دافعی جز تضرع نبود دیگر.

فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَٰبَ كُلِّ شَىْءٍ

مونږ خلاصې کړې پر دوی دروازې د هر شي یعني من انواع النعم استدراجاً لهم. په حدیث مرفوع کې د عقبه بن عامر ﷺ روایت دی چې علیه الصلوٰة والسلام وویل "اذا رئیت یعطي العبد في الدنیا وهو مقیم علی معاصیه مایحب فانما هو استدراج، ثم تلی علیه الصلوٰة والسلام هذه الآیة.

ترجمه: که تا ولیدی چې ورکړه کېده وېوه بنده ته په دنیا کې او دی پر خپلو معاصیو ټینګ ولاړ ؤ هغه شي چې دده په خوښ ؤ من نعم الدنیا، نو هغه نه دی مګر استدراج بیا علیه الصلوٰة والسلام دا آیت ووایه فلما نسوا ماذکروا به(ح)

حَتَّىٰٓ إِذَا فَرِحُوا۟ بِمَآ أُوتُوٓا۟ أَخَذْنَٰهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ

تر هغه وخته چې دوی به خوشحاله سوه په هغو نعمتو چې دوی ته د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ له خوا څخه ورکړه سوی و مومړ به دوی ونیول یعني په نزول د عذاب الهي ناببره نو ناګاه دوی به نا امیده سوه له هره خیره څخه.

فَقُطِعَ دَابِرُ الْقَوْمِ الَّذِينَ ظَلَمُوا ۚ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۴۵﴾

نو قطع سو، په قاموس کي وايي چي د ابر آخر کل شئ في الاصل والمعنی چي تولہ هلاک سوہ چي یو یې هم نسو پاته چي له هغه څخه دي زېږېدل وسي. یعني نسل یې یو وار قطع سو.

پوه سه: چي په القوم الذين ظلموا کي وضع د اسم ده په ځای کي د ضمير لبيان سبب قطع د ابرهم وهو ظلمهم وكفرهم او که یې داسي ویلای فقطع د ابرهم صحیح خو ؤ، لکن بیان د سبب نه ؤ پکښې. او حمد دی خدای ﷻ لره چي رب د عالمیانو دی.

پوه سه: چي خدای پاک په خپله حمد ووایه پر هلاک د ظالمانو ولي چي دا یو نعمت جلیله د خدای ﷻ دی خپل دوستان مؤمنان یې ددوی له شره وساتل او مځکه یې پاکه کړه له عقائدو فاسده وو څخه او اعمال خبیثه ؤ چي سبب د نزول د عذاب به ګرځېدای که ظالمان پر خپل حال پاته وای.

قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَخَذَ اللَّهُ سَمْعَكُمْ وَأَبْصَارَكُمْ وَخَتَمَ عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُمْ بِهِ

ته ورته ووایه و کفارو ته د مکې که خدای ﷻ ستاسي واخلي اورېده ستاسي یعني کاڼه مو کړي او سترګې در څخه واخلي یعني ړانده مو کړي او مهر یعني معنوي واچوي پر زړونو ستاسي چي باره په هیڅ شي نه پوهېږئ، نو څوک دی معبود غیر د خدای ﷻ څخه چي ستاسي معبودان باطله دي چي تاته دي بیرته درکړي دغه حواس مسلوبه یعني هیڅ څوک یې نه سي ردولای.

فائده: ابصار او قلوب یې په صیغه د جمع راوړه او سمع یې مفرد ذکر کړی سبب یې دادی چي سمع په اصل کي مصدر دی یطلق علی الواحد والکثیر کما هو القانون الصرفي بخلاف الابصار لانه بمعنی العین ده وکذا القلوب.

فائده: ضمیر مفرد د به راجع وتولو مذکوراتو ته به تاویل د ماذکر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿انْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيٰتِ ثُمَّ هُمْ يَصْدِفُوْنَ﴾

او گوره اې محمده څرنگه مونږ تبیین د آیتو کو. یعني وکافرانو ته وروسته دوی اعراض ځني کوي یعني عمل نه په کوي چي ایمان راوړي او کلمه د "ثم" لپاره د استبعاد د اعراض د دوی وروسته تر بیان واضح د خدای ﷻ، بغوي رحمه الله وایي چي د آیاتو علامات داله دي پر توحید، او بیضاوي وایي چي تصریف څخه د آیاتو مراد گاهي پر طریقه د ترغیب بیانول دي او گاهي پر ډول د ترهیب بیانول دي وتارة بالتنبیه والتذکر باحوال المتقدمین وغیر ذالک من البیانات الالٰهیة بیا هم کفار اعراض او مخ له اسلامه اړوي.

﴿قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ﴾

ته ورته ووایه اې محمده یعني مشرکانو ته د قوم یعني اهل مکه تاسي خبر راکړئ اې مشرکانو.

درویش وایي: چي وقد مر بیان ارئیتکم عنقریب که تاسي ته راسي عذاب د خدای ﷻ ناببره یعني دمخه تر ظهور د یوې علامې د عذاب، او یا ښکاره راسي یعني وروسته تر ظهور د علاماتو.

پوه سه: چي بغتةً او جهرةً دواړه منصوب دي چي مفعول مطلق دي د "آتاکم" یعني اتیاناً بغتةً من تقدم امارة اتیانه او اتیاناً جهرةً ای ظاهرة بتقدم اماراته قبل وقوعه، ابن عباس رضی الله عنه او حسن بصري رحمه الله د "بغتةً" تفسیر په لیلاً سره کوي او تفسیر د "جهرة" په نهاراً سره کوي، آیا هلاکیږي به.

پوه سه: چي "هل یهلک" استفهام انکاري دی یعني نه هلاکیږي له دې سببه استثناً د الا القوم الظالمون صحیح سوه، فالتقدیر ما یهلک الا القوم الظالمون یعني چي ظلم یې پر خپلو ځانو کړي وي په کفر سره.

فائده: پوه سه! چي د استخبار متعلق محذوف دی، یعني خبر راکړئ چي که عذاب د خدای ﷻ بغتةً یا جهرةً راسي لکه تر تاسي دمخه امتو باندي دغه ډول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذاب نازل سوی دی. نو به ستاسي حال څه وي ثم بین الحال بقوله فهل یهلک آه.
یعني نو نه هلاکیږي مگر هغه چي ظالمان وي.

وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ

موږ نه استوو رسولان مگر زیری کونکي وه مؤمنانو ته په جنت النعیم سره او بیرونکي د کافرانو ته په دار البوار جهنم سره. ددې آیت مضمون دادی چي رسولان قادر نه دي چي کفارو ته به دوی د زړه پر خوښه معجزه ښکاره کوي او نه د چا پر هدایت قادران دي الا ان یشاء الله رب العالمین.

فَمَنْ آمَنَ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٤٨﴾

نو هغه څوک چي ایمان راوړي یعني پر رسولانو د خدای ﷻ او عمل هم صالح وکړي یعني موافق د ماجاء به الرسول، نو بیره نسته پر دوی باندي له هغه عذاب څخه چي رسولانو دوی په بیرولـه که د دنیا وي او که د آخیرت او نه به دوی غمجن وي په فوات د مابشرهم الرسل به من الثواب العاجل والآجل.

وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾

او هغه کسان چي تکذیب وکړي زموږ د آیتو یعني دروغ یې بولي دوی ته به ورسیږي عذاب د دنیا او اخیرت لکه ابوجهل سره د اوویا کسانو ته چي ورسیدی په بدر کي او عذاب د اخیرت خو متیقن دی په سبب د دوی د فسق یعني خروج له ایمان او طاعت څخه.

پوه سه: چي کلمه د با سببیه ده او کلمه د ما مصدري ده.

پوه سه: چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي ملائکه یعني کرام الکاتبین د یو چا سیئات د خپل صاحب پورته کړي اسمانو ته چي د لوح محفوظ سره یې وگوري په ځای کي د سیئات حسنات نوشته وي، نو ملکي و خدای پاک ته پر سجده سي او داسي وایي چي موږ په دې بنده پسي نه دي نوشته کړي مگر نه هغه شی چي ده عمل په کړی دی، خدای پاک ورته وایي صدقتم لکن دا بنده پر گناه پښېمانه سو، او توبه یې وکښل او ماته یې د سترگو اوښکي شفیع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي، نو ما يې ګناه وروبخښله او ما مهرباني پر وکړه په خپل کرم سره وانا اکرم الاکرمین، قال الشاعر

هر کجا ابر روان سبزه شود هر کجا اشک روان رحمت شود
کاری کنیم ورنه خجالت بر آورد روزی که رخت جان بجهانی دیگر بریم

قُلْ لَّآ اَقُوْلُ لَكُمْ عِنْدِیْ خَزَآئِنُ اللّٰهِ

ته ورته ووایه اې محمده وکفارو ته د مکې چې زه دا نه وایم تاسي ته چې زما سره یعني زما په تصرف کې خزانې د رزق د خدای ﷻ دي حتی چې چې تاسي دا اعتراض وکړی چې ته د خدای رسول وایې نو تا ته به یې د خپلو خزانو څخه رزق درکولای او سره ددې چې ته لکه نور خلګ په نفقه پسې سرګردان یې.

وَلَآ اَعْلَمُ الْغَیْبَ

او زه په پټو شیانو هم نه یم خبر تر هغو چې ماته وحي ونه سي.

پوه سه: چې ولا اعلم الغیب عطف دی پر عندي خزائن الله باندي یعني دا هم نه در ته وایم چې زه په غیب خبر یم او کلمه د لا زائده ده لپاره د تاکید د نفي ده.

وَلَآ اَقُوْلُ لَكُمْ اِنِّیْ مَلَكٌ اِنْ اَتَّبِعُ اِلَّا مَا یُوْحٰٓی اِلَیَّ

او دا هم نه وایم چې زه یو ملکه له ملائکو څخه د خدای ﷻ یم حتی تاسي دا اعتراض وکړی چې ته اکل او شرب او نکاح کوې او ملکي خو دا کارونه نه کوي، زه متابعت نه کوم په تعلیم کې د احکامو د دین مګر د هغه شي متابعت کوم چې ماته یې وحي کړه سوې وي یعني نبي یم لکه نور انبیاءٴ او هغه کارونه چې نورو انبیاوو به کوله من تعلیم التوحید والطاعات والمعاصي، په دې کې هیڅ استحالة نسته، پوه سه! چې دا رد دی ددې چې اهل مکه به بعیده بلل دعوه د نبوت دده.

فائده: په دې آیت کې "عندي خزائن الله" رد دی د هغه سوال د کفارو چې علیه الصلوٰة والسلام ته به یې ویل چې که ته نبي یې نو خدای ته ووایه چې صورۍ ته دي د صفا غر سره زر کړي الی غیر ذالک من اقوالهم النادرة.

پوه سه: چې وحي درې قسمه دي (۱) اول دا چې په قول د ملکي ثابت وي والقرآن من هذا القبیل (۲) چې په اشاره د ملکي ثابتي وي والی هذا الاشارة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بقوله عليه الصلوٰة والسلام ان روح القدس يعني جبرائيل نفث ي روحي ان نفسا لاتموت حتى تستكمل رزقها (جبرائيل ﷺ زما په زړه کي راواچول چي هيڅ نفس نه مري تر هغو چي خپل رزق پوره نه کړي. (۳) هغه چي وزړه ته د عليه الصلوٰة والسلام ښکاره سي په الهام د خدای له خوا ځخه بلا شبه، كما اشير اليه بقوله تعالى "لتحكم بين الناس بما اراک الله"

مسئله: اشعريه او ډېر متكلمين په دغه آيت سره يعني ان اتبع الا يوحٰى الي دليل وايي پر دې چي عليه الصلوٰة والسلام ته اجتهادي حكم نسته. ماتريديه وايي چي اجتهاد د عليه الصلوٰة والسلام په اخير لکه وحي ابتدائي ګرځي، ولي چي عليه الصلوٰة والسلام يو اجتهادي حكم وكړی او پر هغه حكم قرار وکړه سي. نو دا معلومه سوه چي داغه حكم د خدای ﷻ دی والا لتنبه على الخطأ بخلاف سائر مجتهدي الامة المرحومة فتدبر في الفرق بين اجتهاد النبي ﷺ واجتهاد مجتهدي امته.

قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الْأَعْمٰى وَالْبَصِيرُ ۚ أَفَلَا تَتَفَكَّرُونَ ۝

ته وقوم ته ووايه آيا سره برابر دي ړوند او کتونکی.

پوه سه: چي مراد له ړانده ځخه ړوند د سترګو نه دی بلکې اعمٰى القلب دي چي تمييز بين الحق والباطل نه سي کولای، نو له هغه شي ځخه انکار کوي چي انکار يې نه وي روا او تصديق د هغه شي کوي چي تصديق نه وي روا وهم اهل مكة المشركين، او په سترګو ليدونكي چي تمييز د حق او باطل کولای سي او د هغه تصديق کوي چي شهادت د معجزاتو ورسره وي او د هغه چا تکذيب کوي چي وايي مع الله آلهة اخرٰى او ډېري چي بتان دي شفعا عند الله بولي او ملائكه بنات الله الى غير ذالک چي دا بصير نو عبارت د مسلمان ځخه دی، آيا تاسي فكر نه کوئ چي حق ته لار پيدا کړئ.

وَأَنذِرْ بِهِ الَّذِينَ يَخَافُونَ أَن يُحْشَرُوا إِلَىٰ رَبِّهِمْ

او ته وبېروه په ما يوحٰى اليک سره يعني القرآن الكريم هغه کسان چي بېرېږي چي مونږ په حشر سو يعني په ورځ د قيامت وخدای ﷻ ته د دوی، قاضي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیضاوي وایي چي په دې موصول کي هغه کسان داخل دي چي مؤمنان وي لکن په عمل کي یې تفریط کړی وي یا په ترک د واجباتو او یا په ارتکاب د منهیاتو، او هغه کسان هم پکښې داخل دي چي مطلقاً حشر الی الله جائز بولي که مؤمن وي او که کافر من اهل الکتاب، ولي چي د بېرولو وه کسانو ته امکان د فائدې شته بخلاف الذین یستحیلون الحشر الی الله المنکرون للبعث بعد الموت، ولي چي هغو ته انداژه په ماېوځی سره فائده نه کوي.

درویش وایي: چي پر بیضاوي باندي مظهري یو نامعقوله سوال کړی فارجع الی تفسیره.

لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ لَّعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ﴿۵۱﴾

نسته دوی لره ماسوی له خدایه څخه دوست او نه شفاعت کونکی یعني بې له اجازې د خدای ﷻ ددې لپاره چي دوی به ګوندې وېرېږي او ایمان به راوړي.

فائده: د بیضاوي د دمخه آیت د تفسیر تائید مولی ابو السعود رحمه الله کړی دی.

پوه سه: چي په حدیث کي دي چي په مختلفو روایاتو سره راغلي دي چي حاصل د ټولو دادی چي رئیسان او مشران د قریشو و علیه الصلوٰة والسلام ته راغله او ورته وه یې ویل چي په مجلس کي فقرا د مؤمنانو لکه صُهیب او عمار بن یاسر او خباب او بلال او سلمان او نور رضي الله عنهم همېشه ناست وي چي اکثره یې عریان دي او یوازې د وړیو چینې یې اغوستي وي چي په ګرمۍ کي خوله وکړي د پر بد بوی یې ځني ولاړېږي، نو ته د خپل مجلسه څخه دغه کسان وشړه موږ به راځو او ستا سره به کښېنو، علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل ما انا بطارد المؤمنین. زه نه یم داسي چي شړم به مسلمانان له خپل مجلس څخه، نو رئیسانو د قریشو ورته وویل چي موږ راسو دوی ولاړ وه، ولي چي تاته له اطرافو څخه د عربو هیئتونه راځي، نو موږ نه غواړو چي وفود د عربو موږ وویني د ورته فقراؤ په مجلس کي، نو بیا چي موږ ولاړ سو نو ته چي هرڅوک په مجلس کي کښېنوې کښېنوه یې. د علیه الصلوٰة والسلام په شریف زړه کي دا خبره ددوی خوښه سوه طمعاً في ایمان هؤلاء الرؤسا. فانزل الله تعالی هذه الآیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ

ته مه شړه له مجلس شريف څخه هغه کسان چي دوی عبادت او ذکر کوي د ربهم او دوی په اول کي د ورځي چي غدات يې بولي په عربي ژبه د ورځي له اول څخه بيا تر زوال پوري دی، او بيا تر غروب الشمس چي عشي يې بولي دا ذکر او طاعت کوي او دوی په دې دوام داره طاعت سره اراده لري د وجه د خدای ﷻ يعني رضا د خدای ﷻ يعني لاشئ من اغراض الدنيا چي دې ته اخلاص وايي، او اخلاص محور د ټولو طاعاتو او اذکارو دی کما قال السعدي رحمه الله.

عبادت باخلاص نيت نکوست وگرنه چه مي آيد زبی مغز پوست

يو بل عارف وايي

بر زبانت يا صمد پيدا ودر دل يا صنم

ای بباطن کافر وظاهر مسلماني چه سود

پوه سه: چي جمله د يريدون حال ده له فاعل څخه د يدعون.

فائده: مراد له ذکر د غدات او عشي څخه دوام دی پر ذکر ومن دام ذکره تعالى دام جلوسه معه تعالى کما ورد انا جليس من ذکرني.

مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ

پوه سه: چي رئيسانو د قريشو خو اول ددوی پر فقر او مسکنت د عليه الصلوٰة والسلام څخه يې سوال د طرد وکړی هغه چي عليه الصلوٰة والسلام نه کړه قبوله په نزول د هغه آيت ولا تطرد الذين الآية وروسته يې بيا دا خبره عليه الصلوٰة والسلام ته وکړه چي فقرا او مساکين چي پر تا ټول دي داسي نه ده چي دوی په اخلاص ستا دين قبول کړی بلکې ستا په مجلس کي دوی ته څه ناڅه ماکولات او مشروبات رسېږي، نو خدای ﷻ دا آيت نازل کړی چي نسته پر تا باندي له حساب څخه ددوی يو شي يعني دوی په اخلاص الايمان د تاسره جمع سوي او که څرنګه. او نسته له حساب څخه ستا پر دوی باندي يو شي.

فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ ﴿٥٢﴾

چي ته وشړې دوی نو ته به وګرځې له ظالمانو څخه. ولي دي ناحقه وشړل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كما هو معنى الظلم.

پوه سه: چي "فتكون" منصوب دى جواب د نهي دى يعني لاتطرد الذين "

فائده: د نحوي په كتابو كي وايي چي يو سړى وبل ته ووايي ماتاتينا فتحدثنا. نو دا فتحدث منصوب دى جواب د نفي دى. والمعنى ان انتفاء التحديث لانتفاء سببه الذي هو الاتيان، والآية الكريمة من هذا القبيل يعني تطرد منصوب دى او ځواب دى يعني ما عليك من حسابهم آه. يعني كه ضرر د حساب ددوى پر تا واى نو دا به سبب واى د طردد ددوى لكن هذا سبب غير واقع حتى يقع مسببه وهو الطرد.

درويش وايي: چي دا تحقيق د اعراب ددې آيت مطابق د اقوالو سره د مفسرينو.. ع.... قياس كن زگلستان من بهار مرا.

وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ

پوه سه: چي كلمه د كاف زائده ده كما في قوله تعالى "ليس كمثله شئ" او مشار اليه په ذالك سره ضلال د قريشو دى "وكذالك" منصوب دى مفعول مطلق دى د "فتنا" والمعنى اضللنا ذالك الضلال، او له بعضهم څخه مراد رئيسان د قريشو دي او د "ببعض" څخه مراد فقرا د مؤمنانو دي، ولي چي رئيسان د قريشو چي پر فتنه د كفر ټينګ سوه او له اسلام څخه يې منع وكړه په سبب د دغو فقراو چي په مجلس شريف كي به د عليه الصلوٰة والسلام ناست وه، او محقق بيضاوي كاف زائد نه بولي او تفسير د آيت يې داسې كړى دى مثل ذالك الفتن وهو اختلاف الناس في امور الدنيا بالفقر والغنا فتنا يعني ابتلينا بعضهم ببعض في امر الدين فقدمنا هؤلا الفقرا عن اشراف قريش بالسبق الى الايمان انتهى بعبارته.

لِيَقُولُوا أَهٰؤُلَاءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيْهِم مِّنۢ بَيْنِنَا

چي ووايي دغه رؤسا او اغنيا، او لام لپاره د عاقبت دى كما قولهم لدوا للموت وابنوا للخراب، آيا دغه فقيران چي اكثره يې مريان دي او بې وزلي او بې چاره دي، خداى احسان وكړى پر دوى د نيک بختى او هدايت "من بيننا" اى من

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دوتنا يعني مستحق د خداى ﷻ د احسان خو موږ چي رئيسان د قوم يو.

پوه سه: چي استفهام لپاره د انكار دى د تخصيص د فقرا د حق ورسهدو او ورانديږ وايي يعني كه اسلام كار د خير واى ماسبقونا اليه، ولي چي موږ په سبب د رياست او غنا مستحق د خير يو، نو ددوى زعم باطل دا ځي چي اسلام د خير كارونه دي، نعوذ بالله من ذالك.

أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَعْلَمَ بِالشَّاكِرِينَ

آيا نه دى خداى ﷻ خبر په شاكرانو بندګانو.

پوه سه: چي استفهام لپاره د انكار دى او نفي د نفي اثبات دى يعني خداى ﷻ په خپلو شاكرانو بندګانو خبر دى چي هم دغه فقرا او مساكين بخلاف رؤسا القريش چي خداى ﷻ په خبر دى چي دوى شاكر بندګان نه دي بلكې منكر او متكبر بندګان دي، نو ځكه دغه فقرا په مجلس شريف سره د عليه الصلوة والسلام مختاره كړه او رئيسان او متكبران د قريشو له دې نعمت عظمى څخه محرومه كړه. بيت

تكبر عزازيل راخوار كرد بزندان لعنت گرفتار كرد

بغوي ﷫ په خپل سند سره روايت كړى دى له ابي سعيد الخدري ﷛ څخه چي زه كښېنستم په بعض نفرو كي د مهاجرينو او دوى يو په بل ځانونه پټول له سببه د لڅ والي او يو قاري موږ ته قرآن وايه په دې وخت كي رسول الله ﷺ راغلى نو موږ ته ودرېدى، نو چي عليه الصلوة والسلام ودرېدى نو قاري قرائت بس كړى، نو عليه الصلوة والسلام موږ ته سلام واچاو، او وه يې ويل چي تاسي څه كوله موږ ورته وويل يا رسول الله موږ ته قاري قرآن وايه او موږ غوږ ورته نيولى ؤ، نو عليه الصلوة والسلام وويل الحمد لله الذي جعل من امتي من امرني ان اصبر نفسي معهم. وروسته عليه الصلوة والسلام زموږ په منځ كي تشريف فرما سو، او وروسته يې اشاره وكړه چي پر ما شاوخوا حلقه سئ، نو موږ هم شاوخوا پر راوګرځېدلو او زموږ ټولو مخان و عليه الصلوة والسلام ته ښكاره سوه. وروسته رسول الله ﷺ وويل خوشحاله اوسئ اې ډلي د مساكينو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مهاجرینو بالنور التام یوم القیامة چي دوی به داخلیږي وجنت ته دمخه تر اغنیاؤ د خلګو په نیمه ورځ یعني د قیامت چي مقدار یې پینځه سوه کاله دي.

وَإِذَا جَاءَكَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِآيَاتِنَا فَقُلْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ

او هغه وخت چي تاته راسي اې محمده هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي پر آیات زموږ چي قرآن کریم دی، نو ته ورته ووایه سلام علیکم.

پوه سه: چي عکرمه وایي چي دا آیت په شان کي د هغو کسانو نازل سوی دی چي خدای پاک نهي کړی خپل نبي له طرد څخه د هغو لکه رئیسانو د قریشو ددوی د طرد مطالبه کړې وه له آنحضرت ﷺ څخه. نو هر وخت چي به دوی علیه الصلوٰة والسلام ولیدی ابتداً د سلام به ده مبارک ورته کوله تعظیماً لامرالله ورغماً علی انوف روسا قریش. او عطاً وایي چي دا آیت په شان کي د ابي بکر، عمر، عثمان علي، بلال، سالم، ابو عبیدة، مصعب بن عمیر، حمزه، جعفر، عثمان بن مظعون، عمار بن یاسر، ارقم بن الارقم او ابي سلمة رضي الله تعالی علیهم اجمعین چي دا کسان چي به اجتماعاً یا انفراداً و علیه الصلوٰة والسلام ته راغله ابتداً د سلام به ده مبارک ورته کوله.

فائده: "اذا" ظرف دی متضمن معنا لره د شرط دی، او "یؤمنون" لپاره د استحضار د حالت ماضیه دی، او "بآیاتنا" متعلق دی په یؤمنون سره، او "فقل" جواب د "اذا" دی او "سلام علیکم" جمله اسمیه ده منصوب محلاً مقوله د قل ده.

سوال: سلام خو نکره مخصصه نه ده نو ابتدائیت یې څرنګه صحیح دی، ولي نحات وایي چي مبتدأ به یا معرفه وي او یا نکره مخصصه؟

ځواب: جامي په شرح کي د کافیي وایي چي "سلام" نکره مخصصه ده والمعنی سلام من قبلي علیکم وان شئت مزید التفصیل فارجع الی شرح عبدالرحمن الجامي.

پوښتنه: د سلام طریقه مسنونه خو داده چي جائي به ابتدأ بالسلام کوي، نو علیه الصلوٰة والسلام د څه حکمت لپاره خدای پاک امر کړی په ابتدأ سره د سلام ودوی ته؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: تا چي د علیه الصلوٰة والسلام له خوا پر دوی رعب او عظمت شان ده ده مبارک سام پر دوی پرې نه وځي، هذا هو السلام في الدنیا من جانب سید المرسلین علیهم، واما في الآخرة کتسلیم الملائکة علی المؤمنین عند دخول الجنة بقولهم سلام علیکم طبتم فادخلوها خالدین. وعند الاستقرار في الجنة فیبتدئ علی المؤمنین رب العالمین بالسلام بقوله "سلام قولاً من رب رحیم"

پوه سه: چي د سلام معنا سلامتیا ده له آفاتو څخه د دنیا او آخرت یا اخبارا او انشا. فتفکر ایها العزیز.

كَتَبَ رَبُّكُمْ عَلَىٰ نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۖ أَنَّهُ مَنْ عَمِلَ مِنْكُمْ سُوءًا بِجَهَالَةٍ

په حدیث شریف کي راغلي دي چي یو څو کسه و علیه الصلوٰة والسلام ته راغلله او ده مبارک ته یې وویل چي زموږ څخه ډېر گنهونه سوي دي، نو موږ ته د بخښي لار سته، نو دا آیت نازل سو. او معنا د آیت داده چي قضاً کړی دی او واجب کړی دی ده پر خپل ذات مقدسه لا بالوجوب الشرعي ولا بالوجوب العقلي بلکي پر طریقه د تفضل او احسان او دا وجوب احساني ددې سره منافي نه دی چي خدای پاک خو فاعل مختار دی فکیف الوجوب، ولي چي د وجوب معنی تینگ والی د احسان دی.

پوه سه: چي "انه" بدل دی له "رحمت" څخه والتقدیر کتب علی نفسه انه من عمل الخ. والضمیر للشان یعني چي شان دادی که څوک عمل وکړي د بد کار یعني معصیت او "بجهالة" حال دی له فاعل څخه د "عمل" ای عمل متلبساً بجهالة. یا حقیقةً جاهل وي یعني په دې نه پوهېږي چي پر دې کار به عقوبت د خدای ﷻ له خوا وي. او یا حکماً جاهل وي یعني عالم په بد والي د کار خو خبر وي بیاهم هغه بد کار کوي فان العالم بالسوء والجاهل بالسوء سواً، بلکي جاهل خو کېدای سي چي معذور وگڼل سي. ولهذا ورد في الحدیث الصحیح للجاهل ویل وللعالم سبعین ویلاً.

ثُمَّ تَابَ مِنْ بَعْدِهِ وَأَصْلَحَ فَأَنَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿٥٤﴾

بیا رجوع وکړه وروسته تر عمل د گناه او اصلاح د عمل وکړي یعني چي بیا نو عود و هغې گناه ته ونه کړي وقیل بالابتهال والاستغفار، نو په تحقیق خدای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غفور او بخښونکی د هغې ګناه دی او مهربانه دی چې په ځای کې د هغې ګناه حسنه نوشته کړي، قال الشاعر.

درمندان گناه را روز وشب شربتی بهترز استغفار نیست
آرزو مندان وصل یار را چاره غیر از نالها وزار نیست

ومعنی "زار" العجز والانکسار.

پوه سه: چې کلمه د "من" مبتدأ ده او جمله د "فانه غفور رحیم" خبر دی د مبتدأ محذوفې یعنې فامره ان الله غفور رحیم، او ضمیر د فامره راجع ومن ته دی او دا ټول لو په جمله خبر د ان ده او ضمیر شان یې اسم دی.

مناجات

الهي عبدک العاصي اتاکا مقراً بالذنوب وقد دعاکا
فان ترحم فانت لذاک اهل وان تطرد فمن یرحم سواکا

پوه سه: چې الف د دعاکا او سواکا له اشباع څخه د ماقبل پیدا سو، او ضرورت یې وزن شعري دی فتامل.

وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٥٥﴾

دغه ډول چې موږ تفصیل په دې سورت وکړی موږ تفصیل د آیاتو د قرآن کوو په داسې حق سره که کافران ځندي منکره دي.

پوه سه: چې له بعض قراؤ سبعه وو څخه "لیستبین" په یا د غیبت وایي او فاعل یې سبیل بولي چې لفظ مذکر او مؤنث دواړه مستعملیږي، او دا جمله عطف ده پر مقدر والتقدیر لیظهر الصراط المستقیم ولیستبین سبیل المجرمین، او بعض قرأ "لتستبین" په تا د خطاب وایي چې و علیه الصلوٰة والسلام ته دی، یعنې چې واضح کړی یا محمد سبیل المجرمین والسبیل علی هذا التقدیر منصوب علی المفعولیة هذا ماقاله المظهري رحمه الله، او صاحب د روح البیان یې داسې ترجمه کوي ای تظهر یعنې چې ښکاره سي سبیل المجرمین یعنې چې خلګ پرهېز ځنې وکړي، او دی وایي چې سبیل مرفوع دی د "تستبین" فاعل دی، ولې چې سبیل مذکر دی په لغت کې د تمیم، او مؤنث دی

په لغت کې د حجازيين، او دا استبانة ددې لپاره دی ليهلک من هلک عن بينة ويحيي من حي عن بينة.

درویش وايي: چې والله درصاحب روح البيان. حيث اورد صيغة لتستبين على ماذكره اكثر القرا بالتا او فاعل يې سبيل گرځولى دی على طريقة اهل الحجاز او لتستبين معطوف دی پر مقدر يعني ليظهر الصراط المستقيم ولتستبين آه. او روح البيان وخطاب ته د عليه الصلوة والسلام او ونصب د سبيل هيڅ تعرض نه دی کړی.

درویش وايي: چې تفسير د روح البيان احری و اولى واليق بالقبول. لانه خال عن تشويش اذهان المتعلمين.

قُلْ إِنِّي نُهِيتُ أَنْ أَعْبُدَ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۚ قُل لَّا أَتَّبِعُ أَهْوَاءَكُمْ ۙ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾

ته ورته ووايه وکفارو ته د مکې يعني لپاره د قطع د طمع ددوی چې زه نهي سوی يم يعني له طرفه څخه د خدای ﷻ چې زه عبادت وکړم د هغو بتانو چې تاسي عبادت کوئ ما سوی له خدای ﷻ څخه او ته ورته ووايه چې زه متابعت نه کوم ستاسي د خواهشاتو زائغه وو چې له حق څخه لېري دي يعني عبادة الاصنام. نو زه به په تحقيق گمراه يم که داغسي وکړم او د مهتدين له ډلي به نه يم سره ددې چې زه خدای پاک را استولی يم چې زه کفار وهدايت ته راوغوارم نو زه به څرنگه ددوی لار خپله کوم او عبادت د بتانو به کوم، نو ستاسي طمع خيال‌ست ومحال است وجنون.

قُلْ إِنِّي عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّي وَكَذَّبْتُم بِهِ ۚ مَا عِندِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ

ته ورته ووايه (کفارو ته) د مکې په تحقيق زه هم پر بيان حق يم له جانبه څخه د رب زما او بيان حق دادی انه لامعبود سواه.

پوه سه: چې "من ربي" صفت دی د "بينة" ای بينة کائنة من ربي او تاسي کفار تکذيب کوئ د هغې بينة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ضمير د "به" راجع دى و "بينة" ته په اعتبار د معنى اى البيان الحق او يا په تاويل د برهان تكذيب يې دادى چي تاسي خداى پاک لره شريكان واياست چي دا خلاف ده له بيان حق څخه، نشته زما په نېز يعني زما په قدرت كي هغه عذاب چي تاسي يې ژر غواړئ، يعني هغه عذاب د خداى ﷻ په مشيت پوري مربوط دى، قريشو به ويل ان كان هذا هو الحق من عندك فامطر علينا حجارة من السماء او آتينا بعذاب اليم، يعني كه دغه دين چي محمد يې دعوه كوي او موږ يې نه منو وهو قول لا اله الا الله نو موږ ته دبري د اسمان له خوا راوه ورو ئ او يا يو بل عذاب اليم راكړه.

إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ ۝

نه دى حكم د تعجيل د عذاب يا د تاخير د عذاب مگر خداى پاک لره يعني د خداى ﷻ په قدرت او اراده كي د خداى ﷻ حق بيان كوئ او خداى پاک ښه د فيصله كوونكو دى، لانه لا يظلم الناس مثقال ذرة بل يعطي لكل مستحق حقه من الثواب والعقاب.

قُلْ لَوْ أَنَّ عِنْدِي مَا تَسْتَعْجِلُونَ بِهِ لَقُضِيَ الْأَمْرُ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِالظَّالِمِينَ ۝

ته ورته ووايه يعني كه ماته دا ثابته سي يعني كه زما قدرت او توان كي سي هغه شى چي تاسي يې ژر غواړئ هغه شى يعني من العذاب كما مر عنقريب نو به فيصله سوې واى د كار زما او ستاسي تر منځ يعني عذاب به نازل سوى واى او تاسي به په عذاب د استيصال هلاک سوي واى او زما او ستاسي تر منځ به منازعه قطع سوې واى، او خداى ﷻ ښه علم لري پر ظالمانو. نو خداى ﷻ برابر له حكمت سره يې هلاكوي.

پوه سه: تر "لو" وروسته ثبت مقدر دى چي كلمه د "لو" فعل غواړي.

پوه سه: چي اسم ظاهر د "ظالمين" يې په ځاى كي د ضمير يعني "بكم" تنبيهاً على ظلمهم العظيم حيث انكروا عذاب الجبار المتين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې دا سوال د استعجال د عذاب دوی استهزاً کاوه حتی نضر بن الحارث پر حطیم ودرېدی او هغه مذکوره سوال د استعجال العذاب يې وکړی وقد سبق عنقريب.

حکایت: یوه ډله له فقهاؤ څخه د یمن وشیخ کبیر ابي الغيث قدس سره ته دده د علم د امتحان لپاره چې دوی وشیخ مذکور ته رانژدې سوه، شیخ مذکور ورته وویل مرحبا بعبيد عبدي چونکه دا خبره په ظاهره کفر وه، نو دوی دا خبره و امام الفريقين يعني امام العلم الظاهر والباطن العالم العارف بالله ابا الذبيح اسماعيل بن محمد الحضرمي رحمه الله ته په طور د شکایت ورسول، نو شیخ مذکور وخندل او ورته وه يې ویل شيخ ابو الغيث رحمه الله تاسي ته ډېره ښه ستاسي د حال او دده د حال موافق خبره کړې ده. او دوی ته يې وویل انتم عبيد الهوٰی، تاسي د خپلو نفسانيه خواهشاتو بندگان یاست، والهوٰی عبده او خواهش نفسي د ابو الغيث رحمه الله بنده يعني تابع ده.

فائده: له هوٰی څخه سړی په تقوٰی سره خلاصېږي وبس. مثنوي وايي.

چونکه تقوٰی بست دودست هوا   حق کشاید هر دودست عقل را
پس حواس بیره محکوم توشد   چون خرد سالار ومخدوم توشد

وَعِندَهُۥ مَفَاتِحُ ٱلۡغَيۡبِ لَا يَعۡلَمُهَآ إِلَّا هُوَۚ

او په نېز د خدای جل جلاله دي خزانې د غیب یا کلیانې د غیب، او مراد په مفاتح سره علوم د خدای جل جلاله دي چې پر ټولو شیانو يې لري.

پوه سه: چې اطلاق د مفاتح پر علومو د خدای تشبیهاً دي، او مراد له غیب څخه هغه شیان دي چې پر هغه باندې عقلي یا شرعي دليل نه وي لکه تفاصيل د قیامت د ورځې، او داغه رنګه د غیب له قبیلې څخه دی دا چې باران به وسي او که نه او کله به وسي، او دغه رنګه د غیب له ډلې څخه دی چې زه به صبا کوم کوم کارونه وکړم او دغه رنګه د غیب له قسمه څخه دی چې زه به په کومه مځکه کې مرم، او یا موجود شی وي او کشف د علم يې خدای جل جلاله پر هيڅ چا نه وي کړی لکه مافي الارحام من انه ذکر او انثى سعيد او شقي تام الاعضا او ناقصها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الی غیر ذالک، ومعنی عنده مفاتح الغیب احاطة علمه بجمیع ذالک تفصیلاً لکه خدای ﷻ ته چي حاضر وي.

فائده: غیب په دغو شیانو کي ذکر سول حصر نه دی بلکي هغه شیان چي تر اوسه عالم الوجود ته نه وي راوتلي لکه زر کاله دمخه طیاره قسم قسم اتم بم قسم قسم آلات د جنگ رقم رقم چي په دا اوس کلو کي ښکاره سوي یا وروسته تر نني زماني یعني سنه ۱۴۲۷ ھ بیا تر نفخ الصور پوري عالم الوجود ته راځي.

پوه سه: چي "مفاتح" که جمع د مفتح سي بفتح المیم، نو ځای ته د خزانې وایي او که جمع د مفتح سي بکسر المیم، نو په معنی کلي ده چي مفتاح يې هم بولي چي قلف په خلاصوي قوله لایعلمها چي نه دی په خبر په هغو مفاتح بیله رب ﷻ لانه تعالی عالم الغیب والشهادة.

وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ

او خدای ﷻ په هغو شیانو چي په وچه کي حیوانات والنباتات والجمادات بجمیع انواعها المختلفة المختلفة الآثار، او چي په دریاب کي دي من حیوانات البحر کالسمک بجمیع انواعه والدرر والجواهرات وغیرها.

پوه سه: چي دا جمله یعني "ویعلم آه" خدای ﷻ ته علم د مشاهداتو ثابتوي، نو دا جمله عطف ده پر هغه جمله چي علم د مغیبات يې خدای ﷻ ثابت کړی دی

وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلَّا يَعْلَمُهَا

درویش وایي: چي دا مبالغه په احاطې د علم د خدای ﷻ پر جزئیاتو باندي که څه هم له ماقبل څخه معلومه سوه، او کلمه د "من" لپاره د استغراق د نفي ده. والمعنی نه راشوه کېږي یو بلګ یعني د درختي چي وي مګر نه خدای ﷻ په خبر دی قبل السقوط وبعده.

وَلَا حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الْأَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَلَا يَابِسٍ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ ﴿٥٩﴾

او نه یوه دانه سته یعني د یو شي تخم په تاریکیو کي د مځکي یعني چي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مځکه کي پټ وي په هره اندازه چي پټ وي او نه لوند شی سته او نه وچ.

پوه سه: چي ابن عباس ﷺ وایي چي له رطب څخه اوبه مراد دي او د یابس څخه بیابان مراد دی. او بعض وایي چي میت مراد دی. او صحیح داده چي هر شی مراد دی.

پوه سه: چي "حبة" سره د معطوفاتو عطف دی پر "ورقة" باندي مناسبت د عطف یې دادی چي ټول په لایعلمها الا الله کي سره شریکان دي. مګر نه په کتاب مبین کي ثابت دي له کتاب مبین څخه وایي چي لوح محفوظ مراد دی او بعض وایي چي علم د خدای ﷻ مراد دی.

درویش وایي: والاول انسب بلفظ الکتاب لان الاکثر ارادة في القرآن الکریم من الکتاب المبین هو اللوح المحفوظ کما لایخفی.

فائده: که له "کتاب مبین" څخه علم د خدای ﷻ مراد سي، نو دا استثناً بدل کل عن الکل ده له استثناً اول څخه. او که لوح محفوظ مراد سي، نو بیا دا استثناً بدل اشتمال ده له اولی څخه.

وَهُوَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُم بِاللَّيْلِ وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُم بِالنَّهَارِ

او خدای ﷻ هغه ذات مقتدر دی چي ستاسي روح قبض کوي، د شپې له خوا یعني په سبب د خوب فان النوم اخو الموت. او خدای ﷻ خبر دی په هغه شي چي تاسي یې کسب کوئ په اندامو سره چي په عربي یې جوارح بولي د ورځي.

درویش وایي: چي چونکه اکثر خوبونه د شپې وي، نو ځکه یې تخصیص د لیل وکړی ورنه د ورځ خوب هم دغسي دی.

درویش وایي: چي تخصیص د کسب بالجوارح سره هم په اعتبار د غالب دی ورنه بعض خلګ د شپې له خوا کسب کونکي سته.

ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ فِيهِ

بیا مو بعث کوي په ورځ کي یعني ویښوي مو په ورځ کي.

درویش وایي: چي په روح البیان کي وایي چي "بعثکم" عطف دی پر "یتوفاکم" باندي او دا جمله یعني "ویعلم ماجرحتم" چي یې په منځ کي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معطوف او معطوف علیه راوړی ددې لپاره چې په دې بعث کې لوی احسان د خدای ﷻ دی ددوی سره چې تنبیه یې وکړه پر دې باندې چې خدای ﷻ سره ددې چې تاسې به څه کسب کوئ د سیئاتو چې تاسې راویښ کړې چې دا علم د خدای ﷻ خو موجب ددې و چې هغه باللیل باندې پرې ایښې وای بلکې باید هلاک کړې وای بالکلیة لکن بیا یې هم تاسې ته مهلت د حیوة یعنې د ویښې درکړی کما ینبغی، کلمة ثم التی لتراخي والمهلت انتهی.

درویش وایي: چې دا بیان د روح البیان د هر یه زره پوري دی، لکن مظهري په تفسیر د "ثم" یبعثکم فیه داسې عبارت ویلی دی فیه تقدیم وتاخیر آه، دا لفظ د مظهري رحمه الله هر څه چې یې مراد وي ناز یبا ده د قرآن په تفسیر کې، فافهم والله تعالی اعلم بمراده في کتابه.

لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى

مفسران د "یقضی" دوې ترجمې کوي، بعض وایي چې تر هغو پورې دا بعث نشور جاري وي چې وځنډول هغه اجل چې مسمی او معین دی چې عبارت له اجل څخه د مرګ دی چې تعین په وخت کې د هغه سوی ؤ چې دی د مور په نس کې بلکې په ازل کړی سوی، او بعض مفسران وایي چې دا بعث او نشور به جاري وي ترڅو چې ورسول سي اجل معین للموت، والمآل واحد "اجل" مدة معینه ته وایي.

ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

بیا وروسته تر مرګ رجوع ستاسې د خدای ﷻ ته ده یعنې الی حکمه تعالی یعنې په حال د قبر کې لانه ورد ان القبر روضة من ریاض الجنة او حفرة من حفرات النیران. وروسته بیا یعني بعد النشور یوم القیامة په هغه شي سره به مو خبر کړې یعنې عمل سره چې تاسې عمل د هغه کاوه یعنې في الدنیا من الکفر والاسلام والمعاصي والطاعات، نو کلمه د ما موصوله ده او عائد یې محذوف دی کما اشرنا الیه في الترجمة، نو وروسته تر انبا به بیا مجازات درکړه سي، اما الجنة واما النار.

پوه سه: چې په دې آیتو خدای ﷻ تنبیه وکړه پر خپل کمال قدرت چې هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذات چي قادر وي پر بعث بعد النوم هغه قادر دی پر بعث الموت هم لان النوم اخو الموت لكن دا قدر فرق يې سته چي په بعث بعد النوم كي لار د عمل د اسلام او طاعت او توبې خلاصه ده او وروسته تر بعث بعد الموت دا ټولي دروازې بندې يږي.

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ وَ يُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً

او خدای ﷻ غالب دی په فوقيت د قدرت نه په فوقيت د مكان پر بندګانو خپل او خدای ﷻ مسلط كړي دي پر تاسي باندي حافظين د عملو ستاسي يعني ملكي چي دوی ساتي او نوشته كوي په عملنامو كي ستاسي او دا عملنامې بيا تاسي ته په ورځ د قيامت خلاصي دركول كېږي په حضور كي د لوی مجمعې د قيامت، مطيع مسلمان ته به په راسته لاس او عاصي بلا توبة مسلمان ته به چپه لاس او كافر ته د شا له خوا يعني چي لاس يې تر څيګرو باسي او عمل وركړي كما ورد في الحديث النبوي ﷺ.

حَتّٰىٓ اِذَا جَآءَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُوْنَ ﴿٦١﴾

پوه سه: چي "حتّٰى" پای او غايت د ارسال الحفظة يعني دغه وخت نو ارسال الحفظة قطع سي يعني هغه وخت چي راسي ويوه ته ستاسي مرګ يعني زكندن، نو ده ته راسي د قبض روح لپاره زموږ رسولان چي مراد څني اعوان د ملك الموت دي يعني ملكې او دغه رسل تفريط او تاخير نه كوي په قبض الروح كي وروسته تر امر د خدای ﷻ.

ددې مقام تحقيق: پوه سه! چي په دې آيت كي "توفته رسلنا" راغلي او په بل آيت كي "يتوفكم ملك الموت" راغلي دی او په بل آيت كي "الله يتوفى الانفس" امام قرطبي رحمه الله چي قديم لوی تفسير يې د قرآن كريم تصنيف كړی دی وايي چي ددې آيتو تر منځ منافات نسته، وخدای ﷻ ته يې نسبت له دې جهته دی چي فاعل حقيقي د هر كار خدای ﷻ دی او ملك الموت عني عزرائيل ته يې نسبت له دې سببه دی چي دی حاكم اعلى دی د محكمه د قبض الارواح او دده تر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکم لاندي په لکو بلکې بالا ملکي د قبض الارواح کار کوي.

درویش وایي: چې د قبض الارواح په باره کې ډېر احادیث صحیحه راغلي دي، په بخاري او مسلم وغیرهما کې چې بیان د هغو ټولو به ډېر ګران تمام سي.

درویش وایي: لکه چې دوی تفریط او تاخیر نه سئ کولای تر امر د خدای ﷻ وروسته دغه رنګه افراط هم نه سي کولای یعنې چې تر امر د خدای ﷻ دمخه دي د چا روح قبض کړي.

فوائد: په حدیث صحیح کې راغلي دي چې خدای ﷻ پر هر سړي څلور ملکي مقرري کړي دي، دوې د ورځې د کتابة الاعمال لپاره او دوې د شپې د حفظ الاعمال لپاره. کاتب الحسنات ملکه پر راسته اوږه ده او کاتب السیئات پر چپه اوږه او صاحب الیمین ملکه امیر ده پر صاحب الیسار باندي. نو که بنده نېکي وکړي صاحب الیمین یې یو په لس نوشته کوي بلا مشورة صاحب الیسار، او که بنده ګناه وکړي او صاحب الیسار یې د نوشتې اراده وکړي صاحب الیمین ورته ووایي امسک یعنې ته یې اوس مه نوشته کوه تر شپږ یا تر اووه ساعته صبر ورته وکړه، که بنده عاصي توبه له هغه څخه وکړي او پښېماني یې ښکاره کړه او له خدایه یې مغفرت وغوښتی لم یکتب شیئاً، او که یې تر شپږ اووه ساعاته وروسته یې استغفار ونه غوښتی نو کاتب الیسار یوه ګناه نوشته کړي.

درویش وایي: حسین کاشفي رحمه الله مصنف د تفسیر حسیني داسې ویلي دي.

نه اند یشی زان روزیکه دروی	جګرها خون ودلها ریش بینی
د هندت نامه اعمال وګو یند	بخوان تاکردهای خویش بینی
مکن ورمیکنی باری دران کوش	که اندر نامه نیکی بیش بینی

وفي حدیث اخرجه الطبراني وابو نعیم عن الحارث ابن الخزرج رضي الله عنه چې رسول الله ﷺ وملک الموت ته چې وسر ته د یو انصاري ناجوړي ناست ؤ وویل یا ملک الموت څه نرمي وکړه زما د صاحب سره فانه مؤمن، ملک الموت ورته وویل طب نفساً وقر عیناً خوشحاله اوسه از روی نفس یعنې زړه او خونک اوسه از روی سترګي.

درویش وایي: چې علماً وایي چې قرة العین کنایه ده له ډېري خوشحالي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښځه او په دې پوه سه چې زه د هر مؤمن سره شفقت او رفق او نرمي لرم. واعلم يا محمد ﷺ زه چي د بني آدم روح قبض کوم او يو له قريبانو ښځه د هغه بغاري کړي زه په هغه سراى کي ودريږم او ووايم يا هذا الصارخ يعني بغاري وهونکي قسم په خداى دى ما ظلم د تاسي سره نه دى کړى ولا سبقنا اجله او نه د مخه تر اجله ورته راغلى يم "وما لنا في قبضه من ذنب" او ما لره نسته په قبض کي روح دده. نو که تاسي راضي اوسئ په دې کار چي خداى ﷻ وکړى يعني ما په امر د خداى ﷻ وکړى تاسي ته به خداى پاک ثوابونه درکړي او که تاسي د خپل قريب په قبض الروح ناراض ياست، نو تاسي به ګناه ګاره سئ. او ملک الموت ووايي "ان لنا عندکم عودةً بعد عودةٍ" ملک الملک ورته ووايي بيا راځم ستاسي عودة وروسته تر بل عودة يعني د نورو انسانانو د قبض روح لپاره چي ستاسي سره پاته دي الى اخير الحديث.

ثُمَّ رُدُّوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ ٱلْحَقِّ

بيا نو رد کړل سي دوى ومالک ته ددوى چي حق دى.

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر "توفته الملائكة" ومعنى الى الله الى حكمه وجزائه في موقف الحساب يوم القيامة.

فائده: دا رد پر خپل ظاهر نه دى ولي خداى ﷻ پاک دى له مکان او جهت ښځه المتوهمين من لفظ ردوا الى الله بلکي معنا د آيت داده جعلهم منقادين لحكم الله مطيعين قضائه بحيث يساقون الى حيث لا مالك ولا حاكم فيه سواه. د مولا معنا هم داده چي مالک د امور ددوى على الاطلاق.

سوال: په بل آيت کي راغلي دي وان الكافرين لا مولى لهم؟

خواب: دلته مولا په معنا د ناصر دى فلا تناقض بين الآيتين لان المولى في هذه الآيت بمعنى مالك الامور وهو تعالى مالك امور الكفرة في يوم القيامة وفي الآية الاخرى بمعنى الناصر فشتان بينهما. ومعنى الحق الذي لا يقضى بين العباد الا بالعدل. نو حق صفت د مولا دى.

درويش وايي: چي امام مظهري رحمه الله وايي چي يا له رد ښځه الى مولاهم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الحق رد ددوی او عرض و موقف ته د حساب یوم القیامة کما یدل علیه کلمة ثم التي للتراخي وهذا التوجیه صحیح موافق لما قاله اکثر المفسرین. وروسته مظهري ددې آیت یوه بله توجیه راوړې ده که څه هم صحیح في نفسه ده لکن ددې سره هیڅ تعلق او مناسبت نه لري کما لایخفی علی من طالع تفسیره.

أَلَا لَهُ الْحُكْمُ وَهُوَ أَسْرَعُ الْحَاسِبِينَ ﴿٦٢﴾

آګاه اوسه خاص خدای ﷻ لره دي لالغیره او خدای پاک ژر حساب کونکی دی. یعني سره سره د دبر والي د انس او جن چي خدای ﷻ حساب ورسره کوي، ولي چي خدای پاک نه مشغوله کوي د یوه چا له حساب څخه د بل چا حساب، وفي الحدیث یحاسب الخلق کلهم في قدر نصف النهار من ایام الدنیا لانه تعالی لایتکلم بالة اللسان ولا یحتاج الی فکرة وروئة، او معناد محاسبة داده چي هغه شی چي هغه سړی یې مستحق وي په سبب د عمل في الدنیا من ثواب الخبة او عقاب الله.

فائده: حشر او حساب پر مخه د دغي موجودي مځکي نه دي بلکې داسي مځکه خندي پیدا کوي چي تکه سپینه به وي لکه سپین زر چي پر هغې مځکي به نه وینه توی سوې وي، او نه به هیڅ چا ظلم پر کړی وي کذا في روح البیان.

درویش وایي: چي داسي مځکه پیدا کول او پر هغې حساب کول و قدرت د خدای ﷻ لکه مشت نمونه خروار ده، ان الله علی کل شئ اراده قدیر والانکار عن ذالک کفر بواح ای ظاهر.

قُلْ مَنْ يُنَجِّيكُم مِّن ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ تَدْعُونَهُ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً

ته ووایه اې محمده اهل مکه ته څوک دی چي نجات درکړي تاسي ته له تاریکیو څخه د مځکي یعني بیابان او دریاب چي تاسي خواست کوئ وهغه ته د نجات په عاجزۍ سره.

یوه سه: چي تضرع تذلل او مبالغه ده په دعا کي یعني په علانیه سره بقرینة التقابل او په پټه سره کما هو سُنة الدعا والذکر.

قرآت: ینجیکم "بعض له قرا سبعه وو څخه په تشدید د جیم وایي له بابه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفعيل، او بعض قرأ يې په تخفيف د جيم وايي من باب الافعال او لفظ د خفية به قرأ په كسره د خا وايي او بعض قرأ يې په ضمه د خا وايي وهما لغتان معناهما واحد.

پوه سه: چې مراد له "ظلمات" څخه د بر او بحر ظاهري معنا نه ده باتفاق المفسرين عليهم رحمة رب العالمين، بلكې مراد هغه سختي ده چې په بر او بحر كې مسافرانو ته پېښېږي، وجه الاستعارة د ظلمات د لفظ وسختيو ته دا ده چې دواړه سړی په بېره او هول كې اچوي.

د مشركانو دا عادت و چې په بر كې به يې سفر كاوه يا به لار ځني وركه سوه او يا به باران پر شروع سو چې تالندي او برېښناوي به ورسره وې او د تكې بېره به لاهم وه، او يا به د درياب په سفر كې كښتۍ طوفاني سوله او مخالف بادونه به راغله او د كښتۍ د غرقېدو بېره به هم وه، نو دوی به "دعوا الله مخلصين له الدين" يعني خواست او زارۍ به يې يوازې وخدای ﷻ ته كوله هغه خپل معبودان بتان به يې هېر كړه حتٰى چې په كښتۍ كې به د دوی سره بت ورسره و هغه به يې درياب ته وغورځاوه، ولې چې دوی په دې پوهېدله چې بتان د برې دې چاته يې نفع او ضرر نه رسېږي.

پوښتنه: چې په دې پوهېدله نو يې د هغو عبادت ولې كاوه؟

ځواب: عبادت يې په تقليد د پلرو او نيكه ګانو كاوه، كما يدل عليه قولهم انا وجدنا ابائنا كذالك يفعلون.

الاعراب: تضرعاً مصدر دی په معنا د فاعل دی او حال له فاعل څخه د ضمير تدعون اى متفرعين، وكذالك خفية اى مسرين في الدعاً. او دا ټوله جمله حال ده له مفعول څخه د "ينجيكم" اى حال كونكم تدعونه آه.

فائده: اسرار په دعا او ذكر سره ابعد دی له ريا څخه فلهذا عدوه من سنن الدعا والذكر عند النقشبنديين، په حديث شريف كې راغلي دي چې په بعض اسفارو كې د عليه الصلوٰة والسلام بعض اصحابو الله اكبر په جهر وايه، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل انكم لاتدعون اصم ولا غائباً انه معكم، رسول الله ﷺ وويل چې تاسي بلنه او دعا نه كوئ وكانه ته او نه غائب ته خدای ﷻ ستاسي ملګری دی يعني په علم سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَىِٕنْ اَنْجٰىنَا مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ۝

پوه سه: چې دا آیت د "تدعونه" بیان دی ای تقولون که تا نجات راکړی یا خدایه موږ ته هذه اشارة الی شدة وظلمة. نو هر آئینه موږ گرځوو د شکر ویونکو څخه ستا.

پوه سه: چې شکر معرفه ده نعمت سره د حق ادا کولو د نعمت یعني چې په رضا کي د منعم حقیقي یې صرف کړي لکن قال الله تعالی وقلیل من عبادي الشکور.

قُلِ اللّٰهُ يُنَجِّيْكُمْ مِّنْهَا وَمِنْ كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ اَنْتُمْ تُشْرِكُوْنَ۝

ته ورتهووایه اې محمد چې الله ﷻ نجات درکوي وتاسي ته د هغه ظلمت او شدت څخه او له هر سخت غم څخه چې د کرب معنا ده وروسته تر نجات تاسي شرک کوئ یعني بیرته عود وشرک ته کوئ، او وفا په وعده نه کوئ او په دې هم تاسي پوه سوا ست چې نجات موږ ته خدای ﷻ راکړی او بیا هم بتان په عبادت کي د خدای ﷻ شریک بولئ او په دې هم تاسي پوهېږئ چې بتان لاتنفع ولا تضر، ولي که نه پوهبدای نو ولي مو د شدت او ظلمت په وخت کي هغو ته درخواست نه کاوه.

پوښتنه: مشرکانو خو د شکر وعده کړې وه نو د هغې وعدې موافق به لاتشکرون نه وای، او خدای ﷻ په ځای د هغه تشرکون ووایه؟

ځواب: نعم! لکن په تشرکون کي په ځای کي د تشکرون کمال توبیخ د مشرکانو دی.

پوه سه: چې کلمه د "ثم" لپاره د تراخي في الزمان نه ده بلکې د کمال بعد بین الاحسان من الله والاشراک من العبد، بیت.

بنده را هر وقت چاره از الله نیست
خدای را هیچ وقت احتیاج بشکر آنان نیست

قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلٰۤى اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ اَوْ مِنْ تَحْتِ اَرْجُلِكُمْ

ته ورته ووایه مشرکانو ته د مکې چې هغه یعني خدای ﷻ قادر دی چې پر تاسي عذاب راواستوي له لوړې خوا یعني د اسمانو له خوا لکه پر قوم نوح چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې طوفان راواستاوه، او پر قوم لوط يې د ډبرو باران وكړى او پر اصحاب الفيل باندې يې د ابابيلو د ډبرو باران وكړى، او يا راواستوي عذاب تر پښو لاندې ستاسي، يعني د مخكې له خوا لكه اغراق د فرعون او خسف د قارون. او دغه رنګه لكه له اسمانه څخه چې طوفان نوح شروع كړي د مخكې له خواهم اوبه را شروع سوې، او ابن عباس ﷺ او مجاهد ﷺ وايي چې مراد له من فوقكم باچهان ظالمان دي او د من تحت ارجلكم څخه مراد مريان دي نافرمانه. او بعض كسان وايي چې من فوقكم حبس المطر مراد دى. او له من تحت ارجلكم حبس النباتات مراد دى، وقيل غير ذالك.

اَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَاْسَ بَعْضٍ

او يا تاسي سره ګډوډ متفرق الرائ ډلي وګرځوي چې د هري ډلي جلا جلا مذهب او مسلک وي چې اخير الامر دا ګډوډي مفضي وقتال او جنګ ته وګرځي او خداى ﷻ وڅکي يعني ورسوي بعضو ته ستاسي عذاب د بعض آخر چې مراد څني شدت د جنګ يعني يو له بله به سره وژنئ. له جابر بن عبد الله ﷺ څخه روايت دى چې دا آيت چې نازل سو چې عذاباً من فوقكم پکښې مذكور ؤ رسول الله ﷺ وويل اعوذ بوجهك الكريم، او چې من تحت ارجلكم ذكر سو عليه الصلوٰة والسلام وويل اعوذ بوجهك الكريم او چې يلبسكم آه وويل سو رسول الله ﷺ وويل هذا اهون او هذا اليسر يعني دا آسانه دى. والحديث المذكور رواه البخاري وغيره ايضاً.

فائده: ددې اخيري آيت مصداق وروسته تر پيغمبر ﷺ څه دېرش كاله ښكاره سو، حين قاتل المؤمنون فيما بينهم في واقعة الجمل ووقعة صفين وغير ذالك وتفصيل هذا القصص في الآحاديث الشريفة په حديث شريف كې چې سعد بن ابي وقاص يې روايت كړى دى راغلي دي "قال اقبلنا مع رسول الله ﷺ حتى مررنا على مسجد بني معاوية (سعد ﷺ وايي چې موږ راروان ؤ د عليه الصلوٰة والسلام سره حتى چې موږ تېر بدلو پر مسجد د بني معاوية) فدخل فصلى ركعتين فصلينا معه فناجى ربه طويلاً (نو عليه الصلوٰة والسلام داخل سو دغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسجد ته د بني معاويه ؤ، نو دوه رکعته نفل یې وکړه موږ هم ورسره وکړه نو مناجات او دعا یې وخدای ﷻ ته شروع کړه ډېره زمانه.

سوال: فقها وايي چې نفل په جماعت سره مکروه دي بې له تراويح. نو دوی څرنګه نفل په جماعت سره وکړه؟

ځواب: نفل په جماعت سره بې له تراويح هلته ناجائز دي يعني مکروه دي چې پر سبيل د تداعي يعني د خلکو په رابولنه سره وي لکه بعض جاهل پيران چې مريدانو ته دعوت ورکړي چې مثلاً د برات پر پنځلس راسئ چې د ليلة البرات لمونځ په جماعت وکړو، د عليه الصلوٰة والسلام او د اصحابو ﷺ دغه نفل په جماعت اتفاقي ډول دي دې ته تداعي نه وايي "ثم قال سئلت ربي ثلثة سئالته ان لايهلك امتي بالغرق "يعني لکه فرعونيان" فاعطانيها. وسئالت ربي ان لايهلك امتي بالسنة اى القحط فاعطانيها. وسئالته ان لايجعل بأسهم بينهم فمنعنيها (وروسته عليه الصلوٰة والسلام ووېل چې ما سوال وکړی چې زما امت په غرق مه وژنې نو دا مسئله خدای ﷻ ماته راکړه يعني په غرق يې نه وژنم، بيا مې سوال وکړی ددې چې زما امت په کاختي مه وژنې دا مسئله يې هم ماته راکړه بيا مې سوال وکړی له خدای ﷻ څخه چې زما د امت جنګ په خپل منځ کې مه ګرځوې، نو دا مسئله يې را څخه منع کړه يعني اجابت ددې سوال يې نه وکړی.

درويش وايي: چې دا سبب دی چې د امت محمدي ﷺ تر خپل منځ جنګ سبب د جاه او جلال او مملکت غوښتولو او يا په سبب د اختلاف د مذاهبو به جاري وي الى يوم القيامة، امام بخاري ﷫ هم ورته روايت کړی دی لکن اول سوال يې دا ذکر کړی دی چې مه مسلطوې زما پر امت دښمن من غيرهم چې زما پر امت غالب وګرځي يعني پر ټوله امت دا سوال هم خدای ﷻ ماته راکړی، هغه نور دوه سواله د بخاري د روايت هم هغه دي چې په دمخه حديث کې تېر سوه.

پوه سه: چې درويش قيد د ټوله امت ووايه چې څوک سوال ددې ونه کړي چې امريکايان پر عراق غالبه سوه او هم داغه امريکايان پر افغانستان غالبه سوه او تر اوسه هم دا غلبه جاري ده، وجه الدفع چې دا خو غلبه پر ټوله امت نه ده والله اعلم بالصواب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: علیه الصلوٰة والسلام په وړاندي حدیث کي وویل چي "باسهم بینهم سهل" او سوال د استعاذه یې هم نه وکړی او په دې حدیث کي یې وکړی وجه یې څه ده؟

ځواب: علیه الصلوٰة والسلام چي سهل وباله نظر وعذاب ته من فوتکم او من تحت ارجلکم چي په ایت شریف کي مذکور وه. ولي چي دا دوه عذابونه سبب د استیصال گرځي. او وروسته چي سوال د استعاذې ونه کړی ادباً مع الله عزوجل لکن چونکه رحمت د خدای ﷻ عام ؤ او شفقت د علیه الصلوٰة والسلام عام ؤ. نو ځکه یې په دې نږدې حدیث سوال وکړی مگر د خدای ﷻ له خوا یې اجابت ونه سو کمامر.

انْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ ﴿٦٥﴾

وگوره ته اې محمده ﷺ چي موږ آیات د وعد او وعید په بار بار ذکر کوو دږ لپاره چي دوی یعني کفار مکه وغیرهم به پوه سي یعني حق او باطل به سره وپېژني یا په امید د جنت او یا د بیرې د عذاب النار به ایمان راوړي.

وَكَذَّبَ بِهِ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ۚ قُلْ لَسْتُ عَلَيْكُمْ بِوَكِيلٍ ﴿٦٦﴾

او تکذیب وکړی په قرآن سره اویا په عذاب سره که چېري ایمان نه راوړي ستا قوم یعني کفار د قریشو او حال دادی چي دغه قرآن یا عذاب حق دی یعني قرآن صادق یا عذاب حتماً واقع کېږي که دوی ایمان نه راوړي. ته ورته ووایه چي زه نه یم پر تاسي د خدای ﷻ له جانبه وکیل یعني مسلط د خدای له خوا چي تاسي به زه خامخا مسلمانان کوم. او یا که تاسي منع د اسلام او له قرآن څخه وکړئ نو زه به عذاب پر تاسي نازلوم. ولي چي د رسول شان او کار صرف او صرف تبلیغ او دعوت اسلام ته او بشارت او انذار دی وبس. نور کارونه لکه د عذاب نازلول د خدای پاک په مشیت او قدرت پوري اړه لري.

لِكُلِّ نَبَإٍ مُسْتَقَرٌّ ۚ وَسَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴿٦٧﴾

هري خبري لره د قرآن که عذاب الکفار وي او که بل شی وخت د قرار او وقوع سته په علم کي د خدای ﷻ چي نه دمخه تر میعاد مقرر نازلېږي او نه هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خند یري او ژر دی چي تاسي ته به علم راسيږي په نیز د وقوع د عذاب اما في الدنیا کما في یوم بدر او یا په ورځ د آخرت او هغه بیا تاسي ته فائده نه کوي، سعدي شیرازي قدس سره وايي.

تو پیش از عقوبت درعفو کوب — که سودی ندارد فغان زیرچوب

وَإِذَا رَأَيْتَ الَّذِينَ يَخُوضُونَ فِي آيَاتِنَا فَأَعْرِضْ عَنْهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ

او که تا ولیدل هغه کسان چي بحث بالباطل يې کاوه په آیاتو کي زموږ یعني تکذیب يې کاوه یا يې پسخند واهه په قرآن سره او یا په عیب پر قرآن وایه لکه قریش چي په خپلو مجلسو کي دغه کارونه کول. نو ته اعراض وکړه له دوی څخه یعني ځني ولاړ سه او مه ورسره کښېنه، ولې چي ستا خو له وسه او طاقته نه ده پوره چي دوی منع کړې له دغو کارو څخه نو اوره يې هم مه تر هغو پوري دا غایت ده فاعرض عنهم چي دوی په نورو خبرو ګډ يږي غیر د استهزا بالآیات.

یوه سه: چي ضمیر د غیره خو راجع و آیاتو ته دی په تاویل د قرآن فلا یرد مایتوهم فافهم.

فائده: ددې آیت مضمون د هغه حدیث سره ډېر موافق دی چي علیه الصلوٰة والسلام ویلي دي چي که چا منکر یعني له شرعي شریفي څخه مخالف کار ولیدی نو دي تغییر ورکړي په لاس سره یعني که هغه فاعل دده تر چېلاخه لاندې وي، نو ددې بد کار په کولو سره دې ووهي "فان لم یستطع فبلسانه" که يې تغییر د ید له لاسه نه وه پوره یعني بېګانه سړی وي نو دي په ژبه تغییر ورکړي یعني نصیحت دي ورته وکړي فان لم یستطع فبقلبه وذالک اضعف الایمان" او که يې د ژبي نصیحت هم له وسه نه وي پوره یعني یو جبار ظالم سړی وي، نو په زړه سره دي تغییر ورکړي یعني محبت قلبي دي نه ورسره کوي او دا اضعف ایمان دی. او کما قال رسول الله ﷺ، نو په دې آیت کي چي خدای پاک و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل "فاعرض عنهم" دا د بغض قلبي یو ښاخ دی. او دا اضعف الایمان نه دی بلکي اقوی الایمان دی چي ځني ولاړسي. او اضعف ایمان چي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حدیث شریف کي راغلی دی، هغه هغه دی چي ورسره ناست خو وي لکن په زړه کي یې بد ښني کېږي.

درویش وایي: چي دا د تطبیق د آیت او د حدیث المذکورین او دغه رنګه دفع د بعض خلګو د توهم وکړه سوه.

وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ الشَّيْطَٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَىٰ مَعَ الْقَوْمِ الظَّٰلِمِينَ ﴿٦٨﴾

پوه سه: چي اصل د "اما" ان ما ؤ نون یې په میم سره بدل کړی او بیا په میم کي مدغم کړی او ان شرطیه چي فلا تقعد جزاً او ما زائد دی، والمعنی که چېري هېر کړي شیطان له تا څخه ای محمد ﷺ هغه څه چي ته په امر سوی یې په مخني آیت کي فاعرض عنهم، یعني یو وخت په هېره سره ددغو مستهزئنو بالقرآن سره نو بیا کښېنستی نو وروسته تر ییاد بدلو د امر الاعراض مه کښېنه سره د هغه قوم چي ظالمان دي بلکي ځني ولاړېږه مراد د ظالمانو هم هغه کسان دي چي دوی دین لهو ولعب ګرځاوه یعني پسخند یې په واهه.

پوه سه: که څه هم ځای خو د ضمیر ؤ ای فلا تقعد معهم لکن خدای ﷻ اسم ظاهر په ځای کي د ضمیر راوړی لپاره د تنبیه پر ظلم ددوی چي دوی کفر او انکار او استهزاً په ځای کي تصدیق او د ایمان ګرځولي وه کما هو معنی الظلم ای وضع الشئ في غیر محله، یعني ځای خو د تصدیق او ایمان و دوی په ځای کي د کفر او استهزاً وګرځوله.

پوه سه: چي بغوي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت کړی دی چي هغه فوق الذکر آیت چي نازل سو نو مسلمانانو د علیه الصلوٰة والسلام ته شکایت وکړی چي موږ په څرنګه په مسجد حرام کي کښېنو او یا څرنګه به طواف کوو، ولي چي کفار قریش خو همېشه استهزاً بالقرآن او په دین د اسلام کوي نو دا آیت نازل سو.

وَمَا عَلَى الَّذِينَ يَتَّقُونَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَلَٰكِن ذِكْرَىٰ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ﴿٦٩﴾

نسته پر هغو کسانو چي له خدای ﷻ څخه بېرېږي یعني محمد ﷺ واصحابه رضي الله عنهم له حسابه څخه ددوی یعني المستهزئین بالقرآن من زائده دی لپاره د استغراق د نفي هیڅ شی یعني ګناه، لکن پر متقین دا لازمه ده چي ذکری

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني تذكير او نصيحت به ودغو مستهزئين ته كوي چي دا استهزأ او انكار او كفر پريږدي ددې لپاره چي دوى به هم د خداى ﷻ ويرېږي او ايمان به راوړي.

وَذَرِ الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَعِبًا

پرېږده ته يا محمد يعني معاشرة ام ملاطفه مه ورسره كوه او په استهزأ ددوى پاک مه كوه او زړه په مشغوله كوه. او دا مراد نه دى چي تبليغ او انذار او وعظ مه ورته كوه لان ذالک خلاف فائدة الرسالة.

پوه سه: چي لهو عبارت ده چي د فائده مند شي څخه د سړي نفرت پيدا كوي كنفرة الكفار عن دين الاسلام، او لهو صرف دى نفس له جد، څخه وهزل او مسخروا ته.

وَلَهْوًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا

او دوى غولولي دي ژوند ناقص حتى چي ددوى زعم باطل دادى چي وروسته تر دې ژوند بل ژوند نسته، نو حاصل د آيت دادى چي مراد له موصوله څخه يعني الذين هغه كفار دي چي خوض في آيات الله بالاستهزا كوي. او مراد له دينهم څخه ددوى خپل دين شرک دى چي دوى ته فائده نه كوي نه عاجلاً او نه آجلاً لكه عبادت د بتانو آه.

درويش وايي: چي دا توجيه كه څه هم في نفسه صحيح ده لكن له سياق سره مناسبت نه لري فافهم. او وروسته مظهري ﷫ په قيل سره داسي يو د تعجب وړ تفسير د آيت كړى دى چي مراد له دين څخه د اخترو ورځي دي. نو داسي عبارت يې راوړى دى يعني هر قوم ته خداى ﷻ عيد او اخترونه وركړي دي او كفار په خپلو اخترو كي لهو ولعب كوي الا المسلمون فان في عيدهم الصلوٰة للعيدين والنحر وصدقة الفطر والخطبة آه.

درويش وايي: چي استعيذ بالله من هذا التفسير لهذه الآية.

وَذَكِّرْ بِهِ أَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌ بِمَا كَسَبَتْ

او ته نصيحت كوه په قرآن سره و كافرانو ته "ان تبسل" په حذف د مضاف اى كراهة ان تبسل نفس اى تحبس بما كسبت من المعاصي والسيئات يعني چي ددې كارو په بند كي د اسلام او طاعاتو څخه محبوس پاته نه سي چي هم داد تذكير فائده سنيه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَيْسَ لَهَا مِنْ دُونِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيعٌ

دا جمله صفت د نفس ده يعني هغه نفس چي نسته ده لره ماسوى له خداى ﷻ څخه ولي يعني كومك والا چي عذاب د خداى له ده څخه په زور دفع كړي او نه شفاعت كونكى چي په شفاعت دي عذاب د خداى ﷻ څني ليري كړي، ولي چي شفاعت خو د مسلمانانو لپاره كېږي نه د كافرانو لپاره وثبت ذالك بآيات كثيرة من القرآن وبأحاديث متواترة المعنى وباجماع الامة المرحومة.

فائده: من دون الله" حال دى له "ولي" څخه قدم عليه لان ذي الحال نكرة كما ثبت في كتب النحو.

وَإِنْ تَعْدِلْ كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا

او كه دا نفس كافره فديه وركوي هره فديه چي وي ولو كانت جميع مافي الارض لپاره د خلاص د عذاب الٰهي نه څني اخستل كېږي د نفس كافره څخه.

پوه سه: چي "كل" چي عدل ته مضاف دى منصوب دى مفعول دى د تعدل.

فائده: فعل مجهول د "يؤخذ" مفعول مالم يسم فاعله يې منها دى وليس كما توهم بعض چي مفعول مالم يسم فاعله يې ضمير دى چي راجع وعدل ته دى، ولي چي عدل كما عرفت ههنا مصدر دى فلا يسند اليه الاخذ لان الاخذ مختص بالاعيان والمعاني بخلاف قوله تعالى "لايؤخذ منها عدل" ولي چي هغه په معنى د مفدي به دى وهو من الاعيان.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ أُبْسِلُوا بِمَا كَسَبُوا لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

دغه كسان چي دين مامور به چي اسلام لهو ولعب گرځولى ؤ وغرتهم الحيوة الدنيا، هغه كسان دي چي دوى سپارل كېږي وعذاب النار ته، په سبب د كسب د دوى چي استهزأ بالقرآن وه، دوى لره د اوبو دي د ايشولو اوبو څخه چي په نس كي كولمې غوټې غوټې ورېږكوي او عذاب دى اوريه دوزخ كي په سبب د كفر چي دوى كاوه په دنيا كي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي په "بماكسبوا" كي كلمه د با سببي ده او كلمه ما مصدري ده اى بسبب اعمالهم القبيحة من الكفر والمعاصي

بوه سه: چي مضارع لپاره د استمرار ده يعني كفر مستمر او همېشه ؤ تر وخت پوري د مرگ ددوى.

بوه سه: چي استهزا په آياتو د خداى ﷻ كفر دى كه عمداً وي او كه د ساتېري لپاره وي او عاقبت د كفر عذاب اليم دى، او داغه رنگه اصرار او همېشه توب كول پر كبائرو گنهو د هر خله بعض مؤمنان وكفر ته رسوي العياذ بالله من ذالک. حافظ شيرازي قدس سره وايي

يارب زابر هدايت برسان بارانى پيشتر زانكه چو گردى زميان برخيزم

درويش وايي: چي ددې آيت له فائدو څخه يوه داده چي سړى د هغه چا سره ناسته ولاړه نه كوي چي په باطلو كارو او په عقائدو باطله و اخته وي. قال الشاعر

نفس ازهم نفس گيرد خوى پر حذر باش از لقاى خبيث
باد چون بر فضاى بد گذرد بوى بد گيرد از هوائى خبيث

قُلْ أَنَدْعُوا مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا وَلَا يَضُرُّنَا

ته ورته ووايه وكفارو ته د قريش چي آيا موږ به عبادت كوو الاستفهام للانكار اى لانعبد ماسوى له خدايه د هغه شيانو يعني چي بتان دي چي موږ ته يې نفع نه رسېږي يعني چي موږ يې عبادت وكړو او موږ ته يې ضرر نه رسېږي يعني كه يې موږ عبادت ونه كړو او ددوى له معبوديت څخه انكار وكړو. يعني نفع او ضرر ددوى په طاقت كي نه دي لانها جمادات محضة.

وَنُرَدُّ عَلَىٰ أَعْقَابِنَا بَعْدَ إِذْ هَدَانَا اللَّهُ

او موږ رد سوو ترشا يعني الى الشرك الذي كان الناس عليه في الجاهلية وروسته تر دې چي موږ ته خداى ﷻ هدايت وكړى ودين صحيح ته د اسلام.

بوه سه: چي "نرد" عطف دى پر "ندعوا" او په حيز كي د استفهام داخله ده يعني داسي هم نه سوو كولاى چي تر هدايت الهي وروسته دي موږ تر شاو گرځېږو وشرک ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "اعقاب" جمع د عقب ده بفتح العين وكسر القاف مونخر القدم ته وايي.

كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ الشَّيَاطِينُ فِي الْأَرْضِ حَيْرَانَ

پوه سه: چي "استهوته" باب د استفعال دی مجرد په هوی يهوي دی په معنی د ذهب او مراد له شياطينو څخه سرکښه د پېراتانو دي او کاف د کالذي په محل کي د نصب دی على المفعول المطلق. والمعنى رداً مثل رد الذي استهوته الشياطين او يا منصوب على الحالية دی. والتقدير او نرد مشبهين بالذي استهوته الشياطين "في الارض" يعني په يو بيابان کي چي د هلاک ځای وي "حيران" حال دی له مفعول څخه د استهويته يعني ورک وي متحير وي نه پوهېږي چي پر کومه خوا ولاړ سم او څه وکړم.

لَهُ أَصْحَابٌ يَدْعُونَهُ إِلَى الْهُدَى ائْتِنَا

او دغه ورک سړي لره چي پېراتانو په مخه پسي اخستی وي نور ملگري وي چي ورک را وبولي و هدی ته يعني طريق مستقيم ته سماه هدی مجازاً مبالغةً "ائتنا" تفسير د "يدعونه" دی په تقدير د ای يقولون چي موږ ته راسه چي پر سمه لار دي بوزو او هغه مستهوي د پېراتانو يې په خوله نه کوي.

پوه سه: چي جمله د "له اصحاب" په محل کي د نصب ده حال ده له مفعول څخه د استهويته. حاصل دادی چي خدای پاک مشابه کړی هغه سړی چي له لاري څخه د اسلام گمراه وي يعني کافر وي او نور دده ملگري مسلمانان وي. نو دده ملگري دی اسلام ته چي صراط مستقيم ده رابولي او دی يې په خوله نه کوي او پر خپله گمراهي ټينگ وي، او ددوی خبرو ته التفات هم نه کوي. ولي چي دی شيطان په مخ اخستی وي او د کفر او ضلال په بياناتو کي يې روان کړی وي.

پوه سه: چي جمله د "کالذي آه" حال دی له ضمير څخه د "نرد" هذا بيان هذا التشبه المشكل حرفاً حرفاً كلمةً كلمةً.

قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ ۖ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٧١﴾

ته ورته ووايه يا محمد ﷺ دوی ته چي په تحقيق هدايت د خدای ﷻ چي دين د اسلام دی "هو" ضمير فصل دی لپاره د حصر يعني هدايت د خدای ﷻ حصر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی په اسلام کې او ماسوای له هغه څخه کفر او ضلال دی او موږ امر سوي يو.
يوه سه: چې دا جمله عطف ده پر محل د ان هدى الله باندې او منصوب ده محلاً مفعول د "قل" ده، يعني قل هذا القول لنسلم كلمة اللام بمعنى الباء، او فعل منصوب دی په ان مقدره ناصبه مصدريه ولې چې په قانون د نحو حرف جر پر فعل نه داخلېږي اى امرنا بان نسلم ورب العالمين ته، ولې چې رضا د خدای ﷻ حصر ده په تسليم کې و اوامر ته د خدای ﷻ او دغه رنګه په متابعت کې د رسول الله ﷺ.

وَأَنْ أَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَاتَّقُوهُ ۚ وَهُوَ الَّذِي إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿٧٢﴾

او دغه رنګه موږ امر سوي يو په دې سره چې لمونځ يعنې پېنځه وخته پر صحيح ډول ادا کوئ او له خدايه بېرېږئ، او خدای ﷻ هغه واحد ذات دی چې تاسې به يعنې په ورځ د قيامت لپاره د مجازات وه ده ته حشر کېږئ.
يوه سه: چې اسلام رئيس د طاعات روحانيه وُ دی او لمونځ رئيس د طاعات جسمانية وُ دی، او بېره د خدای ﷻ رئيس ده د هغه شيانو چې ترک يې لازم وي يعني المعاصي.

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَٰوٰتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۖ

او خدای پاک هغه ذات دی چې پيدا کړي يې دي اسمانونه يعنې سره د مافيها من الملائكة والشمس والقمر والنجوم وغيرها او مځکه يعنې سره د مافيها من الخزائن والمعادن والحيوانات والنباتات وغيرها بالحق اى متلبساً بالحق يعني الحكمة او يا دا مخلوقات متلبسات بالحق يعني دلالت پر قدرت عظيمه د خدای ﷻ کوي.

وَيَوْمَ يَقُولُ كُن فَيَكُونُ ۚ قَوْلُهُ الْحَقُّ ۚ

يوه سه: چې بعض مفسرين وايي چې لفظ د "يوم" منصوب دی په اذکر مقدر سره والمعنى يقول الله تعالى قوموا من القبور مثلاً فيقومون.
يوه سه: چې "يكون" مرفوع دی جواب د امر د کن نه دی بلکې اخبار دی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"قوله" مبتدأ ده والحق يې خبر دی، جلا مستانف كلام دی يعني قول د خدای ﷻ صادق دی لامحالة. او دا هم روا ده چي قوله الحق دي صفت او موصوف وي او فاعل د يكون دي وي، والتقدير يوم يقول لشئ كن فيكون اى يوجد قوله الحق ولا يتخلف الخلائق عن قوله فتدبر غاية التدبر.

وَلَهُ الْمُلْكُ يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّورِ ۚ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ۚ وَهُوَ الْحَكِيمُ الْخَبِيرُ

خاص خدای ﷻ لره ده هغه ورځ چي پوه کړل سي په قرن کي چي پوه کونکی يې اسرافيل دی او خدای ﷻ عالم دی د غيب يعني د هغو شيانو چي عالم الوجود ته وي راوتلی يعني وروسته به راوځي او عالم د هغو شيانو چي عالم او حضور ته راوتلي وي او خدای پاک حکيم دی چي بې فائدې کار نه کوي او بنه خبر دی په هر شي لانه لا يعزب عنه مثقال ذرة في السموات ولا في الارض كما نطق به القرآن.

پوه سه: چي "له" خبر مقدم د الملک قدمه للاختصاص او لفظ د يوم ظرف دی د مضمون د له الملک او عالم الغيب سره د معطوف خبر د مبتدأ محذوفي دی ای هو.

تحقیق الصور: په حديث صحيح کي راغلي دي چي خدای ﷻ چي له خلق څخه د اسمانو او مځکي فارغه سو، نو صور يې پيدا کړی او اسرافيل ﷺ ته يې ورکړی، نو اسرافيل ﷺ په خول کي صور نيولی دی او سترگي يې د عرش ته جگي نيولي دي چي کله به زه د خدای ﷻ له خوا امر کېږم په نفخ سره ددې صور، او بو هريره ﷺ وايي چي ما عليه الصلوٰة والسلام ته وويل چي يا رسول الله ﷺ ما الصور؟ قال القرن، ما ورته وويل چي دا قرن څرنگه شی دی؟ عليه الصلوٰة والسلام وويل چي يو ډېر غټ شی دی، او عليه الصلوٰة والسلام راته زياته کړه چي زما دي قسم وي په هغه ذات چي زما روح دده په قدرت کي دی چي لوی والی د صور د دائرې لکه عرض د اسمان او مځکي دی، او دا هم ويل سوي دي چي په دې صور کي دومره سوري دي چي په عدد د ارواحو د خلگو دي علما د امت مرحومه وايي چي نفخ درې واره ده اول يې نفخة الفزع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بولي يعني د خلګو د بېرلو لپاره هغه چي خلګ واوري نو علم يقيني ورته حاصل سي چي اوس وخت د مرګ رانژدې سو، او مور مره کيږو، او دا يې يقين سي چي د دنيا له ورځو څخه لږ پاته دي، نو بيره د حساب او بيره د عذاب پر دوی غلبه وکړي. او دويمه نفخه نفخة الصعق ده وهو موت الخلائق الموجودين في زمان هذا النفخ موت نفس واحدة حتى لايبقى الا الله ﷻ كما قال الله تعالى "كل شئ هالك الا وجهه" ويقول الجبار المتعال "من الملك اليوم فلا يجيبه احد ثم قال لله الواحد القهار" والنفخة الثالثة نفخة الاحيا والبعث من القبور او في اى موضوع كان من البر والبحر ومن نفخة الموت الى نفخة الاحيا اربعون سنة.

علما وايي چي د انسانانو ماسوی د انبيا عليهم الصلوة والسلام ټول اجزا او غوښي او هډوکي خاوري کيږي يو هډوکی يې پاتيږي چي مځکه يې نه خوري چي هغه ته عجب الذنب وايي چي د کلمې په پای کي يې يو کېږی دی، او هر هغه هډوکی ترکيب دی د خلق يوم القيامة، نو دغه هډوکي د مخلوق که په نسو کي د درندګانو وي او که په نسو کي د حيوانات البحر وي او که د مځکي په نس کي وي او که په اور سوی وي لکه د هندوانو يا په درياب کي غرق سوی وي او دا وروسته تر دې چي خدای ﷻ له لاندي څخه د عرش يو باران شروع کړي چي هغه ته ما الحيوة وايي او ختيه اوبه وي لکه د انسان نطفه څلويښت کاله دا باران دوام ولري چي دوولس ګزه سر بېره پر مځکه ودرېږي وروسته په امر د خدای ﷻ ټول اجساد پر هغه عجب الذنب پر تخم راپورته سي، لکه د نباتاتو تخمونه چي راشنه کيږي، نو چي ټول بدنونه پوره سي بې له روحانو بل شی نه وي پاته. اول خدای ﷻ حملة العرش ملکي راژوندی کړي بيا جبرائيل او ميکائيل او بيا اسرافيل. نو اسرافيل ته خدای ﷻ امر د نفخ الصور ورکړي، نو ټول روحان تر سوريو د صور راووځي لکه مچ مچی چي خپلي ځالي ته الوزي، نو د اسمان او مځکي منځ ټول په روحانو ډک سي. نو خدای پاک امر وکړي ليرجعن كل روح الى جسده. وروسته بيا مځکه وچوي فاول من يخرج منها رسول الله ﷺ ثم امته. دا وخت ټول ځوانان وي د دري ديرش (۳۳) کالو په عمر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي په تلوار تلوار خدای ﷻ ته روان وي يعني محشرگاه ته.

درويش وايي: چي دا د تفصيل د صور او د نفخ الصور اوس نو تاسي رجوع وکړئ و تفسير مظهري ته هغه وايي چي نافخ الصور دوه دي يعني دوې ملکې دي. او سره ددې چي مظهري دمخه هغه حديث هم راوړی دی په روايت د زيد بن الارقم ﷺ چي عليه الصلوٰة والسلام وويل کيف انعم وصاحب الصور قد التقم القرن الى اخير الحديث. نو په حديث مذکور کي خو صاحب الصور مفرد راغلی دی او فعل مسند وده ته هم مفرد دی. او بيا يې دا قول د ابن حجر هم رانقل کړی دی چي نافخ الصور غير د اسرافيل څخه دی.

درويش وايي: چي نه پوهېږم چي مظهري رحمه الله يې څرنګه تطبيق د يوه نافخ الصور او د دوو سره کوي صرف متعلمين په اضطراب کي اچول دي بله فائده د نقل د اقوالو متضاده وو نه راځي. بلکې مفسر لره په کار ده چي هغه قول چي دده په عقيده صحيح وي هغه راوړي او نور په قيل سره راوړي او يا تصريح په صحت سره د يو قول وکړي.

وَاِذۡ قَالَ اِبۡرٰهِيۡمُ لِاَبِيۡهِ اٰزَرَ

او ته يا محمد ﷺ ذکر کړه وکفارو ته د مکې وخت د قول د ابراهيم عليه السلام وخپل پلار ته چي آزر نومېده د توبيخ پر شکل چي ده عبادت د اصنامو کاوه. او آذر عطف بيان دی د ابيه. او د آذر اصل نوم تارخ ؤ بفتح الرا وسکون الخا المعجمة. نو د ابراهيم عليه السلام د پلار دوه نومه وه لکه يعقوب او اسرائيل. تارخ يې نوم ؤ او آزر يې لقب ؤ او دی اوسېدونکی د کوفې په اطرافو کي د يو قريې ؤ چي نوم يې کوثی وه.

درويش وايي: چي د آزر پلار والی ابراهيم عليه السلام لره داسي مشهور دی لکه لمر پر ځلورم آسمان حتى اشتهر غاية الاشتهار "گل ازخاراست،، ابراهيم زآذر، روح البيان مع زيادة ج۷/ص۵۴) ويؤيد هذا يعني آذر د ابراهيم پلار ؤ. حديث البخاري عن ابي هريرة ﷺ عن النبي ﷺ چي ابراهيم عليه السلام د خپل پلار آذر سره ملاقي سي په ورځ د قيامت او د آذر پر مخ به تور والی وي او گرد آلوده به وي.

Maktaba Tul Ishaat.com　　Scanned by CamScanner

نو ابراهیم علیه السلام به وپلار ته ووايي چي ما تا ته وويل چي ته زما عصيان مه کوه يعني په شرک، نو پلار يې ورته ووايي چي نن يعني په ورځ د قيامت دي عصيان نه کوم، نو ابراهيم علیه السلام خدای پاک ته په مناجات کي ووايي چي تا زما سره وعده نه وه کړې چي زه تا ته رسوا کوم يوم يبعثون فاي خزي من ابي الابعد نو تر دې يوم رسوايي څېرې ده چي زما پلار به دوږخ ته استوې؟ خدای پاک به ورته ووايي اني حرمت الجنة على الكافرين" يعني ستا پلار خو کافر ؤ، پر کفارو ما جنت ته تګ حرام ګرځولی دی، بیا خدای جل جلاله ابراهیم علیه السلام ته ووايي چي ستا تر پښو لاندي وګوره، ابراهیم علیه السلام چي ورته وګوري يو يږ ولاړ وي په مرداريو ککڼ يعني د پلار شکل يې خدای جل جلاله ور بدل کړي. نو ابراهيم علیه السلام يې تر پښو ونسي پخپله يې اور ته يعني دوږخ ته وغورځوي.

درويش وايي: چي چي دا حديث ښخي اصرح دی چي آزر د ابراهیم علیه السلام پلار و.

فائده: د اعراب له لاري آذر غير منصرف دی للعلمية ووزن الفعل، په روح المعاني جلد ۷ ص ۱۹۴" کي وايي چي د آزر معنی شيخ هرم ده خو په هر حال نوم يې تارخ بالخا او بالحا ؤ، او روح المعاني نور ډېر تفصيل کړی چي زموږ د تفسير ميدان کوتاه دی د ټولو اقوالو د نقل ګنجائش نه لري.

درويش وايي: چي د ټوله بيان سره مظهري رحمه الله وايي کان آذر على الصحيح عما لابراهيم. دی وايي چي عرب و اکا ته هم اب وايي. زه وايم چي زه دا منم چي دا اطلاق د اب پر عم روا دی ضرورت څه شی دی مع ما سمعت من اقوال الاعلام، او مظهري رحمه الله دا آيت نقل کړی دی نعبد الهک واله آبائک ابراهيم واسماعيل واسحاق"

درويش وايي: چي په دې آيت کي خو ضرورت ؤ چي اکا ته اب وويل سو چي اسماعيل ؤ په مانحن فيه کي څه ضرورت سته. بيا مظهري دا قول د سيوطي رانقل کړی دی چي آذر د ابراهيم علیه السلام د پلار نوم نه ؤ بلکي د پلار نوم يې تارخ ؤ. نو موږ منو چي نوم خو يې تارخ ؤ لکن آذر خو يې اسم لقب و د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ابراهیم علیه السلام د پلار کمامر عنقریب، حاصل دادی چي امام مظهري په کلکه ودې ته ولاړ دی چي آذر د ابراهیم علیه السلام اکا و.

درویش وایي: چي اوس نو فیصله تاسي وکړئ چي د مظهري رحمه الله قول تر کومي اندازې صحیح دی چي آذر ته یې په قرآن کي هم پلار د ابراهیم ویلی دی او په حدیث کي د بخاري یې هم آذر ته د ابراهیم علیه السلام پلار ویلی دی، او روح البیان او روح المعاني یې هم پلار بللی دی، والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب.

پوښتنه: علیه الصلوٰة والسلام ولې خدای جل جلاله امر کړی چي ته قریشو ته د مکې د ابراهیم علیه السلام او دده د پلار قصه ذکر کړه؟

ځواب: یو خو دا سبب و چي قریشو هم د ملت ابراهیم دعوه کوله او دا به یې ویله چي بت پرستي موږ ته میراث ابراهیمي راپاته دی، نو خدای پاک ددوی تکذیب وکړی چي ابراهیم علیه السلام خپل پلار آذر چي بت پرسته و، له بت پرستي څخه یې منع کړی، او بل دا سبب دی چي ابوجهل او نور رئیسانو د قریشو له دې څخه کبر کاوه چي موږ به د ابو طالب د کشر وراره متابعت کوو، حتی چي دوی به ویله "لو لا نزل هذا القرآن علی رجل من القریتین عظیم" نو خدای جل جلاله رد پر وکړی چي شرک یو داسي مسلک دی چي هر څوک چي له طرفه د خدای جل جلاله مامور وي که څه هم کشر وي و مشرک ته نصیحت وکړي او له شرک څخه یې منع کړي نه وینئ چي ابراهیم علیه السلام خپل پلار له شرکه منع کړی.

پوښتنه: د ابراهیم علیه السلام ددې دومره مقبولیت سبب څه دی؟

ځواب: ابراهیم علیه السلام زړه د خدای جل جلاله و معرفت ته سپارلی و او ژبه یې مسلطه کړې وه پر بیان د فساد د لارې د اهل الشرک والطغیان او خپل ځان یې و اور ته د نمرود په کمال رضا تسلیم کړی او زوی یې و قربان ته وسپاری او مال یې وضیفان یعني مېلمنو ته وقف کړی و، او بیا یې خدای جل جلاله ته دا سوال وکړی واجعل لي لسان صدق في الآخرین" نو د خدای جل جلاله له کرمه لېري نه ده چي ده ته یې دومره مقبولیت عامه ورکړی چي ټول طوائف او ټول اهل ادیان والملل دده په فضل اقرار کوي حتی مشرکینو د مکې د ابراهیم علیه السلام تعظیم کاوه او په دې

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

په يې فخر کاوه چې موږ د ابراهيم عليه السلام اولاد يو. نو خداى جل جلاله د ابراهيم عليه السلام مناظره د مشرکينو سره د قوم دده حجت وګرځاوه پر مشرکينو د قريشو چې تاسي و خپلو ځانو ته متابعان د ملت ابراهيمي وايااست او شرک هم کوئ. او ابراهيم عليه السلام سرسخته دښمن د بت پرستی او شرک ؤ. کما قال لابيه.

اَتَتَّخِذُ اَصۡنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّیۡۤ اَرٰىكَ وَقَوۡمَكَ فِیۡ ضَلٰلٍ مُّبِیۡنٍ﴿۷۴﴾

آيا ته ګرځوې بتان معبودان يعني ته عبادت د بتانو کوې دون الله، زه تا بولم او قوم ستا يعني ستا چې ستا پر دين دي په ضلال کي له حق څخه چي ښکاره ضلالت دی.

پوښتنه: جلال الدين سيوطي رحمه الله په اثبات کي د اسلام د آباؤ النبي عليه السلام تر آدم عليه السلام پوري ډېري رسالي جوړي کړي دي، چي آيا آذر د ابراهيم عليه السلام پلار سي ونسب ته د عليه الصلوٰة والسلام تاوان ونه لري او سره ددې چې عليه الصلوٰة والسلام ويلي دي "لم ازل انقل من اصلاب الطاهرين الى احام الطاهرات؟

ځواب: صاحب د روح البيان وايي چي دا حديث محمول دی پر دې باندي انه ماوقع من ولد من الزنٰى او نکاح د اهل جاهليت چي په ايجاب او قبول په حضور کي د شهود او په مهر سره کېدل صحيح ده، ويدل علي ماقلنا هغه حديث چي عليه الصلوٰة والسلام وايي ولدت من نکاح لامن سفاح اى الزنٰى.

مسئله: که کافر نر او کافري ښځي په جاهليت کي نکاح سره کړي وي. او دواړه يو ځاى مسلمانان سي، نو تجديد د نکاح نه غواړي.

وَكَذٰلِكَ نُرِیۡۤ اِبۡرٰهِیۡمَ مَلَكُوۡتَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ

دغسي لکه موږ چي ده ته پر خلاف د قوم، عظيم مملکت د اسمانو او د ځمکي.

پوښتنه: چي "نُرِى" خو مضارع ده لکن مراد ځني ماضي ده چي داسي عبارت حکايت د ماضيه په نحو کي وايي حال حاضر فرض کړي، او تعبير په مضارع سره ځني وکړي سبب ددې تاويل دادی چي ارائة د لاري حق خو و ابراهيم عليه السلام ته دمخه واقع سوی و نه في الحال او نه په استقبال کي لکه چي معنا د مضارع ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "ملکوت" پر وزن د فعلوت دی او هر ځای چي وزن د فعلوت وي لپاره د مبالغې وي، نو ځکه درېش ترجمه په عظیم مملکت سره وکره. نو ملکوت جوړ له ملک څخه دی لپاره د مبالغې ومثله رهبوت چي لپاره د مبالغې دی په رهبت کي وکذالک رحموت الی غیر ذالک.

فائده: اضافت د ملکوت وسموات والارض ته اضافت دی د مصدر ومفعول ته یعني سلطانه تعالی وربوبیته السموات والارض دی هغه داسي چي ابراهیم ته خدای ﷻ امر وکړی چي ته پر یوه غره ودرېږه، ابراهیم ﷺ چي ودرېدی خدای ﷻ اسمانونه او مځکه ټوله ورته کشف کړه حتی العرش و اسفل الارضین او خپل ځای یې په جنت کي هم په ولیدی، او له علي او سلمان فارسي رضي الله تعالی عنهما څخه مرفوع حدیث راغلی دی چي ابراهیم ﷺ ته خدای پاک دا کشف ورکړی یو سړی یې یو ځای پر زنا ولیدی بښېرا یې ورته وکړه هغه هلاک سو بیا یې یو بل سړی پر یو غیر مشروع کار ولیدی هغه ته یې هم ښېرا وکړه هغه هم مړ سو، بیا چي دریم سړی یې پر یوې ګناه ولیدی چي ده به ښېرا ورته کول خدای ﷻ ورته وویل چي ته اې ابراهیمه مستجاب الدعوة یې زما په نېز نو آینده هیڅ چاته ښېرا مه کوه او ما وزما بندګان سره پرېږده زما او د بندګانو تر منځ درې حالة دي (۱) چي ګناه وکړي بیا توبه وکاږي زه یې توبه قبلوم (۲) یا به زه له هغه ګناه کاره څخه یو بل ځوک پیدا کوم چي هغه به زما عبادت کوي (۳) او یا به په ورځ د قیامت داغسي ګناه کاره په ورځ د قیامت ژوندی کوم بیا نو که زما اراده وه زه به عفوه ورته وکړم او که زما خوښه وه عذاب به ورکړم فان جهنم من ورائه.

وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ ۝

پوه سه: چي دا فعل معطوف دی پر مقدر چي سابق کلام دلالت پر کوي یعني لیستدل ولیکون له یقین درلودونکو څخه پر قدرت زما عیناً ومشاهدة.

درویش وایي: چي مظهري رحمه الله وایي چي "نری ابراهیم آه" له باب څخه د افعال دی مجرد رؤیت یې پر رؤیت بصري حمل کړی دی کمامر تفصیله. او صاحب د روح البیان وایي وهذه الارائة مشتق ده له رؤیة څخه اصل یې رؤیت د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستر گو دی مگر دلته مستعار دی ومعرفت ته چي نظر البصيرة يې بولي. او بيا يې سوال كړى دى چي نظر د بصيرت خو و هر مؤمن ته حاصل دى چي خداى ﷻ واحد او لا شريک بولي او قادر مطلق يې بولي الى غير ذالک من الصفات الجمالية والجلالية لكه رؤية البصر چي وټولو ته حاصل دى. نو په دې معرفت وجه د امتنان پر ابراهيم عليه السلام څه ده؟

بيا يې ځواب ورکړى دى چي اصل اطلاع پر ربوبيت د خداى ﷻ كه څه هم ټولو مؤمنانو ته حاصل ده لكن اطلاع پر ربوبيت د خداى ﷻ په اجناسو كي د عالم او په انواعو كي د عالم او په اشخاصو كي او په احوالو كي د ټولو ته حاصلېږي مگر اكابرو ته انبياً عليهم السلام نو خداى پاک ابراهيم عليه السلام په دغسي معرفت سره سر شاله كړى ؤ. ولهذا كان النبي ﷺ يقول في دعائه اللهم ارنا الاشياً كماهي، اشارة الى تلک المعرفة الابراهيمية فافهم.

درويش وايي: چي صاحب د روح المعاني د اوومي پارې په تفسير كي ص۱۹۷ كي دوارې لارې يعني اول رؤيت په معنى د معرفت راوړى ده او وروسته لار د رؤيت بصري راوړې ده وقد مر تفصيله كل واحد من تلک الرؤيتين في تفسيري هذا والارجح والاعجب عند الفقير الرؤية البصرية والله تعالى اعلم بمراده في كتابه، وقد قيل ونسب الى الامام الاعظم سيد الائمة ابو حنيفة قدس سره هذا البيت.... جميع العلم في القرآن ،،،،، ولكن تقاصرت عنه افهام الرجال.

درويش وايي: چي د وروسته آيتو په تفسير ملايان يعني قصې كونكي داسي بيانونه كوي چي نه يې عقل مني او نه يې نقل، نو ددې زه فقير دا تمهيد كوم چي قوم د ابراهيم عليه السلام د بتانو او د ستورو عبادت كاوه او د دنيا ټوله امور يې ددوى په قدرت كي بلل. پاره اذا سمعوا ص۲۵۸ تفسير مظهري. ومثل هذا في تفسير روح المعاني ج۷ ص۱۹۸. وكان ابوه اى ابراهيم وقومه يعبدون الاصنام والكواكب، روح البيان ج۷ ص۵۶.

فَلَمَّا جَنَّ عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا قَالَ هٰذَا رَبِّيْ

چي تاريكه سوه پر ابراهيم عليه السلام شپه يعني د لمر له غروب څخه وروسته وخت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تېر سو، ولي ستوري چې افق د مغرب هنوز ژړې نه معلومېږي نو ابراهيم عليه السلام وليدى يو ستورى چې مشتري و يا زهره چې دواړه له كواكب سبعه سياره څخه دي كما تقرر في كتب الرياضي، ابراهيم عليه السلام وويل چې دا ستورى زما رب دى، مظهري رحمه الله وايي چې دا وينا د ابراهيم عليه السلام بنا ً پر زعم د قوم وه او يا على سبيل الفرض، ولي يو څوک چې څا ته الزام وركوي يو وار به د هغه د قول حكايت كوي وروسته به يې په دليل ورباطلوي انتهى.

او روح المعاني وايي والمستدل على فساد قول يحكيه على رأى خصمه وروسته به رجوع پر كوي په ابطال سره انتهى، او روح المعاني وايي وهذا (دا خبره) منه عليه الصلوٰة والسلام على سبيل الفرض، او واګي د دليل يې ورسره سستي كړې يعني د دوى د قوم د زعم سره موافق ورسره وكړه ودې ته په عربي كي ارخا العنان وايي او مجارات د پلار او قوم سره او روح المعاني وايي چې بعض مفسران همزه د استفهام ورسره محذوفي بولي، يعني اهذا ربي نزعمكم او روح المعاني وايي چې حذف د استفهام ډېر دى په كلام كي د عربو. بيا يې عربي شعر په مثال كي راوى دى.

درويش وايي: چې دا قولونه د مفسرينو په شمول د مظهري تاسي واورېدل لكن وروسته مظهري په درو صفحو كي يو داسي قصې او عجائبي كړي دي كه عقل سليم له منلو څخه انكار كوي تاسي يې په غور سره مطالعه كړئ.

فَلَمَّآ أَفَلَ قَالَ لَآ أُحِبُّ ٱلۡأٓفِلِينَ ﴿٧٦﴾

درويش وايي: چې دا شروع ده په رد كي د قول د ابراهيم عليه السلام د قوم چې ستوري يې خدايان او متصرف بلل من دون الله او بطلان دى د اعتقاد ددوى وروسته تر تسليم فرضي د ابراهيم عليه السلام له خوا څخه.

ترجمه: پس هغه وخت چې غروب وكړى هغه ستوري، ابراهيم وويل زما نه دى خوښ عبادت (په حذف د مضاف) د داسي شيانو چې هغه تغير له يوه حاله څخه وبل حال ته كوي، ولي چې تغيير علامه بينه ده د حدوث والحدوث ينافي الالوهية. قالوا العالم متغير وكل متغير حادث فالعالم حادث ثم يجعل هذه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النتیجة صغری ویضم الیها بان کبری سالبة کلیة بان تقول العالم حادث ولا شئ من الحادث بمستحق للمعبودیة فینتج لاشئ من العالم بمستحق للمعبودیة والکواکب من انواع العالم فلا تستحق للمعبودیة.

فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّیْ

وروسته چې يې وليدل سپوږمۍ په ابتدا کې د طلوع ابراهيم عليه السلام وويل چې دغه سپوږمۍ زما خدای دی یعني علی الفرض وعلی زعمکم ایها القوم.

فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ لَاَكُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّيْنَ

بیا چې سپوږمۍ هم غروب وکړی ابراهیم وویل که ماته هدایت ونه کړی خدای زه په وګرځم له قوم ګمراه څخه. دا خبره ابراهیم عليه السلام لپاره د شکر پر هدایت د خدای جل جلاله وکړه وده ته.

پوه سه: چې ابراهیم عليه السلام وقوم ته تنبیه ورکړه او ضمناً نصیحت یې ورته وکړی چې سپوږمۍ خو هم په سبب د تغیر حال د معبودیت ور نه ده، نو تاسې د قوم ضالینو څخه یاست چې مطلق کواکب معبود بولې.

فَلَمَّا رَاَ الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّيْ هٰذَآ اَكْبَرُ

بیا چې ولیدی ابراهیم عليه السلام لمر چې راوختی نو ابراهیم وویل چې دا زما رب دی یعني بالفرض او علی زعمکم ایها القوم.

پوښتنه: شمس خو مؤنث سماعي دی څکه یې بازغة چې حال دی له شمس څخه مؤنث راوړی،.نو اشاره د هذا خو هم ولمر ته ده هغه یې ولي مذکر راوړی؟

ځواب: مفسرین ددې تذکیر څو وجهې وايي بعض وايي چې تذکیر یې په اعتبار د خبر دی چې "ربي" دی لکه نحات په ضمیر کې وايي چې ضمیر چې دائر سي په منځ کې مرجع او خبر یعني یو مذکر وي او بل مؤنث رعایت د خبر یې اولی دی، او بعض وايي چې تذکیر د اسم الاشارة مبني دی پر تاویل د شمس په طالع سره او یا په تاویل د ضیا او نور.

درویش وایي: چې امام مظهري د ځان له خوا یوه داسې توجیه کړې ده چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هیڅ عقل یې تعقل نه سي کولای، ولهذا قال وعندي فارجع الی تفسیره ان فهمة فیها ونعمت "هذا اکبر" یعني شمس خو تر ستورو او تر سپوږمۍ د پر غټ دی او هم له دې سببه چي لمر رڼا وخپرې او راپورته سي نور د ټولو ستورو او سپوږمۍ ورک سي که څه هم په اسمان کي خو د ورځي او د شپې ستوري سته او سپوږمۍ که څه هم په اسمان کي موجوده وي په ارتفاع د شمس کي یې نورانیت ولاړ سي یعني مځکي ته رڼا نه سي ورکولای کما لایخفی.

فَلَمَّآ اَفَلَتۡ قَالَ یٰقَوۡمِ اِنِّیۡ بَرِیۡٓءٌ مِّمَّا تُشۡرِکُوۡنَ

نو چي لمر هم غروب وکړی، نو ابراهیم علیه السلام وویل اې زما قومه زه بېزاره یم د هغو شیانو یعني ستورو او سپوږمۍ او لمر چي تاسي یې د خدای جل جلاله شریکوئ په معبودیت کي.

درویش وایي: چي تر دې ځایه پوري دلائل د ابراهیم علیه السلام پر قوم باندي په نهایت تفصیل او ښوونه او تعریضاتو او رد د مذهب ددوی چي کواکب معبودات دي وړای ته ورسېدل اللهم صل وسلم وبارک علی سیدنا محمد وعلی آل سیدنا محمد کما صلیت وسلمت وبارکت علی سیدنا ابراهیم وعلی آل سیدنا ابراهیم انک حمید مجید من جانب الفقیر محمد عبید الله غفرله. قال جلال الدین الرومي قدس سره في المثنوي.

آفتاب از امر حق طباخ ماست — ابلهی باشد که گویم او خداست
گر کشندت نیم شب خورشید کو — تا بنالي یا امان خواهی ازو
حادثات اغلب به شب واقع شود — وان زمان معبود تو غائب شود
سوی حق گر راستانه خم شوی — وارهي از اختران محرم شوی

اِنِّیۡ وَجَّهۡتُ وَجۡهِیَ

پوهه سه: چي مفسرین ددې آیتي ترجمه داسي کوي اخلصت دیني وعبادتي وجعلت قصدي.

درویش وایي: چي دا خو بیان د معنا دی چي مراد وي لکن موږ په دې پوهېږو چي وجه مخ ته وایي او توجیه مخ وچاته اړول، نو هغه معنا چي مفسرین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بيان کړې ده اصل حقيقت د هغه دی چي امام رازي رحمه الله په تفسير کي خپل بيان دی څوک چي د بل چا غايت اخلاص لري او ملاقات د هغه يې خوښ وي نو په ټوله مخ وهغه متوجه کېږي او خبري ورسره کوي، نو حاصل د معنا يې هغه دی چي مفسرينو بيان کړی يعني ابراهيم وايي چي زه په ټوله عبادت او اخلاص يم.

لِلَّذِيْ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِيْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۝ وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ

وهغه خدای ﷻ واجب الوجود خالق العالم ته چي پيدا کړي يې دي ټوله اسمانونه يعني سره د مافيها من الكواكب والشمس والقمر چي معبود زما د قوم دي "والارض" او چي مځکه يې پيدا کړې ده چي بتان زما د قوم د هغې مځکي له جنس څخه دي چي ډېري دي.

او زه نه يم د مشرکانو له قسم څخه چي د مخلوق عبادت وکړم چي مستحق د هغه خالق المخلوقات دی، او د ابراهيم سره دليل ويل شروع کړه قوم دده.

پوه سه: چي دوی دا ورته وويل چي زموږ د خدايانو څخه وېرېږه چي ضرر به درورسوي او له نمروده وېرېږه چي مړ به دي کړي.

درويش وايي: چي دا خبري خو صرف ددوی مجادله وه حجت خو نه ؤ، نو اطلاق د حجت ددوی پر دغه مجادله باندي مبني پر زعم ددوی چي دوی دا حجت باله وروسته تر دې چي ابراهيم په دلائلو صحيحه وو سره وحدانيت د خدای او استحقاق د عبادت د خدای ورته ثابت کړی کمامرت، نو ددوی خبري د هغه چا دي چي له استدلال څخه عاجزه سي، نو هر څه چي پر خوله ورغله وايي چي دې ته کلام د مبهوت وايي او په عربي کتابو کي يې مجادله محضه بولي.

قَالَ اَتُحَآجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ هَدٰىنِ

يعني تر تمام د استدلال صحيح به وجوه مختلفه وو سره پر وجود د خدای پاک او پر توحيد دده تاسي لاهنوز زما سره مجادله کوئ او ما بېروئ په بتانو يا په نمرود سره چي ستاسي په زعم باطل سره خدايان دي، او په تحقيق سره خدای پاک ماته صحيح لار ښوولې ده.

پوه سه: چي کسره د نون دال ده پر يا محذوفه باندي په نېز د اکثرو قراؤ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صرف ابو عمر يې په وصل کې په يا سره وايي.

وَلَآ أَخَافُ مَا تُشْرِكُونَ بِهِۦٓ

او زه نه بېرېږم له هغو شيانو څخه چې تاسې يې شريکوئ د خداى ﷻ سره يعني په عبادت کې چې بتان دي يا نمرود دى چې د خدايي دعوه يې کړې وه. نو هغه فلکي شيان دي لکه کواکب، لمر او سپوږمى. او کـه د ذوى العقـول د عنصرياتو وي لکه نمرود ملعون او کـه لـه جمـاداتو څخه وي لکـه ستاسي معبودان بتان، ولي سړى خو د هغه چا څخه بېرېږي چې پـه قدر ترده بالا وي او دا مذکوره شيان هيڅ قدرت نه لري پر نفع او ضرر باندې او که نمرود قدرت لري هغه هم اقتدار د خداى ﷻ دى امتحاناً للعباد.

پـوه سه: چې آذر يعني د ابراهيم عليه السلام پـلار چې نـوم يې تارخ و بتان جـوړول او د ابـراهيم عليه السلام پـه لاس بـه يې ورکـره چې دا را خـرڅ کـړه. نـو ابراهيم عليه السلام به ناري وهلې چې رانسئ هغه شى چې نه ضرر لري او نه نفع بل ضرره اقرب من نفعه، نو هيڅ چا نه رانيول. نو چې مابنام به سو يوې ولې ته به يې بتان ورووړه او سرونه به يې په اوبو ورچخ کړه او ورتـه وه بـه يې ويـل اشربي اوبه وڅښئ د استهزا ً په توګه.

إِلَّآ أَن يَشَآءَ رَبِّى شَيْـًٔا

مګر نه هغه وخت د خداى ﷻ اراده سوه چې د مخلوق لـه خوا ماته ضرر ورسوي لکه د نمرود له خوا بالضرب والحبس وبالاخير في القائه في النار، يعني په اراده د خداى ﷻ دى لانه لايجرى في ملکه الا مايشأ.

وَسِعَ رَبِّى كُلَّ شَىْءٍ عِلْمًا ۗ أَفَلَا تَتَذَكَّرُونَ ﴿٨٠﴾

او فراخ دى خداى ﷻ هر شي ته ازروى علم، آيا تاسي پند نه اخلئ چې د قادر على الاطلاق او د عاجزي مطلق فرق وپېژنئ.

پوه سه: چې علماً تميز محول دى له فاعل څخه والتقدير وسع علم ربي کل شئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَكَيْفَ أَخَافُ مَآ أَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُونَ أَنَّكُمْ أَشْرَكْتُم بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِۦ عَلَيْكُمْ سُلْطَٰنًا

او زه به څرنګه وېرېږم له هغه شیانو څخه چې تاسي د خدای ﷻ شریکان کړي دي په عبادت چې بتان دي چې نه یې نفع په طاقت کې ده او نه یې ضرر ولي چې جمادات دي، او استفهام لپاره د انکار دی یعني ببرېږم او تاسي نه بېرېږئ چې تاسي شریکان ګرځولي دي د خدای ﷻ سره هغه اصنام چې نه دي نازل سوي د هغو په شراکت سره د خدای ﷻ سره په عبادت پر تاسي باندي یو دلیل، او سره ددې چې خدای پاک قادر مطلق دی پر عذاب. نو تاسي باید وبېرېږئ د خدای ﷻ له عذاب څخه یعني باید ایمان راوړئ.

پوه سه: چې واو د حال دی په "لاتخافون" کې.

فَأَيُّ الْفَرِيقَيْنِ أَحَقُّ بِالْأَمْنِ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ

نو کوم یو ددغو دوو ډلو ډېر حق داره دی په امن سره له عذاب څخه د خدای که تاسي پوهېږئ یعني نحن احق بالامن لانا نعبد المعبود بالحق القادر المطلق وانتم تعبدون الاٰلهة الباطلة التي لاتقدر علی شئ من النفع والضرر اصلاً.

الَّذِينَ ءَامَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوٓا إِيمَٰنَهُم بِظُلْمٍ أُولَٰٓئِكَ لَهُمُ الْأَمْنُ وَهُم مُّهْتَدُونَ

پوه سه: چې "الذین" سره د صلې مبتدا ده او جمله د "اولٰئک آه" یې خبر دی او "هم مهتدون" پر خبر معطوف دی او "لم یلبسوا" عطف دی پر "آمنوا"

ترجمه: هغه کسان چې ایمان یې راوړی وي یعني پر خدای ﷻ په وحدانیت سره او نه یې وي ګډ کړی خپل ایمان په ظلم سره یعني الشرک لکه مشرکین د مکې خدای ﷻ خالق السموات وغیرها من المخلوقات بولي. او ددي ایمان شرک ګډ کړی دی یعني عبادت د اصنامو. نو هم دغو کسانو لره امن له عذابه د خدای ﷻ یعني د قیامت په ورځ او دوی دي چې وحق او جنت ته یې لار پیدا کړې ده. اللهم اجعلنا منهم برحمتک یا ارحم الراحمین.

درویش وایي: چې له عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چې بخاري او مسلم دواړو راوړی دی چې دا آیت چې نازل سو "الذین آمنوا ولم یلبسوا الخ" پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسلمانانو د عصر نبوي ډېر سخت تاثیر وکړی، نو دوی وویل یا رسول اللهﷺ څوک به وي زموږ څخه چي ایمان دې په ظلم سره نه وي ګډ کړی یعني ددوی خیال دا ؤ چي له ظلم څخه مراد نفس ګناه ده، نو علیه الصلوٰة والسلام ودوی ته اطمنان ورکړی چي مراد په دې آیت سره له ظلم څخه شرک دی، آیا تاسي نه دي اورېدلی قول د لقمان و خپل زوی ته په داسي حال کي چي لقمان وخپل زوی ته نصیحت کاوه یابني لاتشرک بالله ان الشرک لظلم عظیم.

پوه سه: چي دا آیت الذین آمنوا جمله مستانفه ده یعني مستقله جمله ده له جانبه د خدای ﷻ.

تنبیه: درویش وایي چي بعض معلوم الحال ډلي بې له نوم اخستلو هر سړی یې پېژني پر دې عقیده دي چي وروسته تر سني شپږ سوه د هجرت ټوله امت محمدیه تر علماً او تر جهالو او تر نر او ښځو پوري هغه کسان دي چي ایمان یې په شرک سره کړی دی لکه د مشرکینو د مکې، ولي چي دوی وایي که څوک سفر وکړي په نیت د قبر نبويﷺ فقط هغه مشرک دی، حتّٰی چي د درویش په زمانه کي یو ملا ؤ له دغو ډلو څخه چي څو کسان هم عقیده یې پیدا کړي وه، نو یو نفر په هغو کي چي حج یې کړی و، دې ملا پوښتنه څني کړې وه چي ته وروسته تر حج مدیني منورې ته په څه نیت سفر کړی ؤ هغه حاجي ورته ویلي وه چي په نیت د زیارت د قبر انور نبويﷺ مي سفر کړی ؤ، نو ملا مذکور ورته ویلي وه چي ته خو په نیت سره مشرک سوې بل حج به کوې او د مایني سره به نوې نکاح کوي او هر څو لمونځونه چي دي وروسته تر حج کړي دي هغه تا په حالت کي د شرک کړي دي هغه هیڅ اعتبار نه لري، او دغه رنګه دوی وایي چي که یو څوک د یو ولي الله قبر ته سفر وکړي هغه مشرک دی او استمداد غوښتل له اهل قبور څخه شرک دی الی غیر ذالک من خرافاتهم.

درویش وایي: چي څو کاله دمخه دا ډله په یوه نامه یادېدله چي د خلګو به نفرت څني کېدی او په اوسني زمانه کي ورته عقیده والا څو ډلي سوي دي اللهم صبراً.... بیت..... چو بینم دین احمد در غریبي... دلم سوزان وزچشم خون جاري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددوی یو ملا ماته وویل چي ته چي له اهل قبر څخه مدد غواړې آیا ته په دې خبر یې چي دا اهل قبر پر ایمان مړ دی یا پر کفر، العیاذ بالله. ما ورته وویل چي زه خو پر حسن ظن د صاحب القبر څخه کومک غواړم یعني د شفاعت په توګه الی الله ﷻ لا باستقلاله بالمدد مګر زه ستا څخه یوه پوښتنه کوم چي ستا مور او پلار ژوندي دي او که مړه ده راته وویل چي مړه دي، ما ورته وویل چي ته ګاهي دوی ته دعا کوې. ده راته وویل ولې نه زه همېشه وایم اللهم اغفرلي ولوالدي" نو ما ورته وویل چي ته په دې خبر یې چي ستا مور او پلار پر اسلام مړه دي او که پر کفر او وکافر ته خو د بخښې دعا نه ده روا. نو دی حیران لاجوابه سو، خبر تیا درویش په دې باره کي دوې مستقلي رسالې جوړې کړي او تصنیف کړي دي چي عنقریب به له مکتبة اهل السنة والجماعة یا مکتبة القرآئت څخه ستاسي ولاس ته درسي ان شآ الله تعالی.

درویش وایي: چي دا ټولي خبري په طور د جمله معترضه منځ ته راغلې اوس بیرته د قرآن کریم د تفسیر پر لور.

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ ءَاتَيْنَٰهَآ إِبْرَٰهِيمَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ

یوه سه: چي "تلک" اشاره الی مامر من قوله تعالی فلما جن اللیل الی قوله تعالی وهم معتدون"

فائده: مظهري ﷫ وایي چي دا آیت اصرح دلیل پر دې دی چي هغه خبري او دلائل احتجاج ؤ پر قوم باندي لاتفکراً واستدلالاً لنفسه. مظهري ﷫ زیاته کړې ده کیف والنفوس القدسیة لا یحتاجون الی تجشم الاستدلال.

درویش وایي: چي مظهري ﷫ هغه درې دمخه قصې کړې په باره کي د ابراهیم ﷺ او درویش دمخه هم رد کړه اوس مظهري په خپله پر قصه پښېمانه سو او حکم د بعید جداً یې پر کړی دی الحمدلله الذي الهمني رد القصة المذکورة.

یوه سه: چي "تلک" مبتدأ ده او "حجتنا" یې خبر دی والمعنی دغه مذکوره في الآیات السابقة زموږ حجت او دلیل دی چي موږ ورکړی ؤ وه ابراهیم ﷺ ته پر خپل قوم باندي یعني نمرود ومن بعث الیهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ ۗ اِنَّ رَبَّكَ حَكِيْمٌ عَلِيْمٌ

موږ پورته کوو ولوړو درجو ته په علم او حکمت او د کافرانو په الزام کي هغه څوک چي زموږ اراده ورته وسي، لکه په مانحن فيه ابراهيم عليه السلام په تحقيق ستا خدای یا محمد ﷺ څښتن د حکمت دی چي بې فائدې کار نه ځني صادرېږي او په حال د خپل مخلوق ښه خبر دی.

وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ ۗ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ

او موږ ورکړی و ابراهيم عليه السلام ته اسحٰق و يعقوب موږ هدايت ورته کړی و.

پوه سه: چي "کلا" منصوب په هدينا متاخر دی.

فائده: اسحٰق خو د ابراهيم عليه السلام زوی و او يعقوب د ابراهيم عليه السلام لمسی و و د اسحٰق عليه السلام زوی و.

درويش وايي: چي هغه حکايت نادره د مظهري رحمه الله صاحب د روح البيان ددې آيت په تفسير کي راوړی دی والله اعلم بالصواب.

وَنُوْحًا هَدَيْنَا مِنْ قَبْلُ

او نوح عليه السلام ته موږ هدايت کړی دی يعني نبوت مو ورکړی و دمخه تر ابراهيم عليه السلام.

پوه سه: چي د نوح هدايت او نبوت يې پر ابراهيم عليه السلام نعمت وشميره لان نوح من ابائه.

مسئله: شرف د ولد شرف د زوی ګڼل کېږي په شرط ددې چي داسي زوی نه وي لکه کنعان د نوح عليه السلام زوی، او شرف د زوی شرف د پلار ګڼل کېږي په شرط ددې چي آذر خوندي پلار نه وي لکه د ابراهيم عليه السلام.

وَمِنْ ذُرِّيَّتِهٖ دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ وَاَيُّوْبَ وَيُوْسُفَ وَمُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ۗ

بعض مفسران وايي چي ضمير د "ذريته" راجع دی و ابراهيم ته ولي چي کلام په ده کي و، او بعض وايي چي ضمير راجع دی و نوح ته، ولي دا مرجع اقرب ده لکن صحيح دا دی چي ضمير دې نوح ته راجع سي ولي چي يونس او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لوط له اولاد څخه د ابراهيم نه وه "داؤد" بن اليشا "وسليمان" بن داؤد "وايوب" بن ابنوس بن رازخ بن روم بن عيس بن اسحاق بن ابراهيم "ويوسف" بن يعقوب بن اسحاق "وموسٰى وهارون" چي هارون مشر وروړ د موسٰى او دواړه زامن د عمران بن يصهر بن قاهت بن لاوی بن يعقوب وه.

وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ۝ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيسٰى وَإِلْيَاسَ ۖ كُلٌّ مِّنَ الصّٰلِحِينَ ۝

او داغه رنګه موږ جزا ورکوو على احسانه يرفع درجاته ودرجات ابنائه. والاحسان على ماجا في حديث البخاري ان تعبد الله كانه تراه فان لم تكن تراه فانه يراک.

يوه سه: چي "كذالک" منصوب دی على المصدرية په "نجزى" سره ای جزا مثل ابراهيم.

"وزكريا" بن اذن "ويحىٰ" بن زكريا عيسى بن مريم بنت عمران "والياس" بن متى بن فحاض بن غيرار بن هارون، او ابن عباس ﷺ وايي چي الياس هو ادريس او د دوه نومان لکه يعقوب او اسرائيل چي يو نبي دوه نومه وه لكن پر دي دا سوال وارديږي چي ادريس عليه السلام له ذريه څخه د نوح عليه السلام نه دی بلکې جد ابي نوح "كل" اى كل واحد من هؤلاء من الصالحين اى المعصومين من الصغائر والكبائر فان من اتى بما نهى الله عنه او ترک ما امر الله به فهو من المفسدين وان قل فساده واطلاق الصالح على غير المعصوم اضافي، لكن اطلاق د صالح على من عصى ثم تاب عنه واستغفر عنه صحيح بالحقيقة لان التائب من الذنب كمن لا ذنب له لكن كامل في الصلاح هو المعصوم.

وَإِسْمٰعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا ۚ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِينَ ۝

واسمٰعيل" بن ابراهيم جد النبي عليه الصلوٰة والسلام "واليسع" بن اخطوب بن العجوز "ويونس" بن متىٰ "ولوطا" بن هارون بن اخي ابراهيم عليه وعليهم السلام.

او هر يوه ته ددوى ما فضيلت ورکړی دی على العالمين اى عالمي زمانهم.

يوه سه: چي "كلا" منصوب دی مفعول مقدم د فضلنا دی.

وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَإِخْوَانِهِمْ ۚ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عطف دی پر "كلا" یعني فضلنا كلا منهم وبعض ابائهم وبعض وبعض ذرياتهم وبعض اخوانهم یعني ئیوله آباً او ئیوله اولاد د دوی او ئیوله ورنه ددوی څخو نو انبیاً نه وه او نه هدایت کونکي د خلګو وه.

وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ

او دوی ما برګزیده او مختاره کړي او ما هدایت ورته کړي ؤ ولاري سمي او حق ته. دا عطف دی پر "فضلنا" باندي.

ذٰلِكَ هُدَى اللّٰهِ يَهْدِيْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ

دغه چي انبیاً علیهم السلام راتګ په کړی و، من توحید الله واستحقاقه العبادة هدایت د خدای ﷻ چي په هغه سره هدایت و هغه چاته چي د خدای ﷻ خوښه وي له بندګانو څخه د خدای ﷻ.

فوائد شتي: عیسیٰ ﷺ خو کماهر ابن مریم بنت عمران من بني ماثان الذین ملوک بني اسرائیل د عیسیٰ ﷺ په ذکر کي دلیل پر دې دی چي ذریة اولاد البنت ته هم شامل دی، نو پر دې بناً امام الحسن وامام الحسین رضي الله عنهما له ذریة څخه د سید المرسلین ﷺ دي مع انتسابهما الیه ﷺ بالام اعني فاطمة ﷺ. که څوک حسن او حسین رضي الله عنهما ته آزار ورسوي فقد آذی ذریته ﷺ.

درویش وایي: چي دا سلسله جاري ده په ئیوله سادات کرامو کي الى یوم القیامة.

مسئله: د چا پلار چي سید وي، نو مور چي یې هر څوک وي هغه سید دی او له ذریة څخه د رسول الله ﷺ دی لکن په غیر کي د فاطمي ﷺ طرف د مور اعتبار نه لري مثلاً یو سړی په قوم بل شی ؤ مګر ماینه یې سیده وه هغه له ذریة څخه د علیه الصلوٰة والسلام نه دی یعني ددې ښځي اولاد چي سیده ده او مېړه یې نه دی سید سیدان نه دي کذا في رد المحتار.

پوښتنه: اسماعیل ﷺ خو هم له ذریة څخه د ابراهیم ﷺ ؤ، نو څه حکمت دی چي دی یې جلا راوړی؟

ځواب: چونکه محمد المصطفیٰ ﷺ له اولاد څخه د اسماعیل ﷺ ؤ یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بالواسطة او تولـه كائنات طبـع دي د رسـول الله ﷺ كما ثبت في الاحاديث الشريفة. نو خداى پاک وجود د اسماعيل طبع د وجود د ابراهيم عليه السلام نه وګرځاوه. نه يې هدايت د اسماعيل عليه السلام طبع د هدايت د ابراهيم وګرځاوه لشرف محمد ﷺ فلذا افرده بالذكر واخره في الذكر ايضاً كذا في روح البيان.

وَلَوْ أَشْرَكُوا لَحَبِطَ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٨٨﴾

که چېرې شرک کړی وای دغو انبياً عليهم السلام فرضاً مع علوشانهم وفضيلتهم خداى پاک به ناکاره کړي وای هغه څه له دوی څخه چې دوی به يې عمل کاوه. نو کلمه د ما موصوله ده او په صله کي يې محذوف دی يعني يعملونه او دا احتمال لري چي ما دي مصدريه وي اى عملهم.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ وَالْحُكْمَ وَالنُّبُوَّةَ

دغه انبياً عليهم السلام چي ذکر سوه هغه کسان دي چي موږ ورکړی ؤ دوی ته کتاب. لام په "الکتاب" کي لپاره د جنس دی، ولي چي د ټولو خو يو کتاب نه ؤ بلکي کتب متعدده وه.

تنبيه: مراد له اتيان څخه د کتاب عام دی که پر هغه نبي نازل وي او که دی مامور په تبليغ د احکامو د هغه کتاب وي، ولي چي دي مذکورو انبياؤ هر يوه ته جلاجلا کتاب خداى ﷻ نه دی نازل کړی مثلاً انبياً د بني اسرائيلو ټوله مامور په تبليغ د احکامو د تورات وه چي نزول يې پر موسىٰ عليه السلام ؤ.

فائده: مراد له حکم څخه حکمت او فقه ده، او يا فيصله ده خصوصات بين الناس في زمانهم.

فَإِن يَكْفُرْ بِهَا هَٰؤُلَاءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوا بِهَا بِكَافِرِينَ ﴿٨٩﴾

که چېرې کفر کوي په کتاب او حکم او نبوت دغه کسان يعني کفار قريش، نو موږ وکيلان په دغو درو شيانو، يو قوم ګرځولی دی چي هغه قوم نه دی په دغو درو شيانو سره کافران. والباً زائدة.

يوه سه: چي مراد له وکالت څخه توفيق دی د عمل او مراعات دی احکامو د هغو، ابن عباس او مجاهد وايي چي له دې قوم څخه انصار د مدني مراد دي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لكن اولى دا ده چي مراد ترې صحابه دي كه مهاجر دي كه انصار ﷺ، او بعض كسان چي ددوى متابعت كوي كالتابعين وتبعهم ثم وثم.

أُولَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ

دغه مذكورون د انبياً عليهم السلام، هدايت كړى دى دوى ته د اصول د دين چي په ټولو اديانو كي شريک كالتوحيد والبعث بعد الموت والجنة والنار وغيرها من الاصول المشتركة بين الاديان والانبياً والكتب الالهية. او يا امر كول د خلګو په هغه څه چي خداى ﷻ امر په كړى او منع كول د هغو افعالو څخه خداى ﷻ نهي ځني كړې كما هو وظيفة جميع الانبياً والمرسلين صلوات الله وتسليماته عليهم اجمعين.

فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْ

نو ته اي محمد ﷺ ددوى په لار ښوونه و خلګو ته اقتدا وكړه.

پوه سه: چي "تقديم" د ظرف يعني بهداهم پر عامل باندي يعني اقتده لپاره د حصر ده يعني لا تقتد الا بهداهم په دې جمله كي رد دى پر مشركانو چي دوى اقتدا كوي بآبائهم الضالين.

فائده: مراد له اقتدا څخه په طريقې پوري د انبياً مذكورين صرف ددوى پر طريقه عمل كول دى لا تقليدهم، ولي چي تقليد خو شان د اهل اجتهاد دى من الامة وبس فكيف يليق التقليد بالانبياً سيما بسيد الانبياً محمد ﷺ. والمعنى اسلک يا محمد على طريق الهداية الى الناس واتباع شرعک المويد بالعقل السليم كما سلكوا، نو په دې كي تنبيه ده پر دې چي طريقه د انبياً هو الحق الموافق للدليل السمعي والعقلي. محقق بيضاوي وايي چي مراد د هداهم څخه هغه شيان دي چي د ټولو انبيا پر هغه اتفاق دى من التوحيد واصول الدين. دون الفروع المختلف فيها كالصلوة والزكوة والحج وغيرها. ولي چي فروع الدين خو د ټولو انبياً ؑ سره يو نه دى او نه دا ممكنه ده چي عليه الصلوة والسلام دې ټولو مختلف فيها مراعات وكړي. بيضاوي په اخير كي وايي ليس فيه دليل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

على انه ﷺ كان متعبداً بشرائع من قبله كما قال بعض من لا دراية له ولا مراعات منصبه الجليل.

فائده: تعبد" په شرائعو سره د "من قبلنا" چي حکايت يې په قرآن کي وسي او انکار نه پر وکړه او يا يې حکايت عليه الصلوة والسلام وکړي او انکار يې نه پر وکړي. او هغه احکام سابقه چي نسخ يې ثابتوي زموږ په شريعت کي په هغو سره عمل نه دی روا.

فائده: ها د اقتده ها السکت بولي چي بعض قرا يې وايي او بعض يې ساقطوي، والتفصيل في کتب القرائة. وتفصيل الفائدة السابقة في کتب اصول الفقه.

فائده: سنية: خاتمة المفسرين قدوة ارباب الحقيقة واليقين شيخ اسماعيل حقي بروسی المتوفي سنه ۱۱۳۷ ھ قدس سره العالي په خپل تفسير کي وايي چي علما محققين د امت محمدي په دې آيت سره اعني فبهداهم اقتده دليل وايي چي آنحضرت ﷺ افضل تر ټولو انبياو عليهم السلام دی کما ورد في الحديث انا سيد اولاد آدم ولا فخر الی اخير الحديث لان خصال الکمال والشرف کانت متفرقة في الانبياء السابقين. فداود وسليمان کانا من اصحاب الشکر على نعمه تعالى التي اعطاهما وايوب من اصحاب الصبر على بلا يائه تعالى، ويوسف کان بين البلية في الاول وبين العظيمة في الآخير فصبر على البلايا وشکر على النعما وموسى عليه السلام کان صاحب المعجزات الباهرة، وزکريا ويحيى وعيسى والياس عليهم السلام کانوا اصحاب الزهد في الدنيا، واسماعيل عليه السلام کان صاحب الصدق فکل من غلب فيه صفة من صفات جميع الله تعالى جميعه في حبيبه وصفيه ﷺ لانه کان ماموراً بالاقتدا بهم.

هرچه بخوبان جهان داده اند — قسم تو نيکو تر ازان داده اند
هر چه بنازند بدان دلبران — جمله تراهست زيادت بران

قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ۭ اِنْ هُوَ اِلَّا ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِيْنَ ۝

ته ورته ووايه کفارو ته د مکې چي زه نه غواړم له تاسي څخه پر تبليغ يا پر قرآن مزدوري، نه دی قرآن يا تبليغ مگر وعظ دی وعالمينو ته اعني الانس والجن على

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العموم لانه نبي الثقلين لاتخصيص بالعرب ولا بالعجم ولا بالانس ولا بالجن.

پوه سه: چې علیه الصلوٰة والسلام مامور سو په نه غوښتنه د اجر ستاسي ولي چي اجر الهي خو جاري ده لکه نور انبیا علیهم السلام چي په اول کي د تبليغ به يې د نه غوښتلو اعلان کاوه کما ورد في عدة مواضع من القرآن في تبليغ الانبيا نو په دې کي هم علیه الصلوٰة والسلام مامور دی بالاقتدا بهم.

مسئله: ددې آیت څخه دا معلومه سوه چي تنخواه غوښتل پر تعلیم القرآن یا پر تعليم الفقه يا پر تعلیم الحديث وقس عليها الامامة والاذان نه ده روا.

درویش وايي: چي دا قول د متقدمينو د فقهاؤ دی او متاخرینو تولو فتوی د جواز ورکړی ده لظهور التواني في امور الدين كما في شرح الوقاية لكن سره د فتوی د متاخرینو عدم اشتراط الاجر في الامور المذكور افضل دی. په حدیث کي د ابي حاتم بن جبير څخه راغلي دي چي يوه ډله د يهودانو په مشرۍ د يو عالم د يهودانو چي ډېر چاغ او څښتور ؤ، او نوم يې مالک بن الضيف ؤ د بحث او مناظرې لپاره علیه الصلوٰة والسلام ته راغلی، نو علیه الصلوٰة والسلام ورته وويل چي زه قسم درکوم چي تورات يې پر موسیٰ علیه السلام نازل کړی دی په هغه کي تا نه دي ليدلي چي د خدای مبغوض چاغ حبر دی یعني عالم ته درد ورغلی نو يې وويل والله ما انزل الله على بشر من شئ نو ملګرو يې ورته وويل ويحک ولا على موسیٰ التوراة، نو دی د چاغ والي د پېغوره د تولو کتابو څخه منکر سو حتی التوراة چي کتاب د يهودانو ؤ نو آيت نازل سو.

وَمَا قَدَرُوا اللَّهَ حَقَّ قَدْرِهِ

یعني دوی خدای ﷻ په حق پېژندلو سره نه دی پېژندلی، ولي که یې پېژندلی وای نو د تولو کتابو څخه يې څه رنګه انکار کاوه په شمول د خپل کتاب تورات، بغوي رحمه الله وايي چي يهودانو ددې مقالې دده له حبریت څخه سبکدوش کړی، او دده پر ځای يې كعب بن الاشرف نامزد کړی، او سدي رحمه الله وايي چي دا آيت په حق کي د فنحاص بن عازورا نازل سوی دی او قائل قول هم دغه فنحاص و والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِذْ قَالُوْا مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَیْءٍ ؕ قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِیْ جَآءَ بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّ هُدًى لِّلنَّاسِ

پوه سه: چي "اذ" ظرف دی د ما قدر الله حق قدره چي دوی وویل یعني مالک الضیف، وجمع ضمیر قالوا مع ان القائل واحد لرضا غیره بقوله مثل بنوا فلان قتلوا والقائل واحد منهم، چي نه دی نازل کړی خدای ﷻ پر هیڅ بشر.

پوه سه: چي دی منکر سو د بعثت د ټولو انبیاوو پر طریقه د سلب کلي هیڅ شی یعني هیڅ کتاب.

پوه سه: چي دا انکار دی د ټولو کتب الٰهیه وو څخه پر طریقه د سلب کلي.

درویش وایي: چي د دوو سالبتینو کلیتنو دعوه نو په جواب کي ایجاب جزی د بعث د موسیٰ علیه السلام او ایجاب جزي د نزول د تورات کافي دی لانهم قالوا ان الموجبة الجزئیة نقیض السالبة الکلیة، نو ته یا محمد ﷺ په ابطال د دوو سلب کلي چي دوی دعوه کړې وه چي چا نزل کړی دی هغه کتاب یعني تورات چي راتګ په کړی دی موسیٰ چي کان بشراً رسولاً چي هغه کتاب نور معنوي و د خلګو لپاره یعني بني اسرائیلو لپاره.

پوه سه: چي "نوراً" حال دی له کتاب څخه او حمل یې مبالغةً دی وکذا هدیً او هغه کتاب هدایت د خلګو لپاره یعني د بني اسرائیلو لپاره.

تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِیْسَ تُبْدُوْنَهَا وَ تُخْفُوْنَ كَثِیْرًا

چي تاسي ګرځولی دی هغه کتاب تورات جلا جلا دفترونه چي تاسي ښکاره کوئ یعني بعض د هغو قراطیس یعني چي ستاسي نفع پکښي وي کالزکوٰة للعلماً والصدقات والاحترام للعلماً، او تاسي پټوئ ډېر د هغو قراطیس له عوامو څخه کنعوت النبي علیه السلام وآیة الرجم وغیر ذالک.

درویش وایي: چي په دې آیت نهایت ذم او توبیخ د علماً د بني اسرائیلو، ولي چي دوی تورات مطابق د شهواتو سره استعمالوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ

او تاسي ته يې در وښوول هغه احکام چي نه تاسي په خبر واست او نه ستاسي پلرونه، ولي ستاسي ملايانو يا ستاسي ځنځه پټ کړي وه او يا تغيير او تبديل پکښي کړي وه.

بوه سه: چي اکثر مفسرين او علما پر دې دي چي دا خطاب خو يهودانو ته دی لکن تعليم پر لسان د محمد ﷺ دی، يو هغه پټ کړي احکام د تورات کمامر او بل علی في التورات من الاحکام الآلهية في القرآن النازل علی محمد ﷺ او يا بيان د هغو آياتو چي پر تاسي او ستاسي پر پلرو به شکل يعني نه به په هدايت عليه الصلوٰة والسلام د هغو مشکلاتو د تورات د آيتو حل او کشف ورته وکړی چي دا مشکلات به د دوی د ملايانو د خوا په لاس وهونکي د تورات په آيتو پيدا سوي وه کما قال الله ﷻ ان هذا القرآن يقص علی بني اسرائيل اكثر الذي هم فيه يختلفون، او مجاهد وايي چي دا خطاب دی وه مسلمانانو ته ودوی ته ورښيي هغه نعمت د علم چي په بعثت د رسول الله ﷺ ودوی ته حاصل سو.

قُلِ اللّٰهُ ثُمَّ ذَرْهُمْ فِىْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ

ته ورته وايه چي خدای ﷻ نازل کړی دی هغه کتاب چي موسیٰ ﷺ راتگ په کړی دی يعني تورات بيا نو دوی پر پرېږده چي په باطلو خبرو کي سات تېروي.

بوه سه: چي "قل" جواب د هغه استفهام چي من انزل الكتاب الذي جاء به موسیٰ يعني نو عليه الصلوٰة والسلام خدای ﷻ امر کړی چي ته جواب د استفهام ورکړه دوی که وايي او که نه اذ لاجواب غيره او يلعبون حال دی د مفعول ځنځه د ذرهم او في خوضهم په يلعبون پوري.

وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ

او دا قرآن کتاب دی چي موږ نازل کړی دی يعني پر محمد ﷺ چي کثير البرکة والخير والنفع دی او تصديق کونکی د هغو کتابو دی چي تر ده دمخه نازل سوي وه کتوراة موسیٰ وانجيل عيسیٰ وغيرهما.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِتُنذِرَ أُمَّ الْقُرَىٰ وَمَنْ حَوْلَهَا

پوه سه: چي "ولتنذر" عطف دى پر ما يفهم من مبارك يعني لتنفع به ولتنذر آه يعني ته فائده پر واخلې او ته وبېروې په قرآن سره اهل د ام القرىٰ چي مکه مکرمه ده يعني مشرکان د مکې او د شاوخوا خلگ د ام القرىٰ.

پوه سه: چي مکه مکرمه چي ام القرىٰ يې بولي له دې سببه چي ټوله ځمکه تر دې لاندي غړول سوې ده، نو دا لکه اصل د ټولي ځمکي او بل په دې سبب چي قبله د اهل القرىٰ من المسلمين. او د من حولها څخه مراد تر شرق او غرب او جنوب او شمال پوري ټوله ځمکه ده.

وَالَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ يُؤْمِنُونَ بِهِ وَهُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ ﴿٩٢﴾

او هغه کسان چي ايمان لري پر ورځي د اخرت هغه ايمان لري پر قرآن او هغه کسان پر لمانځه باندي دوام کوي سره د ادا د ټولو حقوقو د لمانځه.

پوه سه: چي مراد له صلوٰة څخه جنس دى چي پنځو سرو لمونځو ته شامل سي، ووجه ذالک چي هغه کسان چي پر اخرت ايمان لري، نو د هغې ورځي د حساب او عذابه څخه بېرېږي، نو به دى د ځان سره غور او فکر وکړي، نو به يې دا يقين سي چي سبب د خلاصون زما به ايمان گرځي پر نبي ﷺ او پر قرآن.

پوه سه: چي ضمير د به احتمال د دوارو لري يعني القرآن او عليه الصلوٰة والسلام او د ايمان صادق له لوازمو څخه دى محافظت د ارکانو د اسلام وخص الصلوة من بين الطاعات لانها عماد الدين کما ورد في الحديث الصحيح.

پوه سه: چي په دې آيت تعريض پر يهودانو چي دوى قرآن او عليه الصلوٰة والسلام نه مني، نو دا له دې سببه چي دوى اخرت نه مني او پر تورات ايمان هم نه لري للتلازم بين الايمان بالآخرة والايمان بالتوراة والايمان بالقرآن.

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا

پوه سه: چي استفهام د "من" انکاري دى اى لا احد اظلم تر هغه چا دروغ وايي پر خداى ﷻ باندي.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

پوه سه: چي افترى مشتق ده له فرية څخه وهو الكذب، نو بنأ عليه كذباً مفعول مطلق دى د افترى چي لفظ هم نه دى سره موافق مثل قعدت جلوساً وفيه شئ.

پوه سه: چي مراد د مفترى على الله مثل مالک بن الضيف دى چي ده وويل چي ما انزل الله على بشر من شئ او بعض مفسران وايي چي مراد له مفترىٰ څخه په دې آيت کي مسيلمة كذاب او اسود عنسي دى چي دواړه دعوې د نبوت کړي وې په په حيوة کي د رسول الله ﷺ، او بعض وايي چي مراد ددې مفترىٰ څخه عمر بن لحي دى چي اول سړى دى چي دين د اسماعيل عليه السلام يې بدل او بتان يې په مكه شريفه کي ودرول، او سائبه او بحيره او حام چي دمخه تېر سوي دي هغه ددغه عمر بن لحي د دروغو پر خداى ﷻ پوه برخه ده، قتادة رحمه الله وايي چي مسيلمة كذاب به مسجع الفاظ وويل چي پر ما داسې كتاب نازل سوى دى لكه پر محمد، حتى مسليمة كذاب د سورة كوثر په مقابل کي دا بې معنا الفاظ ويلي دي انا اعطيناک الجماهر فصل لربک وهاجر انا كفيناک المجاهر والمكابر، او مسيلمة كذاب و عليه الصلوٰة والسلام ته دوه كسه د خپلو د خپلو اتباعو را استولي وه چي محمد دي زما سره عرب نيمى کړي اهل مدر يعني د ښارو خلگ يې دده او اهل وبر يعني پونده خلگ يې زما، نو عليه الصلوٰة والسلام و هغو دوو كسانو ته وويل چي آيا تاسي شاهدي ادا كوئ چي مسيلمه نبي دى؟ هغو ورته وويل هو! نو عليه الصلوٰة والسلام و هغو ته وويل كه استونكي خلگ نه وژل كېداى مابه ستاسي غاړي په توره وهلي واى.

درويش وايي: چي صاحب د روح البيان مسيلمة كذاب په تفسير کي د هغه آيت راوړى دى ومن اظلم ممن افترىٰ" او مظهري رحمه الله مسيلمة كذاب ددې آيت په تفسير کي راوړى دى.

أَوْ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَيْءٌ

درويش وايي: چي كه څه هم مسيلمة كذاب مفترى على الله و لكن انسب رايه د مظهري رحمه الله ده ولي چي مسيلمة كذاب خو مطلق مفترى نه بلكي دعوى د وحي يې كوله كما في هذه الآية چي معنا يې داده چي ياوايي چي ماته وحي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړه سوي دي يعني د خداى ﷻ له جانبه او حال دادی چي د ته وحي نه دی کړه سوي د هيڅ شي، والقصة قد مرت.

بوه سه: چي مسيلمة كذاب وحشي چي قاتل د حمزه ؓ و د احد په جنګ کي وواژه وروسته تر وفات د عليه الصلوٰة والسلام او اسود عنسي فيروز ديلمي مړ کړی؛ او خبر د وژني د اسود عنسي چي فيروز مړ کړی هغه وخت و عليه الصلوٰة والسلام ته را ورسيدی چي عليه الصلوٰة والسلام په اخيري ناجوړی کي و.

وَمَنْ قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ

بوه سه: چي دا "ومن قال آه" عطف دی پر من اظلم الآية باندي، بغوي ؒ وايي چي دا آيت په عبد الله بن ابي سرح کي نازل سوی دی چي اسلام يې راوړی او خط نويس و چي د عليه الصلوٰة والسلام کاتب د وحي و، نو دا آيت چي نازل سو "لقد خلقنا الانسان من سلالة من طين" عبد الله المذکور وبيان ته د خلق الانسان په تعجب کي سو، نو يې وويل تبارک الله احسن الخالقين، عليه الصلوٰة والسلام و عبد الله ته وويل نوشته يې کړه داغسي نازل سوي دي، عبد الله ته شک پيدا سو چي که محمد په دعوه کي د نبوت صادق وي، نو ماته هم وحي وسوې وده ته وان کاذباً فقد قلت مثل ماقال، باره مرتد سو له اسلام څخه او مشرکانو ته د مکې ولاړی، لکن بغوي ؒ وايي چي عبد الله رجوع وکړه و اسلام ته هغه چي عليه الصلوٰة والسلام لپاره د فتح د مکې سره د فوجه را روان و او په مر الظهران کي يې اړولي وه، حافظ فتح الدين بن سيد الناس د خپل د سيرت په کتاب کي ويلي دي چي عليه الصلوٰة والسلام د عبد الله د اسلام قبلولو څخه ډډه وکړه، نو عبد الله عثمان ؓ ورته شفيع کړی، نو عليه الصلوٰة والسلام قبول کړی وحسن اسلامه بعد ذالک حتی چي هيڅ چا وده ته په نظر د نقمت نه دي کتلي، او دی چي يې مړ کړی دی د سجدې په حالت کي و، او ابن عباس ؓ وايي چي دا آيت "سانزل مثل ما انزل الله" په شان کي د مستهزئينو د قرآن نازل سوی دی چي دوی په ويل لوشا لقلنا مثل هذا يعني القرآن حتی چي نضر بن الحارث په مقابل کي ددې سورت قرآني والنازعات غرقاً الی اخير الآيات داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل، والطاحنات طحناً والعاجنات عجناً والمخابرات خبراً.

وَلَوْ تَرٰىٓ اِذِ الظّٰلِمُوْنَ

که ته ووینې "مفعول د ترٰی محذوف دی ای الظالمین کما یدل علیه مابعده "اذ الظالمون" مبتدأ ده او لام لپاره د عهد دی یعني مراد ځني یهود دي، او هغه کسان چې دعوه د نبوت یې کاذبانه کړې ؤ او مستهزئین بالقرآن دي او یا لام لپاره د جنس دی او مذکورین په کښې داخل دي، او جواب د "لو" محذوف دی ای لرئیت امراً عظیماً فزیعاً.

فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ

په سختیو کې د مرګ دي "غمرات" جمع د غمرة ده چې معنی شدة غالبه دی ددې محاورې څخه ماخوذ دی فلان غمره الما اذا علاه وغطته چې پرده به اوبه لوړې سوې وي او دی به یې پټ کړي.

یوه سه: چې دا خبر دی د "الظالمون" او اضافت د غمرات و موت ته اضافت بیانیه ده. نو ګویا مرګ ډېرې سختی لري، ولهذا قال سید البشر ﷺ حین حضرة الموت اللهم للموت سکرات.

وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ

او ملکو یعني ملکې د عذاب خلاص یې نیولې دي لاسونه لپاره د قبض او روح ددوی یعني لکه د یو سړي چې ډېر سخت طبعیت وي او پر یو چا یې پور باندې وي، او په مطالبه کې د پور ډېره سختي کوي او پوروړي ته یې دواړه لاسونه خلاص نیولي وي ورته وایي اخرج الي مالي علیک الساعة، او زه نه درسه ځم چې پور مې را نه کړې "الملائکة" مبتدأ ده او باسطوا یې خبر دی، او راتلونکی آیت یې خبر بعد الخبر دی.

اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ

او راوباسئ خپل روحان، او تولـه جملـه حال ده له ضمیر څخه د ظرف یعني في غمرات، لان التقدیر کائنون في غمرات الموت والحال ان الملائکة آه او دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قول د ملکو به په ډېره سختۍ ورته کوي.

اَلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ الۡهُوۡنِ بِمَا كُنۡتُمۡ تَقُوۡلُوۡنَ عَلَى اللّٰهِ غَيۡرَ الۡحَقِّ وَكُنۡتُمۡ عَنۡ اٰيٰتِهٖ تَسۡتَكۡبِرُوۡنَ ﴿۹۳﴾

پوه سه: چي له "اليوم" څخه مراد د مرگ وروسته الى مالانهاية له. تاته جزا درکول کېږي عذاب د سپکاوي او د اهانت په سبب د دې چي تاسي واست پر خدای پاک به مو دروغ ویل، لکه شریک خدای ته چي مشرکانو به وایه، یا ولد خدای لره لکه یهودو چي به ویل عزیر ابن الله یا نصارٰی به ویل چي عیسٰی ابن الله او یا به مو دعوه د نبوت کوله په دروغو کمامر في حالة مسیلمة کذاب والاسود العنسي، او تاسي واست چي د آیتو قرآنیه وو او د معجزاتو نبویه وو څخه مو کبر کاوه یعني یقین مو نه پر کاوه.

فائده: خدای پاک "عذاب الهون" ذکر کړی له دې سببه چي عذاب د کافر په اور کي د اهانت لپاره دی، او بعض مسلمانان که په سبب د گنهو دوزخ ته خدای پاک ورولي هغه عذاب د اهانت نه دی بلکي د پاکوالي لپاره دی مثلاً لرگي چي څوک پر اور اچوي هغه د لرگو اهانت دی، او سره زر که خیرن سي او زرگر یې پر کوره د اور کښېږدي هغه د صفايي لپاره دی.

وَلَقَدۡ جِئۡتُمُوۡنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقۡنٰكُمۡ اَوَّلَ مَرَّةٍ

او په تحقیق تاسي راغلاست اې ظالمانو یو ازي او تنها.

پوه سه: چي "فرادٰی" حال دی له فاعل څخه د "جئتمونا" یعني منفردین عن الاموال والاولاد والاعوان والاحباب والاوثان، چي تاسي به ویل چي دا زموږ شفاعت کوونکي دي.

پوه سه: چي دا اخبار د خدای پاک له خوا پر ژبه د ملکو یا په ورځ د مرگ کمایدل علیه السیاق یعني قوله تعالی في غمرات الموت الآیة" او یا په ورځ د قیامت "کما خلقنٰکم اول مرة" بدل دی له فرادٰی څخه یعني پر هغه ډول لکه له مور څخه چي زېږېدلي یو وار وي، او لکه د مور څخه چي پیدا کېدی لڅي پښي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او لځ له کالو څخه اوس هم هغسي راغلاست.

وَتَرَكْتُم مَّا خَوَّلْنَاكُمْ وَرَاءَ ظُهُورِكُمْ

او تاسي پرېښول په دنيا کي هغه څه چي موږ درکړي وه من الاولاد والاموال والقصور والبساتين وغير ذالک، وروسته تر شا يعني له هغو شيانو څخه مو هيڅ شی نه راوړی اخيرت ته يعني مسلمانانو خو اسلام له ځانه سره راوړی.

وَمَا نَرَىٰ مَعَكُمْ شُفَعَاءَكُمُ الَّذِينَ زَعَمْتُمْ أَنَّهُمْ فِيكُمْ شُرَكَاءُ

او موږ نه وينو ستاسي سره شفاعت کونکي ستاسي هغه چي ستاسي به زعم باطل ؤ چي دغه بتان به تاسي شريکان د خدای ﷻ بلل، يعني ستاسي دا خيال ؤ چي دا اصنام شريکان د خدای ﷻ دي په استحقاق کي د عبادت.

لَقَد تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنكُم مَّا كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٩٤﴾

بوه سه: چي "تقطع" په نصب سره "بينكم" په اضمار د فاعل لدلالة ماقبله عليه او اصل يې داسي و لقد تقطع مابين کم من الوصل يعني ستاسي او د بتانو تر منځ هغه پيوند د دنيا چي تاسي به دوی عبادت کاوه قطع سو، اويا يې فاعل ضمير دی چي راجع دی و مصدر ته د تقطع ای تقطع التقطع ای وقع التقطع بينكم وبينهم کما قيل حيل بين العير والنزوان ای وقع الحيلولة او يا فاعل د تقطع بينكم دی مجازاً في الاسناد.

سوال: فاعل خو مرفوع دی، نو بينكم چي فاعل دی مرفوع نه دی؟

ځواب: بينكم" سره د فاعليت پر نصب پرې ايښی دی للزوم ظرفيته، او بعض قرا يې په رفع د "بينكم" وايي اسناد د فعل يې وظرف ته کړی دی مجازاً. او ورک سوله له تاسي څخه هغه څوک چي تاسي دا گمان کاوه چي دا په شفعا زموږ وي په نېز د خدای ﷻ په ورځ د قيامت.

إِنَّ اللَّهَ فَالِقُ الْحَبِّ وَالنَّوَىٰ

په تحقيق خدای ﷻ څيرونکی دی د دانو لکه غنم، جوار وغيرهما، او د مندکي د خورما او شفتالو وغيرهما يعني په مځکه کي دانې وچوي او غنم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وغیره او د خورما درخته وغیره ځني راووزي، او دا معنا حسن بصري او قتادة په دغو الفاظو ذکر کړې ده شق الجنة عن السنبلة والنواة عن النخلة فيخرجها منها.

پوه سه: چي حب جمع د حبة ده تولو تخمو ته وايي چي د خورک وي حاصل يې، او "نوی" جمع د نواة ده د خورما وغیره مندکي ته وايي. او بعض مفسران وايي چي حب تولو تخمو ته نه وايي چي دوی خوړل کېږي بلکه غنم اوربشي جواري ورجي وامثالها. او نوات هرمندکي ته وايي چي د مېوې په منځ کي وي لکه د خورما مامندکه د بادام مندکه د شفتالو مندکه وغيرها.

يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّ

درويش وايي: چي انسب د مقام او سياق سره دا تفسير دی چي خدای ﷻ راباسي نُما کونکی شی لکه حيوان او نبات د غير نما کونکي څخه کالنطفة والحبوب والنوات. او خدای ﷻ را ايستونکی دی د مالاينمو چي نما نه کوي لکه د حيوان نطفه او د چرگي هگی. او داني له نما کونکي شي څخه.

پوه سه: چي دا جمله لکه بيان د ماقبل ده يعني فالق الحب آه. او مخرج الميت پر عطف دی پر فالق الحب باندي څخه يې صيغه د اسم فاعل راوړې ده. او ابن عباس رضي الله عنه وايي چي مراد له "حي" څخه مؤمن دی او مراد له ميت څخه کافر دی لکه ابراهيم له آذره څخه او مخرج الميت من الحي څخه مراد دادی چي له مؤمن څخه ميت يعني کافر وزېږي لکه کنعان د نوح عليه السلام څخه. او ابن عباس رضي الله عنه زياته کړې ده چي مطيع له عاصي څخه پيدا سي يا عاصي له مطيع څخه يا عالم له جاهل څخه پيدا سي او يا جاهل له عالم څخه وکذالک العاقل من الاحمق وبالعکس.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ فَأَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۹۵﴾

دغه ژوندی کونکی او ورکونکی الله ﷻ دی. نو چېري تاسي مصروف ياست ددغه مقتدر خدای ﷻ څخه وغیره چي هغه هيڅ نمونه د قدرت نسته يکښي ای الاصنام من الاحجار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَالِقُ الْإِصْبَاحِ ۚ وَجَعَلَ اللَّيْلَ سَكَنًا

پوه سه: چي فالق الاصباح بل خبر دی د ان في قوله ان الله آه، او اصباح مصدر دی په معنی د دخول في الصبح سُمي به الصبح والمعنى خدای شاق عمود الصبح والفجر عن بیاض النهار، او ګرځولي ده خدای ﷻ شپه وخت د ارام چي په دې کي خلګ له ستړیا څخه د ورځي په مشاغلو کي د دنیا ارام او استراحت کوي، مشتق دی له دې محاورې څخه سكن اليه ای اطمئنان اليه استیناساً به او یا خلګ په دې کي اکثره ارام کوي. او یا اولیاء الله او تهجد ګذاران په شپه کي د غال مغال څخه د خدای ﷻ وعبادت ته ارام پیدا کړي، نو هم دا سبب دي چي د علیه الصلوٰة والسلام ملاقات د خدای ﷻ سره په شپه کي واقع سو یعني لیلة المعراج.

وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ حُسْبَانًا ۚ

دا عطف دی پر لیل باندي ای جعل الشمس والقمر آه، یعني حساب د ورځو او شپو د میاشتو او د کال ددوی په رفتار سره کېږي روح البیان د حسباناً ترجمه داسي کړې ده ای ادوار مختلفه.

پوه سه: چي خدای ﷻ په خپل قدرت سره لمر ته دومره اندازه حرکت ورکړی دی چي په یوه کال کي تخمیناً یوه دوره پر عالم جسماني باندي قطع کوي چي دې ته سنه شمسي وایي او سپوږمی. ته یې دومره حرکت سریعه ورکړی دی چي په یوه میاشت کي دوره قطع کوي، نو په دوولس میاشتو کي یو کال قمري پوره کېږي چي دې کال ته سنه قمري وایي، او په شمسي کال کي فصول اربعه یعني پسرلی، دوبی، منی او ژمی منځ ته راځي چي په هغو پوري کارونه د شنه کېدو د اشجارو میوه دارو او د هغو میوو پوخ والی مربوط دی، او په دوره د قمر پوري د پورو وعدې او مواقیط د حج او عمرې وغیر ذالک معلومېږي کما ورد في موضع آخر من القرآن "یسئلونک عن الاهلة قل هي مواقيت للناس والحج.

پوه سه: چي حسبان بضم الحا په مصدر دی په معنی د حساب فلابد من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تقدیر في الآية ای جعل الشمس والقمر علمي حساب واما الحسبان بکسر الحاً فهو بمعنی الظن والتخمین.

فائده: لمر يې تر سپوږمی دمخه کړی ولي چې لمر معدن دی د انوارو فلکیه وو.

ذٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ

دغه رفتار د لمر او سپوږمی په تسخیر د خدای ﷻ تقدیر او اندازه د قدرت د غالب خدای چې په هر شي د کائناتو علویة او سفلیة وۀ خبیر دی.

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ النُّجُومَ لِتَهْتَدُوا بِهَا فِي ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۗ قَدْ فَصَّلْنَا الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ

خدای پاک هغه ذات دی چې پیدا کړي يې دي یعني په اسمانو کي ستوري چې تاسي لاري پیدا کړئ په دوی سره په تاریکیو کي د شپې په مځکه کي یعني په دښتو کي او په دریابو کي.

پوه سه: چې مراد د ظلماتو هغه مشتبه لاري دي او موږ بیان د دلائلو چې دلالت کوي پر صنعت د قادر مطلق کړی مو دی و ده داسي قوم ته چې علم او پوهنه لري.

پوه سه: چې بیانات د خدای ﷻ که څه هم عام دي لکن نفع اهل علم پر اخلي حدادي وايي چې پېژندل د لارو د یوه ښار څخه بل ښار په دښتو کي د مځکي او په چینو کي د دریابو په تاریکیو کي د شپې په کښتیو کي په ذریعه د ستورو کېږي چې مسافر بعض ده ته معلوم ستوري د مخ پر خوا گرځوي او بعض پر راسته جانب او بعض پر چپه طرف او بعض پر شا گرځوي د لارو درک ورمعلومېږي.

پوه سه: چې د ستورو نوري فائدې هم سته چې زینت د اسمان دي او رجوم الشیاطین هم دي الی غیر ذالک مما، او دعه الله فیها من الحکم نعلمها او لا نعلمها.

وَهُوَ الَّذِي أَنشَأَكُم مِّن نَّفْسٍ وَاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَمُسْتَوْدَعٌ

هغه مقتدر خدای دی چې تاسي يې ابتدا پیدا کړي یاست له یوه ذات څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي آدم علیه السلام يعني انشا د خلق الانسان له ده څخه سوې ده.

سوال: انشا د خلق ال انسان پر مڅکه يوازي خو له آدم علیه السلام څخه نه ده بلکې حوا هم په دې کي برخه لري؟

خواب: پيدا والى زموږ د مور حوا علیها السلام له يوې پوښتى څخه د آدم علیه السلام سوى دى، نو گويا ټوله انسانان بالوسائط يوازي د ابو البشر آدم علیه السلام پيدا دى.

پوه سه: چي مستقر او مستودع دواړه مصدر ميمي دي مرفوع دي على الابتدا او خبر يې محذوف دى والتقدير فلكم استقرار في اصلاب الآبا او يا پر مڅكه او امانت ايښول لري په ارحامو كي د مندو او يا تحت الارض په قبر كي.

نكته: خداى جل جلاله صلب الاب مستقر د نطفې وباله او رحم د مور يې مستودع وباله، ولي چي نطفې خو د پلار په ملا كي قرار درلودى الا من قبل الغير او په رحم كي د مور چي حاصله سوه په فعل د غير چي زوج دى. نو گويا نر دا خپل نطفه ودې ته امانت كښېښول.

قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿۹۸﴾

موږ تفصيل د آياتو د قدرت خپل كړى دى هغه قوم ته چي په دې آيتو پوهېږي، ولي چي دا امور د قيقه دي فكر او فهم ته ضرورت لري.

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا

او خداى جل جلاله هغه ذات دى چي نازل كړي يې دي اوبه د باران له اسمان څخه يعني له وريځي څخه، ولي چي عرب وايي چي كل ما علاک فهو سما، نو موږ په دې اوبو سره شنه كوو تخمونه د هر شي له مڅكي څخه، چي په ابتدائي حالت كي په رنگ شنه وي.

نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ

او په وروسته حالت كي د هغه شنه سوي شي څخه راباسو دانې يو پر بل سپرې چي په عربي يې سنبله بولي او په پښتو يې وږى بولي، بعض سنبله د غنم وي بعض د اوربشو او بعض د جوارو وهكذا فسبحان الذي اخرج بما واحد افنان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المطعومات مختلف الطعم واللون والمقدار وفضل بعضها على بعض في الاكل فتبارک الله احسن الخالقين.

پوه سه: چي تر اوسه پوري حال د نباتاتو خداى پاک بيان كړى اوس نوبت دى د حال د درختو.

وَ مِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ

پوه سه: چي "من النخل" خبر مقدم دى او من طلعها يې بدل دى او "قنوان" مبتدأ ده او دانية يې صفت دى او طلع د خورما لكه دوه نعل چي سره متصل كړي او ميوه په منځ كي وه، د دانيه مراد دادى چي نژدې دي او پربكول يې اسانه دى.

پوه سه: چي په آيت كي اختصار دى معنا يې داده چي بعض قنوان د نخل دانيه يعني قريبه دى او بعض يې بعيده دى تخصيص د قريبه چي په ذكر سره وكړى ددې سبب نعمت په قريبه اكبر او اسهل تر بعيده.

پوښتنه: د درختو بيان يې ولي د خورما له درختي څخه شروع كړى؟

ځواب: خورما هغه درخته ده چي له دې څخه د طلع له وخت څخه په ميوې ددې شروع كيږي بيا تر وخته پوري د تمر والي يعني چي پخه خورما كيږي او خلگ يې له درختو څخه شكوي چي په دې منځ كي تخميناً څلور پينځه مياشت تيرېږي، او بل سبب دادى چي هيڅ داسي ميوه نسته چي بې دوړى صرف او صرف په هغه ميوه سره او په اوبو سره سړى دوې مياشتي ژوندى وساتي بيله خورما، ولي چي خورما سړى خوري او اوبه پسي څښي دوې مياشتي بلاتكليفه ژوند كولاى سي، او بل سبب دادى چي خورما په كلو كلو چي پرته وي د خورک له قابليت څخه نه وزي بخلاف الاثمار الاخر، او بل په حديث نبوي صحيح كي راغلي دي چي رسول اكرم ﷺ و اصحابو رضي الله عنهم ته وويل "اكرموا عماتكم النخل فانها خلقت من فضلة طنية آدم عليه السلام وليس من الشجر شجرة اكرم على الله من شجرة ولدت تحتها مريم بنت عمران يعني عيسى عليه السلام فاطعموا نسائكم الولد الرطب فان لم يكن فتمر.

ترجمه: تاسي عزت وركوئ خپلو امه گانو ته چي د خورما درختي دي ولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دا درخته پیدا سوې ده د هغه بالا سوي ختي څخه چي آدم ځندي جوړ سو، نو ګویا د خورما درخته د ټولو انسانانو د پلار چي آدم ﷺ دی خورده نو زموږ به عمه سي او نسته په درختو کي یوه داسي درخته چي عزت پر خدای ﷻ لري تر هغې درختي چي لاندي تر هغې مریم بنت عمران لنګه سوه چي عسیٰ ﷺ یې راوړی هغه درخته د خورما وه او تاسي خوړئ په خپلو ښځو چي تازه لنګه سي لنده خورما، او که لنده نه وه بیا وچه خورما. زموږ د افغانانو لنګي ښځي ته اول لېتي وریخوي، ولي چي خورما همېشه د افغانانو په کورو کي نه وي.

وَجَنّٰتٍ مِّنْ اَعْنَابٍ

دا عطف دی پر علی نبات کل شئ یعني اخرجنا. له باغو څخه د انګورو.

درویش وایي: چي مرکز د نړی پر مخ د ټولو اقسامو د انګورو افغانستان دی بالخصوص قندهار.

وَّالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ

او راښته کړي په هغو اوبو سره درخته د زیتون او انار، د زیتون درختي ته په بل ځای کي شجرة مبارکة ویل سوې ده.

پوه سه: چي دا دوه لفظه "متشابهاً وغیر متشابه" حال دي له رمان څخه یعني بلګونه او قد د درختي د رمان د بلګو او قد سره د درختي د زیتون سره برابر دي او خوند د انار د زیتون د خوند سره نه دی برابر، او یا حال دی له ټولو ماتقدم څخه یعني متشبهاً بعض مامر د بعض آخر سره لکن غیر متشابه دی په هیئت کي او په مقدار کي او په رنګ کي او په خوند کي کمایدل علیه التجربة.

اُنْظُرُوْٓا اِلٰى ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ۭ اِنَّ فِيْ ذٰلِكُمْ لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ۹۹

وګورئ اې خلګو په نظر د عبرت او د خدای ﷻ پېژندلو.

پوه سه: چي ضمیر د ثمره راجع دی و مذکوره درختو ته په تاویل د کلو احدمنها. وګورئ و مېوې ته د هري درختي چي اوله مېوه راوباسي چي تقریباً هیڅ نفع او فائده نه وي پکښې او وګورئ و مېوې ته د هري درختي چي اوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

میوه راوباسي چې تقریباً هیڅ نفع او فائده پکښې نه وي او وګورئ میوې ته د هرې درختې چې میوه یې پخه سي څونه غټه سي، او یو رنګ او بل رنګ پیدا کړي او دغه رنګه خوند یې جلا جلا پیدا کړي دی په تحقیق په دې مذکوراتو درختو او میوو کي دلائل پر وجود د صانع او قدرت د هغه او پر حکمت د هغه او پر توحید د هغه اذ لو کان فیهما آلهة الا الله لفسدتا کما في موضوع آخر من القرآن الکریم" که وای متصرف په اسمانو او ځمکو کي خدایان غیر له الله ﷻ څخه نو اسمانونه او ځمکه به فاسد د سوي وای.

وَجَعَلُوا لِلَّهِ شُرَكَاءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوا لَهُ بَنِينَ وَبَنَاتٍ بِغَيْرِ عِلْمٍ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَمَّا يَصِفُونَ

او ګرځولي دي کفارو د مکې سره ددې چې دلائل د توحید دوی ډېر واوریدل شریکان د جن، او حال دادی چې خدای پاک دوی پیدا کړي نه جن، نو جمله د "خلقهم" حال ده له لفظ الله څخه په تقدیر د قد کما هو القانون النحوي في حالیة صیغة الماضي او مفعولان د جعلوا لله او شرکا دي، او الجن بدل دی له شرکا څخه او دوی په درواغو چې معنی د خرقوا د ګرځولي دي خدای ﷻ لره زامن لکه یهود چې وایي عزیر ابن الله او نصاری وایي چې عیسیٰ ابن الله دی او خدای لره لوڼې هم پیدا کړې په درواغو لکه مشرکین د مکې چې وایي چې ملکې د خدای لوڼې دي او مندي یې د پیرانانو د رئیسانو لوڼې دي.

یوه سه: چې "بغیر علم" حال دی له فاعل څخه د خرقوا ای حال کونهم متلبسین في هذا الخرق په غیر علم سره، یعني نه دلیل عقلي پر لري او نه نقلي پاک دی خدای ﷻ له هغه شي چې کفار یې توصیف په کوي یعني ته ده ثابت بولي من الشرکا والبنین والبنات.

فائده: مظهري رحمه الله وایي چې مراد له جن څخه ملکې دي، ولې چې کفار مکه وایي چې ملائکه بنات الله دي او وجه د تسمیه په جن سره پټوالی دی د ملکو له عمومي ابصارو څخه چې د جن معنا ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي پر دې ترجمه خو تکرار لازميږي ولې چي د بنات ذکر وروسته تر بنين تېر سو، او بله توجيه مظهري رحمه الله دا کړې ده چي مراد له جن څخه شيطانان دي لانهم اطاعوهم وعبدوا غير الله من الاوثان، او نوري توجيهاتي يې هم کړي دي، او حسين واعظ کاشفي هروي رحمه الله په خپل تفسير کي چي په نامه د تفسير حسيني ياديږي وايي چي اصح تفسير د شركاء الجن چي مراد له دې ډلي څخه د جعلوا فاعل دی زنادقه دي چي مجوس يې هم بولي او ثنويه يې هم بولي، دوی لعهنم الله تعالى وايي چي خدای او ابليس سره وروڼه دي، لکن الله خالق الناس دی او خالق د دوابو او انعامو نافعه وو بلکې د هر خير شي خالق دی، دوی وايي چي د الله بل نوم يزدان دی او ابليس خالق دی د سباعو او د مارانو او لړمانو او عموماً د هر شر د شيانو او دا بل نوم د ابليس اهرمن دی.

درويش وايي: چي په هندوانو کي د هند ددې عقيدې خلګ ډېر دي والعلم عند الله سبحانه وتعالى.

بَدِيعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ ؕ وَخَلَقَ كُلَّ شَیْءٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾

پوه سه: چي بعض مفسران وايي چي "بديع" صفت مشبه دی او مضاف دی و فاعل ته. نو په معنى د عجب دی ابسمانونه او مځکه چي مثل او نظير نه لري، او بعض مفسران وايي چي بديع که څه هم د مجرد له بابه دی لکن په معنا د اسم فاعل د باب افعال والمعنى خالق دی د اسمانو او مځکي بې له مثال سابق څخه او فعيل په معنى د مفعل ثابت دی په دې شعر کي د بعض شعراؤ.

امن ريحانة الداعي السميع (مسمع) يورقني واصحابي هجوع

فائده: پر هر تقدير "بديع آه" خبر د مبتدأ محذوفي دی ای هو بديع آه او بديع السموات مبتدأ ده خبر يې محذوف دی ای هو الله اني په معنى د من اين دی او يا د کيف دی يعني يا د کوم خايه دی خدای جل جلاله لره ولد او يا څرنګه دی خدای جل جلاله لره ولد، او حال دا دی چي نسته خدای جل جلاله لره صاحبه يعني زوجه چي د هغې دي خدای لره ولد پيدا سي او خدای پاک خالق د هر شي دی او په هر شي بنه خبر دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په دې آيت کي دليل پر نفي د ولد خداى لره په څو وجهو دى.

(۱) خداى ﷻ خالق د اجسامو عظيمه وو دى وخالق الاجسام لا يكون جسماً والا يكون خالقاً لنفسه وهو محال بالبداهة او ولادة خو له خواصو څخه د اجسامو دى (۲) ولد خو پيدا كيږي له نر او ښځي څخه چي متجانس وي، والله تعالى منزه عن المجانسة مع شئ (۳) ولد خو كفو او مثل د والد وي، وليس له كفواً احد ولي چي ټول ماسوى د خداى مخلوق د خداى ﷻ دي فلا يكافيه شئ

(۴) خداى پاک په هر شي عالم دى ولا كذالك غيره بالاجماع الا بتعلمه (۵) مبدعات د خداى ﷻ اسمانونه او مځكي دي او سره ددې چي هغه له جنس څخه د مايوصف بالولد دي ولي خو اجسام دي لكن مع هذا هغه اسمانو او مځكه ولد ته ضرورت نه لري لطول بقائهما فالله تعالى اولى به.

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ فَاعْبُدُوْهُ

او دغه موصوف ذات په ماسبق من الصفات "ذالكم" مبتدأ ده وروسته يې اخبار مترادفه لفظ "الله" دى تربيه كوونكي ستاسي نشته مستحق بې له ده پيدا كونكى دى د هر شي. نو دده خاص عبادت كوئ لا لغيره.

پوه سه: چي فا لپاره د سببيه ده يعني هغه څوک چي مستجمع ددغو صفاتو جليله وي هغه مستحق د عبادت دى لاغيره من المخلوقات خصوصاً الاصنام الجمادات.

وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ وَّكِيْلٌ ﴿۱۰۲﴾

او خداى ﷻ د حفاظت او د تربيې او د ټوله مايحتاج اليه المخلوقات وكيل دى. او خداى ﷻ چي وكيل د ټولو شيانو دى بايد بندګان خپل ځانونه اولادونه او مالونه ټوله و ده ته وسپاري لكه چي معنا د وكيل ده. او بايد خلګ تقرب وكاندي وخپل وكيل مقتدر ته په عباداتو سره او په هر شي چي دى راضي كيږي من العبادات القولية والجسدية والمالية والحالية بدوام الاستغراق في طلب مرضاته والاجتناب الكلي عما يغضبه تعالى من المعاصي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ وَهُوَ يُدْرِكُ الْأَبْصَارَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ

پوه سه: چي ابصار جمع د بصر ده معنی یې دلیل د سترګو دی او ګاهي یې اطلاق پر غیر د سترګي هم کیږي مجازاً اولي چي سترګه محل د حاسبة البصر ده او ادراک د شي عبارت دی له وصول څخه و هغه شي ته والاحاطة به. فالمعنى لا تصل اليه تعالى الابصار ولا تحيط به او د خدای ادارک یعني علم یې پر ابصار احاطه کوي، په قاموس کي وايي چي د لطیف معنا البر بعباده المحسن الى خلقه بايصال المنافع اليهم په مهرباني سره، او ابن عباس ﷺ وايي هو اللطيف باوليائه، وقال ايضاً اللطيف العالم بخفايا الامور، او خبر دی په ټولو کائناتو.

پوه سه: چي معتزله په دغه آیت سره دلیل وايي پر امتناع د رؤية الهي په ورځ کي د قيامت مؤمنانو لره، قال رئيسهم الطوسي في التجريد، ورؤية الله تعالى كما يزعمونه اهل السنة والجماعة باطل لقوله تعالى لا يدركه الابصار، وروسته نور هم ډېر دلائل عقلیه پر امتناع د رؤية الله ويلي دي.

درویش وایي: چي دا مسئله که څه هم په عقائدو کي د اهل السنة والجماعة مفصل ذکر سوي دي، او د معتزله وو د دلائلو یې داندان شکن جوابونه ورکړي دي كما يظهر لک بمطالعة شرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني او په مواقف کي د قاضي عضد الملة والدين او په شرح کي د مواقف للعلامة السيد الجرجاني، لکن چونکه ماخذ ددغه اختلاف دغه آیت د قرآن کریم دی "لا تدركه الابصار" نو باید دلته د معتزله وو د دلائلو جوابونه ورکړه سي.

پوه سه: چي د معتزله مذهب خو هغه ؤ چي ذکر سو، او اهل السنة والجماعة په اجماع سره وايي چي رؤيت د خدای ﷻ په دنیا کي خو نسته مګر مؤمنانو ته په جنت ثابت دی بالاحاديث الكثيرة المتواترة المعنى وانكان احادها افراد.

پوه سه: چي دليل ويل په دغه آیت سره پر امتناع د رؤية الله باطل دی بوجوه، الاول چي صيغه د مضارع يعني لا يدركه الابصار على اختلاف النحاة يا به موضوع وي لپاره د حال او استعمال به یې په استقبال مجاز وي، او يا به مشترک لفظي په منځ کي د حال او استقبال والنفي في الحال مراد في الآية

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اتفاقاً بين الموافق و المخالف اذ لاقائل برؤيته تعالى فلا يجوز ارادة النفي في الاستقبال لانه اما يلزم الجمع بين الحقيقة والمجاز على المذهب الاول او يلزم عموم المشترک على المذهب الثاني.

والثاني: ابصار په صيغه د جمع راغلى دى چي مراد ځني افراد دى دون الجنس، نو لام په ابصار كي به يا لپاره د عهد خارجي وي يعني الابصار الموجودة في الدنيا ونحن لانقول به او كه لپاره د استغراق وي نو پردې تقدير مدلول د آيت نفي د استغراق د رؤية وهذا النفي صحيح لا استغراق المنفي في الدنيا والآخرة بابصار المؤمنين والكافرين ونحن انما ندعى الرؤية بابصار اهل الجنة فلا يدل الآية على نفي ذالک.

والثالث: چي رؤية غير له ادراک ځخه دى، ولي چي ادراک كما اشرنا اليه في ترجمة الآيت هو الوقوف على كنه الشئ والاحاطة به والرؤية المعاينة ولا تلازم بينهما.

درويش وايي: چي مراد له ادراک علم بكنهه د خداى ﷻ په اصطلاح د اهل منطق دى، والدليل على ذالک الامتناع مذكور في شرح السلم للقاضي محمد مبارک بالتفصيل التام.

درويش وايي: چي صاحب د روح البيان قدس سره ددې آيت په بيان كي ډېر په زړه پوري تفصيل كړى دى او اثبات د مذهب د اهل سنت والجماعة او رد د معتزلـه ئې پـه احسن وجه سره كړى دى مطالعه يې مه هېروئ والله الموفق والمعين. او روح المعاني ددې مسئلې په ښه تفصيل هر اړخ ځېړلى دى. او دلائل او جوابات يې بې له تعصبه راوړي دي او امام همام فخر الدين الرازي قدس سره چي د عقائدو د فن لوى امام دى په تفسير كبير كي ډېر ښه بيان كړى دى.

قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنْ اَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ عَمِيَ فَعَلَيْهَا ۚ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿۱۰۴﴾

پوه سه: چي تر شروع ددې آيت دمخه "قل" مقدر دى، نو دا آيت به حكايت سي له قول ځخه د عليه الصلوٰة والسلام چي په قرآن خداى ﷻ حكايت ځني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وكړي يعني ووايه اې محمده ﷺ چې په تحقيق تاسي ته راغلله بصائر يعني داسي حجج او د لائل بينه چي د عقل سليم ولا لپاره سبب د بصيرت يعني د نور قلبي گرځي چي په هغه سره هدايت او ضلال ايمان او كفر سره وپېژني.

پوه سه: چي بصيرت د زړه صفت دی لكه بصر د سترگو او دا بصائر له جانبه ځخه د رب ستاسي دي. نو كه څوك په هغه حجت سره عمل وكړي يعني ايمان راوړي نو لپاره د نفع د ځان دی يعني رنفع يې ورده ته راجع كېږي، او كه څوك د زړه په سترگو حجت ته ونه گوري او پر كفر او ضلال باندي دوام وكړي نو ضرر يې خپل دی چي عذاب دنيوي او اخروي دی، او زه نه يم ستاسي د عملو ساتونكى او جزا دركونكى بل الحفيظ وهو الله تعالى وانما انا بشير ونذير.

وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ وَلِنُبَيِّنَهٗ

او داغسي لكه تاسي چي دمخه واورېدى موږ تفصيل او بيان د حجج او بيناتو تاسي ته كوو ولعلكم تهتدون، په قاموس كي وايي چي صرف الحديث دادی چي په خبرو كي زياتوب وسي او ښائسته يې كړي لكه صراف د دراهمو او د نانيرو چي فضل د بعض پر بعض معلومه وي، او چي موږ بيان كړو قرآن كه څه هم لفظ د قرآن دمخه نه دی تېر سوی لكن د لفظ د آيات فهمېږي لان الآيات.

فائده: كذالك منصوب محلاً دی مفعول مطلق د نصرف دی، والمعنى نصرف الآيات تصريفاً مثل تصريفنا هذه السورة.

پوه سه: چي اكثره مفسرين وليقولوا عطف بولي پر مقدر باندي چي مقدر دادی ليتم امر التبليغ، وليقولوا او لام لپاره د عاقبت دی اى يكون عاقبة الامر او ضمير د يقولوا راجع دی و كفارو ته د مكي.

پوه سه: چي قرائت د نافع او د كوفيانو په فتحه د ذال او د را پر صيغه د مخاطب او مخاطب ددوی عليه الصلوٰة والسلام دی او معنى د "درست" داده چي دا كتاب يعنون القرآن تا له بل چا ځخه رد كړی او موږ ته وايه چي دا كتاب الله دی. قال ابن عباس رضي الله عنه ليقول اهل مكة حين تقرّ عليهم القرآن چي دا كتاب چي ته يې منزل من عند الله بولي تازده كړي دي له يسار او جبر ځخه چي دده مريان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وه له سبي ښخه د روم بیا موږ ته وایي تزعم انه من عند الله او ابن کثیر دا لفظ دارست په باب د مفاعله وایي لکن هغه هم په معنی د درست دی لکه چي په شافیه کي چي باب د مفاعله ګاهي په معنی د مجرد راځي.

لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ۞

وه هغه قوم ته علم لري تخصیص په دې سبب وکړی چي هغه قوم نفع پیر اخلي، ولي چي اهل علم د حق او باطل په فرق پوهېږي، او له بله ښخه زده کړئ او د من عند الله فرق سره کولای سي.

اِتَّبِعْ مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ۞

او ته اې محمده متابعت کوه په هغه شي چي تاته یې وحي کړه سوي دي له جانبه د رب ستا چي نسته مستحق د معبودیت بې له ده او اعراض وکړه له مشرکینو ښخه.

یوه سه: چي متابعت معنی عمل بالقرآن او لا اله الا هو، جمله معترضه ده لپاره د تاکید ده اتباع ما اوحي الیک. او د اعراض عن المشرکین دا معنا نه ده چي تبلیغ مه ورته کوه لانه علیه الصلوٰة والسلام مبعوث للتبلیغ. بلکې معنا یې داده چي مجادله مه ورسره کوه، او یا معنا داده چي ددوی مطالباتو ته غوږ مه نسه چي دوی به همېشه علیه الصلوٰة والسلام ته ویل ارجع الی دین آبائک.

وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكُوْا ؕ

او که د خدای ﷻ مشیت او اراده وای.

یوه سه: چي مفعول د "شا" محذوف دی یعني لوشآ الله عدم شرکهم نو دوی به شرک نه وای کړی.

یوه سه: چي مراد په آیت کي مشیت د قسر او الجا دی یعني چي بې له اختیاره ددوی یې دوی مسلمانانولای نو دوی به بیا شرک کولای لکن د خدای دا مشیت نه دی عادت ولي چي خدای ﷻ وعده کړې ده لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعین" ددې آیت ښخه دا معلومه سوه چي کفر او اسلام تول له په اراده د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای دی او مراد د خدای واجب الوقوع دی خلافاً للمعتزلة دوی وایي چي خدای له کافره اراده د اسلام لري او هغه نه سي واقع، نو دوی وایي چي تخلف د ارادي له خدای ﷻ څخه روا دی کما في ابي جهل وغيره، والدلائل في کتب العقائد.

وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۷﴾

او موږ نه یې گرځولی ته والمخاطب هو ﷺ پر دوی یعني پر کفار مکه باندي ساتونکی ددوی د عملو چي به دوی منع کوي له عذابه څخه د خدای ﷻ یعني حتماً بې مسلمانانوي بلکي ته معلم او بشیر او نذیر یې.

او ته نه یې وکیل ددوی چي کفر او اسلام ددوی دي ماتاته سپارلی وي، له قتادة رحمه الله څخه روایت دی چي په مکه شریفه کي به مسلمانانو ښکنځل کول و بتانو ته د کافرانو بالمقابل یې هغو ښکنځل و خدای پاک ته کول نو دا آیت نازل سو.

وَلَا تَسُبُّوا الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

تاسي مسلمانان ښکنځل مه کوئ وهغو بتانو ته چي کافرانو د مکې د هغو عبادت کاوه ماسوی له خدای ﷻ څخه، بغوي وایي چي ابن عباس رضي الله عنه وویل دا آیت چي نازل سو انکم وماتعبدون من دون الله حصب جنهم" مشرکانو د مکې وویل یا محمد ته به خامخا نهي کېږې له بد ویلو څخه زموږ د خدایانو او یا به موږ هجو او بد وایو ستا وخدای ته، نو خدای پاک په نزول ددې آیت مسلمانان نهي کړه له سببه څخه د بتانو ددوی، او سدي رحمه الله وایي چي څه وخت چي ابو طالب عم رسول الله ﷺ ناجوړی سو او قریب الموت سو نو قریشو سره وویل چي درځئ ورسو ابو طالب ته او ورته ووایو چي دا خپل وراره محمد به له موږه منع کړي، ولي چي موږ شرمېږو که محمد وروسته تر وفات د ابو طالب مړ کړو عرب به وایي چي محمد چي له قتل څخه د قریشو خلاص وو په سبب د اکا ابو طالب، نو چي ابو طالب مړ سو څرنگه یې محمد مړی کړی، نو ابو سفیان، ابوجهل، نضر بن حارث، امیه او اُبی چي د خلف زامن وه، او عقبه د ابي سعیط زوی، او عمرو بن العاص رضي الله عنه وابو طالب ته ورغلی او ورته وه یې ویل چي ته زموږ مشر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړی یې او په مکه کې یو رئیس ګڼل کېږي او محمد موږ هم ازاروي او هم زموږ خدایان، نو پر تا لازمه ده چې ته به دی راغواړې او له دغو کارو څخه به یې منع کوې او زموږ په خدایانو به کار نه لري موږ ده په خدای کار نه لرو. نو ابو طالب خپل وراره محمد ﷺ راوغوښتی چې دا راغلي خلګ د قوم مشران دي دوی وایي چې دی دي زموږ په خدایانو کار نه لري موږ ده په خدای کار نه لرو. ابو طالب و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چې قوم ستاسره د انصاف لار غوره کړې ده ددوی دغه مطالبه ومنه. نو علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې زه چې دا مطالبه ستاسي ومنم تاسي به زما یوه خبره ومنئ چې که تاسي هغه خبره وکړئ د تولو عربو سلطنت به ستاسي سي. او عجم به هم ستاسي فرمانبرداره سي. ابو جهل ورته وویل نعم ستا په پلار مي دي قسم وي چې هغه خبره موږ له تا سره منو وعشرة امثالها. نو ابو جهل ورته وویل چې هغه نو کومه خبره ده. علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل قولوا لا اله الا الله. هغو له دې وینا څخه ابا وکړه او سره ولاړ سوه. ابو طالب و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل قل غیرها یا ابن اخي. علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل ای کاکا زه بله خبره نه لرم او نه یې کوم. که څه هم دوی لمر له اسمانه راکښته کړي او زما په لاسو کې یې راکښېږدي. نو علیه الصلوٰة والسلام ته راغلو کسانو وویل چې یا به ته زموږ وخدایانو ته ښکنځل نه کوې او یا به موږ تاته ښکنځل کوو. او چې ته یې په دغه خبره امر کړی یې یعني خدای پاک یې مراد ؤ. هم ښکنځل کوو. نو دا آیت نازل سو ولاتسبوا آه.

فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدْوًا بِغَيْرِ عِلْمٍ

نو دوی به هم ښکنځل کوي و خدای ته په تجاوز له حق څخه وباطل ته بې له علم د خدای ﷻ په عظمت او کبریا سره.

یوه سه: چې ظاهر د آیت که څه هم نهي دي له بتانو له سب څخه لکن مراد حقیقةً نهي دي د خدای له سب څخه لان سب الاصنام سبب لسب الله تعالی لان المفضي الی الشر شر.

مسئله: فقها وایي چې هر طاعت چې مفضي کېږي ولوی شر ته د هغه ترک واجب دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَذٰلِكَ زَيَّنَّا لِكُلِّ أُمَّةٍ عَمَلَهُمْ

دغه ډول لکه کفارو ته د مکې ښکنځل وخدای ته کنامر چي ښائسته کړي مو دی موږ هر امت ته مؤمن وي او که کافر وي عمل ددوی من الایمان والطاعة والکفر والمعاصي.

ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ مَرْجِعُهُمْ فَيُنَبِّئُهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۰۸﴾

وروسته د دنيا تر ژوند په ایمان او طاعت کي او یا په کفر او عصیان کي وخدای ﷻ ته روح د مرجع مصدر میمي دی او مراد له رجوع بعث الموت دی. نو خدای ﷻ په خبر کړی دوی په هغه شي چي عمل یې کاوه دوی په دنیا کي من الاسلام والطاعة والکفر والعصیان یعني حساب به ورسره وکړي او مجازات به ورکړي اما بالجنة کما للمؤمنین او بالنار کما للکافرین وکل ذالک هین علی رب العالمین.

پوه سه: چي بغوي رحمه الله وايي چي علیه الصلوٰة والسلام په باره کي د ایمان راوړلو د قریشو سره خبري وکړي قریشو ورته وویل یا محمد تا موږ ته ویلي دي چي د موسی علیه السلام سره لکړه وه چي ډبره به یې په ووهله له هغې ډبري څخه به دوولس چینې صافي اوبه راووتلې او عیسی علیه السلام مړي ژوندي کول او صالح علیه السلام و ثمودیانو ته له غره څخه اوښه راوستل. نو ته هم موږ ته بعض معجزات چي موږ یې غواړو را ښکاره کړه. نو موږ په پر تا ایمان راوړو. نو علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چي ستاسي کوم شی خوښ دی چي زه یې درښکاره کړم؟ دوی ورته وویل چي د صفا غر راته سره زر کړه. او په بل روایت کي د بغوي داسي راغلي دي چي ته زموږ بعض مړي راژوندي کړه چي موږ پوښتنه ځني وکړو چي ستا دین حق دی که باطل. او په بل روایت کي راغلي دي چي دوی ورته وویل چي ملکه راته راوله چي ستا تصدیق وکړي چي محمد نبي بر حق دی. بغوي رحمه الله وايي چي علیه الصلوٰة والسلام ددوی ته وویل که ما بعض دغه کارونه وکړه نو تاسي ایمان راوړئ؟ دوی ورته وویل چي هو که تا داسي وکړه موږ په اتفاق پر تا ایمان راوړو او ستا متابعت به په دله ییزه توګه وکړو. نو د هغه وخت مسلمانانو و علیه الصلوٰة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته وويل چي ته بعض مطالبات ددوی پر ځای کړه چي دوی اسلام راوړي او د همېشه لپاره به له جنجاله خلاص سوو. نو جبرائیل و علیه الصلوٰة والسلام ته راغلی او وه یې ویل چي که ستا غوښه وي د صفا غر به سره زر سي لکن که بیا هم دوی ستا تصدیق ونه کړی پر دوی عذاب الستیصال نازلوم او که دي خوښه وي پر پرېږده دوی و خپل اختیار ته حتی چي توبه وکاږي توبه گاره یعني په خپل اختیار، نو علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چي دوی د خپل اختیار سره پرېږدم چي تائب له کفره څخه په خپله توبه وکاږي، فانزل الله تعالی هذه الآية.

وَ اَقْسَمُوْا بِاللّٰهِ جَهْدَ اَيْمَانِهِمْ

او قسم وکړی کفارو د مکې په خدای جل جلاله سره.

پوه سه: چي "جهد" منصوب دی لکونه مفعول مطلق ای قسماً جهد ایمانهم یعني په نهایت سختي سره د قسمو ددوی. او یا مصدر دی په ځای کي د حال راغلی دی، نو به یې معنا په مشتق سره کوئ یعني مجتهدین في اتیان او کدما قدروا علیه في الایمان.

لَئِنْ جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا

که موږ ته راغلی یو آیت او معجزه چي موږ یې اقتراحاً غواړو. هر آیینه موږ ایمان راوړو په سبب د هغه آیت پر محمد ﷺ باندي.

قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ وَمَا يُشْعِرُكُمْ

ته ورته ووایه چي آیات او معجزات مقترحه وغیرها په قدرت کي او په اختیار کي د خدای پاک دی یظهر منها مایشاً او زما په قدرت او اختیار کي هیڅ آیت نسته وانما انا منذر بامره تعالی.

پوه سه: چي کلمه د "ما" استفهامي ده یا نافیه ده والخطاب للمشرکین الذین اقسموا او للمؤمنین الذین طلبوا من رسول الله ﷺ اظهار تلک الآیات والمعنی علی التقدیرین چي تاسي نه یاست خبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَنَّهَآ إِذَا جَآءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۱۰۹﴾

چې دغه آيات که ښکاره هم سي دوی به ايمان نه راوړي يعني په دې تاسي نه ياست خبر. او بعض مفسران وايي چې کلمه د لا زائده ده کما في قوله تعالى "وحرام على قرية اهلكناها انهم لا يرجعون" ددې آيت معنا داده چې حرام ده پر هغه قريه يعني اهل قريه چې موږ به هلاکوو اهل د هغې قريې چې دوی بيا رجوع وکړي بيرته ودنيا ته. نو کلمه د لا په دغه مذکوره آيت کې زائده ده فکذا فيما نحن فيه فتدبر.

وَنُقَلِّبُ أَفْـِٔدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ

او موږ اړوو زړونه ددوی له حق څخه نو په حق نه پوهېږي او ددوی سترگي چې په نظر د عبرت وآياتو ته گوري.

درويش وايي: چې وذالک القلب په سبب د سوء اختيارهم الكفر وقصد الدوام عليه.

كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا۟ بِهِۦٓ أَوَّلَ مَرَّةٍ

لکه چې دوی ايمان نه راوړی اول وار.

پوهه سه: چې ضمير د "به" راجع دی و آياتو ته په تاويل د ما انزل من الآيات لکه اعجب معجزه د شق القمر کما في البخاري.

وَنَذَرُهُمْ فِى طُغْيَٰنِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿۱۱۰﴾

او موږ دوی پرېږدو په خپل سرکښي کې متحيرين.

خاتمه: درويش وايي چې خدای پاک لره دي په زرو حمد وثناء وي چې دې عاصي بانواع المعاصي حقير سال خورده ته يې توفيق راکړی چې تفسير د جزء د "اذا سمعوا" يې پای ته ورساوه، تفسير ددې اووم جزء د قرآن کريم په ورځ د پنجشنبې درې بجې بعد الظهر ۱۸ د شهر ذو القعدة سنه ۱۴۲۷ هـ ق شروع سوی دی او په ورځ د سه شنبې ۳ بجې وقت الظهر پای ته ورسېدی و د صفر الخير پر پينځه لس دا کار انجام پيدا کړی چې تخميناً څلور مياشتي يې په بره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي ونیولي، فلله عزوجل الحمد والمنة والتوفیق وعلی رسوله سید المرسلین الف الف الصلوات والتسلیمات والتحیة

"کریمة" والله خلقکم وما تعملون "خدای خالق ستاسي او ستاسي د عملو دی

عبید وایي چي کارونه ټول د خدای دي
پرده واره پکښي عاصي عبید الله دی
چي توفیق د خدای یاري ونه کړي وروره
هیڅ بنده د خیر کار نشي کړای وروره
دا عجب رحمت د پروردګار دی
چي کار دی وکړي بنده ثواب دار دی
د مدرسي د خدای مفسرین ټول شاګردان دي
بیا انعام د مفسر او علامه او محقق دوی ته روان دی
اوس په عجز انکسار وخدای ته خواست کړم
چي د اتم جز د تفسیر ستا په توفیق زخوار تمام کړم
اول شرط د تفسیر صحت او عافیت دی
ددي شرط حصول د عاجز و خدای ته خواست دی
زما د فتنو خدایه جاري ده
له فتنو څخه حفاظت د درویش لویه دعا ده
خدای زما دا تفسیر مه کړه یتیم وبل چا ته
بلکي زما په ګوتو سره یې ورسوه پای ته
هغه ورځ به زما اختر او خوشحالي وي
چي تفسیر پر تمام باندي جاري وي

اللهم وفقني لما تحب وترضی واجعل آخرتي خیراً من الدنیا وما فیها. اللهم هذا التفسیر المکمل نهایة رجائي فحصل هذا الرجا نعبدک العاصي بالخیر والعافیة والصحة والسلامة آمین آمین آمین یا رب العالمین، والصلوة والسلام علی سید المرسلین وآله وصحبه اجمیعن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء الثامن

وَلَوْ اَنَّنَا

تيسير المنان

حضرت مولانا محمد عبد الله الأربي
الكندهاري الحنفي النقشبندي

مكتبة القراءة والتجويد
كاسي روڈ كوئته بلوچستان

بسم الله الرحمن الرحیم

تفسیر الجزء الثامن "ولو اننا" رب سهل علی عبدک المسکین، تفسیر هذا الجزء المتین، بفضلک وکرمک یا ارحم الراحمین.

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ

پوه سه: چي دا تفصیل د هغه اجمال دی چي نژدې تېر سو، بقوله تعالی وما یشعر کم الآیة، که چېري موږ نازل کړي وای ملکې لکه چي دوی سوال کړی وپه دې قول کي "لو انزل الینا الملائکة فنراهم الآیة" او هغو ملکو ستا د صدق نبوت ددوی په مخ کي شاهدي ادا کړې وای.

وَكَلَّمَهُمُ الْمَوْتٰى

یا خبري کړي وای ددوی سره مړو یعني وروسته تر احیا د هغو او ستا تصدیق د نبوت یې کړی وای لکه ددوی چي په دې آیت کي مراد فات بآیة آه دغه احیا الموتی وه.

صاحب تیسیر وایي چي که موږ تول مړي را ژوندي کړي وای او د دوی سره یې خبري کړي وای او ستا د نبوت تائید یې کړی وای که څه هم دوی د مړو د احیا طلب کړی ؤ خو مطلب ددوی، قصي بن کلاب او جدعان بن عمرو چي دا دوه کسان ددوی ډېر غټ مشران وه او ددوی په عقیده رشتیا گویه وه. ولي چي دوی علیه الصلوٰة والسلام ته داسي ویلي وه که تا دغه دوه کسان را ژوندي کړه او ستا د نبوت شاهدي یې ادا کړه موږ هم تول به ستا د نبوت شاهدي ادا کوو.

وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ قُبُلًا

او موږ جمع کړو پر دوی باندي کل شئ هر شی ضامن د نبوت د علیه الصلوٰة والسلام.

پوه سه: چي "قبل" جمع د قبیل ده په معنی د کفیل. او یا قبل جمع د قبیل ده او قبیل جمع د قبیله ده بمعنی جماعات من الناس لصحة دعوة نبوة علیه الصلوٰة والسلام پره هر تقدیر قبلاً حال دی له کل شئ څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا إِلَّا أَن يَشَاءَ اللَّهُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُونَ ﴿۱۱۱﴾

نه دي دوی چي ایمان راوړي لماسبق عليهم القضاء الهي انهم لا يومنون باختيارهم.

پوه سه: چي "الا ان يشاء الله" مستثنى مفرغ ده يعني في حال من الله الا حالة مشيته الله ايمانهم بان سبق منه تعالى القضاء الالهي في العلم الاذلي بما يمانهم الاختياري.

پوه سه: چي ضمير د "يجهلون" راجع دی ومسلمانانو ته يعني اکثره مسلمانان په دي نه پوهېږي چي دا کافران په وخت کي د ظهور د هغو آيتو چي دوی غوښتل هم ایمان نه راوړی لجهلهم بعدم تعلق مشية الله بذالک الایمان. نو ځکه دغه مسلمانان تمنٰی ددې کوي چي کاشکي دغه آيات ددوی ښکاره سوی وای نو دوی به هم ایمان راوړی وای، ولي دا کافران ابوجهل وغيره تجربه سوه چي د شق القمر معجزه هم دغه ابو جهل وغوښتله په ښوونه د يهودانو چي دده مېلمانه وه او ابو جهل دوی ته وويل چي په موږ کي دده په خوله يو سحر گر پيدا سو چي دی د نبوت دعوه کوي تاسي ته يې درک نه معلومېږي چي دی سحر گر دی او که رشتيا نبي دی، هغو يهودانو ورته وويل چي موږ ته درک معلومېږي، ولي چي د ساحر سحر پر اسمان نه چلېږي صرف پر ځمکه يې تاثير چلېږي، نو که دا سړی په موږ ووينې موږ له هغه ځخه اسماني معجزه غواړو، نو که يې پر ځای کړه نو نبي دی او که نه کړه نو جادوگر دی، راوي وايي چي د مياشتي څورلس تاريخ و، نو ابوجهل و هغو يهودانو ته وويل چي دستي به هغه سړی يعني محمد ﷺ په تاسي ووينم، نو ابوجهل ورته وويل چي که تا دغه معجزه چي دا اهل کتاب د تاسه وغواړي که تا پر ځای کړی زه او دوی به په گډه ایمان راوړو، نو هغو د شق القمر معجزه د عليه الصلوٰة والسلام ځخه وغوښتل په روايت د بخاري، عليه الصلوٰة والسلام چي په سبابه گوته اشاره وسپوږمی ته وکړه قمر دوې ټوټې سوه چي نيمه د جبل ابي قبيس د مکې وخواته سوه او بل نيمی يې د غره وشاته سوه او بير ته سره جوړ ته سوه. عليه الصلوٰة والسلام وويل اشهدوا، نو هغو دوو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یهودانو ایمان راوړی او ابو جهل رهي سو او داسي يې وویل چي د دا نورو ساحرانو سحر پر اسمان نه چلیږي او د مکي د ساحر دده په خوله سحر پر اسمان هم وچلیدی ایمان يې را نه وړی، نو تاسي مسلمانان ځرنگه ددوی وایمان ته طمع لرئ. او تمنی ددوی کوئ چي علیه الصلوٰة والسلام دغه د کافرانو د غوښتني آیات راوړی وای نو دوی به هم ایمان راوړی وای.

درویش وایي: چي حاصل د آیة مذکوره یعني "ولو اننا نزلنا الآیة" دادی چي آیت او معجزه چي هر څو لوړ وي لکن سړی و ایمان ته نه سي مجبوره کولای.

سعدي شیرازي وایي

زو حشی نیاید که مردم شود　　　　بسعی اندرو تربیت گم شود

وقال حافظ شیرازي

گرجان بدهد سنگ سیه لعل نگردد　　　　باطینت اصلی چه کند بدگهر افتاد

مثنوي معنوي میگوید

گر تو سنگ خاره مرمر شوی　　　　چون بصاحب دل رسی گوهر شوی

درویش میگوید که دربیت مولوی معنوی رحمه الله بعض کسان نافهمان دروی شک وتردید می آرد ومیگویند که دل ابوجهل که از سنگ خاره بدتر بوده ودر عالم اولاد آدم علیه السلام از رسول کریم ﷺ صاحب دل برتر بلکه برابر هم نه بود، ابوجهل چند سال باصاحب دل اعظم ﷺ سپری نمود مگر ابوجهل گوهر نه شد جواباً درویش میگوید که مراد مولوی معنوی آنست که کسیکه سنگلاغ قلب خود به او معلوم شود وبرای ازاله گنه بصاحب دل برسد گوهر میگردد. وابو جهل اینچنین نبود زیراکه او قلب خود را که به محبت بتان ومعبودان باطل مالامال داشته وصدر سیاه خودرا پر از نور گمان داشته بود، ومعهذا از بودن آنحضرت ﷺ را صاحب دل نمی شناخت بلکه خود را از علیه الصلوٰة والسلام صاحب دل بزرگ گمان میکرد که بر دین آبا واجداد باقی هستم. و او علیه الصلوٰة والسلام را که دین آبا واجداد پدر ودکرده از خود کمتر میدانست پس چه جای انکه ابوجهل بملاقات او ﷺ گوهر گردد واز الایش سیاهی کفر بیرون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بر آید به غور سخن معنوی رسیده باشی ان شا الله تعالی.
درویش میگوید که قیاس حال آنحضرت ﷺ وابوجهل از حال آدم علیه السلام وابلیس بفکر شما خواهد رسید چراکه خدای تعالی که امر کرد ابلیس را که به آدم سجده بکنید ودرین ملائکه هم وهمه شامل بودند ملائکه کلهم اجمعون به آدم علیه السلام سجده بعمل آوردند وچون وچرا نه گفتند، ابلیس از آن سجده امتناع ورزید پسان که خدای ﷻ از ابلیس فرسان نمود که توچیرا سجده بآدم نکردید اذ امرتک او خبیث گفت انا خیر منه خلقتني من نار وخلقته من طین الی اخیر القصة همچنان چون خدای ﷻ کفار را بشمول ابوجهل بایمان بر محمد ﷺ امر فرمودند ابوجهل ودیگر هم خبیثان وی گفتند که ماها از محمد خیر میباشم زیرا که مایان بر طریقه اباً واجدا میباشیم یعني شرک ومحمد آنرا مردود نمود وطریقه نوین توحید اختیار کرد فافهم، از گلستان من قیاس گیر بهار مرا.

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَٰطِينَ ٱلْإِنسِ وَٱلْجِنِّ

لکه تاله چي موږ گرځولي دي کفار د مکې دښمنان چي زهیروي دي او ستا له امره مخالفت کوي داغه رنګه موږ گرځولي هر نبي لره دښمنان.

یوه سه: چي د "عدوا" اطلاق پر یوه او پر ډېرو کېږي دلته مراد ډېر دي بقرینة مابعده شیطان د جن او انس.

یوه سه: چي عداوت د کفارو د انبیا کرامو سره په فعل د خدای ﷻ د حکمت لپاره دی.

فائده: شیاطین الجن والانس آه بدل دی له عدواً څخه او یا اول مفعول د جلعنا دی او عدواً مفعوله الثاني دی. او "لکل" متعلق په "جعلنا" پوري دی.

فائده: مراد له شیطانانو څخه هغه سرکښه دي د دوارو ډلو. قتاده، حسن او مجاهد رحمهم الله تعالی وایي چي په انسانانو کي هم شیطانان سته لان الشیطان هو العاصي المتمرد من کل شئ او دوی وایي چي شیطان اصلي چي عاجزه سي له اغوا څخه د مؤمن نو دی ورسي و یو گمراه مؤمن ته. نو یې مؤمن ته ورشکاري چي په یوه فتنه کي یې واچوي وهذا هو الشیطان من الانس. ویدل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عليه هغه حديث چي ابوذر ﷺ يې روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ هل تعوذت بالله من شياطين الجن والانس" ما ورته وويل چي په انسانانو کي هم شياطين سته؟ عليه الصلوٰة والسلام راته وويل هو! "هم شر من شياطين الجن" مالک بن دينار رحمه الله وايي چي شياطين الانس اشد دي علي من شياطين الجن ولي چي زه اعوذ بالله ووايم شياطين الجن زما څخه لېري کېږي، او شيطانان د انسانانو راځي ما وګناه ته کشوي عياناً او په اعوذ بالله سره دفع هم نه کېږي.

درويش وايي: چي ويشهد لذالک سورة قل اعوذ برب الناس اخير السورة.

يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا

پوه سه: چي وحي په اصل کي کلام خفي او قول سريع ته وايي او دلته په معنی د يوسوس دی له دې سببه چي وسوسه هم کلام خفي دی چي د زړه شی دی که د شياطين الجن له خوا څخه وي، او قول سريع دی که د شياطين الانس له خوا وي وسوسه وراچوي شياطين الجن وشياطين الانس ته د زړو له لاري، او داغه رنګه وسوسه وراچوي شياطين الانس يو ويل ته د خبرو له لاري، او هغه خبره چي مظهري کړېده چي بعض شياطين الجن وه نورو ته وسوسه ور اچوي فبعيد.

پوه سه: چي "زخرف" هغه قول ته وايي چي په ظاهر ښائسته او د خواهشات نفسانيه وسره برابر وي لکن په معنا کي باطل وي لکه زنی، شراب نوشي وغيرها.

درويش وايي: چي ګاهي داسي هم کېدای سي چي ما القی الشيطان في قلب المؤمن ظاهراً د شرع شريف سره برابر وي لکن په اخير زهر قاتل وي مثلاً شيطان د تهجد پر وخت مسلمانان بيداره کړي او ورته ووايي چي ننه شپه ښه ډېر رکعته لمونځ وکړه، خير په اخير کي وسوسه ور واچوي چي ډېر ستړی سوې لږ ګړی سپېدو ته پاته دی او هغه سړی چي څنګ ووهي پسي بيده سي، نو يا د سهار لمونځ ځني قضا کړي او يا د جماعت لمونځ ځني تېر سي.

پوه سه: چي "غروراً" علت دی لپاره د خطايستولو، نو د "غروراً" نصب له دې سببه دی چي مفعول له دی د ماقبل، او يا مفعول مطلق دی د فعل محذوف والتقدير يغرونهم غروراً يعني افعال قبيحه شرعيه ورته ښائسته کړي کمامر مثاله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْ شَآءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوْهُ

او كه د خداى ﷻ اراده واى دا كارونه به دوى نه كولاى.

بوه سه: چې ضمير مفرد د فعلوه راجع دى وعداوت ته د انبيا وا و ايحاده د زخارفو او غرور د خلگو لكن په تاويل د ماذكر فلا يرد مايتوهم.

درويش وايي: چې معتزله وايي چې خالق د افعالو د بندگانو بندگان دي او اهل السنة والجماعة وايي چې خالق د افعالو د بندگانو خداى ﷻ دى او بنده كاسب دى. والفرق بين الخلق والكسب دقيق مذكور في شرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني وذكره محب الله البهاري ايضاً في مسلم الثبوت فليراجع. والحاصل چې دا آيت رد دى پر معتزله وو او حجت دى د اهل سنتو.

فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

نو پرېږده دوى او ددوى دروغ چې پر ما هم دروغ وايي چې خداى لره شريكان سته او ملائكه بنات الله دي. او پر تا هم دروغ وايي چې ته نبي نه يې كاهي وايي چې كاهن يې گاهي وايي چې ساحر يې او گاهي وايي يعلمه الشر يعني القرآن، ددې حاصل دادى چې خداى پاك عليه الصلوٰة والسلام ته وايي چې د دوى په دروغو پاك مه كوه، ولې چې زه پوره مجازات وركوم يعني په ورځ د قيامت.

وَلِتَصْغٰٓى إِلَيْهِ أَفْـِٔدَةُ الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ وَلِيَرْضَوْهُ

او ددې لپاره چې ميل وكړي ودغه زخرف القول ته زړونه د هغه كسانو چې ايمان نه لري پر ورځ د آخرت، چې دوى خوښ كړي دا زخرف القول د خپلو ځانو لپاره.

بوه سه: چې "ولتصغى" عطف دى پر "غروراً" باندې كه هغه مفعول له وي او كه غروراً مفعول مطلق د فعل محذوف وي، نو "لتصغى" متعلق په محذوف پوري دى اى فعلنا ذالك لتصغى.

وَلِيَقْتَرِفُوْا مَا هُمْ مُّقْتَرِفُوْنَ ﴿۱۱۳﴾

او چې دوى كسب كړي يعني په غرور القول سره هغه شي چې دوى يې كسب كوي من الكفر والمعاصي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې قريشو به عليه الصلوٰة والسلام ته ويل چې ته ستا او زموږ تر منځ يو محکم وټاکه چې هغه محکم به فيصله وکړي چې ته پر حق يې يعني په دعوه کې د توحيد او که موږ پر حق يو په دعوه کې د شرکا لله. نو دا آيت نازل سو.

أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا

پوه سه: چې دا آيت په تقدير د قول دی ای قل لهم يا محمد آيا غير له خدايه زه طلب کړم حکماً يعني قاضي بيني وبينکم چې هغه فيصله د حق او د باطل وکړي زما او ستاسي تر منځ.

پوه سه: چې د "غير" لفظ د "ابتغى" مفعول دی او حکماً حال منه. او خدای هغه ذات دی چې نازل کړی يې دی وتاسي ته کتاب يعني قرآن عزيز چې مخبر په غيبو کارو موافق د نورو کتب منزله وو سره مفصلاً يعني تفصيل واره بيان د حق او د باطل په هغه کې موجود دی او تول جمله د وهو الذي حال ده له لفظ الله.

وَالَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ مِنْ رَبِّكَ بِالْحَقِّ

او هغه کسان چې موږ ور کړی ؤ دوی ته کتاب يعني التورات وهم اليهود پر دې علم لري چې دا قرآن نازل کړی سوی دی له جانبه څخه د خدای ﷻ متلبساً بالحق. ولې چې اهل کتاب يهودان قرآن مبارک بولي مطابق ددوی د کتاب سره او دا قرآن پر هغه سي چا نازل سوی دی چې نعوت د هغه ددوی په کتاب تورات کې وه او صاحب د روح البيان يهود او نصارى دواړه راوړي دي.

فَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُمْتَرِينَ

نو ته مه ګرځه د شک کونکو ډلي څخه.

درویش وايي: چې مظهري رحمه الله په "لاتکونن" کې مخاطب مطلق سامع ګرځولی دی حيث قال فلاتکونن ايها السامع من الممترين في ان القرآن من عند الله. او امام برسوي رحمه الله يې مخاطب عليه الصلوٰة والسلام ګرځولی دی حيث قال من الشاکين في انهم ای اهل يعلمون بحقيقة القرآن.

درویش وايي: چې که څه هم په ظاهره عليه الصلوٰة والسلام دی لکن امت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځني مراد دی اذ لا يتصور الامترا في القرآن منه عليه الصلوٰة والسلام ومثل هذا الخطاب كثير في القرآن المجيد كما لايخفى.

وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدْقًا وَّعَدْلًا ۚ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١١٥﴾

پوه سه: چي كلمه د خدای ﷻ يعني اخبار قرآنيه او وعد وعيد د خدای امر او نهي د خدای چي په قرآن كي راغلي دي، او مراد له تمام ځخه بلوغ الى الغاية القصوىٰ، صدقاً يعني په اخباراتو كي چي هغه ټوله صادق دي او په حلال سره چي احكام يعني په احكامو كي د خدای ﷻ ظلم نشته، او صدقاً وعدلاً منصوبان دي على التمييز او يا حال دي، والمعنى حال كون كلمته صادقة وعادلة. والحاصل فيها تمت دی او بدلونكى نشته د كلماتو د خدای ﷻ او هيڅ ځوک د خدای ﷻ كلمات نه سي بدلولای، وقال ابن عباس ﷺ لاراد لقضائه ولامغير لحكمه، او يا معنا داده چي تر عليه الصلوٰة والسلام وروسته نبي نشته او نه كتاب سته چي دين د نبي كريم ﷺ او قرآن عزيز دي منسوخه كړي، او خدای ﷻ اورېدونكى د مايقولون او عالم دی په احوال باطنه د خلكو.

پوه سه: چي اشرف الرسل بالاجماع هو محمد ﷺ، واعظم الكتب الالٰهية هو القرآن العزيز. يو محقق شاعر په مدح كي د آنحضرت ﷺ داسي وايي

الا ای احمد مرسل شود هر مشكل از تو حل
كنم وصف ترا مجمل تو يى سلطان هرمولى
شريعت از تو روشن شد طريقت هم ميرهن شد
حقيقت هم خود معين شد توئى سلطان بى همتا

قال علي ﷺ من افتى الناس بغير علم لعنه السمآ والارض.

فائده: د علي بلخي ﷫ لور د خپل پلار ځخه پوښتنه وكړه عن القئ الى خرج الى الحلق پلار يې ورته ووېل اودس په راګرځوي. مابنام يې عليه الصلوٰة والسلام په خوب وليدی فقال يا علي لاحتى يكون ملئ القم. نو زه پوه سوم چي هره فتوی و عليه الصلوٰة والسلام ته پېښېږي.

حكايت: د شعبي ﷫ ځخه يو چا د يوې مسئلې پوښتنه وكړه. ته ورته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وویل چي زه نه یم په خبر. هغه سړي ورته وویل چي ته نه شرمېږې چي وایه نه یم په خبر سره ددې چي ته د عراق لوی فقیه یې؟ شعبي رحمه الله ورته وویل چي زه ولې وشرمېږم له هغه شي څخه چي ملکي نه ځني شرمېدلې حیث قال سبحانک لاعلم لنا الا ماعلمتنا، د درویش مقصد په دې حکایاتو کي دادی چي بې علمه سړی باید چاته فتوی ورنه کړي، او که یې فتوی غلطه وه نو خپل پر غلتیا باندي قانع سي او په مقتضی د نفس اماره پر هغه غلطي فتوی اصرار ونه کړي، ولهذا قال العلماء لا ادري نصف العلم.

وَإِنْ تُطِعْ أَكْثَرَ مَنْ فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ

او که ته محمد ﷺ متابعت وکړې د ډېرو کسانو چي په ځمکه کي دي، والمراد الکفار، ولې چي په عصر نبوي کي کفار ډېر وه تر مسلمانانو، نو به دوی تا گمراه کړي له صراط مستقیم څخه چي اسلام دی.

إِنْ يَتَّبِعُونَ إِلَّا الظَّنَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَخْرُصُونَ ﴿۱۱۶﴾

دوی یعني کفار مکه متابعت نه کوي مگر نه گمان باطل یعني ان آلهتنا شفعائنا عند الله او نه دي مگر په اټکل خبري کوي اټکلي خبري هغه چي دلیل صحیح شرعي یا عقلي نه وي باندي.

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَنْ يَضِلُّ عَنْ سَبِيلِهِ ۖ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿۱۱۷﴾

په تحقیق ستا خدای خبر دی یعني پر اکمله وجه په هغه چا چي گمراهي کوي له لاري څخه د خدای ﷻ. او خدای خبر دی په ښه وجه چي پر هدایت باندي وي یعني په یجازي اهل الضلال بالنار والمهتدین بالجنة دار الابرار.

پوه سه: چي کلمه د "من" یا موصوله او موصوفه ده او منصوب ده په فعل محذوف سره چي اعلم دلالت پر کوي یعني یعلم او په خپله اعلم نه ده منصوب ولې چي اسم تفضیل په اسم ظاهر کي عمل نه سي کولای کماتقرر في النحو. او یا کلمه د من منصوب په نزع د حرف جر ده چي هغه متعلق په اعلم سره دی ای اعلم بمن یضل آه. روی الترمذي عن ابن عباس رضي الله عنه چي بعض کافران

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ونبي ﷺ ته راغله فقالوا لرسول الله ﷺ یا رسول الله انت تاکل ما تقتل ولا تاکل مایقتل الله یعني المیتة فنزلت هذه الآیة.

فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ إِن كُنتُم بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾

نو تاسي خوراک کوئ د هغه حیوان د غوښو چي ذکر سوی وي نوم د خدای ﷻ پر هغه باندي یعني په وخت کي د ذبح که چېري تاسي یاست پر آیاتو باندي د خدای پاک ایمان راوړونکي.

وَمَا لَكُمْ أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ

او څه سبب دی چي تاسي خوراک نه کوئ د هغه حیوان له غوښو څخه چي ذکر سوی وي نوم د خدای ﷻ پر هغه باندي یعني په وخت کي د ذبح، و خدای پاک تاسي ته تفصیلاً بیان کړی دی د هغو شیانو چي خدای ﷻ وتاسي ته حرام ګرځولي دي یعني في قوله تعالی "حرمت علیکم المیتة والدم الی اخیر الآیة.

پوه سه: چي ما استفهامي په محل کي د رفع مبتدأ ده او "لکم" یې خبر دی وقد فصل جمله حالیه ده.

فائده: مقدام المفسرین الامام الهمام فخر الدین رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کي وایي چي مشرکانو ماذبح علی اسم الله خوړی او د مسلمانانو سره یې په دې ذبیحه کي اختلاف نه درلودی، او نزاع ددوی او مسلمانانو په دې کي وه چي مشرکانو میتته هم خوړل او مسلمانانو اکل د میتته حرام باله واذا کان کذالک کان ورود الامر باباحة ماذکر اسم علیه بې فائدې سو، ولې چي هغه خو کافرانو هم خوړله لانه اثبات الحکم في المتفق علیه یعني ماذکر اسم الله علیه وترک الحکم في المختلف فیه یعني المیتة، او امام رازي رحمه الله ددې سوال جواب داسي ورکړی دی چي معنی د کلوا مما ذکر اسم الله الآیة اجعلوا کلکم محصوراً ومقصوراً علی ماذکر اسم الله علیه ومعنی قوله تعالی ومالکم ان لا تاکلوا تحریم المیتة فقط انتهی في بعض المواضع بعبارته وفي البعض بالترجمة.

درویش وایي: چي ما چي تفصیل د ماحرم په هغه آیت سره وکړی حرمت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیکم المیتة تبعاً لبعض المفسرین. لکن صحیح داده چې آیت د حرمت علیکم المیتة خو مدني دی او دا سورت خو مکي دی. بلکې مراد د قد فصل لکم آه تفصیل دی په دې سورت کې یعني قوله تعالی قل لا اجد فیما اوحي الي الآیة.

سوال: صیغه د فصل خو ماضي ده او مذکوره آیت خو وروسته راځي؟

ځواب: روح البیان وایي چې وروسته والی د مذکوره آیت په تلاوت ددې نه دی مقتضی چې په نزول کې دې وروسته وي، او بل جواب یې دا ورکړی دی چې مراد له فصل څخه دی تفصیل په وحي غیر متلو سره وي. او دا جواب سعدي چلپي المفتي رحمه الله مختاره کړی دی والله اعلم بالصواب.

اِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اِلَيْهِ

پوهه: چې ضمیر د الیه "ماحرم علیکم" ته راجع دی یعني دغه ماحرم علیکم حلال دي په وخت کې د ضرورت چې حال دی د غایت لوږې چې مخمصه یې بولي، نو بیا دې تقدیر استثنا متصله ده او مستثنی منه یې ما "ماحرم علیکم" ده او کلمه د ما مصدریه ده په معنی د وخت او مدې ای وقد فصل علیکم الاشیاء التي حرمت علیکم في جمیع الاوقات الاحال الاضطرار الیها، او که کلمه د ما موصوله سي بیا نو استثنا منقطع ده ولې چې ما اضطر الیه خو حلال دي نو تر ماحرم علیکم نه سي لاندې کېدای.

وَاِنَّ كَثِيْرًا لَّيُضِلُّوْنَ بِاَهْوَآئِهِمْ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِيْنَ ﴿١١٩﴾

او ډېر له کافرانو څخه گمراه کوي نور خلگ په خپلو خواهشاتو مثل تحلیل المیتة وغیرها من الاشیاء المحرمة بېله علمه یعني چې مستند و وحي ته وي یعني مثل الشریعة المطهرة لنا. او په تحقیق خدای ﷻ ستا ښه خبر دی په هغو کسانو چې له حقه و باطل ته او له حلاله و حرام ته تجاوز کوي.

حکایت: بهلول دانا چې خلگو به لېوني باله وایي چې یوه ورځ په کوڅو کې د بصرې تېرېدم ډېر کوچنیان وه چې په جوزو او بادامو یې سات تېراوه. یو کوچنی گوښه ورته ناست دی د نورو کوچنیانو ساتېرې ته گوري او ژاړي. بهلول وایي چې زما دا خیال سو چې دا کوچنی پر دې ژاړي چې دده سره جوز او بادام نسته چې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نورو کوچنیانو سره سات په تېر کړي، نو ما و هغه کوچني ته وویل اې زویه جوز او بادام در ته رانسم چي د کوچنیانو سره سات په تېر کړي؟ دې کوچني سر راپور ته کړی او ماته یې وکتل او دا یې راته وویل یا قلیل العقل ما للعب خلقنا ای کم عقله موږ د سات تېرولو لپاره خدای ﷻ نه یو پیدا کړي، نو ما ورته وویل اې زویه موږ خدای ﷻ د کوم شي لپاره پیدا کړي یو؟ ده په جواب کي راته وویل للعلم والعبادة، ما ورته وویل ای بارک الله فیک چي تا دا علم له کوم ځایه زده کړی دی؟ ده راته وویل چي من قوله تعالی "افحسبتم انما خلقناکم وانکم الینا لاترجعون.

وَذَرُوا۟ ظَٰهِرَ ٱلْإِثْمِ وَبَاطِنَهُۥٓ ۚ

او تاسي پرېږدئ ظاهر د ګنهو چي اعمال د جوارح دي او باطن د ګنهو چي ګنهونه د قلب او نفس دي لکه کبر حب الدنیا نفاق حسد الی غیر ذالک، او کلبي او اکثره مفسران وایي مراد له ظاهر الاثم څخه زنی ده په ښکاره او له باطنه څخه زنی ده په پټه، قال الدرویش و الاول هو الاشمل لجمیع المعاصي.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْسِبُونَ ٱلْإِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوا۟ يَقْتَرِفُونَ ﴿١٢٠﴾

په تحقیق هغه کسان چي کسب کوي د ګناه یعني په دنیا کي ژر دی چي جزا به ورکړه سي یعني په آخرت کي د هغه ګناه چي دوی یې اقتراف کاوه یعني کسب یې کاوه په دنیا کي په اندازه د هغې ګناه چي خدای پاک ورته تاکلې ده

بیت..... جمله میدانند اگر تو نه گروی　هرچه میکاریش روزی بدوری
عروسی بود نوبت ما تمت　اگر نیک روزی بود خاتمت
الهی بحق بنی فاطمه　که برقول ایمان بود خاتمه

درویش وایي: چي حقیقت دادی چي د شریعت مطهره ټوله اوامر باید پر ځای کړل سي، او له ټولو منهیاتو څخه پرهیز وکړل سي، نو به نجات کامل اخروي د سړي نصیب سي، پیر انصاري قدس سره درین باب چنین فرموده.

ایکه جویایی راه حق شده ای　از خطر د رېتاه حق شده ئی
گر بخواهی سوی حقیقت راه　بي شریعت مشو حقیقت خواه
تاشریعت نمیکنی حاصل　درحقیقت نمیشوی کامل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

با شریعت ره حقیقت جوی.....راه تاریک بې چراغ میوی
تا ندانی ره حرام وحلال.....نشمرد کس ترا از اهل کمال
دین اسلام شریعت مصطفویست..... جز بدین راه رفتن همه دربدریست

وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ

تاسي خوراک مه کوئ د هغه شي چي په وخت کي د ذبح نوم د خدای ﷻ نه وي پر ذکر سوی يعني بسم الله الله اکبر.

پوه سه: چي مذهب د امام احمد رحمه الله دادی چي متروک التسمية که عامداً وي او که ناسياً وي خوراک يې نه دی روا واستدال بظاهر هذه الآية. وتبع احمد داؤد ظاهري وابو ثور، وشعبي ومحمد بن سيرين، او امام مالک او امام اعظم متروک التسمية ناسياً له دې آيته مستثنی بولي، صاحب الهدايه وايي چي موږ وايو چي ددې آيت په ظاهري تعميم کي متروک التسمية ناسياً هم داخلول حرج عظيم لان الانسان کثير النسيان والحرج مدفوع في الدين والمسموع يعني الآية المذکورة غير محمول على ظاهره، اذ لو اريد به العموم لجرت المحاجة بها في الصدر الاول يعني في عهد الصحابة رضي الله عنهم فارتفع الخلاف في الصدر الاول انتهى.

درويش وايي: چي امام مظهري رحمه الله چي چنداني پابندي د مذهب نه لري وروسته تر نقل د قول د صاحب الهداية داسي ويلي دي ولا يخفى ضعف هذا القول انتهى. او وجه د ضعف يې هيڅ نه ده بيان کړې. او صاحب د روح البيان په تفسير کي ددې آيت داسي وايي اي عمداً اذ الناسي حال نسيانه لا يکون مکلفاً وايضاً ذکر الله في قلب کل مؤمن کما ورد في الحديث النبوي ﷺ، واما العامد فلانه لما ترک التسمية عامداً فکانما نفى مافي قلبه من ذکر الله.

فائده: ميتة په دې آيت کي اتفاقاً داخله ده وکذا ماذبح على اسم غير الله تعالى انفراداً او اجتماعاً من الاصنام وغيرها.

درويش وايي: چي علامه بغداد السيد محمود الآلوسي په روح المعاني کي وايي چي تارک التسمية ناسياً ليس بتارک التسمية بل هي في قلبه على ما روى انه عليه الصلوة والسلام سئل عن متروک التسمية فقال کلوه فان تسمية

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله في قلب كل مؤمن، او صحيح مذهب د امام احمد رحمه الله هم دغه دی لکه د امام اعظم مذهب چي دی انتهی قول علامة بغداد رحمه الله.

درويش وايي: چي محمود آلوسي رحمه الله چي اشاره وحديث ته وكړه هغه دوه حديثه دي چي د يوه روايت دار قطني په سند سره د ابو هريره رضي الله عنه قال سأل رجل فقال يا رسول الله خبر راكړه چي يو سړی زموږ څخه يو حيوان ذبح كړي او نوم ذكر كول د خدای جل جلاله يې هېر سي، فقال رسول الله ﷺ اسم الله في فم كل مسلم. او بل حديث د ابن عباس رضي الله عنه دی چي هم يې داري قطني روايت كړی دی ان النبي ﷺ قال المسلم ان نسي ان يسمي حين يذبح فيسم ثم لياكل لكن له بده مرغه مظهري رحمه الله وايي چي دواړه حديثونه ضعيف دي او بيا يې له كتابو څخ د مخالفينو د مذهب حنفي وجه د ضعف بيان كړېده.

درويش وايي: چي امام مظهري رحمه الله چي ځان هم حنفي المذهب بولي داسي وايي، نو له ښكاره مخالفينو څخه څه گله.

بوه سه: چي ضمير د "انه" يا راجع دی و اكل ته د متروك التسمية عامداً او يا راجع دی و ترك د تسمية اسم الله عمداً ته. ومعنى الفسق هو خروج الى مايحل.

بوه سه: چي مشركانو و عليه الصلوٰة والسلام ته مجادلةً داسي وويل چي هغه حيوان چي تاسي يې په چاړه ذبح كړئ خورئ، او د هغه حيوان غوښي نه خورئ چي خدای جل جلاله قتل كړی وي. يعني ميتة نو دا آيت نازل سو.

وَإِنَّ الشَّيٰطِينَ لَيُوحُونَ إِلَىٰٓ أَوۡلِيَآئِهِمۡ لِيُجَٰدِلُوكُمۡۖ

بوه سه: چي مراد له وحي څخه په دې ځای كي وسوسه بالباطل ده او مراد له اولياً څخه د شيطانانو مشركان دي. والمعنى په تحقيق شيطانان وسوسه ور اچوي وخپلو دوستانو ته چي مشركان دي لكه په دې موضوع كي د اكل مذبوحې وعدم اكل الميتة كمامر.

وَإِنۡ أَطَعۡتُمُوهُمۡ إِنَّكُمۡ لَمُشۡرِكُونَ ﴿١٢١﴾

او كه تاسي مؤمنان ددوی اطاعت په حلال گڼلو كي د حرام چي دلته ميتة ده په تحقيق تاسي هم مشركان ياست ولي هغه څوك چي اطاعت د خدای جل جلاله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر پرېږدي چې خدای ﷻ میتة حرامه ګڼلې ده او اطاعت د غیر د خدای وکړي چې مشرکان دي یعني میتة حلاله وبولي فقد اشرک بالله غیره بل فضله علیه تعالی عن ذالک علواً کبیراً.

أَوَمَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُ نُورًا يَمْشِي بِهِ فِي النَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُ فِي الظُّلُمَاتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا

آیا هغه څوک چې مړ وي یعني کافر وي زړه یې له خدایه غافله وي، نو موږ یې ژوندی کوو یعني په زړه کې نور د ایمان پیدا کړو او موږ وګرځول ده لره نور یعني نور باطني چې په هغه تمییز د حق او باطل کولای سي چې په هغه سره دی ګرځي په خلګو کې چې دې نور ته فراست وایي کما ورد في الحدیث اتقوا فراسة المؤمن فانه ینظر بنور الله داسي کېدای سي لکه هغه سړي چې صفت دده په تاریکیو کې دی له دې تاریکیو څخه نه سي وتلای.

فائده: په صحیح حدیث کې د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې یوه ورځ ابو جهل علیه الصلوٰة والسلام په خوشایي وویشتی، سیدنا حمزه رضی الله عنه په ښکار پسې تللی و او کمان ورسره و او تر دغه وخته حضرت حمزه هم نه و مسلمان، نو حضرت حمزه رضی الله عنه ته چا دا قصه وکړه چې ابو جهل نن علیه الصلوٰة والسلام په خوشایي وویشتی، حمزه رضی الله عنه ته ډېر درد ورغلی، نو ابو جهل چې یې ولیدی پر ککری یې په کمانه وواهه. ابو جهل ورته وویل چې ولې دي ووهلم؟ حمزه ورته وویل چې تا ولې محمد په خوشې ویشتلی دی. ابوجهل ورته وویل چې محمد څرنګه خبري کوي. موږ بې عقلان بولي او زموږ خدایانو ته ښکنځل کوي. حمزه رضی الله عنه ورته وویل رشتیا وایي تاسي عبادت د ډبرو کوئ من دون الله حمزه وویل اشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له واشهد ان محمداً عبده ورسوله فنزلت هذه الآیات.

فائده: همزه لپاره د انکار او نفي دی، قانون قرآني هر ځای چې په قرآن پاک کې تر همزه وروسته واو عاطفه او یا فا او یا ثم راسي د هغه عطف پر همزه دمخ کلام باندي نه سي کېدای لفوات صدارة همزة الاستفهام بلکې په منځ کې د همزه او واو فا وغیره معطوف علیه مناسب ده مقام سره محذوف دی. نو دلته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم ومن كان ميتاً چي جمله اسميه ده پر جمله اسميه چي له مقام څخه فهميږي معطوف ده اى انتم ايها المؤمنون مثل المشركين باست ومن كان ميتاً آه.

فائده: مثله" مبتدا ده او "في الظلمات" يې خبر دى او ټوله جمله صله د "من" ده.

پوښته: چي آيت يعني او من كان ميتاً ترپايه پورې وارد پر طريقه د تمثيل دى يعني تشبيه ده حال د حمزه ﷺ چي په حال كي كفر و، د مړه سره يې وكړى او تشبيه د حال ده چي ايمان يې راوړى په دې سره وكړه لكه مړه چي ژوندى سي. او تشبيه د حال ده په وخت كي د ايمان او نوري قلبي ده په نور ظاهر سره لكه يو څراغ چي د چا سره ورسره وي او په خلكو كي گرځي، او تشبيه د حال د ابوجهل يعني كفر قلبي ده او نور معاصي ده لكه په قرآن يې استهزا وهله او عليه الصلوٰة والسلام چي يې په خوشايي وويشتى الى غير ذالك په ظاهري تاريكو سره او په صيغه د جمع يې راوړى. او تشبيه د حال د ابوجهل چي تر وخت د مرگ پر هغه كفر باقي وه په دې سره وكړه چي سړى هميشه په ظاهري تاريكي كي وي او وتلاى نه سي.

درويش وايي: چي دا مجموع تشبيهات په حال كي د مؤمن چي حمزه ﷺ ؤ او داغه رنگه دا مجموع تشبيهات چي په شان كي د كافر وي چي ابوجهل ؤ هر يو ته په اصطلاح د علم بيان استعاره تمثيليه وايي چي معنا يې داده چي تشبيه د يو هيئت منتزعه من مجموع مركب مع هيئته اخرى چي هغه هم منتزع ده بل مجموع مركب څخه وي. كما في قولهم للشخص المتحير في امر من الامور، رئيتک به تقدم رجلاً وتوخر اخرى. ولهذا الاستعارة التمثيلية امثلة اخرى مذكورة في علم البيان.

پوښتنه: په دې استعاره تمثيليه څوک پوهيږي له زده كونكو څخه ستاد تفسير؟

ځواب: عوام كه نه په پوهيږي علما او بعض طالبان خو په پوهيږي او ما مكرراً ويلي دي چي زما تفسير پښتو دى په دې معنا نه دى چي د عوام الناس لپاره دى.

سوال: باعث د راوړلو د بيان د تمثيليه پر ئاځه ؤ؟

خواب: تفسیر مظهري ددې آیت په تفسیر کې "اومن کان میتاً آه" داسې ویلي دي استعارة تمثيلية وكذا في قوله کمن مثله في الظلمات يعني په هغه کې هم استعاره تمثيلية ده او ددې استعارې نور هیڅ بیان یې نه دی کړی.

كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ

لکه ابوجهل ته چې خپل کفر او معاصي دده په دماغ کې ښائسته کړه سوې وه او دده پوچ ذهن او دماغ ته دا ښائسته کړل سوې وه چې زه افضل یم تر مؤمنانو. داغه رنګه ټولو کافرانو ته علی اختلاف انواعهم ښائسته کړل سوي وه هغه چې دوی کول من الکفر والمعاصي.

درویش وایي: چې پر عکس د حال د کافرانو مسلمان باید په زړه کې محبت او عشق ته د لوی خدای ﷻ ځای ورکړي، حافظ شیرازي قدس سره وایي

هرگز نمیرد آنکه دلش زنده شد بعشق ثبت است برجریده عالم دوام ما

قال علیه الصلوٰة والسلام المؤمن حي في الدارین، وباین معنی اشاره نموده یک شاعر عارف.

نمیرد هرکرا جانش تو باشی خوشاجانی که جانانش توباشی

اگر کسی میخواهد که باخدا باشد لازم است که از مردم انقطاع کلی بعمل آرد یک بزرگی باین معنی اشاره نموده ومیگوید

برروی خلائق درصحبت مکشای میباش بکلی متوجه بخدای
غافل مشو از ذوق دل وذکر زبان تازنده جاوید شوی دردوسرای

من هماندم که وضو ساختم از چشمه عشق
چار تکبیر زدم یکسره برهرچه که هست

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِيْ كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا لِيَمْكُرُوْا فِيْهَا

یعني لکه موږ چې په مکه کې رئیسان ددوی مجرمان ګرځولي وه چې خلګ یې خطایستل او و کفر ته یې دعوت ورکاوه. داغه رنګه موږ ګرځولي دي په هره قریه کې رئیسان مجرمان یعني کافران د هغې قریې تاچه مکر وکړي په هغه قریه کې له نورو قریه والا وو څخه یعني پر کفر او اضلال او پر دین د آباؤ یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

باعث وګرځوي لکه رئیسانو د مکې چې ورته کارونه کوله.

درویش وایي: چې "جعلنا" په آیت کې په معنا د صیرنا دی چې دوه مفعوله غواړي مفعول اول یې في کل قریة او مفعول ثاني یې اکابر دی او "مجرمیها" د هغه بدل دی، او یا مفعولان اکابر ومجرمیها دی ای في کل قریة ظرف لغو متعلق د جعلنا دی، او چې في کل قریة مفعول یې مفعول اول سي کما قلنا سابقاً فهو ظرف مستقر ای کائناً في قریة، وفي بعض التفاسیر وان کان جعلنا بمعنی مکنا آه فهو خلاف ماهو المشهور ان الجعل اما بمعنی التصییر او الخلق جمل معترضه. د درویش قصیده.

کـه ثنـا د خـدای پـاک وایـمـه شـرمیږم
کـه یـې نـه وایـم لـه خدایـه سـه بیږېږم
نعمتونـه د خـدای پـاک پـر مـا عاصـي
دونـه ډېـر دي پـه حسـاب یـې نـه رسـېږم
هـر نعمـت چـې زمـا لـه حالـه مناسـب وي
خـدای راکـړی دی وماتـه زه پوهېږم
ددې دومـره نعمتـو ثنـا پـه خولـه زمـا
نـه کېـدونکې ده نـه زه پسـې رسـېږم
کـه نعمـت د خـدای یـاد کـړم زه پـه خولـه
څـوک مـې هېـر دی اوبعـض یـادلرم پـه زړه
دثنـا ویـل نعمـت هـم دخـدای پـاک دی
پـر ثنـا ثنـا ویـل طاقـت د چـا دی
بیـا دا زمـا جـزوي ثنـا دي خـدای منظـور کـړي
د کـریم پـه لـوی دربـار کـې دې مقبـول کـړي
چونکـه عجـز د بنـده د خـدای پـاک خـوښ دی
زمـا عجـز او مسـکنت دي خدای پاک خـوښ کـړي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کریمه د لئن شکرتم چي رایاد کړم
له اخیر څخه مي زړه په لرزه راسي
د عبید د خوشحالي ورځ به هغه وي
چي د نفس مطمئنه زیری پري کیږي
پس له حمده درود وایم پر احمد مجتبی
چي سید المرسلین او محمد مصطفی
شفاعت د ټول امت به کوي څوک
هغه څوک چي دی محمد مرتضی
پس له خدایه غیرت مند سړی دی څوک
هغه څوک چي دی حامد مقتدی
په سجده کي د امت غم به کي څوک
هغه څوک چي د نبیانو دی پیشوا
د یا ایها الذین آمنوا صلوا زیری د چا
هغه څوک دی چي اول دی په ویلو د بلی
محبت د هغه چا سره کړه ورورہ
چي په سخت حالت کي ستا دی رهنما
د عبید د خوشحالي وخت به هغه وي
چي قبول سي په دربار کي د پیشوا
محبت د محمد به په بنه درسي
چي یوه دیوال ته مخ وبل ته شا

وَمَا يَمْكُرُونَ إِلَّا بِأَنفُسِهِمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿١٢٣﴾

او دوی چم او مکر نه کوي مگر نه د خپلو ځانو سره، ولي عذاب د مکر ودوی ته راجع دی په دنیا او آخرت کي.

پوه سه: چي ابو جهل چي سرسخته دښمن د علیه الصلوٰة والسلام و ویل به یې چي زموږ سره مزاحمه او سیالي کوله بنو عبد مناف حتی چي موږ او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی پر یوه اندازه سود شرف او عزت په مکه کي یو. نو دوی دا ناري شروع کړې چي په موږ کي څو نبي سته. نو په دې سبب شرف زموږ لوړ سو تر تاسي. ابو جهل وویل والله لانؤمن به ولا نتبعه احداً الا ان یاتینا وحي کماتیه یعني چي بیرته به شرف سره برابر سي، او ولید بن المغیرة بیا داسي ویله که نبوت حق وي، نو زه اولی یم تر تا یا محمد، ولي زه تر تا بالایم په عمر کي او په مال کي هم تر تا بالایم فانزل الله هذه الآیة.

وَإِذَا جَآءَتۡهُمۡ ءَايَةٞ قَالُواْ لَن نُّؤۡمِنَ حَتَّىٰ نُؤۡتَىٰ مِثۡلَ مَآ أُوتِيَ رُسُلُ ٱللَّهِۘ

او چي راسي وکفارو ته د مکې یو آیت قرآني یا معجزه چي دلالت کوي پر صدق د دعوې د نبوت د علیه الصلوٰة والسلام دوی وایي چي موږ هرگز ایمان نه راوړو پر نبوت د محمد ﷺ تر هغو چي موږ ته رانه کړل سي مثل د ما اوتي رسلان ته خدای ﷻ یعني من الکتاب المنزل او المعجزات، نو جواباً د غه خبر د دوی رد کړه په دې آیت سره.

ٱللَّهُ أَعۡلَمُ حَيۡثُ يَجۡعَلُ رِسَالَتَهُۥۗ

خدای ﷻ ښه خبر دی په ځای یعني په شخص چي خدای رسالت ورکوي یعني رسالت نه مال دی نه په مشرتوب دی او نه په نسب دی بلکې رسالت فضل الهي دی ددې درانه بار د رسالت په محل خدای ﷻ خبر دی. صاحب التیسیر وایي چي دا غایت ناپوهي د سړي چي وده ته وویل سي چي ایمان راوړه! دی ووایي چي زه تر هغو پوري ایمان نه راوړم چي زه نبي نه سم.

سَيُصِيبُ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ صَغَارٌ عِندَ ٱللَّهِ وَعَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا كَانُواْ يَمۡكُرُونَ ١٢٤

ژر دی چي ورسېږي هغه کسانو ته چي جرم یې کوي یعني اکابر د کفارو د مکې ذلت او سپکاوی عند الله یعني من عند الله في الدنیا والآخرة او عذاب شدید په سبب د هغه چي دوی مکرر کاوه په دنیا یعني چي خلگ بې له ایمان څخه منع کول او دا به یې ورته ویل چي د پلار او نیکه دین مه پرېږدئ.

یوه سه: چي دغه ذلت او هوان اکابرو ته د مکې په ورځ د بدر ورسېدی چي اویا کسه په شمول د ابوجهل ورمردار سوه او اوویا (۷۰) کسان ژوندي په حصارت ونیول سوله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَمَن يُرِدِ اللَّهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ

نو هغه څوک چې اراده وکړي خدای ﷻ چې وهغه ته هدایت وکړي، نو يې سينه فراخه وه اسلام ته.

پوه سه: چې دا آيت چې نازل سو خلګو پوښتنه وکړه د عليه الصلوٰة والسلام څخه چې شرح صدر څه شی دی؟ عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل نور يقذفه في قلب المؤمن چې په هغه نور سره حق او باطل سره وپېژني يعني اختياراً لا اجباراً بلکې په زړه کي دومره استعداد پيدا کړي چې حق او باطل سره جلا کړي.

وَمَن يُرِدْ أَن يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا

او هغه چاته چې اراده د خدای ﷻ وي چې ګمراه يې کړي له لاري څخه د خدای وګرځوي سينه دده تنګه د حرج معنا داده چې نو اباکوي له قبوله څخه د حق.

پوه سه: چې "حرجاً" مصدر دی حمل يې مبالغةً دی.

پوښتنه: په دې آيت کي نسبت د اضلال وخدای ﷻ ته سوی دی، نو د کافر په کفر او ضلال کي څه ګناه ده؟

ځواب: د "يضل" معنا داده يخلق فيه الضلال بناً على ان الخالق هو الله لکن بسبب صرف اختيار الكافر وارادته الى الكفر مثلاً د قرآن اورېدو ته غوږ نه نسي او معجزاتو د نبي په نظر د سحر ګوري.

والحاصل: بنده په ايمان او کفر کي او په طاعت او عصيان کي مختار دی او هر څه عمل چې په بنده پيدا کېږي بنده يې کاسب دی او خدای يې خالق دی.

درويش وايي: چې فرق په منځ کي د خلق او کسب ډېر دقيق او صعب دی ددغه صعوبة له وجهي معتزله وايي چې خالق د اعمالو د بندګانو بنده ګان دي او جبريه وايي چې بنده په کفر او اسلام او طاعت او عصيان کي مجبور محض دی تولـه خدای ﷻ په کوي. او زمونږ د اهل السنة والجماعة متوسط په منځ کي د افراط د معتزله وو په باره کي د بندګانو چې نسبت د خلق ودوی ته کوي او په منځ د تفريط د جبر يې چې په حق د بندګانو کي کوي چې بندګان تولـه مجبور محض بولي لا اختيار لهم في شئ من اعمالهم الكفر والاسلام والطاعة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والعصيان فتدبر في فهم الخلق والكسب والتمييز بينهما.

درویش وایي: چي ددې دقیقې مسئلې فهم او د خلق او کسب امتیاز علامه تفتازاني رحمه الله په شرح العقائد او شرح المقاصد کې کړی دی، او داغه رنګه قاضي عضد الملة والدین رحمه الله په مواقف کې کړی دی او سید جرجاني رحمه الله په شرح کې د مواقف کړی دی، محقق بهاري په مسلم الثبوت کې په زړه پورې بیان کړی دی والله اعلم بالصواب.

پوښتنه: ددې مشار الیه کتابو چې تا حواله ورته وکړه فهم به ستا د تفسیر د مطالعه کوونکو لپاره ډېر ګران نه وي؟

ځواب: مطالعه کوونکي خو یوازې عوام نه دي او علماً وو ته د دغې مسئلې څېړنه په مشار الیه کتابو کې مشکله نه ده.

كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَاءِ

یعنې زړه یې داسې تنګ سي لکه اسمان ته چې ختږي.

یوه سه: چې بعض قرأ دا کلمه "یصعد" وایي یعنې له بابه د مجرد، او بعض قاریان یې یصاعد بالالف وتشدید الصاد چې اصل یې یتصاعد و. تا صاد سوله او په صاد کې مدغمه سوه، او موجود قرائت چې متعارف په مصاحفو کې دی یصعد چې اصل یې یتصعد دی.

یوه سه: چې دا تشبیه مبالغه ده په ضیق کې دده، یعنې لکه یو څوک چې مکلف کړل سي په ختو سره اسمان ته، دا ضرب مثل دی په هغه کار کې چې له قدرت څخه وتلی کار وي، نو په دې تشبیه چې ایمان د من اضل الله ممتنع دی لکه ختل و اسمان ته چې ممتنع دی عادة للناس عموماً، فلا یرد الاعتراض بصعود الملائکة ولا بصعود النبي ﷺ في لیلة المعراج فافهم.

كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ اللَّهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٢٥﴾

یعنې مثل ما یضیق وما یبعد قلبه عن الایمان ګرځوي خدای جل جلاله رجس پر هغو کسانو چې ایمان نه راوړي.

یوه سه: عطا رحمه الله وایي چې رجس په معنا د عذاب دی، او زجاج رحمه الله وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې رجس په معنی د لعنت دی په دنیا کې او د عذاب في الآخرة، او کلبي رحمه الله
وايي چې معنا د رجس گناه ده، او مجاهد رحمه الله وايي چې الرجس ما لا خير فيه، او
ابن عباس رضي الله عنه وايي چې رجس شیطان ته وايي يعني يسلط عليه الشيطان.

درويش وايي: چې دا ټول قولونه سره متناسب دي بالقرب واللزوم.

سوال: ځای خو د عليهم يعني ضمير ولې چې مرجع د مخه ذکر دی. نو څه
حکمت دی چې خدای جل جلاله الذين لا يؤمنون ذکر کړی؟

ځواب: لپاره د بيان د علت د رجس پر دوی.

وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيمًا

هذا ای البيان الذي جاء به القرآن كشرح صدر من اراد هدايته وجعله ضيقاً
لمن اراد اضلاله، يعني دا لار د خدای ده چې حکمت د خدای جل جلاله يې مقتضى
دی او عادت د خدای جل جلاله په جاري دی. او بعض مفسران يې داسې تفسير کوي
چې د غه طريقه چې ته پر روان يې او قرآن راتگ په کړی دی لار د موصل و
خدای جل جلاله ته، "مستقيماً" حال دی له صراط څخه او عامل يې الاشارة المفهومة
من هذا کما في قول القائلة هذا بعلي شيخاً، پر اول تقدير د مستقيماً معنى
عادلاً ده او په دوهم تفسير يې معنا سمه لار ده چې کږوالی نشته پکښې.

قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ

موږ تفصيل د آيتو کړی دی د هغه چا لپاره چې له قرآني آيتو څخه پند اخلي
لانهم هم المنتفعون بها، او مظهري رحمه الله د قوم يذكرون څخه اهل السنة
والجماعة مراد کړي، او پر معتزله روافض وسائر اهل الاهوا يې رد بولي.

درويش وايي: چې په وخت کې د نزول قرآن خو دا فرق نه وو، نو څرنګه
آيات قرآنية رد پر هغو کېدای سي بلکې حق داده چې د قوم يتذكرون څخه ټول له
هغه کسان چې عمل په آياتو د قرآن کوي په اول کې د نزول د قرآن کريم ورته
آيتونه رد پر مشرکينو او يهودانو باندي وو.

لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ رَبِّهِمْ

يوه سه: چې "سلام" يا مصدر دی يعني دار السلامة منع جميع الآفات وهي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجنة، او یا سلام نوم د خدای ﷻ دی اضافت د دار چي یې ورته وکړی تشریفاً للمضاف ای الجنة کبیت الله، او یا مراد تحیة دار السلام علیکم لان الملائکة وقت دخول اهل الجنة یقولون سلام علیکم فادخلوها خالدین، وایضاً یقول الرب تعالی سلام قولاً من رب رحیم، ویعلمون بعضهم علی بعض.

"عندربهم" په نبز د خدای ﷻ له عندیت څخه عندیت د تصرف دی یعني په تصرف کي د خدای ﷻ دی چي د مؤمنانو لپاره یې مهیا کړی دی چي په هغه دار السلام کي ما لا عین رئت ولا اذن سمعت ولا خطر علی قلب بشر یعني بالتفصیل.

وَهُوَ وَلِيُّهُم بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢٧﴾

او خدای ﷻ دوست دی ددوی او متولي د امورو ددوی دی چي په دار الدنیا توفیق د اسلام ورکړی او په قبرو کي خدای ﷻ د سوال کي د نکیر او منکر قناعت بخشه جواب ورته الهام کړي او په اخرت کي به د جناتو علاوه درجات د قرب ورکړي، او دا ټول به زړه پوري شیان په سبب ددې دی چي دوی به عمل کاوه یعني په دنیا کي من الایمان والاعمال الصالحة. د تاریخ اسلامي په پاڼو کي په صحیح روایت راغلي دي چي امیر المؤمنین عمر ابن الخطاب ﷺ یو فوج څلور زره د اسانو سپاره لپاره د فتح د بعضو ښارو د عجمو امیر د لښکر یې خپل زوی عبدالله ﷺ وګرځاوه. عبدالله ﷺ وایي چي موږ روان سوو او یوه قلعه چي د لوړ غره پر سر جوړه وه محاصره کړه چي زموږ سلاح یعني غشي ولینده ونېزه هغې قلعې ته هیڅ نه سوای رسېدلای، او په دغه قلعه کي لښکر هم ؤ او ملکه ددوی ښځه وه ډېره ښائسته وه، نو یوه ورځ دغي ملکې زموږ عسکرو ته تر دریچې د قلعې وکتل. یو ځوان یې ولیدی له ځوانانو څخه د عربو چي پر آس سپور ؤ او ډېر خوش رنګه ښائسته، نو دې ملکې سوړ ساه وکښې، نو مینځیانو یې ورته وویل چي ولې دې سوړ ساه وکښې سره ددې چي ته په محکمه قلعه کي ناسته یې او خپل عسکر هم لرې، ملکې ورته وویل دا زما قلعه او مستحکم ځای به هغه ځوان چي پر آس سپور دی فتح کوي، مینځو ورته وویل چي څرنګه به یې فتح کوي؟ ملکې ورته وویل چي ته یو ساعت صبر وکړه، نو ملکي یو سړی ور واستوی د ملاقات طمعه لرم نو زه به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستا یم ته به زما یې، څوان ورته وویل چې نعم په دوه شرطه اول به ستا قلعه مور ته تسلیموې، او د حصن داخل به ده ته تسلیموې، ملکې بیر ته سړی ورته راواستاوه چې د حصن داخل په معنی نه سوم پوه، نو څوان وقاصد ته وویل چې له حصن داخل څخه مراد زړه دی هغه به زړه ته سپارې او ته به اقرار په وحدانیت د خدای ﷻ کوې، نو ملکې ورته وویل یعنې د قاصد په خوله چې زما د قلعې دروازه درته خلاصه ده ستا ته او فوج تولو راسئ، دوی چې قصر ته د ملکې داخل سوه، نو هغه پردې اسلام عرض کړی، دې ورته وویل زه ملکه خدای لوی همت راکړی نو تر تا بالا سړی به فوج لرې چې هغه پر ما اسلام عرض کړې؟ څوان ورته وویل نعم کبیرنا وابن کبیرنا یعنې عبد الله بن عمر ﷺ، نو یې ملکه راوستل وسر لښکر ته یعنې عبد الله بن عمر ﷺ ته، نو عبد الله ﷺ اسلام پر عرض کړی ملکې ورته وویل چې تر تا لوړ سړی په مسلمانانو کې سته چې زه د هغه پر لاس ایمان راوړم؟ عبد الله ﷺ ورته وویل نعم والدي امیر المؤمنین عمر ﷺ ملکې ورته وویل ما هغه ته واستوه چې د هغه پر لاس اسلام قبول کړم، نو عبد الله ﷺ ملکه سره د ډېرو اموالو چې ددې له قلعې یې راایستلې وه او عسکر یې هم ورسره کړه د مدینې منورې پر خوا یې روان کړه، حتی چې ملکه سره د اموال جزیله او خزانو مدینې منورې ته ورسېدله او امیر المؤمنین عمر ﷺ ته پېش کړل سوه او د ورسره عسکرو تولو صورت حال یې د ملکې و حضرت عمر ﷺ ته بیان کړی، نو عمر ﷺ ایمان پر عرض کړی، ملکې ورته وویل تر تا لوړ سړی سته چې د هغه پر لاس ایمان راوړم، عمر ﷺ ورته وویل نعم محمد ﷺ چې رسول د خدای ﷻ دی وهذا قبره الشریف واشار الی الروضة الشریفة، نو ملکه ورغله روضه مطهره ته په ډېر ادب یې سلام وو ایه او په ډېر احترام ورته کښېنستله او د قاره سره یې وویل اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً عبده ورسوله، وروسته یې وویل خرجت من الظلمات الی النور وانا اخشی یا رسول الله ان یدنس ایماني بالمعاصي فاسئل ربک الذي ارسلتني الینا بالحق ان یقبض روحي قبل ان اعصی مرة اخری فوضعت راسها علی العتبة الشریفة فتوفیت ساعتها، عمر او نورو صحابه کرام ﷺ چې حاضر وه تولو پر وژړل او ښځې یې راوغوښتلې چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غسل ورکړي او کفن يې ورکړي او صلوٰة جنازه په خپله عمر ورکړي او په جنت البقيع کې يې د صحابه کرامو په منځ کي خاورو ته وسپارل فرحمة الله عليها وحق القول ان الله يهدي من يشآء.

تنبیه: درویش وايي: چي عرب د قوم نوم دی دا يې معنا نه ده چي عربي ژبه به وايي. ولي چي ډېر عرب د مختلفو ملکو ته کډه سوي دي او نسل پر نسل يې عربي ژبه نه وي زده لکن په نسب عرب وي. او عجم ماسوا ته د عربو وايي لکه ترک، افغان (پښتون)، تاجک، بلوخ الی غير ذالک من القبائل دا يې معنا نه ده چي عربي ژبه به نه وايي بلکې پښتو يا بلوڅي به وايي مثلاً. ولي چي ډېر عجم د مختلفو قومو عربستان ته په کډه تللي دي او نسل پر نسل هغه عجمي ژبه ځني هېر سوې وي او سليسه عربي وايي.

درویش وايي: چي په دې تنبيه ډېر توهمات د عصري ملايانو چي فکر نه لري دفع سوه فتامل.

وَيَوۡمَ يَحۡشُرُهُمۡ جَمِيعٗا

هغه ورځ چي خدای ﷻ حشر او ژوندي کړي انسانان او جنات يعني په ورځ د قيامت.

پوه سه: چي دلته اذکر چي عامل د نصب د يوم دی مقدر دی او مخاطب په اذکر سره عليه الصلوٰة والسلام دی والتقدير اذکر يا محمد ﷺ اهل مکة او نورو ته هغه ورځ آه.

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ قَدِ ٱسۡتَكۡثَرۡتُم مِّنَ ٱلۡإِنسِۖ

اې ډلي د شيطانانو تاسو ډېر کسان د انسانانو ځان ته جلب او گمرهان موکړه

پوه سه: چي د لفظ "جن" اطلاق پر پېرانانو هم کېږي او پر شيطانانو هم کېږي، ولي د جن معنا پټوالی دی او دغه دواړه د انسانانو له سترگو څخه پټ دي.

وَقَالَ أَوۡلِيَآؤُهُم مِّنَ ٱلۡإِنسِ رَبَّنَا ٱسۡتَمۡتَعَ بَعۡضُنَا بِبَعۡضٖ

او وايي دوستان د شيطانانو يعني اتباع ددوی په انسانانو کي چي اې زموږ تپولو ربه نفع اخستل بعض زموږ له بل بعض څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي نفع د انسانانو له شیطانانو څخه داده چي دوی و انسانانو ته سحر ورښيي او کهانت، غیب ګویي ورښيي او شهوات ورته ښائسته کوي او د هغو شهواتو د رسېدلو لاري چاري ورښيي، او د شیطانانو نفع د انسانانو چي دوی انسانان په ضلال او معاصي او د حق له لاري څخه لېري کوي چي اخیر درجه یې کفر بالله وعداوت اولیاء الله ده.

وَبَلَغْنَآ أَجَلَنَا الَّذِيٓ أَجَّلْتَ لَنَا

او مونږ دي ورسولو اجل موعود ته. یعني یوم القیامة مطلب د دوی اقرار پر خپلو ګنهو او اظهار د افسوس او تحسر کوي، لکن لاینفعهم لان وقت الندامة علی الضلالة قد مر وهو الدنیا، قال الشیرازي قدس سره.

کنون باید ای خفته بیدار بود.. چو مرگ اندر آرد ز خوابت چه سود
چه خوش گفت باکودک آموزگار.. که کاری نه کردم و شد روز گار

قَالَ النَّارُ مَثْوَىٰكُمْ خَٰلِدِينَ فِيهَآ إِلَّا مَا شَآءَ اللَّهُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾

خدای ﷻ وایي ودوی ته چي اور ستاسي د اوسېدلو ځای دی همېشه به یاست تاسي په اور کي، مګر نه چي د خدای ﷻ اراده سي په تحقیق ستا رب په هر کار کي حکمت لري او په هر شي بنه علم لري.

درویش وایي: چي ددې استثناً په باره کي اقوال دي په تاویلات نجمیه کي وایي چي دا استثناً راجع ده واهل توبه ته په دنیا کي فلاتکون النار مثواه لا الی اهل الخلود في النار، او بعض مفسران وایي چي کلمه د ما مصدریه ده او مضاف ورسره محذوف دی کما في قولهم آتیک غروب الشمس ای وقت غروبه فالاستثناً من مضمون الجملة التي قبله کانه قیل النار مثواکم خالدین فیها الا وقت مشیته تعالی ان ینقلوهم من النار الی الزمهریر چي د بر یخ ځای دی، او په زره پوري ترجمه یې داده الا مدة سبقت علی وقت دخلوهم النار چي هغه مده د حساب او د صدور د حکم الهي په دخول سره د دوی اوږخ ته. او بعضو مفسرانو د تعجب وړ ترجمه کړې دی وایي چي الا په معنا د سوی دی نو معنا یې داسي کېږي د خالدین فیها سوی ماشاً الله من انواع العذاب یعني ماسوی له اور څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نور عذابونه هم دوی ته ستنه، د تعجب ځای دادی چي الا په معنی د سوی چپري مستعمل سوی دی په عربي ژبه کي، مظهري رحمه الله بي سنده له ابن عباس رضي الله عنه څخه یو روایت کړی دی چي فهم یې ډېر مشکل دی او ده په قلت سره یوه داسي توجیه ورته کړې ده چي حاصل دده په ذهن کي دی.

درویش وایي: چي ددې استثنا په باب کي علامه بغداد سید محمود آلوسي رحمه الله په ج ٦ ص ٢٧/٢٦ کي ډېر ښه بیان کړی دی چي د بعضو توجیهاتو نقض او جواب یې هم ښکلي راوړی دی چي تولـه نقل مفضي و تطویل ته ګرځي.

وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ الظَّٰلِمِينَ بَعْضًۢا بِمَا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾

او دغه رنګه لګه عصات الجن والانس یو پر بل ګمارلي او مسلط کړی دي حتی چي جن د انس نفع اخلي او انس له جن څخه موزیر ګماشته کړی دی بعض ظالمان پر بعض باندي ددوی په سبب د هغه چي دوی یې کسب کاوه من الکفر والمعاصي.

درویش وایي: چي قتاده رحمه الله ویلي دي په تفسیر کي ددې آیت یجعل بعضهم اولیا بعض المؤمن ولي المؤمن یعینه علی الخیر والکافر ولي الکافر ویبعثه علی الشر انتهی.

درویش وایي: چي دا خبره خو په واقع کي صحیح ده لکن په آیت کي خو بعض الظالمین بعضاً دی، نو مؤمن راوړل په تفسیر کي د آیت مذکوره بې ځایه خبره ده، بلکي صحیح تفسیر هغه دی چي کلبي رحمه الله له ابي صالح رحمه الله او هغه له ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړی دی چي هم مظهري او هم برسوي په روح البیان کي او هم آلوسي په روح المعاني کي او نورو ګڼ شمېر مفسرینو هم چي خدای جل جلاله چي ویو قوم ته د خیر، نو متولي د امورو ددوی خیار یعني عدل پرسته په دوی کي وګرځوي، او چي اراده د شر یې ورته وسي یعني په سبب د ګنهو د دوی، نو متولي ددوی شرار ددوی یعني ظالمان وګرځوي. نو لـه ده څخه کسات په ظالم اخلي، ددې تفسیر تائید هم هغه حدیث د ابن عباس رضي الله عنه کوي دی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وايي چي امير المؤمنين علي ﷺ چي ابن ملجم په خنجر وواهه چي د هغه تهپ له سببه په شهادت ورسېدی، نو مسلمانانو ده ته وويل چي ته موږ ته خليفه وټاکه. نو علي ﷺ ورته وويل ان يعلم الله فيكم خيراً يولي عليكم خياركم. لکه هغه وخت چي عليه الصلوٰة والسلام وفات سو فعلم الله فينا خيراً فولي علينا ابابکر ﷺ، وقد ورد عمالكم اعمالكم. يعني عاملان ستاسي د امورو ستاسي عملونه دي يعني که مو عملونه د خير وه عامل به مو هم د خير او عادل سړی وي او که مو عملونه گنهونه وه عامل به مو بې زړه سوی به ظالم سړی وي.

حکایت: تاريخ وايي چي په يوه زمانه کي له يو مملکت څخه چي بادشاه يې ظالم ؤ، يو بل مملکت مجاور ته چي امام يې عادل ؤ ځني خلگ ورکډه سوه چي د سلو په شاوخوا کي کورونه وه. د منقول اليها مملکت سلطان چي په خبر سو، نو دوی يې ورو غوښتل دربار ته او پوښتنه يې ځني وکړه چي تاسي ولي د خپل مملکت څخه زما مملکت ته راغلاست. دوی ورته وويل چي زموږ سلطان ډېر ظالم ؤ په موږ به يې کارونه کول او مزدوري به يې نه راکولې، او ستا په مملکت کي عدالت ؤ، نو له دې سببه موږ ستا مملکت ته هجرت وکړی. د ملک سلطان ورته وويل چي زه به تاسي يو امتحان کوم، نو يو څو غټي غټي د توتانو درختي يې وروښولې چي دا درختي به په ننه شپه کي کارئ له بېخه څخه بېله دې چي بېلچه يا کولنگ يا اره پر استعمال کړئ که مو نه وکښې صبا تو له بنديانوم او عسکر يې پر مقرر کړه، خير دوی چي سره کښېښستل په خپلو کي يې سره وويل چي تر دې ظالم خو زموږ خپل د ملک ظالم ښه ؤ، ولي که به يې کار راباندي کاوه آلات خو يې هم راکوله، نو يې مشوره پر دې وکړه چي دا توتان بېله آلاتو موږ څرنگه راکښلای سو بېله قدرته د خدای ﷻ دا کار امکان نه لري. نو نرانو او ښځو يې اودسونه تازه کړل د قرآن په تلاوت په ذکر او غيرهما ولوی دربار ته د قادر مطلق متوجه سوه او د ژړا او بغارو اور يې ولگاوه چي قادر متعال چي لا يعجز شئ دا توتان خو ته په خپل قدرت سره له بېخه وکاږې تو له شپه پر دغه ډول روڼه کړه، کله چي سپېدې راچاودلې د توتانو خرپې سو تو له پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مخکه غځار سوه او دوی خوشحاله سوه چي لمر راوختنی نو عسکر دوی خپل شاه ته بوتله او د توتانو د بیخ ختولو قصه یې تولـه شاه ته وکړه. نو شاه ورته وویل چي تاسي بیرته خپل ملک ته ولاړ سئ او تاسي خپل ځانونه وخدای ﷻ ته سم کړئ لکه بېګاه شپه نو هیڅ بادشاه به پر تاسي ابدآ ظلم نه کوي خلګ یې بیرته وخپل وطن ته ستانه کړله. دا یوه تائیدي تاریخي قصه وه چي تائید د قول د ابن عباس رضي الله عنه او تصدیق د قول د علي رضي الله عنه یې وکړی. قال السعدي رحمه الله

خبر داری از خسران عجم — که کردند بر زیر دستان ستم
نه آن شوکت وپادشاهی بماند — نه آن ظلم بروستایی بماند
مکن تاتوانی دل خلق ریش — وگر میکنی میکنی بیخ خویش

وفي المثنوي

چونکه بد کردی بترس ایمن مباش — زانکه تخمست وبریاند خداش
چند گاهی او بپو شاند که تا — آیدت زان بد پشیمانی وحیا
بارها پو شد پی اظهار فضل — باز گیرد ازپی اظهار عدل
تاکه این هردو صفت ظاهر شود — آن مبشر گردد این منذر شود

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ مِّنْكُمْ

اې ډلي او جماعته د پېریانانو او د انسانانو آیا خدای ﷻ نه دی دراستولي وتاسي ته رسولان ستاسي له ډلي او جنس څخه. استفهام انکاري دی او نفي د نفي اثبات دی یعني دراستولي یې دي.

درویش وایي: چي دا آیت معرکة الآرآ دی په منځ کي د اهل نقل منشا د اختلاف فقط دایو ځای دی چي پر اناڼو د جنسه ودوی ته رسولان استولي دي لکه د انسانانو له جنسه وه انسانانو ته رسولان بالاتفاق ثابت دی او استیناس د جنس له هم جنس څخه ډېره ښکاره خبره ده. له امام ضحاک رحمه الله څخه چا پوښتنه وکړه چي رسل له جنسه د جن ددوی له جنسه وراستول سوی دی ده ورته وویل هو! او استدلال یې هم په دغه آیت ووایه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: چي جن او انس ټول مکلف دي په احکام الهیه وو سره من العقائد المشترکة والاعمال المتفاوتة، لکن رسولان ددوی دا احتمال هم سته چي د هري ډلي له جنس څخه ددوی لکه جبرائیل وغیره رسل دی د ملائکه او ددوی له جنسه هم دی، او خوص البشر رسل دي د انسانانو او د جنس ددوی دی، او دا احتمال هم سته چي رسل د جن دي له غیر جنس څخه ددوی وي یعني بشر دي وي.

پوښتنه: جن به له بشر څخه د دین زدکړه څرنګه کوي؟

ځواب: کېدای سي چي خواص د جن دي له رسل څخه د بشر استفاده او زدکړه وکړي، او دغه خواص الجن دي بیا رسل د رسل بشر وي وخپل قوم ته یعني عفو مي جنیاتو ته. ددې دلیل دادی چي اجماع الامة منعقده ده پر دې باندي چي نبینا محمد ﷺ رسول الثقلین دی او علیه الصلوٰة والسلام هم دعوت د ایمان ودواړو ډلو ته کړی دی بالایمان بالله بالتوحید والیوم الآخر وغیر ذالک اما الی الانس فظاهر واما الی الجن فیدل علیه الاحادیث الصحیحة في البخاري وغیره.

درویش وایي: چي بعض علماً چي دا وایي بعثت د سلیمان علیه السلام هم عام وانس او جن ته و هغه غلطه ده، ولي چي سلیمان علیه السلام لپاره د دعوت وجنیاتو ته نه و مبعوث، بلکې جن یې په ضبط او ملک او په سیاست سره مسخر وه چي په دوی به یې سخت سخت کارونه کول کما نطق به القرآن في موضوع آخر، او ضحاک رحمه الله چي وایي لامعنی للعدول عن ظاهر الآیة یعني چي جن او انس دواړو ته رسولان خدای ﷻ راستولي دي. فالجواب عنه چي آیت خو په دې مقید نه دی چي کل وقت وزمان او پر دې اجماع ده چي جن په خلقت تر انس مقدم وه، نو هغه وخت چي تعمیر د ځمکي ددوی په لاس کي و ددوی مکلف هم وه، نو په هغه وخت کي رسل ددوی ددوی له جنسه و. فصح یا معشر الجن والانس الآیة" او وروسته تر بعثت د رسل البشر جن ته ددوی له جنسه رسل نه دی راغلی لکن چي جن یې د انس سره جمع کړه في الخطاب صح ذالک برسل البشر کما في قوله تعالی "یخرج منهما اللؤلؤ والمرجان مع ان المرجان یخرج لمن بحر الملح دون العذب، او بعض مفسران وایي چي رسل په آیت کریمه کي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وه رسل ته د رسل هم شامل دی. نو بعض جنیاتو چې به کلام د رسول البشر واورېدی هغه به يې تر خپل قومه رساوه.

درویش وایي: چې دا و پوره تحقیق ددې مبارک آیت چې له تفاسیرو متعدده وو څخه ماخوذ سو او ستاسي په حضور کې پېش سو. ولا يرى هذا التحقيق مجتمعاً في تفسير آخر غير التفسير الايوبي وماتوفيقي الا بالله ومع هذا الصواب في علم منزل الكتاب.

يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِىْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ۚ قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا

پوه سه: چې جمله د "يقصون" صفت دی د "رسل" والمعنى يقرئون عليكم كتبي المنزلة. او تاسې يې بېرولې وای له ملاقات او راتګ څخه ددې ورځې، يعني د قيامت نو دوی به په جواب کې د استفهام انكاري الهي داسې ووايي چې موږ شاهدان يو پر خپلو ځانو چې موږ ته انبياء خو راغلي وه او موږ د هغو تبليغ رد کړی او کفر ته مو ادامه ورکړه.

سوال: په بل ځای کې د قرآن کريم راغلي دي والله ماكنا مشركين؟

ځواب: دا اقرار دوی هلته کوي چې وروسته تر انکار جوارح او اعضاو ددوی پر کفر او شرک ددوی شاهدي ادا کړي كما جاء في جزء ۲۴ سورة فصلت شهد عليهم سمعهم وابصارهم وجلودهم بما كانوا يعملون كذا قال مقاتل رحمه الله.

وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ۝

او دوی خطايستلي او غولولي وه ژوند د دنيا حتى چې ايمان يې نه راوړی، او دوی شاهدي ادا کړه پر خپلو ځانو چې موږ کافران وو.

پوه سه: چې په دې آيت کې ذم دی ددوی پر اختيار د کفر په دنيا حتى چې نتيجه يې داسوه مجبور سوه وه اعتراف او اقرار سره په استحقاق کې د عذاب النار.

ذٰلِكَ اَنْ لَّمْ يَكُنْ رَّبُّكَ مُهْلِكَ الْقُرٰى بِظُلْمٍ وَّاَهْلُهَا غٰفِلُوْنَ ۝

پوه سه: چې "ذالک" خبر د مبتدا محذوفې دی ای الامر ذالک يعني ارسال الرسل او وروسته يې تعليل د حکم دی. والمعنى چې دغه ارسال الرسل ددې سببه خدای جل جلاله کړی دی چې نه دی عادت د رب ستا هلاک کونکی د قريو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني اهل د قريو په ظلم سره او اهل د هغو قريو دي غافله وي چي رسول دي نه ور استولي چي دوی ته دعوت د ايمان او ترک الشرک ورته وکړي.

بوه سه: چي "يظلم" حال دی له فاعل څخه د مهلک يعني متلبساً بالظلم ای ظالماً. حسن بصري ﷫ وايي چي خلګ په دنيا کي پر پينځه قسمه دي.

(۱) علماً چي ورثة الانبياً دی.

(۲) زاهدان او مشائخ دي چي دوی دلائل د لاري د خدای ﷻ دي.

(۳) غازيان دي چي توري د خدای ﷻ دي.

(۴) تاجران دي چي دوی آمنان د خدای ﷻ دي په مځکه کي.

(۵) پادشاهان او په بل عبارت رئيسان جمهور د هر مملکت دي، نو څه وخت چي عالم طامع وي او د مال جمع کونکی وي، نو په ده پسي به اقتداً خلګ او مسلمانان څرنګه وکړي، يو شاعر وايي.

شيخ چون مائل بمال آيد مريد او معاش.. مائل دنيا هرگز مالک ديدار نيست

او چي زاهد په بل عبارت مرشد يا پير چي راغب د جاه وجاهلال وي او درهم او دينار وي نو په هغه سره به خدای ﷻ ته لار څرنګه پيدا کوي مريدان دده.

از زاهدان خشک طمع راهم دار مدار		سيل ضعيف واصل دريا نميشود

او چي غازيان يا مجاهدين رياً کاره وي، وقد قيل المرائي لاعمل له" نو څوک به پر دښمن کافر فتح او بری مومي. بيت

عبادت باخلاص نيت نکوست		وگرنه چي آيد زمغز پوست

او تجاران چي خائنان، درواغ ګويه وي، نو به څوک سړی امين وګڼوي

ع...... درين زمان مگر جبرئيل آمين باشد

او چي رئيس جمهور لېوه وي، نو څوک رمه او پسونه ساتي،. . . ابيات

پادشاهی که طرح ظلم افگند		پای د بوار خويش بکند

نکند جور پيشه سلطانی		که نه يايد زگرگ چوپانی

په اخير کي حسن بصري ﷫ وايي والله ماهلک الناس الا العلماً الطامعون يعني ملايان چي د غوړمالی لکی ومقتديانو ته ښوروي، والزهاد الراغبون او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه پيران چي راغب وي په جمع کولو کي د مال، او هغه غازيان مجاهدين چي ريا کاره وي، او هغه تاجران چي د خلګو سره خيانت کوي او هغه پادشاهان رئيسان جمهور چي ظالمان وي، قال الله تعالى وسيعلم الذين ظلموا اى منقلب ينقلبون.

وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ مِّمَّا عَمِلُوْا

او هر مکلف ته درجې د قرب او بعد سته د خدای ﷻ سره.

پوه سه: چي اصل د مما من ما و، نو نون په ميم کي مدغم سو او مما ځني جوړ سو، او من سببي دی او ما مصدري دی يعني په سبب د اعمالو ددوی او يا کلمه د ما موصوله او عائد محذوف دی ای من الذي علموه.

وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٣٢﴾

او نه دی ستا خدای ﷻ اي محمد ﷺ غافله له هغه شيانو څخه چي دوی عمل کوي يعني هر سړي ته به موافق دده د عمل جزا ورکړي په ورځ د آخرت کي.

پوه سه: چي اصل د عما عن ما و پسله ادغامه عما سو، او احتمال د ما مصدريه يا موصوله دلته هم سته کمامر عنقريب، او کلمه د بآ زائده ده لپاره د تاکيد د نفي.

وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ

او خدای ستا اې محمد ﷺ د بندګانو او ددوی له عبادت څخه بې پروا دی او ارسال د رسولانو او انزال د کتابو او امر او نواهي د يو غرض لپاره نه دی چي وخدای ﷻ ته راجع وي بلکي ددې سببه دی چي خدای ﷻ خاوند د رحمت کامله دی پر بندګانو، نو لپاره د تکميل د بندګانو يې اوامر او نواهي وراستولي دي او دا هم د خدای ﷻ د رحمت کامله يوه ځانګه ده چي بنده په ګناه ژر نه سي بلکي مهلت د توبې ورکوي.

اِنْ يَّشَاْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِنْۢ بَعْدِكُمْ مَّا يَشَآءُ كَمَآ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ﴿١٣٣﴾

که د خدای ﷻ اراده سي تاسي به هلاک کړي يا اهل مکه او په عوض کي ستاسي به هغه مخلوق چي د خدای ﷻ خوښه وي او تر تاسي فرمانبرداره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ وي پیدا کړي لکه تاسي چي يې پیدا کړي یاست اولاد د نورو قومو چي ستاسي آبا او اجداد وه لکن سره له قدرته پر ایجاد د قوم آخرین تاسي ته يې مهلت درکړی دی تر حما علیکم لعلکم تؤمنون.

فائده: له دې ځخه دا معلومه سوه چي کلمه د ما مختص په غیر ذوی العقول پوري نه ده کما هو المشهور لان المراد من مایشا مکلفین. ولا تکلیف الا بالعقل کما لایخفی.

إِنَّ مَا تُوعَدُونَ لَآتٍ ۖ وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ

په تحقیق هغه څه چي د تاسي سره يې وعده من البعث والحساب والثواب والعقاب لاهلها، خامخواه راتلونکی دی بلاشبهة. او تاسي نه یاست عاجزه کونکي د خدای ﷻ له دغو کارو ځخه اینما کنتم یاتوبکم الی یوم الحساب والمجازات.

قُلْ يَا قَوْمِ اعْمَلُوا عَلَىٰ مَكَانَتِكُمْ إِنِّي عَامِلٌ ۖ

پوه سه: چي "مکانة" یا مصدر میمي دی په معنی د تسلط پر یو شي. فالمعنی ووایه ای محمد ﷺ کفاروته د مکې چي اې قومه زما، نواصلي یا قومي وه یا حذف سول او کسره د میم په دلیل "چي تاسي عمل کوی د شرک او معاصي وو په نهایت قدرت او استطاعت ستاسي زه عامل یم یعني "علی مکانتي" چي ثبات پر اسلام دی. او پر تبلیغ د امر ربي من التبلیغ الیکم بالتوحید او یا "مکانة" اسم ظرف دی لکن دلته مستعار دی دپاره د حال لکه یو سړی چي بل ته ووایي علی مکانتک ای اثبت علی حالک الذي انت علیه والمعنی ظاهر او پر دواړه تقدیره دا امر د تهدید چي موږ پښ رو ورته وایو ای اثبتوا ایها الکفار علی کفرکم وعداوتکم للرسول والقرآن المنزل علیه.

فَسَوْفَ تَعْلَمُونَ مَن تَكُونُ لَهُ عَاقِبَةُ الدَّارِ ۗ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الظَّالِمُونَ

نو ژر دی چي تاسي به خبر سئ او د ر معلوم به سي هغه کسان چي دوی لره عاقبت حسنه په دار الآخرة والعاقبة للمتقین وهي لي ولمن علی دیني الاسلام لان للکفار في الدار الآخرة النار لیس الا، په تحقیق سره چي فلاح او خلاصون نه سي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پیدا کولای ظالمان چي عبادت چي حق د خدای ﷻ دی دوی یې ځایه استعمال کړي یعني عبادت د بتانو کماهو معنی الظلم. حکایة عن بعض اهل الله چي دده کره بعض فقرا ورغله او دده په کور کي یې هیڅ متاع او کمبله نالي او بالښت وغیره نه ولیدل، نو فقراؤ ورته وویل اما لکم شئ؟ هغه ورته وویل چي هو شیان ډېر لرم لکن زما دوه سرایونه دي یو دار امن دی او بل دار خوف دی، نو موږ تول متاع فاخره په دار امن کي ایږدو یعني په دار آخرت کي چي هوري یو متاع نه ورکېږي، نو فقراؤ ورته وویل چي دا دار خو هم یو متاع غواړي هغه ورته وویل چي زه ددې په غم کي نه یم، ولې چي دا دار مستعار دی د یو څو ورځو لپاره انتهی.

پوه سه: چي بغوي ﷫ وایي چي مشرکانو د مکې نیمه برخه د خپلو کښتو او د چهارپایانو او د نورو مالو به یې د خدای ﷻ لپاره گرځول. او نیمه برخه به یې د بتانو لپاره گرځول نو د خدای ﷻ برخه به یې پر مسکینانو او میلمنو صرفوله. او د بتانو برخه به یې پر خادمانو صرفول، او یو شی چي به د بتانو له برخي څخه د خدای په برخه کي ولوېدی هغه به یې بیر ته څني راواخستی دوی به ویل چي بتان محتاجه دي، او که به د خدای ﷻ له برخي څخه یو شی د بتانو په برخه کي گډ سو هغه به یې نه را اخستی ویل به یې خدای ﷻ خو غني دی، او که به د بتانو له برخي څخه یو حیوان هلاک سو د خدای ﷻ له برخي څخه به یې جبیره ورکوله، او که به د خدای ﷻ له برخي یو حیوان هلاک سو د بتانو له برخي څخه یې جبیره نه ورکوله فنزلت هذه الآیة في ذالک.

وَجَعَلُوا لِلّٰهِ مِمَّا ذَرَأَ

او گرځولي دي مشرکانو د مکې خدای ﷻ لره بعض له شیانو څخه، نو چي خدای ﷻ هغه پیدا کړي دي، نو "مِن" د مما تبعیضي دی او ما موصوله دی عائد یې محذوف دی کما اشرنا الیه.

مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا

له کښت څخه او له چارپایانو څخه لکه پسونه، اوښان وغیره.

پوه سه: چي دلته دا جمله محذوفه ده ولشرکائهم نصیباً لظهورها بالمقابلة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو دوی وايي چي دا برخه د خدای ﷻ ده ددوی په زعم سره يعني خدای دوی په دې سره نه دي امر کړي.

او دا برخه زموږ د شرکاؤ د چي اصنام ځني مراد دي چي موږ يې د خدای ﷻ شريکان بولو په عبادت کي.

فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ إِلَى اللَّهِ ۖ وَمَا كَانَ لِلَّهِ فَهُوَ يَصِلُ إِلَىٰ شُرَكَآئِهِمْ ۗ

او هغه چي د شرکاؤ ددوی ؤ هغه خدای ﷻ ته نه رسېدی يعني چي دوی به د خدای ﷻ د شي مصرف ګرځولی کمامر في شان النزول. هغه د شرکا برخه يې به هغه کي نه حسابول. او هغ شي چي به د خدای ﷻ لپاره ټاکلی و هغه به ددوی شرکاؤ ته رسېدی، يعني څه وخت چي به د شرکاؤ په مصارفو کي کمبود راغلی وای د خدای ﷻ له ماله به يې هغه پوره کاوه.

سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿١٣٦﴾

بد دی دا حکم ددوی ولي چي خالق الحرث والانعام او د نور مخلوقات خدای ﷻ دی او دوی جمادات چي پر هيڅ شي قدرت نه لري شريک ګرځول بلکي په بعض احيانو کي به يې ترجيح ورکړه وجماداتو ته پر خالق السموات باندي کماصرح به الآية الكريمة فما كان الآية.

وَكَذَٰلِكَ زَيَّنَ لِكَثِيرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِينَ قَتْلَ أَوْلَادِهِمْ شُرَكَآؤُهُمْ

يعني لکه چي ښائسته کړی سوي ؤ ودوی ته يعني کافرانو ته د مکې تقسيم د حرث او د انعام په منځ کي د خدای ﷻ او ددوی د بتانو. ښائسته کړی ؤ ډېرو ته د مشرکينو د مکې قتل د اولادو ددوی چي مراد ځني لوڼې دي چي يا به يې ژوندی په قبر کي اچولې او يا به يې د بتانو لپاره ذبح کولې شرکا ددوی "شركائهم" فاعل د "زين" دی.

پوښتنه: شرکا ددوی خو بتان جمادات وه نو هغو څرنګه قتل الاولاد ودوی ته ښائسته کاوه؟

ځواب: مجاهد رحمه الله وايي چي مراد دلته له شرکاؤ څخه شيطانان دي يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغو به دا قتل ودوی ته ښائسته کاوه خیفة الفقر یعني له ېېرې د مسکنت.

فائده: شیطانانو ته يې شرکا ددوی وویل ددې سببه چي دوی به د هغو اطاعت کاوه په معاصیو کي د خدای ﷻ. او کلبي رحمه الله وايي چي مراد له شرکا څخه هغه خادمان د بتانو دي چي هغو به قتل الاولاد ودوی ته ښائسته کاوه په دې بهانه چي که ډېر اولاد وساتئ بیا تږلو ته دوږي، له کومي خوا ورکوئ نو ښه داده چي ښځینه اولاد دي وژنه. او بعض مشرکانو به دا نذر کاوه که زما لس زامن سوه زه به لسم ذبح کوم. لکه عبد المطلب چي د علیه الصلوٰة والسلام نیکه و. خوب ولیدی چي د زمزم څاه پراخه کړه او ښه يې جوړ کړه، نو عبد المطلب چي شروع په وکړه په هغه وخت کي دده یو زوی حارث نومیده. نو هغه نذر وکړی چي که خدای ﷻ ماته لس زامن راکړه او ټول ځوانان سوه زه به لسم زوی قرباني کوم د خدای ﷻ شپې او ورځي تېرېدلې عبد المطلب ته خدای ﷻ لس زامن ورپوره کړه چي د لسم زوی نوم يې عبد الله و چي د علیه الصلوٰة والسلام پلار کېږي. لکن تاریخ دا نه ده په ګوته کړې چي دا لس زامن يې د یوې ماینې وه او که له ډېرو ماینو څخه وه. نو څرنګه چي ټول ځوانان سوه عبد المطلب خپل ځان نذر ته تیار کړی او په ټولو زامنو کي يې عبد الله ښه رنګ او سکه درلوده.

درویش وایي: چي ولي به نو عبد الله ښائسته نه و خو دده سره نور محمدي ملګری و. اخیر چي عبد المطلب د عبد الله د ذبح اراده وکړه، نو د قوم مشران ورته راټول سوه چي عبد الله به نه ذبح کوې، ده ورته وویل چي ما خو نذر ایښی دی. بعض راویان وایي سدنه وو یعني خادمانو ته د بتانو ورغله. او بعض وایي چي یوې ښځي ته چي عرافه یعني فال اچونکې وه ورغله. هغو بیا هغې ورته وویل چي تاسي پر لسو اوښانو او عبد الله باندې قرعه کشي وکړئ نو که د اوښانو قرعه وختله نو معلومه سوه چي خدای ﷻ د عبد الله تر ذبح د اوښانو په ذبح راضي دی او که د عبد الله قرعه وختل لس اوښان نور پر زیات کړئ بیا قرعه کشي وکړئ ثم وثم الی ان ینتهی القرعة الی الابل. دوی دغسي وکړل خو اخیراً پر سلو اوښانو د اوښانو قرعه وختل. نو دوی په خپلو کي سره وویل چي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبدالله تر ذبح د خدای ﷻ د سلو اوښانو ذبح خوښه سوه، نو عبد المطلب سل
اوښان خیرات کړه چې تقریباً د ټولو خلګو د مکې کافي سوه هرچا چې هر
څومره غوښې وړلې اجازه وه، په حدیث شریف کې راغلي دي علیه الصلوٰة
والسلام وایي انا ابن الذبیحین یعنې چې یو اسماعیل ؑ و چې د
ابرهیم ؑ له ذبح څخه د جنت د پسه په ذبح سره خلاص سو، والقصة
مشهورة، او بل د علیه الصلوٰة والسلام پلار عبدالله و چې د سلو اوښانو په ذبح
له ذبح څخه خلاص سو.

لِيُرْدُوهُمْ وَلِيَلْبِسُوا عَلَيْهِمْ دِينَهُمْ

پوه سه: چې لام لپاره د تعلیل د فعل سابق دی یعنې تاچې شیطانان دوی
هلاک کړي بالاغواً، او تاچې پر دوی باندې ګډوډ کړي هغه دین چې دوی پر وه
یعنې دین د اسماعیل ؑ کذا قال ابن عباس ؓ.

وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ مَا فَعَلُوهُ

او که د خدای ﷻ اراده وای چې دوی دې دا لبس ونه کړي او یا تذیین د شیطان
دې نه کړي قبول او دوی اولادونه نه وژني او یا دې بتانو ته نصیب من الحرث
والانعام نه کړي ور، نو دوی به دا مذکوره کارونه نه کولای یعنې کل من تلک کان
بمشیته تعالی وارادته وان لم تکن برضاه ومحبته کذا قال علماً اهل السنة والجماعة.

فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٧﴾

نو پریږده ای محمد ﷺ دوی او هغه کار چې دوی پر خدای ﷻ درواغ ویل،
ولې چې دوی به د مذکوره افعالو په باره کې ویله والله امرنا بهذا.

وَقَالُوا هَٰذِهِ أَنْعَامٌ وَحَرْثٌ حِجْرٌ

او کفارو د مکې به ویل چې دغه چې دوی به د خدای ﷻ لپاره او د بتانو
لپاره یعنې من الانعام الحرث کمامر دا هغه انعام او حرث دی چې حرام دی.

پوه سه: چې حجر مصدر په معنی د مفعول دی ای محجور ممنوع په دې
لفظ کې مفرد تثنیه جمع مذکر او مونث ټول له برابر دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا يَطْعَمُهَا إِلَّا مَنْ نَشَاءُ بِزَعْمِهِمْ

نه به يې خوري مګر هغه كسان چې ژموږ ورته اراده سي چې خادمان د بتانو وه نر نه ښځې، او برخه د خداى ﷻ به مېلمانه خوري كمامر "بزعمهم" په باطل ګمان سره د دوى چې خداى ﷻ دوى په دې سره نه وه امر كړي بل كانوا يفترون على الله حيث قالوا والله امرنا بهذا.

وَأَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُورُهَا

دوى به ويل چې دا انعام دي چې شاوې ددوى حرامې دي يعنې څوك به نه پر سپرېږي چې دوى به په نامه د سوائب او د بحائر او د حوامي بلله كمامر بيانه.

وَأَنْعَامٌ لَا يَذْكُرُونَ اسْمَ اللَّهِ عَلَيْهَا افْتِرَاءً عَلَيْهِ سَيَجْزِيهِمْ بِمَا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿١٣٨﴾

او دا انعام دي چې د خداى ﷻ نوم به نه پر وايې په وخت كې د ذبح بلكې نومان د بتانو به پر وايا ست په وخت كې د ذبح، چې دوى به دروغ ويل پر خداى ﷻ ژر دى چې خداى ﷻ به جزا وركړي په سبب د افترا ددوى پر خداى ﷻ.

وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَٰذِهِ الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَىٰ أَزْوَاجِنَا وَإِنْ يَكُنْ مَيْتَةً

او دوى به ويله چې دغه چې په نسونو كې ددې انعامو يعنې حمل وي، يعنې البحائر والسوائب يعنې ژوندي پيدا سي خالص د نرانو زموږ او حرام دي پر ښځو زموږ.

فائده: خالصة معنى داده چې هيڅ څا ګډون نه وي پكښې كړى، او كلمه د تا يې لپاره د مبالغې او تاكيد ده. او كسائي رحمه الله وايي چې د خالص او خالصة معنى يوه ده. او فراء رحمه الله وايي چې تا له جهته د تانيث د انعام ده لان ما في بطونها مثلها يعنې هغه هم انعام دي.

پوښتنه: چې بعض قرا "ميتة" په رفع سره وايي چې فاعل د يكن يې بولي او كان تامه بولي اى وجدت ميتة.

پوښتنه: مسند اليه خو پر دغه تقدير ميتة دى نو يكن ولې باليا وايي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: د ميتة لفظ که څه هم مونث دی لکن ذکر او انثی دواړو ته شامل دی
نو تذکير د لفظ يکن بنا پر تغليب دی د مذکر پر مونث باندې، او بعض قاريان
بالتا مونث وايي نظراً الی اللفظ ای لفظ الميتة او اکثر قاريان ميتة په نصب
سره وايي او يکن باقصه بولي او ضمير د يکن راجع دی ما موصوله ته.

فَهُمْ فِيهِ شُرَكَاءُ ۚ سَيَجْزِيهِمْ وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ

نو دوی نر او ښځې په خوراک کې سره برابر دي ژر دی چې، خدای ﷻ به جزاً
ورکړي دوی ته د وصف ددوی.

سوال: ضمير د فيه خو راجع دی و ميتة، نو د تذکير وجه يې څه ده؟

ځواب: د ميتة په لفظ کې نر او ښځه سره برابر دي.

پوه سه: چې وصفهم منصوب دی بنزع الخافظ ای بوصفهم مراد له وصف
څخه ددوی د غه عقائد فاسده دي د دوی او بيانات باطله ددوی دي.

قَدْ خَسِرَ الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ عِلْمٍ

په تحقيق د ېر تاوان کوي چې وژني اولاد خپل له بې عقليه. بغوي رحمه الله
وايي چې دا آيت نازل دی په شان کې د قوم د ربيعه او مضر، او بعضي نور عرب
چې دوی به لوڼې ژوندی په خوارو کې دفن کولې د مسکنت له ېرې او يا له
ېرې ددې چې څوک به يې په سبې کې راڅخه بوزي او يا له دې سببه چې دا
نجوني چې پېغلې سي مړونه غواړي او د لور مېړه دوی د ځان عار باله.

درويش وايي: چې په باب کې د لوڼو د ژوندي ښخولو يوه دلسوزه قصه
واورئ چې يو سړی له اصحابو ﷺ څخه د عليه الصلوٰة والسلام په حضور کې
به همېشه غمجن او دېغ ناست و، نو عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل "مالک
تکون محزونا" څه سبب دی تا لره چې همېشه خوابدی او غمجن يې؟ نو هغه
سړي ورته وويل چې ما يوه لور ژوندی په خاورو کې پټه کړې ده زه ېرېږم چې
سره د اسلامه ماته تر هغه ګناه خدای ﷻ راتېر نه سي که څه هم ګناه خو د
جاهليت په وخت کې وه. عليه الصلوٰة والسلام چې د هغه وژولو قصه ماته
وکړه، نو هغه سړي ورته وويل چې زه په جاهليت کې له هغو کسانو څخه وم چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لوښي به یې ژوندۍ تر خاورو لاندې کولې یو وخت مې یوه لور پیدا سوه، ماینې مې ډېرې زارۍ، راته وکړې چې دا یوه لور خو راپرېږده مه یې وژنه، نو زما زړه پر وسو هغه لور مې ورپرېښوله حتی چې لو یه سوه بلوغ ته ورسېدله، نو ډېره ښائسته پېغله ځنې وختله، نو خلګو به مرکې راته کولې اخیر ما ته د جاهلیت غیرت ودرېدی یعنې چې زما لور تر بل چا لاندې پرته وي، نو ماینې مې راته وویل چې زه د بعضې قریبانو کره ځم او دا نجلۍ هم ډېره دېغه ده زما سره به زما د قریبانو کره ولاړه سي. نو مور یې ډېر ښه کالي په واغستل او زېور یې هم ور په غاړه کړه، او مور یې ډېرې زارۍ راته وکړې او ډېره سخته وعده یې راځخه واخستله چې دا لور رامړه نه کړې، نو ما یو څاه (کوهی) نوښاني کړی چې دغه څاه ته به یې اچوې، نو ما چې دا څاه ته وکتل نجلۍ پوه سوه چې دا څاه ته مې وراچوې او وژنې مې، نو زه یې تر کالو تینګ ونیولم او په بغارو سوه او وه یې ویله ای شئ ترید بې، ته په ما څه کوې؟ بیا زما زړه پر وسو، بیرته مې هغه غیرت په یاد سو، نو بیا مې وڅاه ته وکتل بیا زه دې په غېږ کې تینګ کړم، او راته وه یې ویل چې زه د مور امانت یم نو ته څرنګه ما وژنې، بیا مې یو وار وڅاه ته وکتل او بیا مې ددې بغارو ته وکتل نو رحم به مې راغلی، اخیر شیطان غلبه راباندې وکړه، نو مې په غېږ کې واخستل او سره د بغارو مې وڅاه ته ور وغورځول، بیا به یې له څاه څخه ناري راباندې وهلې چې ما دروکاره چې زه مرمه، نو یو ګړی ورته ولاړوم چې ددې آواز ورک سو، نو زه پوه سوم چې دا مړه سوه نو ځنې را رهي سوم، نو رسول اللهﷺ ډېرې اوښکې تویې کړې، او هغه سړي ته یې وویل که د خدای ﷻ امر سوی وای چې د جاهلیت قصاص هم اخله ما به تا ته سخت عذاب درکړی وای لکن څه وکړم چې اسلام یجب ماقبله.

درویش وایي: چې حکایت پر غلطو ډولو نقل سوی دی او دا مذکوره قصه تر ټولو نورو اخصره وه.

وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللَّهُ افْتِرَاءً عَلَى اللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّوا وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾

او دوی حرام ګرځولي وه یعنې کفارو د مکې پر ځانو باندې هغه شیان چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوی ته په رزق ورکړي وه خدای پاک یعني البحیرة او سائبة او وصیله او حام چي دوی دروواغ ویل پر خدای ﷻ چي نسبت ددې حرمت یې وخدای ﷻ ته کاوه.

پوه سه: چي نصب د افتراً په سبب د مفعول له والي دی او یا مفعول مطلق دی د فعل محذوف یعني یفترون علی الله افتراءً او یا حال دی نو مصدر په معنی د فاعل دی ای مفترین علی الله، نو په تحقیق دوی ګمراهان وه او نه وه دوی پر لار د حق برابر.

پوه سه: چي جمله د ما کانوا مهتدین تاکید دی د قد ضلوا.

وَهُوَ الَّذِيٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ

او خدای ﷻ هغه ذات دی چي ایجاد او پیدا کړي یې دي باغونه چي پر مخ د مځکي پراته او اوار وي لکه د انګورو تاکان چي منا یې نه وي ورته جوړه کړې او کدو، بادرنګ، چمبرخیال، هندوانه وغیرذالک او غیر معروشات چي ساق او تنه ولاړ وي لکه انار، زردالو، خورما، زیتون وغیره.

وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ

او خورما او کښت یا د غنمو یا د وربشو الی غیر ذلک په داسي حال کي چي سره مختلفي دي میوي ددوی په رنګ او په خوند او په هیئت کي.

پوه سه: چي دا تخصیص بعد التعمیم دی، ولي چي خورما غیر معروش ده او کښت معروش او غیر معروش دواړه پکښې دي، او ضمیر د اکله راجع دی وتوله ماقبل ته په تاویل د کل واحد منها.

وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ

او د زیتون او آنارو باغونه چي بعض افراد یې سره متشابه وي یو د بل سره په رنګ او خوند او په هیئت کي یعني بعض افراد لکه دوه انار چي دواړه په یوه مقدار وي او دواړه خواږه وي او غیر متشابه وي بعض افراد یې لکه غټ انار او کوچنی غټ انار او تریو الی غیر ذالک من الاختلاف، وهذا دلیل قدرته التامة وقس علی الرمان الزیتون في جمیع ماذکرنا، په حدیث شریف کي راغلي دي که تاسي چي انار خوری نو تولي د انار دانې خورئ چي په هر انار کي یوه دانه د جنت ستته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كُلُوا مِن ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَآتُوا حَقَّهُ يَوْمَ حَصَادِهِ

او تاسي خوراک له میوې څخه کوئ، او ورکوئ حق د میوو په ورځ کې د
پرېکولو د هغو میوو.

یوه سه: چې ضمیر د "ثمره" راجع دی په تاویل د کل واحد تولو اشجارو ته شامل دی چې میوه یې وکړه یعني که څه هم پخه نه وي لکه د انګورو غوره وغیره من ثمرات الاشجار المذکورة.

بوه سه: چې په دې حق کې اختلاف دی ابن عباس ﷺ او نور ګڼ شمیر تابعین وایي چې مراد دي له حقه څخه زکوٰة مفروضه وي چې عشر یا نصف العشر دی دوی وایي چې امر د آتو الپاره د وجوب دی او د لفظ حق غالب استعمال هم په واجب کې دی وقد اجمع الامة انه لا واجب في المال ثمار آکان او غیر ذالک الا الزکوة، نو بیا دې تقدیر دا آیت مدني دی لان الزکوٰة فرضت في المدینة کما روی البخاري ومسلم چې یو سړی راغلی د علیه الصلوٰة والسلام څخه یې سوال وکړی د اسلام په باره کې یعني د خصال د اسلام. نو علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې پینځه لمونځونه دي په شپه او ورځ کې. او یوه میاشت روژه ده او زکوٰة دی، نو هغه سړي ورته وویل هل علي غیرها قال لا الا ان تطوع.

مسئله: نو دا آیت دلیل د قول د ابي حنیفة رحمه الله چې په تولو میوو کې زکوٰة واجب دی خلافاً لمالک والشافعي چې دوی وایي چې هغه میوې چې قوت نه په حاصلیږي لکه انار اینځر شوتالو وغیره په هغه کې زکوٰة نشته، او بعض صحابه او تابعین وایي چې دا آیت مکي دي او زکوٰة په مدینه منوره کې فرض سوی دی. نو له دې حقه مراد غیر الزکوٰة دی، نو بعض وایي چې مراد له دې حقه څخه ورې د غنمو دي چې خلګ لو وکړي او یو څه ورې پر مځکه څني توی سي. نو د هغه له تولولو څخه دې څوک نه منع کوي دا یې حق دی، او بعض وایي چې مدینه والو چې به خورما ورسېدله هر چا به یو واښکی د خورما راوړی او په مسجد کې به یې وځړاوه، نو چې یو مسکین به راغلی په لکړه به یې وواهه هغه پخې پخې دانې به څني راتوی سوې هغه به یې وخوړلې دا قول د مجاهد رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی او ددې قول تائید هغه حدیث د فاطمې بنت قیس رضي الله عنها کوي. د او ايي چي عليه الصلوٰة والسلام وويل ان في المال لحقاً سوى الزكوٰة.

وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُسْرِفِیْنَ

او تاسي اسراف مه کوئ په صدقاتو کي يعني النفلية. ولي د خدای جل جلاله نه دي خوښ اسراف کونکي.

پوه سه: چي اسراف تجاوز دی تر حد په هر فعل کي چي وي كذا في الصحاح او اسراف ضد د قصد دی یعني میانه روي كذا في القاموس. او بیضاوي وايي چي دا آیت مثل د هغه آیت دی خطاباً للنبي عليه السلام "ولا تبسطها كل البسط" ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي ثابت بن قيس بن شماس رضي الله عنه د پينځو سوو (۵۰۰) درختو خورما تهوله کړه او په يوه ورځ یې تهوله خيرات کړه او کورته يې هيڅ شی را نه وړی فانزل الله تعالى هذه الآية. وقد قال رسول الله صلی الله علیه وسلم وابدأ بمن تعول. او بغوی له سدي څخه روايت کړی دی چي مه ورکوئ خپل تهوله مالونه په خيرات کي چي په اخير کي په خپله فقيران سئ او فقر ته ار سئ. او بعض مفسرين وايي چي دا خطاب دی وه بادشاهانو ته چي تاسي له رعائيت څخه مه غواړئ بالا تر حد شرعي چي تاسي په امر سوي ياست يعني د بيت المال لپاره.

درويش وايي: چي دا تفسير له مقام سره هيڅ مناسبت نه لري كما لا يخفى.

مسئله: انفاق الكل هلته اسراف منهي عنه دی چي د خدای جل جلاله نه دی خوښ چي عيال ته او هغه چاته چي حق د نفقي پر ده لري هيڅ شی نه پرېږدي مثلاً د سري ذوى القربى يا ورونه يا خوندي يا اخوال يا خالات فقيران او مسكينان وي دی هغو ته شی نه ورکوي او پرديو مسکينانو ته تهوله مال ورکړي دا سړی نو رياً کاري کوي، نو داسي کول د خدای جل جلاله نه دي خوښ.

درويش وايي: چي بعض مفسرينو ضد او نقيض روايتونه راوړي چي څه يې مراد دی والله اعلم.

وَمِنَ الْاَنْعَامِ حَمُوْلَةً وَّفَرْشًا ؕ

پوه سه: چي من الانعام متعلق دی په فعل مقدر سره ای انشا من آه او حمولة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفعول به دی د انشا او حمولة هغه حیوان ته ویل کېږي چي بار پر وړل کېږي لکه اوښ، غویی وغیره، او فرش هغه حیوان ته وایي چي بار نه پر وړل کېږي لکه فرش مځکي ته نژدې دی لکه جونګیان د اوښانو یا ګیلګیان د غویو یا پسونه یا بزې.

كُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ

تاسي خوراک کوئ د امر اباحت یعني درته مباح دي که یې خورئ.

پوه سه: چي "من" په مما کي تبعیضي دی ولي چي تو له اجزا د حلال اشیا او حیواناتو خو نه خوړل کېږي له هډوکي، ذکر، فرج مثلاً چي تاته یې په رزق کي درکړي دي خدای ﷻ دا امتنان د خدای ﷻ پر بندګانو باندي.

وَلَا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ

او تاسي متابعت مه کوئ د ګامو د شیطان یعني د لارو د شیطان او د وسوسو دده چي یا حلال شی حرام بولئ لکه سائبه او وصیله وغیر ذالک چي ځان ته حرام بلله، او یا یې حرام شی ځان ته حلال بلی لکه ماذبح علی اسم الصنم چي مشرکانو به ځان ته حلال باله. ولي چي شیطان ستاسي دښمن دی او بین العداوت دی.

پوه سه: چي "انه لکم" علت دی د لاتتبعوا کما هو ظاهر.

ثَمَانِيَةَ أَزْوَاجٍ

دا بدل دی له حمولة وفرشاً څخه یا مفعول د کلوا دی. ولا تتبعوا پر دې تقدیر جمله معترضه ده او زوج په لغت کي هغه ته وایي چي دده سره بل دده له جنس څخه موجود وي او مجموع دوو متجانسینو ته هم وایي او مراد دلته اوله معنی ده، ولي چي پر دوهمه معنا ثمانیة ازواج نه پوره کېږي کما لایخفی.

مِنَ الضَّأْنِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ

د پسو په جنس کي دوه زوجه دي نر چي په عربي یې کبش بولي، او ښځه چي په عربي یې نعجه بولي. او په پښتو کي نر ته پسه وایي او ښځي ته مېږ وایي. او د بزو له جنسه هم دوه زوجه سته، بغوي رحمه الله وایي چي معز جمع ده او مفرد له لفظ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښځه نه لري او صحيح داده چي معز په سکون د عين جمع د ماعز ده چي په پښتو کي نر غټ وزګري ته وايي چي و ښځي ته بزه وايي. او که کوچني وي سپرلي يا سپرلکی. ورته وايي.

قُلْ ءَآلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلْأُنثَيَيْنِ

ته ورته ووايه يا محمد ﷺ کفارو ته چي خدای ﷻ ددغو دوو جنسو نر حرام ګرځولي دی. او که يې ښځي حرام کړي دي.

درويش وايي: چي اصل د الذکرين االذکرين ؤ چي اول همزه د استفهام او دوهم د وصل دی او هر ځای چي دا دوه همزه سره يو ځای سي همزه د وصل په الف بدلېږي نحو الله امرک بهذا کما ورد في حديث البخاري.

أَمَّا ٱشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ ٱلْأُنثَيَيْنِ ۖ نَبِّـُٔونِى بِعِلْمٍ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿١٤٣﴾

او هغه حيوان خدای ﷻ حرام کړی دی چي پر هغه مشتمل رحمونه د ښځو ددې دوو قسمو چي ضان او معز دي. تاسي ما خبر کړئ په يو امر معلوم د خدای ﷻ چي هغه دلالت کوي پر تحريم د ما تحرمونه که تاسي صادق ياست په تحريم مذکور کي.

وَمِنَ ٱلْإِبِلِ ٱثْنَيْنِ وَمِنَ ٱلْبَقَرِ ٱثْنَيْنِ ۗ قُلْ
ءَآلذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ أَمِ ٱلْأُنثَيَيْنِ أَمَّا ٱشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ أَرْحَامُ ٱلْأُنثَيَيْنِ ۖ

درويش وايي: چي ددې آيت ترجمه بعينه لکه د ماقبل فلاحاجة الى الذکر وحاصل الآيات المذکورة انه ليس شئ من هذه الازواج الثمانية بحرام کما زعمتم.

فائده: ددوی يعني د قريشو د کفارو لکه وړاندي چي تېره سوه ګمان دا ؤ هذه انعام حرمت اې حجر، او دا به يې هم ويله چي په بطونو کي ددوی انعام وي خاص په نرو پوري زموږ دي او حرام دي زموږ پر ښځو باندي. او بحيره او سائبه او وصيله يې هم حرام ګڼل بعضها على النساٴ فقط وبعضها على الرجال والنساٴ جميعاً.

درويش وايي: چي په حديث شريف کي راغلي دي چي اسلام چي منځ ته راغلی او ددې ثمانية ازواج حکم د تحليل يې اعلان کړی کمامر، نو مالک بن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عوف چې يو مشرک ؤ راغلی و عليه الصلوٰة والسلام ته ودرېدی او ورته وه يې
ويل يا محمد موږ ته دا خبره رسېدلې ده چې ته هغه شيان حرام بولې چې زموږ
پلرو او نيکه ګانو به کوله؟ نو عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چې تاسي بعض
اصناف د نعم حرام ګڼلي دي بې لـه کوم دليله او خداى ﷻ دا اتـه صنفه لپـاره د
خوراک او نفع اخستلو پيدا کړي دي، نو دغـه تحريم چې تاسي يې واياست
يعني بحيره او وصيله او غيرهما له څه درکه دي که د نروالي لـه سببه يې واياست
نو بايد ټوله نر حرام وبولئ، او که يې په سبب د ښځي والي واياست بايد ټولي
ښځي حرامي وبولئ او که يې لـه سببه د اشتمال رحم الانثى واياست ينبغي ان
يحرم الکل يعني من الذکر والانثى، ولې چې ذکر او انثى څو دواړه له رحم څخه
پيدا کېږي، نو تحريم د يـوازي ولـد خامس يـا سابع او يـا تحريم د بعض دون
البعض له څه درکه تاسي واياست، نو مالک مذکور حيران پاتـه سو، نو عليه
الصلوٰة والسـلام ورتـه وويـل مالک څه سبب تـالره دی چې خبري نـه کوې مالک
مذکور ورته وويل چې ته خبري کوه زه يې اورم.

اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰىكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

آيا واست تاسي اې اهل مکـه "شهدا" جمع د شاهد ده په معنى د حاضر يعني
تاسي حاضر واست هغه وخت چې خداى ﷻ وصيت کاوه يعني حکـم يې کاوه پـه
دغه تحريم چې تاسي واياست، ولې تاسي خو ايمان پر يو نبي او يا کتاب نـه لرئ او
نه هم خپل کتاب لرئ، نو تاسي بله لار د معرفت نه لرئ بېله اورېدلو لـه خداى ﷻ
څخه "ام" منقطعه دی په معنى د بل او کلمه د بل للانتقال والهمزة للانکار، نو
څوک دی لوی ظالم يعني نسته لان الاستفهام للانکار تر هغـه چا چې پـه قصده
دروايه دروغ پر خداى ﷻ باندي لکه چې تاسي اهل مکه چې د مذکوره تحليـل او
تحريم نسبت وخداى ﷻ ته کوئ.

لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۴﴾

چې دوی ګمراه کړي دي خلګ يعني له لارې څخه د خداى ﷻ بېله علمـه بلکې
په تقليد سره د آبا او اجداد، په تحقيق خداى پاک هدايت نه کوي و هغه قوم تـه چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ظالمان وي، په حديث شريف کي راغلي دي چي کفارو د مکي و عليه الصلوة والسلام ته ويل فما المحرم فنزل هذه الاية.

قُل لَّآ أَجِدُ فِي مَآ أُوحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥٓ

ته ورته ووايه زه نه سم پيدا کولای په هغه شي چي ماته يې وحي کړه سوي دي، حرام پر خوړونکي باندي چي خوري يې، مګر نه مرداره وه يعني ذبح شرعي يې نه وه سوې "على" په "محرما" پوري متعلق دی.

پوه سه: چي د ما اوحي اليه څخه يوازي قرآن نه دی مراد بلکي مراد معنی عامه ده که قرآن وي او که وحي خفي وي لکه حديث نبوي والمقصود ان التحليل والتحريم نه پېژندل کېږي په هوی نفسي لکه کفار د مکي به کاوه. بلکي ددې پېژندل په وحي سره کېږي يا جلي يا خفي.

پوه سه: چي مفسران پر دې رايه دي چي "محرما" وصف د موصوف دی ای طعاماً محرماً، نو چونکه سرکوزی هم طعام دی، نو استثناً يې د محرماً څخه استثناً متصل ده.

درويش وايي: چي اکثره قرا پر دې دي چي يکون په صيغه د غائب مذکر ده او ضمير يې چي پټ دی مستتر دی راجع دی وطعام مقدر ته کما قلنا او ميتة خبر د يکون دی. او ابن عامر رحمه الله تکون په صيغه د مؤنث وايي او ميتة په رفع سره وايي فاعل د تکون يې بولي او کان تامه بولي او ابن کثير يې تکون په تانيث وايي په سبب ددې چي خبر يې مؤنث دی. او ميتة په نصب وايي خبر د تکون يې بولي او اسم د تکون ضمير راجع دی وطعاما ته بولي.

فائده: مجموع جمله استثناً په محل کي د نصب ده على الحالية والتقدير لا اجد طعاماً محرماً في حال من الاحوال الا حال کونه ميتة.

درويش وايي: چي ميتة هغه حيوان دی چي بېله صنع د صانع په خپله مړ سي چي موږ يې په پښتو کي مرداره بولو، نو موقوذة چي په لرګي يې ووهي او مړ سي او متردية چي له لوړ ځايه رالوېږي او مړ سي، او نطيحه چي يو حيوان بل حيوان په ښکر ووهي او هغه مړ سي او چي درنده يې وداړي او مړ سي تولله له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

میتة څخه خارج دي، ولې څو تو له په خپله نه دي مړه سوي بلکې صنع دخل پکښې لري کما لا یخفی. او علامه بغدادي رحمه الله په جلد ۸ صفحه ۴۴ کې وایي چې میتة هغه حیوان دی چې ذبح یې شرعي نه وي کړل سوې ثم قال فیدخل فیه المنخنقة والموقوذة وغیرهما.

درویش وایي: چې رایه او تفسیر د مظهري رحمه الله صحیح دی، ولې چې په سورت مائده کې په دې آیت "حرمت علیکم المیتة آه" دا نور یعني موقوذة وغیره پر عطف سوي دي والعطف یقتضي التغایر، او حرمت د موقوذه وغیرها په نورو آیتو سره ثابت دی. او بل دلیل د صحت د تفسیر مظهري په تعریف کې د میتة دادی چې کافرانو او مشرکانو د مکې به علیه الصلوٰة والسلام ته ویل چې ته وایه اې محمده چې ته یې مړ کړې یعني ذبح یې کړې هغه حلال دی. او یا ښکاري سپی یا ښکاري تعلیم یافته باز وغیره یې مړ کړي هغه حلال دی او چې خدای ﷻ یې مړ کړي ته وایه چې هغه حرام دی او د دوی مراد ځنې میتة وه چې په خدایي مرګ حیوان مړ سي.

إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا

او یا وینې جاري چې له حیوان څخه په وخت کې د ذبح له ښارګو څخه روزې د هغو وینو خوراک هم حرام دی.

مسئله: کبد یعني اینه او توری که څه هم وینې دي لکن چونکه جامد وینې دي نو په شرع کې یې خوراک حلال ګڼل سوی دی. او چې په غوښو کې د حیوان وینې وي هغه هم حلالې دي ولې چې هغه جاري وینې نه دي.

أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ ٱللَّهِ بِهِۦ

او یا غوښې وي د سرکوزي، ولې چې سرکوزی مردار دی، نو له دې آیت څخه دا ثابته سوه چې سرکوزی نجس العین دی، نو انتفاع د سرکوزي په هیڅ جز ترڅ وبښتانو پورې نه ده روا، او نه یې بیع د یو اجزا ده روا ده.

پوه سه: چې "اوفسقا" معطوف دی پر لحم خنزیر او خدای ﷻ دې ذبیحې ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي په وخت کي د ذبح نوم د بت پر واخستل سي نفس فسق وباله لتوغله في الفسق او معنی د اهلال رفع د صوت ده په نېز د ذبح نو که په وخت کي د ذبح نوم د غير الله پر ویل سو هغه مردار دی.

فائده: که یو سړی ددې لپاره چي ثواب ددې مذبوح دې روح انور ته د علیه الصلوٰة والسلام او یا وه روح ته بل ولي الله او یا وه روح ته د مور او پلار ورسېږي لکن په وخت کي د ذبح صرف بسم الله الله اکبر پر ووایي دا ذبیحه ما اهل لغیر الله نه ده کما یعزعمه الفرق الضالة المعلومة الحال باسماً مختلفة الذين ليس لهم علم بالقرآن الكريم وهم يزعمون انهم من علماً القرآن الكريم.

درویش وايي:

روز محشر که حاضر میشود تصویر جانان دربغل
من نېز حاضر میشوم تفسیر قرآن دربغل

اللهم وفقني لاتمام تفسير القرآن الى اخيره بالخير والعافية والصحة والسلامة واجعله ذخراً في يوم القيامة وصدقة جارية الى يوم القيامة امين.

تنبيه: درویش وايي: چي يو قصد د زړه دی او يو ذكر د ژبي دی د ذبح په باره کي قصد ته د زړه اعتبار نسته بلکي اعتبار ذكر لره لساني دی مثلاً د يو سړي په زړه کي قصد او نیت ددې وي چي زه دا حیوان خاص د الله تعالی لپاره ذبح کوم لکن په وخت کي د ذبح بېله هېري بلکي عمداً بسم الله الله اکبر وه نه وايي دا ذبیحه مرداره ده بالاجماع ويدل عليه قوله تعالى ولاتاكلوا ممالم يذكر الله عليه نو دغه رنگه که د سړي قصد او نیت وي بلکي که په خوله هم ووايي چي دا حیوان زه د وصول د ثواب وروح انور ته د علیه الصلوٰة والسلام او يا د بل ولي الله د روح د ثواب لپاره ذبح کوم لکن چي ځای د ذبح راسي فقط ووايي اسم الله الله اکبر دا حیوان هم حلال صرف. کراهت هم نسته پکښي لان الشرط الذي يحل به الذبيحة هو الذكر اللساني وقد جابه. او په حدیث شریفه وو کي راغلي دي باسناد صحيحة ان رسول الله ﷺ كان يضحى بكبشين ويقول هذالي ويذكر اسمه المبارک وهذا لمن لم يضحى من امتي ثم يذبحها فقد ثبت الذبح لغيره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مع ذكره لكن قبل امرار السكين على رقبة المذبوح وعند الامرار يقول في كليها بسم الله الله اكبر.

درويش وايي: چي دا بيان ما لپاره د عمومي ورونو وكړي چي د هغو ضاله وو ډلو په خبرو خطانه وزي لا لاقناع هؤلاً المضلين. علماً گفته اند.

آن كس كه نداند وبداند كه بداند	درجهل مركب ابد الدهر بماند
وآن كس كه نداند وبداند كه نداند	اواسپ خود از گنبد فيرژه جهاند

پوښتنه: دې آيت مبارک خو محرمات حصر كړه په څلور كي (۱) الميتة (۲) الدم المسفوح (۳) لحم الخنزير (۴) والذي احل لغير الله به او سره ددې چي محرمات خو نور هم سته لكه سباع البهائم وغيرها؟

ځواب: علامه بغداد رحمه الله په روح المعاني ج۸ ص۴۵ كي وايي چي معنى ددې آيت داده لا اجد محرماً مما كان اهل الجاهلية يحرمونه من البحائر والسوائب وغيرها لكن اجد الاربعة محرمة ولا دلالة فيها على حصر المحرمات في هذه الاربعة فالاستثنا منقطع والاستثنا المنقطع ليس كالمتصل في الحصر قطب الدين رازي رحمه الله دا جواب صحيح نه بولي ولي چي په سورة بقره او سورة النحل كي خداى پاک داسي وايي انما حرم عليكم الميتة والدم ولحم الخنزير وما احل لغير الله به. او كلمه د "انما" لپاره د حصر ده بالاجماع. او بل جواب د اشكال مذكور يې دا وركړه سوى دى چي دا آيت خو پردې دلالت كوي چي عليه الصلوٰة والسلام نه دي پيدا كړي فيما اوحي اليه الى تلک الغاية محرماً غير مانص عليه في هذه الآية وذالک لاينافي التحرمي في شئ آخر بعد هذه الآية. دا جواب قاضي بيضاوي رحمه الله وركړى دى وروسته يې ويلي دي چي انه لايلزم نسخ القرآن بالاخبار الاحاد.

درويش وايي: چي بعض علماً وايي چي تحريم پر دې څلورو شيانو حصر دى لانحصار التحريم فيها بنص القرآن، او ددې قول روايت د عائشي رضي الله عنها او ابن عباس رضي الله عنه څخه سوى دى وبه قال مالک رحمه الله. ولي چي امام مالک ددې څلورو په ماسوى كي چي په احديث نبويه وو كي يې له خوراكه نهي راغلي دي مكروه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بولي په کراهت تحریم سره بولي، لکن اکثره امامان صاحب المذهب لکه امام ابو حنیفه او امام محمد بن ادریس شافعي او امام احمد رحمهم الله تعالی وایي چي تحریم په دغو څلورو شیانو کي نه دی حصر کما نص علیه البیضاوي.

سوال: تحریم د نورو شیانو خو په اخبار احاد کي راغلی دی، نو نسخ د قرآن په احاد سره نه لازمیږي؟

ځواب: تخصیص په اخبار الاحاد سره د قرآن نه لازمیږي ولي چي ددې آیت تخصیص په قطعي کتاب سره سوی دی یعني په منخنقه او موقوذة واخواتها او دغه رنگه تخصیص د آیت یې یو وار په بل قطعي آیت سره چي په پاره کي د تحریم الخمر وارد سوی دی.

سوال: خمر خو له مطعوماتو څخه نه دی بلکي له مشروباتو څخه دی او زموږ بحث په مطعوماتو کي دی؟

ځواب: بلکي له مطعوماتو څخه دی بدلیل قوله تعالی ولیس علی الذین آمنوا وعملوا الصالحات جناح فیما طعموا لانه ورد في الخمر. او په اصول الفقه کي وایي چي عام مخصوص بالبعض یا لقطعي یجوز تخصیصه ثانیاً بالاخبار الاحاد بل بالقیاس.

سوال: په تخصیص مقارنت شرط نه دی؟

ځواب: یا نه دی شرط بلکي بعض افراد چي له عام څخه په کلام مستقل سره ووزي هغه تخصیص دی سوا متراخیاً او مقارناً، وایضا نقول أن حل جمیع الحیوانات سوی الاربعة الثابت بهذا النص یعني قل لا اجد فیما اوحي الي الآیة منسوخ بتحریم الخبائث الثابت بقوله تعالی ویحل لهم الطیبات ویحرم علیهم الخبائث لکن لفظ د خبائث چونکه مجمل دی یعني چي له خبائث څخه څه شی مرا دی نو هغه احادیث چي وارد دي په تحریم کي د سباع البهائم یا په حمر اهلیه وو کي وغیرها بیان د خبائث وارد في القرآن دی فالناسخ الکتاب الکتاب والاحادیث بیان للکتاب، وایضاً نقول چي احادیث مذکوره في التحریم وان کانت احاد في الارض لکن چونکه ټوله امت دا احادیث قبول کړي دي فیجوز النسخ بها لکونها قطعیة باجماع الامة المرحومة علی قبولها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: امام مالک رحمه الله خو تحریم د سباع ونحوها نه وایي بلکې مکروه تحریمي یې بولي؟

ځواب: امام مالک رحمه الله خو کراهت تحریم په دغو احادیثو سره وایي فلا شبهة في قبول مالک رحمه الله تلک الاحادیث فصارت بجمع علیها لکن دده به ګمان شاید داوي چي احادیث که څه هم مجمع علیها دي تحریم نه په ثابتیږي بلکې کراهت تحریم په ثابتیږي لکن الحق خلافه یعني یثبت بالاجماع علیها من الاحادیث التحریم بتةً، والعلم عند الله.

درویش وایي: چي دا ټ تفصیل د آیت مبارکه قل لااجد فیما اوحي الي الآیة بالنقل من التفاسیر المعتبرة ولعلک لاتجد هذا التفصیل مجموعاً في مطاوي التفاسیر الکبار والله الموفق زنه ویم چي زه یم بلکې زه وایم چي ته یې.

فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٤٥﴾

نو که څوک مجبوره سو په حالت کي د سختي لوږي چي پر مرګ بیرېدی وخوراک ته ددغو محرماتو مذکوره وو په داسي حال کي چي بغاوت یې پر بل مضطر نه کاوه یعني چي بل مضطر دغه محرم شی پیدا کړی و، چي فقط دده د حفظ حیوٰة لپاره کافي ؤ، نو ته یې له هغه څخه په زوره اخلې او په خپله یې خورې او هغه ومرګ ته سپارې، او نه عاد یعني تجاوز کونکی تر سدرمق و، نو خدای جل جلاله ستا اې محمد صلی الله علیه وسلم غفور بخښونکی او مهربان دی یعني په تناول او خوراک کي د محرم دا مضطر نه نیسي.

درویش وایي: چي ددې مزید تفصیل په تفسیر کي د سورة بقره ددې کتاب تېر سوی دی فارجع.

وَعَلَى الَّذِينَ هَادُوا حَرَّمْنَا كُلَّ ذِي ظُفُرٍ

پوه سه: حرف جر یعني "وعلی آه" متعلق دی پر "حرمنا" پوري او تقدیم یې لپاره د حصر دی والمعنی خاص پر هغو کسانو چي دین د یهودیت چلوي موږ حرام کړی ؤ هر حیوان چي نوک لري یعني چي ګوتي لري کالابل والسباع والطیور. او کلبي رحمه الله وایي چي ذی ظفر هغه حیوان دی منګول لري له مرغانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه او حافر لري له حیواناتو څخه، او کلبي رحمه الله دا روایت له بعضو مفسرینو څخه کړی دی.

بوه سه: چي د ظفر اطلاق دلته مجازي دی ولې چي ظفر په حقیقت کي نوک ته وایي او مراد دلته ګوتي دي خواه منځ د ګوتو سره جلا وي لکه تول اقسام د درندګانو او د سپو او پیشانو، او یا جلا نه وي لکه اوښ وشترمرغ او هیلۍ وغیرها.

فائده: بعض ذات ظفر ودوی ته حلال وه، نو چي دوی ظلم شروع کړی تو له ورته حرام سوه، نو د تولو حرمت په یهودانو پوري خاص دی، ورته بعض د ذی ظفر پر مور باندي هم حرام دي لکه درندګان، سپیان او پیشاني.

وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُومَهُمَا إِلَّا مَا حَمَلَتْ ظُهُورُهُمَا أَوِ الْحَوَايَا أَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ

او د غوایي له جنس څخه، او د پسه له جنس څخه مور حرامي کړي دي وازګي، مګر نه هغه سپیني چي پر شا ددوی وي او یا هغه وازګي چي پر کولمو ددوی وي چي په پښتو یې بچلکمي بولي، او یا هغه سپیني وازګي چي هډوکي پکښې وي لکه د پسه لم چي لمجونډی پکښې دی، نو باقي بعد الاستثنا د نس وازګي چي ثروب یې بولي او هغه وازګي پر پښتور ګو راګرځېدلي وي.

ذَٰلِكَ جَزَيْنَاهُم بِبَغْيِهِمْ

دغه تحریم زموږ دوی ته جزا او عقوبت مو ورکړی په سبب د ظلم ددوی لکه قتل د انبیا لکه زکریا او یحی علیهما السلام او خلګ منع کول له لاري څخه د خدای جل جلاله او اخستل د رشوتونو او د سود او اکلهم اموال الناس بالباطل.

پوښتنه: هغه کسان لکه یهود چي مذکوره کارونه کوي نو هغه خو په اکل سره د ماحرم علیه څه باک کوي، نو په دې تحریم کي پر دوی څه تنګي راځي او څه خوابدي؟

ځواب: ددې تحریم فائده دا ده چي دوی ته به عذاب په آخرت کي ددغو محرماتو هم ورکول کېږي لکه د نورو معاصیو ددوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ

او مونږ صادق یو په ټولو اخبارو او په وعد او عید کې، له جابر ﷺ څخه روایت دی چې علیه الصلوٰة والسلام وویل په کال د فتح د مکې چې "ان الله ورسوله حرم بیع الخمر والمیتة والخنزیر والاصنام" خدای ﷻ او رسول دده حرام ګرځولې دي خرڅول د شرابو او د مردارې او د سرکوزي او د بتانو "قیل ارئیت شحوم المیتة فانه یطلی بها السفن ویدهن بها الجلود ویستصبح بها قال لا هو حرام شحومها" یو چا ورته وویل چې خبر راکړه د میتة د وازګو یعني چې هغه هم حرامي دي، ولې چې شان دادی چې په شحومو د میتة د کښتۍ تختې غوړیږي او پوستکې په غوړیږي او په څراغانو کې لګول کیږي، یعني د فائدې پر اخستل روا دی؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل یا د فائدې اخستل هم نه دی پر روا "هو حرام شحومها" بیا علیه الصلوٰة والسلام وویل لعنت د خدای ﷻ دي وي پر یهودانو چې خدای ﷻ دوی ته حرامي کړي وې وازګې یعني کما في الآیة نو دوی به دغه وازګې ویلولې او خرڅولې به یې او د وازګې ثمن به یې خوړی یعني دا حیله به یې ورته کول، رواه البخاري وغیره.

فَإِن كَذَّبُوكَ فَقُل رَّبُّكُمْ ذُو رَحْمَةٍ وَٰسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَأْسُهُۥ عَنِ ٱلْقَوْمِ ٱلْمُجْرِمِينَ

نو که چیرې تکذیب وکړي یعني یهودان ستا یعني فهما او حیث لک په هغو آیتو چې ماتاته وحي کړي دي ددوی په باره کې یعني وعلی الذین هادوا الخ. نو ته ودوی ته ووایه چې رب ستاسي خاوند د رحمت فراخه دی چې سره د تکذیبه یې وتاسي ته مهلت درکړی دی، نو تاسي په دې مهلت الهي مه غره کیږئ، ولې چې دا امهال دی اهمال نه دی، او نه رد کول کیږي عذاب د خدای ﷻ له هغه قوم څخه چې مجرم وي یعني چې وخت د عذاب یې ورسیږي لان کل شئ عنده بمقدار واجل معلوم.

سَيَقُولُ ٱلَّذِينَ أَشْرَكُوا۟

ژر دی چې وه به وایي هغه کسان چې دوی شرک کوي یعني خدای ﷻ لره شریک وایي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي دا اخبار بالغيب دی او معجزه د قرآن کريم ده چي وروسته مشرکينو داغسي هم وويل. صورت حال دادی چي څه وخت چي مشرکان په دلائلو کي ملزم سوه د عليه الصلوٰة والسلام له خوا وروسته يې دا خبري شروع کړې.

لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكْنَا وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا مِنْ شَيْءٍ

که د خدای ﷻ اراده وای موږ به شرک نه کولای او نه به زموږ پلرو. او موږ به حرام نه بللای هغه شی چي موږ يې حرام بولو لکه سائبه. بحيره. حام وغيره. ددوی دا استدلال حاصل دادی چي خدای ﷻ خو قادر و چي زموږ مخ يې له شرک څخه راګرځولی وای او داغه رنګه له تحريم څخه. نو چي خدای ﷻ داغسي ونه کړه نو معلومه سوه چي زموږ په شرک راضي دی او مانحن فيه حق والا لحال بيننا وبين مانحن فيه من الشرک وتحريم الاشياء.

درويش وايي: چي دا ددوی دليل غلط دی او ددوی پر جهل باندي مبني دی چي دوی د مشيت په معنی د ارادې او په منځ کي د رضی الهي فرق نه دی کړی او سره ددې دوو په منځ کي فرق دی. ولي چي اراده د خدای ﷻ په خير او شر پوري مربوطه ده لانه ورد ماشاء الله کان ومالم يشا لم يکن. او رضا د خدای ﷻ په کفر پوري مربوط نه ده لانه ورد لا يرضى لعباده الکفر وعلى هذا فقس الطاعة والعصيان.

كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ حَتّٰى ذَاقُوْا بَاْسَنَا

يعني لکه چي کفارو د مکې ستا تکذيب کاوه په دې کي چي خدای ﷻ منع له شرک څخه کړې ده او په شرک راضي نه دی ولم يحرم ما حرموه بالاستدلال المذکور الفاسد من قوله تعالى سيقول الذين اشرکوا ۞. تکذيب کړی دی تر دوی دمخه د رسولانو تر هغو پوري چي زموږ عذاب ودوی ته ورسېدی.

قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا

ته ورته ووايه آيا ستاسي په يوه علم سته يعني چي مستنبط وي له کتاب او وحي څخه چي تاسي ته يې دا دربښولي وي چي خدای ﷻ منع له شرک څخه نه ده کړې او په شرک راضي دی ولم يحرم ماحرموه. نو که وي هغه تاسي موږ ته ښکاره کړئ چي ستاسي مدعٰی په ثابته سي وليس کذالک بلکې داسي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَإِنْ أَنتُمْ إِلَّا تَخْرُصُونَ ﴿١٤٨﴾

تاسي متابعت نه کوئ مگر په گمان باطل بتقلید الآبا او نه تاسي یاست مگر درواغ وایاست په هغه خبرو کي چي خدای ﷻ زموږ په شرک او په تحریم د ماحرمنا راضي دی کمامر في تفسیر قوله تعالى سیقول الذین اشرکوا.

قُلْ فَلِلَّهِ ٱلْحُجَّةُ ٱلْبَٰلِغَةُ ۖ

ته ورته ووایه چي خدای ﷻ لره دی حجت تامه او کامله پر خپلو او اوامرو او منیهاتو او تاسي لره حجت پر مشیت او ارادې دی ولي چي مشیت د خدای ﷻ مستلزم رضا لره ددہ نه دی یفعل مایشا ویحکم مایرید، ولي چي خدای ﷻ حکم په مقتضی د حکمت کوي لا یسئل عما یفعل وهم یسئلون. او تاسي مشیت د خدای ﷻ مستلزم رضا لره د خدای ﷻ بولي کما یظهر من قولکم السابق.

فَلَوْ شَآءَ لَهَدَىٰكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٤٩﴾

که د خدای ﷻ اراده سي تاسي ټولو ته به یې هدایت کړی وای یعني بالاجبار والاکراه لکن داسي مشیت خدای پاک ونه کړی تاچي مؤمن بالاختیار او کافر بالاختیار سره جلا سي، مثلاً د ابوبکر صدیق ﷺ او د ابوجهل سره جلا سي، ولي چي په صورت کي د مشیت الکل د هدایت دا فرق له منځه پورته کېدی کما لا یخفی.

قُلْ هَلُمَّ شُهَدَآءَكُمُ ٱلَّذِينَ يَشْهَدُونَ أَنَّ ٱللَّهَ حَرَّمَ هَٰذَا ۖ فَإِن شَهِدُوا۟ فَلَا تَشْهَدْ مَعَهُمْ ۚ

ته ورته ووایه اې محمده ﷺ چي تاسي حاضر کړئ ستاسي مقتدایان په دې قول کي د تحریم د اشیا مذکوره وو تاچي د هغو سره د لائل ووایم او هغه ملامت کړم لکه تاسي. هغه مقتدایان چي شاهدي ادا کړي په دې سره چي خدای ﷻ دغه شیان حرام ګرځولي دي که چېري هغه مقتدایان دا شاهدي ادا هم کړي بالباطل لانهم لا یبالون بتلک الشهادت ته ددوی تصدیق مه کوه په دغه شاهدی بلکي ددوی ته یې فساد بیان کړه او ارشاد الی الحق ورته وکړه کما هو وظیفتک ایها الرسول.

پوه سه: چي "هلم" فعل دی یقال للواحد والتثنية والجمع ومعناه احضروا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَآءَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِـَٔايَٰتِنَا وَالَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْـَٔاخِرَةِ وَهُم بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُونَ﴾

او ته متابعت مه کوه د خواهشاتو زائغه وو د هغو کسانو چي تکذیب کوي په آیتو سره زموږ یعني الآیات القرآنیة او د هغو کسانو چي ایمان نه لري پر ورځي د اخیرت او دوی د خدای ﷻ سره برابروي نور شیان لکه آلهه ددوی.

سوال: خدای ﷻ داسي نه وویل اهوائهم او سره ددې چي مختصر به هم وای بلکې په ځای کي د ضمیر يې اسم ظاهر راوړی حکمت يې څه دی؟

ځواب: حکمت يې دادی چي دلالت وکړي پر دې چي تکذیب کونکی د آیاتو متبع د هوی نفساني دی.

پوه سه: چي مشرکانو سوال وکړی له رسول الله ﷺ څخه د ماحرمه الله تعالی نو دا آیت نازل سو.

﴿قُلْ تَعَالَوْا أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ﴾

تاسي راسئ چي زه تلاوت وکړم یعني تاسي ته د هغو شیانو چي خدای حرام کړي.

پوه سه: چي اصل د تعالوا دا معنا ده چي لوړ سړی چي پر بام ولاړ وي کښته سړي ته ووايي چي لوړ راسه. لکن وروسته په دې لفظ فراخي وکړل سوه، چي اوس يې معنا داده چي دلته راسه که کښته وي او که لوړ.

فائده: دغه درې آیتونه یعني تر لعلکم تتقون پورې مشتمل دي پر لس خویونو چي جامع دي د هر خیر، او دا آیات نه دي منسوخه سوي په هیڅ کتاب کي د کتب الهیه وو فهي محرمات علی بني آدم کلهم. او په دې لسو خویونو کي اختلاف نسته په اختلاف سره د اممو او د زمانو که څوک عمل وکړي په دغو لسو خویو سره دخل الجنة ومن ترکهن یعني جمیعاً دخل النار ابداً.

﴿أَلَّا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْـًٔا﴾

چي تاسي په نه شریکوئ د خدای ﷻ سره هیڅ شی په عبادت کي. نو ابتدا يې خدای ﷻ له شرک څخه وکړه لانه اعظم المحرمات چي د سره هیڅ عبادت که مالي وي او که بدني وغیر ذالک هیڅ فائده نه لري.

پوه سه: چي شرک دوه قسمه دي: جلي وهو عبادة الاصنام. وخفي وهو الریا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والسمعة، په حدیث شریف کي راغلي دي چي روایت یې اصحاب السنن کړی دی چي علیه الصلوٰة والسلام وویل چي ابتداً د دوږخ د مسلمانانو په ډله کي په درو کسو سره کیږي (١) یو عالم یا قاري چي خدای پاک وده ته خپل نعمتونه وربښيي په دنیا کي. نو خدای ﷻ به ورته ووایي چي تا ددې نعمتو شکر څرنګه ادا کړی؟ دی به ورته ووایي چي ما خپل عمر ټوله په تعلم او تعلیم کي صرف کړی ستا د رضا لپاره، نو ده ته به وویل سي چي یا بلکې تا چي تعلم او تعلیم کاوه ددې لپاره دي کاوه چي فلانی دومره لوی عالم دی یا مقري دی، وقد قیل ثم امربه فسحب الی النار کش کړه سي وه دوږخ ته (٢) او بل هغه غني سخي سړی دی چي په ورځ د قیامت به خدای پاک ته حاضر کړه سي او خدای پاک به خپل نعمتونه وده ته وشمیري چي یو له هغو څخه غنی مالي ده، نو خدای ﷻ به ورته ووایي چي تا نو څه وکړه سره د غنی مالي؟ دی به ورته ووایي چي ما هیڅ یوه لار د خیر نه ده پرې ایښې چي په هغه کي دي مي مال نه وي مصرف کړی ستا د رضا لپاره، خدای ﷻ به ورته ووایي چي کذبت یعني په دغه جمله کي چي ستا د رضا لپاره، تا خو ددې لپاره مالي مصرفونه په لارو کي د خیر کوله چي خلګ ووایي چي فلانی ډېر سخي او نان ده سړی دی وقد قیل او هغه خو درته وویل سوه ثم امربه فسحب الی النار (٣) او بل غازي او مجاهد في سبیل الله دی چي په غزا کي شهید سوی وي، نو خدای ﷻ ته حاضر کړل سي او خدای پاک خپل نعمتونه وده ته بیان کړي او ورته ووایي چي تا نو څه وکړه؟ دی ورته ووایي چي ما خپل شرین روح ستا د رضا لپاره له لاسه ورکړی. خدای پاک ورته ووایي کذبت یعني په دغه خبره کي چي ستا د رضا لپاره. ستا خو دا نیت وُ چي خلګ ووایي چي فلانی ډېر دلاور او جنګیالی سړی وُ، وقد قیل ثم امربه فسحب الی النار، او کما قال رسول الله ﷺ حکایت غریبة في باب الریا.

د تاریخ په پاڼو کي وایي چي یو حاکم په اصطلاح د یو شیخ یا پیر مرید او عقیدت مند وُ او د پیر زیارت او ملاقات ته به همېشه ورتلی، یوه ورځ حاکم پیر ته وویل چي ماښام زما مېلمه یې، پیر دعوت قبول کړی، ماښام پیر یو نابالغه زوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم د حاکم مهمانی. ته د ځانه سره بوتلی خیر وخت چي د ډوډۍ خوړلو سو حاکم وړجي او غوښي او نور رقم رقم خواړه پخکړي وه ستړخوان چي اوار سو نعمتونه پر کښېښنول سوه، پیر صاحب په صرف درو ګوتو یو دوې ګولې د ښوروا او یو دوې ګولې د وړجو الی غیر ذالک په خوله کړې، نو تر شا سو خوراک یې پرېښو. حاکم ورته وویل چي صاحب موږ ګرده ورځ زه او کور والا ددغه نعمتو په پختیا اخته وو او تا داڅو ګولې وخوړلې او خوراک دي پرېښو. ته مهرباني وکړه یو څو ګولې زموږ د خوشالی لپاره وخوره. پیر ورته وویل چي زما همېشه هم دومره خوراک دی که چېري نس ډک کړم نو بیا شب بیداري او ذکر د خدای ﷻ نسم کولای. ولي چي بیا خوب راځي خیر خو د پیر زوی مضبوطه په هر نعمت تر یزي ځان موړ کړی ستړخوان چي ټول سو. نو حاکم ورته وویل چي تبرکاً به د ماخستن لمونځ زما په کور کي په جماعت راکړې. پیر صاحب دمخه او حاکم او د حاکم نوکران او د پیر زوی پسي ودرېدله جماعت یې وکړی. او پیر صاحب له حاکم څخه رخصت واخستی. نو کور ته چي راغلي مایني ته یې وویل هله ستړخوان راواخله داسي وږی یم. مایني یې ورته وویل چي د حاکم مبلمه وې خو هورې به دې ځان موړ کړی وای. پیر صاحب مایني ته وویل چي ډېره بېعقله یې کما د حاکم کره دومره ډوډۍ. وړجي او غوښي وغیره خوړلي وای په ډک نس. نو د حاکم عقیده زما څخه بدلېدله او دا به یې عقیده سوې وای چي دا څه خېټور پیر دی خیر خو هغې ستړخوان ورته راواخستی. پیر صاحب په وچه ډوډۍ خېټه ښه ډکه کړه. نو د پیر زوی ورته وویل چي بابا لمونځ هم راوګرځوه ولي چي تا خو په دومره خشوع او خضوع لمونځ نه کاوه لکه د حاکم په کور کي چي دي وکړی. وهذا حال المرائي.

وَ بِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا

دا عبارت په حذف د امر دی یعني واحسنوا. نو عطف د انشا امري دی پر انشا د نهي یعني لاتشرکوا.

سوال: چي لاتسیئوا بالوالدین ویل سوی وای. نو معطوف او معطوف علیه به په انشا کي د نهي سره برابر سوی وای. نو څه حکمت دی په احسنوا کي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: خدای پاک تنبیه وکړه پر دې چې د مور او پلار په باره کې یوازې ترک الاسائة کافي نه دی بلکې احسان به ورسره کوئ یعنې دا په حق د والدینو کفایت نه کوي چې بد نه ورسره کوم.

پوه سه: چې دا دویم امر دی د احکام عشره وو څخه.

حکمت: خدای پاک وروسته تر تحریم الشرک به تعالی تحریم عقوق الوالدین ذکر کړی ولې چې والدین سبیان قریبان دي د وجود او تربیه د مولود کما ان الله تعالی خالق المولود وموجده نو سستې د ولد په ادا کې د حقوق د والدینو عقوق فهو اکبر الکبائر بعد الشرک.

درویش وایي: چې په ننی زمانه کې عقوق الوالدین یو عمل جاري دی په عموم خلګو کې الا ماشذ وندر وکذا عقوق الاساتذة هغه هم عام دی.

وَلَا تَقْتُلُوٓا أَوْلَٰدَكُم مِّنْ إِمْلَٰقٍ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ

او تاسي مه وژنئ اولاد خپل من املاق په حذف د مضاف والاملاق الفقر والمسکنت یعني من خشیة الفقر.

پوه سه: چې نحن نرزقکم آه تعلیل دی د نهي مذکور بسبب مذکور یعني موږ رزق درکوو تاسي ته او دوی ته.

درویش وایي: چې که څه هم لفظ د اولاد خو عام دی نر او ښځې دواړو ته شامل دی لکن مراد دلته ځني ښځې دي بقرینة الحال. ولې عادت د ډېر مشرکانو دا وُ چې ښځینه اولاد به یې پیدا سو دستي به یې په خاورو کې ژوندی ښخاوه چې دې ته عربي کې وأد البنات وایي کما في قوله تعالی "واذا الموؤدة سئلت بای ذنب قتلت.

درویش وایي: چې دا وُ د قرآن مجید عظمت او د دین اسلام برکت چې تر شرک علاوه یې د داسي ظلمونو او جهالاتو او ظلماتو لکه وأد البنات څخه یې عالم ته نجات وربه برخه کړی، دا له احکام شرعیه وو څخه دریم دی.

وَلَا تَقْرَبُوا ٱلْفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ

او تاسي مه نژدې کېږئ ګناه کبائرو ته مثل الزنا واللواطة وغیرهما من اعمال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجوارح، هغه چي ښکاره وي يعني په علانيه، يا دغه مذکوره افعال جوارح لکن په پټه يا له افعالو څخه د زړه وي لکه نفاق او حب المعاصي ورذائل النفس.

پوه سه: چي ماظهر ومابطن بدل دی له فواحش څخه.

درویش وايي: چي دا څلورم حکم دی له احکام شرعيه وو څخه.

سوال: فواحش به حرام وي نو په نهي د قربان د هغو کي څه حکمت دی؟

ځواب: نهي له قربان څخه مبالغه ده. او تاکيد دی په نهي کي د فواحش کما في قوله ولا تقربا هذه الشجرة خطاباً لآدم عليه السلام وحوا رضي الله عنها مثلاً تقرب وزناته دادی چي بېګانه ځواني ښځي ته په نظر شهوت وګوري او يا خبري او مجلس ورسره کوي، او قربان ولواطت ته دادی چي د ښائسته بالغ يا نابالغه څخه مچه واخلي او يا په شهوت باندې ورسره کوي. بیت

این نظر ازدور چون تیرست وسم　عشقت افزون میشود صبر تو کم

له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چي شيطان د نارينه له دروځايو څخه کار اخلي، عينيه، قلبه وذکره، او د ښځي هم له دروځايو څخه کار اخلي، عينها، قلبها وعجزها، په حديث شريف کي راغلي دي چي نه سره کښېني نامحرم نر او ښځه په خلوت کي مګر دريم يې شيطان وي، يعني د هر يوه په زړه کي د شهوت تخم پاشي.

وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ

او تاسي مه وژنئ هغه سړی چي خدای جل جلاله حرام ګرځولی وي قتل دده مګر نه متلبسا بالحق.

پوه سه: چي په حرمت کي د قتل مؤمن او اهل ذمه او معاهد سره برابر دي.

فائده: په حق وژل څو قسمه دي (۱) مرتد والی له دين څخه د اسلام العياذ بالله واوړي په هر دين کي چي داخل سي (۲) قصاصاً قتل (۳) زناً چي سړی محصن وي يعني نر ماينه لري يا ښځه مېړه لري چي په رجم د ډبرو وژل کېږي (۴) او يا کافر معاهد وي او نقض د عهد وکړي (۵) او يا حکومت اسلامي ته باغي سي (۶) او يا قطاع الطريق وي، دا پنځم حکم دی له احکام شرعيه وو څخه. وفي الحديث النبوي صلى الله عليه وسلم ملعون من هدم بنيان الرب يعني بغير حق کما في هذه الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

ذَٰلِكُمْ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ

"ذالكم" اشارة الى ماذكر من التكاليف الخمسة يعني په دغه سره امر کړی دی خدای ﷻ امر موکد په ساتنه سره ددغو پنځو محارمو یعني ددوی په مقتضی عمل کوي "لعلكم تعقلون" ای تستعملون عقولکم في حفظها والعمل بها.

وَلَا تَقْرَبُوا۟ مَالَ ٱلْيَتِيمِ

او تاسي مه نږدي کېږي ومال ته د يتيم فضلاً من ان تاكلوه او تضيعوه بفعلكم وهذا النهی مثل قوله تعالى لاتقربوا الزنى بحال من الاحوال وخصلة من الخصال وفعلة من الافعال.

إِلَّا بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ

مگر نه په هغه خصلت سره فالاستثنا مفرغ. چي هغه خصلت ښه وي چي ورسايي او گټه په تجارت غير محتمل للخسران والضياع ورکوي. دا شپږم حکم دی د احکام عشره ؤ څخه.

فائده: يتيم په انسانانو کي هغه دی چي پلار نه لري او په حيواناتو کي هغه دی چي مور نه لري او په جواهراتو کي هغه دی چي مثل نه لري كما قالوا في الدرة اليتيمة.

حَتَّىٰ يَبْلُغَ أَشُدَّهُۥ

تر هغه وخت پوري چي دی رسېږي وخپل کمال قوت ته د عقل. امام اعظم رحمه الله زمانه د اشد پينځه ويشت كاله ټاكلې ده. نو کله چي يتيم هغې زماني ته ورسېدی بيا دي دده مال په لاس ورکړي که معتوه نه ؤ يعني دماغ يې خراب نه ؤ چي په پښتو يې باله وبولي. او جوهري وايي چي زمانه د اشد په منځ کي د اتلسو کلو څخه بيا تر دېرشو کلو پوري ده.

پوه سه: چي اشد مفرد دی لکن پر وزن د جمع دی لکه انک وهو الاسرب ولانظير لهما. او مظهري رحمه الله وايي چي جمع د شد ده لکه فلس او افلس. والمراد به صفات كماله بعد البلوغ والرشد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: قید د يبلغ اشده اتفقي دی او خارج مخرج العادة دی لپاره د تاکید ولي چي عادة د اهل جاهليت دا و چي په مال کي د يتيم به يې تصرف کاوه په وخت کي د کوچنوالي دده چي يتيم به اشد ته ورسېدی، نو نور وصيان به يې له تصرف څخه بند کړه خپل مال به يې په خپله قضبه کي واخستی. نو خدای ﷻ به له عادت سره موافق حکم وکړی "ولاتقربوا مال اليتيم الا بالتي هي احسن ابداً حتی يبلغ اشده واما بعد ذالک فلا يمکن لکم التصرف فيه لممانعة اليتيم اياكم عن التصرف.

وَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ

او تاسي پوره ورکوئ پېمانه که د پېمانې شی وي لکه غنم، جواري او خورما. او په تراوز که د ترازو شی وي لکه وسپنه، سره زر او سپين زر په عدالت سره يعني په برابری سره.

پوښتنه: دا مخني آيتونه په صيغه د نهي وه، دلته څه حکمت دی چي په ځای کي د صريح نهي يعني لاتنقصوا المکيال والميزان امر راوړی، يعني اوفوا الکيل آه؟

ځواب: لپاره د قصد د کمال اهتمام په ايفا سره فان الامر بالشئ يقتضي حرمة ضده التزاماً.

له مالک بن دينار رحمه الله څخه روايت دی، دی وايي چي زه د يو همسايه پوښتني ته ورغلم چي قريب الموت وُ. نو ناجوړي سړي راته وويل چي يا مالک دوه غرونه دي د اور زما په حضور کي دي ما مکلف يو ځوک چي د غو دوو غرو ته وخېژم، نو د ماينې څخه مي پوښتنه وکړه چي دا څه چم درلودی. هغې راته وويل چي ده دوه منه درلوده د د برو يو لوی وُ چي په هغه به يې له خلګو څخه شيان په راتيول او بل کوچنی وُ چي په هغه به يې پر خلګو شي خرڅاوه وهذا هو الحکم السابع من العشرة.

لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا

موږ تکليف نه کوو پر هيڅ چا مګر نه د طاقت سره برابر، په دې جمله کي اشاره وده ته ده چي سړی دي په کيل او ميزان کي خپل وسع او طاقت مبذول کي نو که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چېري څه نقصان پکښې واقع ؤ غاري نه دي په بندي لان التكليف بحسب الوسع لكن افضله داده چي تر حق دي لږ بالا ورکړي تاچه توهم د لږ والي دفع سي بالكلية.

پوه سه: چي زيات والى تر قدر واجب په كيل او وزن كي ډېر ښه كار دى په حديث شريف كي راغلي دي چي روايت يې احمد، ابوداوُد، ترمذي او حاكم کړی دی، چي عليه الصلوٰة والسلام د يو چا آس رانيولی ؤ، نو يو صحابي ﷺ ته يې وويل "زن وارجح" يعني زر وروتله او يو څه زيات ورکړه.

درويش وايي: چي داد هغه زماني خبره ده چي سره او سپين زر په تول ورکول کېده يعني عددي نه وه لکه په اوسني زمانه كي. او په بخاري او مسلم كي راغلي دي چي پر عليه الصلوٰة والسلام د يو چا پور باندي د اوښ يعني ده مبارک اوښ په پور رانيولی ؤ، نو هغه سړی راغلی خپل د اوښ پور يې غوښتلی يو څه سختي يې وکړه (داسي سختي نه وه چي موجب د اهانت او د كفر وگرځي) داسي يې وويل چي اوس نو زه خپل پور خامخا غوارم، او يا دا پوروړی كافر ؤ لكه بعض محشيان د بخاري چي وايي، نو اصحابو قصد وکړی چي تغليظ كونكي ته سزا ورکړي، نو عليه الصلوٰة والسلام اصحاب كرامو ﷺ ته وويل "دعوه فان لصاحب الحق مقالاً" يعني څه مه ورته وايا ست ولي چي صاحب الحق لره زياتي خبره كول سته. بيا عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل يعني اصحابو ﷺ ته چي مثل دده د پور سِن اوښ ورکړئ، صحابه وو ورته وويل چي زموږ سِن اوښان دده تر سِن اوښ افضل دي، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل چي هغه ښه ورکړي فان خيركم احسنكم قضاءً. له ابو هريره ﷺ څخه روايت دی چي يو سړی و عليه الصلوٰة والسلام ته راغلی چي نيم وسق خورما يا بل شی يې پر عليه الصلوٰة والسلام باندي ؤ، نو عليه الصلوٰة والسلام پوره وسق ورکړی او ورته وه يې ويل چي نيم وسق ستا پور دی او نيم وسق زما له خوا احسان دی.

پوه سه: چي وسق شپېته كاسې دی، او بيا يوه ورځ بل پوروړی راغلی چي يو وسق پور يې پر عليه الصلوٰة والسلام باندي ؤ عليه الصلوٰة والسلام دوه وسقه ورکړه او دا يې ورته وويل وسق لكم ووسق من عندي رواه الترمذي بسند صحيح.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: مندوب داده چي سړی دي په بيع او شرا او پور وركولو كي او غوښتولو كي سماحة يعني جوانمر دي كوي، عن جابر ﷺ قال قال رسول الله ﷺ رحم الله رجلاً سمحاً اذا باع واذا اشتري" يعني ډېري ځني دي په بيع او شرا كي نه كوي "واذا اقتضى" او پر چا چي يې پور باندي وي په غوښتولو كي دي ډېره سختي نه كوي.

درویش وايي: چي لكن مع ذالك خداى ﷻ زياتوب وركول تر ما وجب عليه اونه راضي والي په كم سره تر پور واجب نه دی ګرځولي لانه شاق على الاناسي ولذالك قال لا يكلف الله نفساً الا وسعها.

وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ

او چي تاسي خبره كوئ په يو حكم كي او يا په يو شهادت كي، نو عدل كوئ يعني يوه طرف ته ميل مه كوئ. كه څه هم وي مقول له يا مقول عليه خاوند د قرابت ستاسي، ولي چي د شريعت مبارك حكم دادی چي سړی دي متابعت د حق كوي، او طلب د رضا د خدای ﷻ دي كوي، نو په دې د قريب او اجنبي څه فرق دی.

يوه سه: چي شهادت دي سړی په ظن او تخمين نه ادا كوي بل عند كمال العلم بالمشهود به او شهادت په درواغو خو ګناه كبيره ده، قال رسول الله ﷺ عدلت شهادة الزور بالاشراك بالله" درې واره يې دا خبره وكړه، رواه ابو داؤد وابن ماجه حديث اوږد ؤ او درويش مختصر كړی، او داغه رنګه حكم او قضا په عدالت قاضي كوي ته به مراعات او رشوت نه وركوي كما قال الزمخشري.

قضات زماننا صاروا لصوصاً — عموماً في القضايا لا خصوصاً
نخاف منهموا لو صافحونا — للصوا من خواتمنا فصوصاً

وهذا من بلاغاته ومبالغاته. ابو داؤد ﷺ له بريده ﷺ څخه روايت كړی دی چي رسول الله ﷺ وويل "القضات ثلثة واحد في الجنة واثنان في النار، فاما الذي في الجنة فرجل عرف الحق فقضى به، ورجل عرف الحق فجار في الحكم فهو في النار، ورجل قضى للناس على جهل فهو في النار" قاضيان درې قسمه دي يو په جنت كي دی او دوه په اور كي پس هغه چي په جنت كي دی هغه سړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني قاضي دى چي حق وپيژني يعني عالم په احكامو د شريعت وي، نو حكم هم په هغه حق سره وكړي، او هغه رجل يعني قاضي چي حق خو پيژني لكن په حكم كي ظلم وكړي يعني يا په مراعات د قرابت وغيره او يا په رشوت نو دغه قاضي په اور كي دى، او بل هغه قاضي دى چي د خلكو تر منځ قضاوت كوي سره د جهله په مسائلو د شريعت فهو في النار.

وَبِعَهْدِ اللّٰهِ اَوْفُوْا

يعني په هغه سره چي خداى ﷻ وتاسي ته عهد كړى دى اى عهد كان من ملازمة العدل في الشهادة والقضاء، او مراعات كول د احكام د شرع شريفي من الاوامر والنواهي وغير ذالک. نو پر دې تقدير اضافت دى د مصدر وفاعل ته او يا معنى داده چي هغه عهد چي تاسي د خداى ﷻ سره وعده كړې ده لكه قسمونه، نذرونه وغيرها. نو پر دې تقدير اضافت د مصدر ومفعول ته دى.

پوه سه: چي جار او مجرور متعلق په اوفوا پوري دي تقديم يې لپاره د اهتمام او تعظيم دى.

درويش وايي: چي بعض مفسرينو كه څه هم دا احتمال بعيد بيان كړى دى چي مراد د عهد دي په منځ كي د دوو انسانانو وي، لكن مع هذا فهذا الاحتمال صحيح.

سوال: نو اضافت يې وخداى ﷻ ته ولي وكړى؟

ځواب: په دې سبب چي خداى ﷻ يې امر په ايفا او محافظت يعني اضافت لپاره د ملابست دى. بيت

وفا عهد نكو باشد اربياموزى — وگر نه هركه تو بيني ستمگرى داند
از دم صبح ازل تا آخر شام ابد — دوستى ومهر بريک عهد ويک بقا باشد

وهذا هو الحكم التاسع.

درويش وايي: چي "عهدالله" عرض عريض لري د هم دې سببه بايد مسلمان د شبهاتو څخه پرهيز وكړي، ولهذا ورد في الحديث الصحيح الذي رواه البخاري ومسلم من حديث نعمان بن بشير رضي الله عنه قال رسول الله ﷺ الحلال بين والحرام بين" يعني صريح حلال لكه اوبه مثلاً ظاهر دى او صريح حرام لكه شراب مثلاً هم ښكاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي "وبينهما مشتبهات لايعلمها كثير من الناس" لكه بعض بيوع فاسدة المروجة في المسلمين في العصر الحاضر كالبيع بالشرط الذي لا يقتضيه العقد المذكور في الفقة. نو هغه څوک چي له مشتبهاتو څخه ځان وساتي. نو د خپل ابروي او دين پاک وساته يعني څوک په مشتبه پر کوي چي دا کار خو ناروادی نا ولي وكړي او دين بي هم پاک وساتي كما في المثال المذكور الى اخير الحديث.

ذٰلِكُمۡ وَصَّىٰكُم بِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ

دا مذکورات منهيات يا اوامر صورة هغه دي چي خدای ﷻ تاسي په امر کړي ياست ددې لپاره چي پند واخلئ او دغه کارونه ونه کړئ که منهيات وه که اوامر وه.

وَأَنَّ هَٰذَا صِرَٰطِي مُسۡتَقِيمٗا فَٱتَّبِعُوهُ

او دا مذکوره زما لاره ده يعني ماته موصل لاره ده سمه. نو تاسي يې متابعت وكړئ.

يوه سه: چي بعض قرا لفظ د "ان" په کسره د همزه وايي او جمله مستانفه يې بولي. او جمهور قرا يې په زور د همزه وايي كما في المصاحف المروجة، فرا رحمه الله يې وجه د فتح داسي بيان کړې ده تقديره واتل عليكم ان هذا الخ. او بعض قاريان ان په تخفيف وايي. نو مخفف د مثقل يې بولي اسم يې ضمير شان محذوف بولي اى انه يعني شان دادی چي هذا الخ. او قاضي بيضاوي او روح البيان لام د تعليل ورسره مقدر بولي او علت مقدم د فاتبعوه يې بولي.

يوه سه: چي مشار اليه د هذا ټوله ماذكر في هذه السورة عن التوحيد والنبوة والشرائع. او بعض وايي چي مشار اليه ما في هذه الايات. بغوي رحمه الله وايي چي تير سوي آيتونه محكم دي هيڅ شي نه دي منسوخ کړي وهي محرمات في جميع الشرائع على بني آدم وهن ام الكتاب من عمل بهن دخل الجنة ومن تركهن دخل النار انتهى.

وَلَا تَتَّبِعُواْ ٱلسُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمۡ عَن سَبِيلِهِۦ

او تاسي متابعت مه کوئ د نورو لارو. نو زائل به کړي دغه لاري او لبري به مو کړي له لاري څخه د خدای ﷻ چي ستا متابعت دی د قرآن کريم او ستا متابعت دی د سنت نبوي وسير الصحابة الكرام رضي الله عنهم. فان مقتضى متابعت الكتاب والسنة فيما ادركه العقل وفيما لايدركه. او مقتضى د ارا فاسده وو ذا دا چي كه ددوی لمرايو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره قرآن او سنت برابر وه هغه قبلوي او كه نه وه برابر هغه نه قبلوي او د سنت رسول الله ﷺ تاويل كوي او د خپلو فاسدو رايو سره يې برابروي كيف كان التأويل يقبله العقل السليم اولا. وهذا هو السر في اختلاف الأمة الى فرق كثيرة كالروافض والخوارج والشيعة والجبرية والمجسمة والقدرية وغيرهم من الفرق المذكورة في كتاب الملل والنحل لعبد الكريم الشهرستاني.

درویش وايي: چي دا يو په زره پوري كتاب دى په بيان كي د فرق الحق والضلال لكن په اوسني زمانه كي يې پيدا كيدل د ېر مشكل دى. ولي چي كتاب فروشان د داسي بې رواجه كتاب له چاپولو څخه ډډه كوي لكن هو انفع من تفاريق العصى.

ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُمْ بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ۝

په دغه اتباع د وحي خداى ﷻ امر او وصيت كوي ددې لپاره چي تاسي له خداى ﷻ وبېرېږئ له ضلال او تفرق څخه، له عبدالله بن عمر ؓ څخه روايت دى ده وويل چي رسول الله وويل لا يؤمن احدكم حتى يكون هواه تبعاً لما جئت به رواه البغوي في شرح السنة.

درویش وايي: چي له عبدالله بن مسعود ؓ څخه روايت دى چي احمد او نسائي او دارمي راوړى دى چي عليه الصلوٰة والسلام موږ ته يو خط مستقيم يعني په ګوته مباركه وكښى او وه يې ويل هذا سبيل الله. او بيا يې خطونه وكښل پر يمين او شمال د هغه خط مستقيم ډېر خطونه او وه يې ويل چي دا لاري دي چي پر هره لار شيطان دى چي خلګ وربولي آه.



سعدي شيرازي ؒ وايي

خلاف پيمبر كسى ره گزيد
كه هرگز بمنزل نخواهد رسيد
محالست سعدى كه راه صفا
توان رفت جز درپى مصطفى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که و خدای ﷻ ته رسیده غواړي عبیده   تینګوه لمن د مصطفی
بیله دې رسیده نسته نه وخدای نه وجنت ته   دا خبره به معلومه سي صبا

ثُمَّ اٰتَیْنَا مُوْسَی الْکِتٰبَ

بیا موږ ورکړی دی موسی ﷺ ته کتاب، دا جمله عطف ده پر "وصکم" باندي او ثم لپاره د تراخي ده في الاخبار یعني ثم اخبرکم انا اتینا موسی الکتاب، او یا عطف دی پر "قل هلم آه" باندي پتقدیر قل ای ثم قل آتینا موسی الکتاب آه، او یا ثم په معنی د واو عاطفه دی، کما قال النحاة الحروف العاطفة یجئ کل واحد منها بمعنی الآخر لمناسبة المقام کما في قوله تعالی ثم الله شهید آه.

تَمَامًا عَلَی الَّذِیْٓ اَحْسَنَ

تماما ای للنعمة والکرامة فهو مفعول له، علی الذي احسن ای القیام بالشرائع المقدمة، ولي هغه څوک چي ایمان پر خدای وحده نه لري او شرائع مذکوره نه پر ځای کوي فلا انتفاع له في التوراة ولا بالقرآن ولم یتم النعمة علیه والمراد بالذي احسن موسی ﷺ دی.

وَتَفْصِیْلًا لِّکُلِّ شَیْءٍ

او تورات تفصیل او بیان د هر شي چي په امورو کي د دین حاجت ورته وي.

پوه سه: چي "تفصیلاً" عطف دی پر "تماماً" عطف العلة علی العلة ویمکن الحالیة في المعطوف علیه والمعطوف.

وَهُدًی وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ یُؤْمِنُوْنَ۠

عطف دی یا پر قریب یا پر بعید وحکمه في الاعراب حکمه، او د هدایت او رحمت.

پوه سه: چي لعل په معنی د لام کی دی یعني ددې دپاره چي په ملاقات د رب ددوی چي مراد ځني یوم القیامة ایمان به راوړي، نو به له عذاب ځخ د هغي ورځي هم وبېرېږي، ولي څوک چي ورځ د قیام نه مني لکه مشرکین، نو له عذاب یې هم نه بېرېږي لان یوم القیامة ظرف للعذاب فمن ینکر الظرف ینکر المضروف ایضاً کما لا یخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com   Scanned by CamScanner

وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوْهُ وَاتَّقُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿۱۵۵﴾

او دا قرآن كتاب دى چې موږ نازل كړى دى يعني بعد كتاب موسیٰ كثير البركة دى نو تاسي متابعت وكړئ ددې كتاب او له خدايه وېرېږئ په عدم متابعت كې د قرآن كريم لپاره ددې چې پر تاسي به رحم وكړل سي په سبب د متابعت د قرآن مبارك.

اَنْ تَقُوْلُوْٓا

درويش وايي: چې "ان تقولوا" خطاب دى واهل مكې ته بلكې وټولو مشركانو ته د عربو قياساً. دا علت دى د "انزلناه" په حذف د مضاف اى كراهته ان تقولوا يعني تاسي به وا ياست يا اهل مكة او يا په حذف سره د لئلا يعني لئلا تقولوا.

اِنَّمَآ اُنْزِلَ الْكِتٰبُ عَلٰى طَآئِفَتَيْنِ مِنْ قَبْلِنَا ۖ وَاِنْ كُنَّا عَنْ دِرَاسَتِهِمْ لَغٰفِلِيْنَ ﴿۱۵۶﴾

يعني چې نه وُ نازل سوى كتاب مگر نه پر دغو قومو يعني يهود او نصارىٰ، والحصر المفهوم من انما لان الكتب السماوية الاخر لم يعرفوها اهل مكة بلكې دوى دغه دوه كتابه چې تورات او انجيل دي په نامه پېژندل.

پوه سه: چې كلمه د "ان" مخفف ده له مثقل څخه او اسم چې ضمير شان دى محذوف دى يعني شان دادى چې موږ وو له راست يعني ژبې څخه ددوى يعني يهود او نصارى غافله، يعني نه پوهېدلو چې بيا نو تورات او انجيل مطالعه كړى واى او د خداى ﷻ په احكامو مو ځان پوه كړى واى، ولې چې امت امي يو.

سوال: دمخه خو طائفتين تثنيه ذكر سوه، نو ضمير د جمع يې په "دراستهم" څرنگه ورته راجع سو؟

ځواب: دغه دوې طائفې په معنى كې ډېر كسان دي، نو په ضمير كې يې مراعات د معنى وكړى وهذا شائع، نو لپاره ددغه عذر د دفعې خداى ﷻ عليه الصلوٰة والسلام چې ژبه يې عربي وه او قرآن پاک يې د عربو په مورنۍ ژبه نازل كړى او ددوى عذر يې زائل كړى فيكون هذا الرسول وهذا القرآن حجةً على اهل مكة وغيرهم من العرب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَوْ تَقُولُوا لَوْ أَنَّا أُنْزِلَ عَلَيْنَا الْكِتٰبُ لَكُنَّا أَهْدٰى مِنْهُمْ

دا عطف دی پر تقولوا سابق باندي والتقدير او كراهة ان تقولوا كه چېري نازل سوی وای پر موږ كتاب موږ به پر هدايت وای تر يهودو او نصاری وو. د مكې د كفارو دا عقيده وه چې موږ په فهم كې د خبرو او په متابعت كې د حق تر يهودو او نصاری وو بالا يو.

فائده: دوی په خپلو اشعارو او قصيدو او په اخبارو د اعاجمو لكه رستم او اسفنديار د پر غره وه ولهذا قالوا لكنا آه.

فَقَدْ جَاءَكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَّرَحْمَةٌ

پوه سه: دا جمله بيان ده يعني جزا د شرط محذوف يعني ان صدقتم فيما قلتم يعني لو انا اننزل علينا الكتاب نو هغه دی راغلی تاسي ته حجت واضحه چي هم په پوهېږي ولي چي ستاسي په ژبه سره دی له جانبه څخه د خدای ستاسي.

پوه سه: چي قرآن مبارک ته يې په دې حجت وو ايه چي تاسي د راتيګ د كوچني سورت عاجزه كراست كمامر في سورة البقرة وان كنتم في ريب ممانزلنا علی عبدنا فأتوا بسورة من مثله او دا كتاب لاربسوونه ده د هغه چا لپاره چي په غور بلا عناد وتعصب فكر پكښي وكړي، او دا كتاب رحمت دی د هغه چا لپاره چي عمل په مقتضیٰ ددې كتاب وكړي في الدنيا والآخرة.

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِآيٰتِ اللّٰهِ وَصَدَفَ عَنْهَا

پوه سه: چي استفهام انكاري دی يعني لا احد لوی ظالم تر هغه چا چي تكذيب وكړي د آياتو د خدای ﷻ يعني دروغ يې وبولي، او روی ګرداني يې له قبول څخه وكړي لكه كفار د مكې او نور لكه يهود او نصاری.

سَنَجْزِي الَّذِينَ يَصْدِفُونَ عَنْ آيٰتِنَا سُوْٓءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوا يَصْدِفُونَ ۝

ژر دی چي موږ به وهغو كسانو ته چي اعراض يې كړی وي او كوي يې له آياتو څخه په عدم قبول سره بد عذاب يعني په ورځ د اخيرت يا په دنيا كي كما في يوم بدر په سبب ددې چي دوی وه يصدفون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي اضافت د سوء العذاب اضافت دی د صفت وموصوف ته ای العذاب السیٔ.

پوښتنه: الذين يصدقون خو دمخه ذكر سوي وه، نو څه حكمت دی د خدای ﷻ چي داسي يې نه وويل سنجزيهم، بلكې اسم ظاهر يې په ځای كې د ضمير راوړی؟

ځواب: حكمت يې مبالعه ده په ذم كي ددوی.

فائده: په حديث كې د بخاري وغيره راغلي دي "انزل القرآن على سبعة احرف" واختلف العلماء في المراد بسبعة احرف، صحيح داده چي مراد اووه لغته د عربو دي چي مشهور په فصاحت سره وه (۱) قريش (۲) هذيل (۳) هوازن (۴) اهل يمن (۵) بني طی (٦) ثقيف (۷) اهل البادية، لپاره د تسهيل او اسانی پر دوی تاچه هر طائفه يې په مايوافق لغتهم ووايي لكن بشرط السماع من النبي ﷺ، او په دې كي حكمت دادی چي كه ټوله عرب مكلف سي په يوه لغت سره لشق عليهم، ولي چي د مالوفه شي څخه جلا كول سخت دی، او دا معنا د حديث مذكور هم صحيح ده چي له سبعه احرف څخه دي مراد اووه قرائته وي چي له عليه الصلوٰة والسلام څخه په شهرت رانقل سوي دي او امت ضبط كړي دي واضافت كل حرف الى من كان اكثر قرائته على ذالک الحرف من الصحابة ﷺ اوبيا ضبط كړل سوي دي الى من اختارها من القرآء السبعة وهم نافع رحمة الله عليه وابن كثير رحمة الله عليه وابوعمرو رحمة الله عليه وابو عامر رحمة الله عليه وعاصم رحمة الله عليه وحمزة رحمة الله عليه والكسائي رحمة الله عليه.

مسئله: منكر له قرآتو سبعه وو څخه كافر دی، او منكر له باقي څخه چي قرآت شاذه يې بولي مبتدع دی او گناه كاره دی.

درويش وايي: چي اصل مقصود عمل دی لامجرد القرائة كما هو المشهور في هذا الزمان،،،، دو بيت

نقد عمرت زفكرت معوج	خرج شد دررعايت مخرج
صرف كردش همه حيات سره	در قرآت سبعه و عشره

له حضرت علي ﷺ څخه روايت دی "من قرأ القرآن وهو قائم في الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كانت بكل حرف حسنة ومن قرأ على غير وضوء يعني من حفظه بدون المس فعشر حسنات.

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا أَن تَأْتِيَهُمُ الْمَلَٰٓئِكَةُ

انتظار نه كوي اهل مكه في ايمانهم بالقرآن وبالنبي ﷺ مگر چي ودوى ته راسي ملكي يعني ملائكة الموت او ملائكة العذاب او ملائكة يشهدون عياناً بصدق الرسول ﷺ وحقيقة القرآن كما قالوا اهلاجاً معه الملائكة يعني د شاهدى لپاره "هل" استفهام انكاري دى.

پوه سه: چي چونكه ملائكه مؤنث غير حقيقي دى نو تذكير يأتيهم او تانيث د تأتيهم مروي د قرأ سبعه وو يعني بعض به تذكير وايي او بعض يې تانيث كما هو القانون النحوي في المونث الغير الحقيقي حيث جوزوا تذكير الفعل اليه وتانيثه. والحاصل چي د قريشو تمنا خو پر ځاى سوه يعني رسول عربي والقرآن العربي بيا هم دوى ايمان نه راوړى، نو شايد دوى په ايمان راوړلو كي انتظار د ملكو لري مع ان الايمان وقت مجئ الملائكة غير مفيد لهم لان المقبول عند الله هو الايمان بالغيب.

أَوْ يَأْتِيَ رَبُّكَ

يا به راځي خداى ﷻ بلاكيف لپاره د فصل د قضا بين العباد في موقف القيامة. او هغه ايمان هم بې فائدې دى.

درويش وايي: چي ما په يو كتاب كي وليدل چي لايدخل النار الا المؤمنون فتحيرت فالهمني الله ﷻ ان المراد المؤمنون في يوم القيامة فقط وهذا صحيح لان جميع طوائف الكفار يؤمنون يومئذ بما ينكرونه في الدنيا.

أَوْ يَأْتِيَ بَعْضُ ءَايَٰتِ رَبِّكَ

او يا به راځي بعض آيات د قدرت الهي چي د عظيم د اشراطو څخه د قيامت دي وفسره اكثر المفسرين بطلوع الشمس من مغربها او په هغه وخت كي هم ايمان فائده نه لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي که څه هم مظهري رحمه الله د اشراطو د قيامت په بيان کي علحده فصل مشتمل پر درو صفحو وضع کړی لکن داسي الفاظ ستة چي مبتدي يې ادارک نه سي کولای لکن مالايدرک کله لايترک کله زه به مجملاً خوی او بوی د قرب القيامة بيان کړم، الدخان في جو السماء ودابة الارض وخسف بالمشرق وخسف بالمغرب وخسف بجزيرة العرب، والدجال وطلوع الشمس من مغربها ويأجوج ومأجوج ونزول عيسى عليه السلام ونار تخرج من عدن، او تر دې ټولو آياتو دمخه ظهور د مهدي کېږي، روی ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ که نه سي پاته له دنيا څخه مگر يوه ورځ خدای ﷻ به هغه اوږده کړي تر هغو چي بعث کوي به خدای ﷻ يو سړی مني اومن اهل بيتي شک د راوي دی چي برابر به وي نوم د هغه سړي زما د نامه سره يعني محمد ﷺ او برابر به وي نوم د پلار د هغه سړي د نامه سره زما د پلار يعني عبدالله چي مځکه به ډکه کړي په قسط يعني عدالت سره لکه دمخه تر دې چي ډکه وه له ظلم او جور څخه.

يَوْمَ يَأْتِي بَعْضُ آيَاتِ رَبِّكَ لَا يَنفَعُ نَفْسًا إِيمَانُهَا لَمْ تَكُنْ آمَنَتْ مِن قَبْلُ أَوْ كَسَبَتْ فِي إِيمَانِهَا خَيْرًا

هغه ورځ چي راسي بعض آياتونه د خدای ﷻ ستا نفع نه کوي هيڅ نفس ته ايمان د هغه.

پوه سه: چي جمله د "لم تکن" صفت د نفساً ده والمعنى هغه نفس چي نه يې راوړي ايمان تر دغو آياتو دمخه او يا يې کسب نه وي کړی په ايمان کي د خير د کار.

پوه سه: چي په دغه آيت سره دليل وايي هغه طائفه چي وايي چي ايمان مجرد له عمل څخه اعتبار نه لري، دوی وايي چي د آيت معنا داده انه لاينفع الايمان حينئذ نفساً لم يؤمن قبل ذالک اليوم ولانفساً لم تکسب قبل ذالک اليوم خيراً في ايمانها، وهذا خلاف مذهب اهل السنة، ولي چي مذهب د اهل سنتو خو دادی چي ايمان مجرد له عمل څخه نافع دی، ولي د خلود في النار څخه خو يې خلاصوي.

درویش وايي: چي حضرت الشيخ الشهر بالهدائي الاسکندرائي قدس سره په واقعات کي وايي چي ماته ښکاره سوی په توفيق ددې آيت د مذهب سره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اهل سنت والجماعة دوې وجهې، اول دا چې دا قول او کسبت معطوف دی پر آمنت المقدر باندي نه پر آمنت مذکور باندي، والتقدیر لاینفع نفعاً ایمانها لم تکن آمنت من قبل سوا کان ایماناً مجرداً او کسبت في ایمانها خیراً، والثاني ان یکون معطوفاً پر آمنت مذکور باندي لکن یعتبر في اللف مقدراً فیکون النشر علی ترتیبه، والتقدیر لایعتبر نفساً ایمانها ولاکسبها خیراً لم تکن آمنت من قبل او کسبت في ایمانها خیراً انتهٰی، وهذان الجوابان ینبغي ان یکتبا بمداد الذهب علی قرطاس الاذهان والله اعلم بمراده تعالی في کتابه.

او مظهري رحمه الله داسي جواب ورکړی دی چې دا آیت پر دې دلالت نه کوي چې ایمان د من لم یکسب خیراً مطلقاً نفع نه کوي یعني لافي الدنیا ولا في الآخرة بلکې پر دې دلالت کوي چې په دغه ورځ چې بعض آیات د خدای ﷻ راسي ایمان مجرد عن کسب الخیر فائده نه کوي او په اخیرت خو بې کوي، ولې چې د خلود في النار څخه خو خلاصیږي چې ایمان مجرد یې دمخه تر دغه یوم وي که څه خیر نه وي ورسره وهذا یوافق مذهب اهل السنت.

قُلِ انْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ۝ اِنَّ الَّذِیْنَ فَرَّقُوْا دِیْنَهُمْ وَ كَانُوْا شِیَعًا

ته ورته ووایه اهل مکه ته تاسي انتظار کوئ موږ هم انتظار کوو، یعني د هغې ورځي چې موږ لره فوز بالجنة وي او تاسي لره عذاب النار وي.

یوه سه: چې بعض قرا کلمه "فرقوا" فارقوا وایي له باب څخه د مفاعله، والمعنی خرجوا من دینهم وترکوه وهم المرتدون، او بعض قرا یې فرقوا وایي له باب څخه د تفعیل یعني آمنوا ببعض وکفروا ببعض، او بعض مفسرین یې پر تقدیر د باب د تفعیل یې دا ترجمه کوي صاروا فرقاً مختلفة باهوائهم الزائغة من هذه الامة کما جا في الحدیث النبوي المروي عن عبدالله بن عمرو قال قال رسول الله ﷺ لیأتین علی امتي کما آتی علی بني اسرائیل حذو النعل بالنعل حتی من داتوا منهم آتی امه علانیة لکان من امتي من یضع ذالک.

ترجمه: علیه الصلوٰة والسلام وویل چې هر آئینه راسي زما پر امت لکه چې پر بني اسرائیلو راغلي و لکه یوه چوټه چې پر بلې چوټې سرې برابروي حتی که

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

څوک له بني اسرائیلو څخه خپلې مور ته علانیةً ورتلی یعني زنا یې ورسره کوله زما په امت کې به هم داسې څوک پیدا کیږي چې د مور سره به علانیةً زنا کوي "وان بني اسرائیل تضرقت علی ثنتین وسبعین ملة وتفرق امتي علی ثلث وسبعین ملة کلهم في النار الا واحدة منهم"

ترجمه: بني اسرائیل دواوویا ډلې سوي دي او زما امت به دریاووېا متفرقې ډلې سي ټول له فرق به په اور کې وي مګر نه یوه ډله "قالوا من هي یا رسول اللهﷺ قال ما انا علیه واصحابي رواه الترمذي.

درویش وایي: چې په مثل ددغه حدیث سره د اختلافه د بعض الفاظو نور ډېر احادیث راغلي دي چې عمده په هغو کې د عرباض بن ساریهؓ قال صلی بنا رسول اللهﷺ ذات یوم ثم اقبل بوجهه فوعظنا موعظة بلیغة (علیه الصلوٰة والسلام یوه ورځ موږ ته لمونځ راکړی بیا یې موږ ته مخ راواړوی نو موږ ته یې وعظ او نصیحت وکړی داسې نصیحت چې د بلاغته ډک ؤ) وزرفت منها العیون ووجلت منها القلوب. فقال رجل یا رسول الله کان هذا موعظة مودع (چې تر سترګو د سامعینو اوښکې توی سوې او زړونه ددوی ډېر یدل. نو یو سړي وویل چې یا رسول الله چې دا وعظ ستا ګویا وعظ دی د رخصت اخستونکي) فاوصنا فقال اوصیکم بتقوی الله والسمع والطاعة وان کان عبداً حبشیاً (نو موږ ته وصیت وکړه. علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چې وصیت کوم تاسې ته په ېېره د خدای ﷻ او اوري به خبره د امیر او په خوله به یې کوئ که څه هم دا امیر حبشي مریی وي) فان من یعش منکم بعدي فسیری اختلافاً کثیراً فعلیکم بسنتي وسنة الخلفا الراشدین المهدیین وعضوا عنها بالنواجز (ولې هغه څوک چې خدای ﷻ ژوند ورکړي وده ته زما وروسته. نو ژر دی چې هغه به ویني ډېر اختلاف یعني په امت کې نو پر تاسې لازمه ده چې زما سنت او طریقه او طریقه د خلافاً راشدینو یعني چې پر تاسې آمران وي. اشاره ده وه خلافت ته د ابوبکر، عمر، عثمان او عليؓ چې دوی پر هدایت دي او بل ته هم هدایت کوي. او ټینګ کړئ دغه زما او خلفاً راشدینو مهدیینو سنت د زامي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په غابنو سره) وایاکم ومحدثات الامور فان کل محدث بدعة وکل بدعة ضلالة،
رواه احمد وابو داؤد والترمذي وابن ماجه (او ځان ساتئ له محدثو کارو او لارو
څخه یعني چي نه په شریعت نه په صریح قرآن او نه په اشاره د قرآن او نه په دلالة
النص سره ثابت وي او نه په حدیث نبوي سره که څه هم خبر واحد وي او نه قول د
خلفاً راشدینو او نه په اجتهاد د څلورو امامان د دین ابوحنیفه نعمان بن ثابت،
محمد بن ادریس شافعي، امام مالک بن انس او امام احمد بن حنبل رحمهم الله
تعالی ثابت وي، ولي چي محدث په معنا مذکور سره بدعت دی یعني له
شریعت نبوي څخه خارج او هر بدعت گمراهي ده.

درویش وایي: چي بدعت هغه فعل نه دی لکه بعض جاهلان چي وایي چي
دعا بالهیئة الاجتماعیة او یا دعا بعد السنن بدعت او گمراهي ده بلکې هر فعل او
قول چي په شریعت غرا کي اصل ولري ولو مرةً هغه نه بدعت دی او نه گمراهي.

پوښتنه: په حدیث شریف کي کمامر تېره سوه چي زما امت به دروا ووبا
(۷۳) ډلي سي ټوله به په اور کي وي یعني په دوزخ کي مگر نه یوه ډله الی
اخیره، له حدیث څخه مراد دادی چي ابدي به یې ځای دوزخ وي او که څرنگه؟

ځواب: هر هغه بدعت د یوې ډلي ددغو دواووبا ډلو څخه یعني چي هغه
ناجیه ځني وباسي که مفضي وکفر ته وه لکه غلاة الروافض او یا د خوارجو
وامثالهم د هغو خو ابدي ځای دوزخ دی او که یې بدعت وکفر ته مفضي نه ؤ نو
هغو لره ابدي دوزخ نسته لکن د بدعت د عقیدې عذاب ورته سته، حاصل دادی
چي فرقه ناجیه چي ټوله عمل د شرع شریف سره برابروي هیڅ عذاب النار ورته
نسته، او د نورو ډلو عمل که څه هم د شرع شریفي سره برابر وي لکن د عقیدې د
مخالفت موقت دوزخ ورته سته فتامل في الفرق المذکور.

لَّسْتَ مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ ۚ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ۝

ته نه یې ای محمد ﷺ له دوی څخه په هیڅ شي یعني ته له دوی څخه بېزاره
یې دوی له تا څخه بېزاره دي، په تحقیق سره د دوی امر یعني جزا او مکافات
مفوض وه خدای ﷻ ته دي یعني په قدر د دوی له حق څخه به جزا ورکړي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وروسته به دوی خبر کړي په هغه شيانو چي دوی يې فعل او عمل کاوه، يعني چي دوی به په ورځ د قيامت حاضر کړه سي اولاً به د تفرق په دين کي وسواً اعتقادهم جزاً ورکړل سي، وروسته به بيا جزاً د معاصيو ددوی ورکول کېږي.

درويش وايي: چي ددې آيت مضمون مامر منا قريباً يعني په ځواب کي د پوښتني.

فائده: ټول عذابونه چي موعود دي مربوط په مشيت پوري د خدای ﷻ دي يعني ان شا عفی عنه لان العفو من الکرم. مگر په عذاب کي د کافر اميد د عفوه نسته بدلائل من القرآن الکريم وبدلائل من الآحاديث المشهورة البالغة حد التواتر وباجماع الامة المرحومة.

درويش وايي: چي په روح البيان کي راغلي دي جزء ثامن سورة الانعام ص ۱۲۵ قال الشيخ الشهير بافتاده افندي مخاطباً لحضرة الهدائی قدس الله اسرارهما اشکر الله علی عدم اقترانک بالملاحدة فان الالحاد کمرض الجزام بعيد عن الاصلاح قال واظن انهم لايخرجون من النار لانهم في دعوی المقال دون الحال انتهی قول الشهير بافتاده، وروسته روح البيان ويلي دي ومن المدعيين القلندرية وهم الذين يحلقون لحاهم وشعورهم قال الحافظ الفارسي

قلندری نه بريشست وموی ويابرو
حساب راه قلندر بدانکه موی بموست
گذشتن ازسر مو درقلندری سهلست
چو حافظ انکه زسر بگذر قلندر اوست

ومن الفرق المبتدعة الجوالقية دا هغه کسان دي چي ډېري خريي او بورياوي يا نور خيرن کالي اخوندي، وقد نهی النبي ﷺ عن لباس الشهرة سواً کان من جنس الرقيق او الغليظ بقصد الشهرة وامتيازه عن المسلمين قال عليه الصلوٰة والسلام کن کواحد من الناس آه ولاينفع الجوالق والکساً الغليظ اذا کان المرء صاحب الرياً، قال السعدي قدس سره

بروی وريا خرقه سهلت دوخت   گرش باخدا درفروشی نکوست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

گر آوازه خواهی در اقلیم خاش   برون حله کن گو درون حشوه باش
ور غزا کند مرد باید بود   بر مخنث سلاح جنگ چه سود

درویش وایي: چي حاصل د کلام دادی چي عمل که لږ وي او که ډېر وي باید خالصتاً لله وي، لکن په اوسني زمانه کي ریاً او سمعه دومره عامه ده چي نه عالم څني خالي دی نه عامي الا ما شاالله تعالی ومن الله التوفیق.

مسئله: که یو چا کوم عبادت شروع کړی په اخلاص د نیت په منځ کي د عبادت خلګو ولیدی او ده ته یې په زړه کي خوند ورکړی یعني شائبه د ریاً یې په زړه کي پیدا سوه، دا عبادت یې پر اول نیت باقي دی ریاً عارضه تاوان نه ورته کوي.

مسئله: که یو سړي یو څو ورځي د ریاً لپاره عبادت کاوه په اخیر کي یې ریاً له زړه څخه ووتله او هغه عبادت یې عادت وګرځېدی اخیري عبادت یې مقبول دی.

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ عَشْرُ اَمْثَالِهَا ۚ

که چا راتګ وکړی په یو نېک خصلت سره نو دلره ثواب د لس مثله د هغه خصلت حسنه سته وذالک ادناه، نو په عبارت کي حذف د مضاف سته وهو لفظ الجزاً ای جزاً عشر امثالها کما اشرنا الیه في ترجمة عبارة الآیة، او ما ادنی ذکر کړی ولي د ثواب په اخلاص پوري د نیت اړه لري او دغه رنګه په وخت پوري، نو د چا دا مثل په لس مثل سره وي رفته رفته الی سبعمائة الی ماشاً الله.

پوهـ سه: چي له "من جاً بالحسنة" څخه مراد مؤمن دی اذ لاحسنة بدون الایمان کالصلوة بغیر وضوء، قاضي عیاض رحمه الله وایي چي اجماع د امت پر دې ده په هره نوع چي کافر وي که مشرک وي او که دهري او که نصاری وي یا یهودي وغیرهم لاتنفعهم اعمالهم ولایثابون علیها ولا یخفف عنهم العذاب، لکن بعضهم اشد من بعض عذاباً بحسب جزائهم انتهی بزیادة. لکن اذا اسلموا یثابون علی اعمالهم وقت الکفر لما ورد في الحدیث النبوي ﷺ حسنات الکفار مقبولة بعد اسلامهم.

فائده: الزیادة المذکورة في الحسنات فضل من الله تعالی.

درویش وایي: چي حکمت الهي په تضعیف کي د حسنات دادی چي مؤمن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفلس نه سي چي خصماً پر جمع سي، يعني سب هذا وضرب هذا وسرق مال هذا وامثال هذه فيدفع اليهم من المضاعفات العشرة الى غير نهايت حسب مشية الله تعالى لان التضعيف فضل من الله واصل الحسنة الواحدة عدل منه. وفي الحديث ويل لمن غلب احاده على عشراته.

وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزٰى اِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُوْنَ ﴿۱۶۰﴾

که چا راتگ وکړي په سيئاتو سره هر څوک چي وي او هره سيئه چي وي، نو هغه ته جزا نه ورکول کېږي مگر نه په مثل سره د هغه شي د عمل.

پوښتنه: کفر د کافر خو يو څو کاله وي، نو دی مستحق د عذاب ابدي ولي دی، نو به څرنگه ترجمه موږ کوو ددغه آيت ومن جا بالسيئة آه، او مسلمان چي تر مرگه پوري په يوه گناه اخته وي او بې توبې مړ سي. ولي که خدای ﷻ دوږخ هم ورکړي او وه يې نه بخښي عذاب يې منقطع دی؟

خواب: د کافر خو دا عزم وُ په دنيا کي که تر ابده زه ژوندی يم پر دغه کفر به يم، نو چي عزم دده مؤبد وُ نو جزا في النار يې هم مؤبده سوه او مسلمانان که څه هم گناه کوي لکن په زړه کي يې داوي چي صبا به توبه کاږې هفته وروسته به توبه کاږې، وهکذا دده په زړه کي د توبې نيت سته. نو ځکه يې جزا في النار منقطع کېږي، وهذا ماذهب اليه اهل السنة والجماعة رحمهم الله تعالى.

بغوي ﷫ په سند سره د ابي ذر ﷜ وايي چي عليه الصلوٰة والسلام وايي چي خدای ﷻ ويلي دي "من جا بالحسنة فله عشر امثالها وازيد" يعني تر لس يې وربالا کوم تر اووياپوري تر اووه سوه پوري الى ماشا الله ومن جا بالسيئة فجزا سيئة مثلها واغفر يعني يوه جزا د سيئه وربخښم يعني ان شئت ومن تقرب الي شبراً تقربت منه ذراعاً" که ماته نژدې سي يوه لوېشت زه وهغه ته يو گز ورنژدي کېږم.

درويش وايي: چي دا ټولـه تمثيلات دي ددې چي قرب د خدای ﷻ وبنده ته ډېر دی تر قرب د بنده وخدای ﷻ ته "ومن تقرب الي ذراعاً تقربت منه باعاً" که بنده نژدې سي وماته يو گز زه وده ته نژدې کېږم يو باع يعني په قدر د مد اليدين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي وقس هذا على ماقبله يعني في كونه تمثيلاً ومن آتاني يمشي آتيته هرولة" كه څوک ماته راروان سي په عادي تګ سره زه په ځغاسته ورځم. دا هم محمول پر تمثيل دی والا فالهرولة انما يتصور في الاجسام والله تعالى منزه عن الجسمية ولوازمها "ومن يأتيني بقراب الارض خطيئة لايشرک بي لقيته بمثلها مغفرة" كه څوک راسي ماته يعني په ورځ د قيامت په دومره ګنهو سره چي ځمکه په ډکېږي زه ورسره په مثل د هغه راځم په بخښنه سره.

درويش وايي: چي په اتفاق د مفسرينو او د محدثينو داسي حديثونه مقيد دي په ان شئت سره فافهم.

درويش وايي: چي يوه ډله چي مرجيه يې بولي دغه احاديث پر ظاهر حمل كوي يعني د ان شئت قيد نه ورسره وايي ددوی مذهب دادی چي سره د توحيده يعني عدم الشرک هيڅ ګناه كه ترک د اوامرو وي او كه ارتكاب د منهياتو په ورځ د قيامت سبب د دخول النار ولو موقتاً او مانع د دخول الجنة نه ګرځي. دا مذهب باطل دی په آياتو د وعيد په قرآن مجيد كي او په احاديثو سره چي متواترة المعنى دي چي پر ترک د ماموراتو او پر فعل د منهياتو عذاب سته. وايضاً باطل باجماع الامة المرحومة فلابد في الحديث المذكور وامثاله من قيد ان شئت.

قُلْ إِنَّنِي هَدَانِي رَبِّي إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾

ته ووايه اي محمده ﷺ وكفارو ته د مكې چي په تحقيق ماته هدايت كړی دی زما رب ولاري سمي ته چي توحيد او دين د اسلام دی په دلائل عقليه وو سره او په وحي او ارشاد سره او په عقل سليم سره ثابت دی.

يوه سه: چي "ديناً" بدل دی له محل څخه د "الى صراط" ولي د ديناً معنا داده چي هداني صراطاً مستقيماً.

يوه سه: چي بغوي رحمه الله وايي چي معنا د قيماً او مستقيماً يوه ده چي هغه ملت د ابراهيم عليه السلام دی "ملة ابراهيم" عطف بيان دی د "ديناً" او نه ؤ ابراهيم له مشركينو څخه او د حنيفاً معنا مائل له باطل څخه چي شرک دی وحق ته چي توحيد دی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه سه: چي په دې آيت سره رد دى پر مشركينو د مكې، ولې چي دوى دا دعوه كوله چي موږ پر ملت ابراهيم يو.

قُلۡ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحۡيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ

ته ووايه اې محمده ﷺ چي په تحقيق زما لمونځ كول او زما نسک. بعض مفسرين وايي چي مراد له نسک څخه ذبيحه د حج او عمرې ده، او مقاتل رحمه الله وايي چي مراد څني حج دى او بعض وايي دين دى وقيل عبادتي كما في القاموس والصحاح او حيوة يعني ژوند زما او مرګ زما خداى ﷻ لره دي چي رب د ټولو عالميانو دى لانه تعالى هو يحي ويميت.

لَا شَرِيكَ لَهُۥ

چي شريک نسته ده لره، او هغه ترجمه چي مظهري رحمه الله كړې ده يعني لا اشرک به احداً غيره معنى د لفظ قرآن نه ده، ولې چي عبارت د قرآن خو جمله اسميه ده او لا اشرک به آه خو جمله فعليه ده الا ان يقال انه تفسير باللازم فافهم.

وَبِذَٰلِكَ أُمِرۡتُ وَأَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ

او په دغه دين زه امر كړه سوى يم، او زه اول د مسلمانانو يم يعني ما تاسي اهل مكې ته هغه خوښ كړى چي د ځان لپاره مي خوښ كړى دى، او دا قانون دى چي د هيڅ چا پر ځان بده نه ده پېرزو نو پر تاسي مي هم بده نه ده پېرزو.

ع... بنده راسه د خداى خپل سه لكه پر ځان داسي پر بل سه

بغوي رحمه الله وايي چي كفارو د قريشو و عليه الصلوة والسلام ته دا دعوت وركړى چي د خپل آبا او اجداد دين ته راسه فانزل هذه الآية.

قُلۡ أَغَيۡرَ ٱللَّهِ أَبۡغِي رَبّٗا وَهُوَ رَبُّ كُلِّ شَيۡءٖۚ

ته ووايه و كفارو ته د مكې چي آيا زه غير طلب كړم ربا يعني بتان د خداى ﷻ سره شريک وګڼم، استفهام انكاري دى يعني داسي خو نه سم كولاى، او حال دا دى چي خداى ﷻ رب د هر شي دى.

پوه سه: چي دا جمله حاليه ده قائمقام د علت د انكار ده والحاصل ان كل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماسواه مربوب لا يصلح للمعبودية فكيف اتخذه رباً. بغوي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنهما
څخه روایت کړی دی چي ولید بن المغیرة به قریشو ته ویل اتخذوا سبیلي یعني
عبادة الاصنام زه به ستاسي ګنهونه تولہ پر ذمه واخلم فانزل الله تعالی هذه الآیة.

وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا

کسب او عمل نه کوي یعني ګناه مګر نه پر خپل ځان یعني چي هغه ګناه اثم
او عذاب دده پر ذمه دی، نو نفع نه سي رسولای یو کافر به بل کافر ته په عبادت
کي د غیر الله حتی چي متحمل سي د شرک د هغه په ورځ کي د قیامت.

وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ مَرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ
بِمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ ﴿١٦٤﴾

او نه سي اخستلای یو نفس وازرة یعني ګناه کاره ګناه د بل نفس ګناه کاره
لان کل نفس رهینة بماکسبت وروسته یعني په ورځ د قیامت ورب ته ستاسي
رجوع ستاسي ده، نو خدای جل جلاله به تاسي خبر کړي په هغه شي چي تاسي به
اختلاف درلودی من الادیان المختلفة، نو خدای جل جلاله به سره جلا کړي محق له
مبطل څخه او هر یوه ته به جزاً مناسبه ورکړي یعني حق والا ته به جنت ورکړي او
مبطل ته به دوزخ ورکړي.

وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ الْأَرْضِ

او خدای جل جلاله هغه ذات دی چي تاسي یې ګرځولي یاست خلیفه ګان په مځکه
کي فالاضافة بمعنی في. یعني اهل د قرون ماضیه چي یې هلاک کړه او مځکه
یې په میراث تاسي ته درکړې ده یا امت محمد صلی الله علیه وسلم.

وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ

او پورته کړي یې دي بعض ستاسي لوړ تر بعض ستاسي. چي ستاسي امتحان
وکړي مع العلم الازلي په هغه کي یې تاسي ته درکړي دي من الجاه والغنی
والریاسة وغیر ذالک من الامور الدنیویة هل تشرکون اولا او هل تطیعون اولا.

پوه سه: چي "درجات" منصوب دی علی التمییز من النسبة في رفع فکانه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قيل رفع درجات فوق درجات بعض يعني غني پر مسكين په مال كي او شريف پر وضيع په جاه كي او مطيع پر عاصي په قرب الى الله كي.

إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ

او په تحقيق خداى ﷻ ژر عذاب وركونكى دى لاعداه يعني كه يې چېري اراده د سرعت سي، فلا يرد ان بعض الاعدا يعيشون طول الحيوٰة بلا عقاب، وجه الرد ان سرعة العقاب مقيد بارادة الباري ﷻ، او يقال چي عذاب د دښمنانو كه څه هم په قبر كي بعد الموت دى او په ورځ كي د اخرت دى لكن ماآت فهو سريع، مثلاً يوم القيامة قريب من امس لان يوم القيامة طال او قصر مدة اتيانه والامس الماضي لايعود ابداً.

وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ

په تحقيق خداى ﷻ بخښونكى د ګنهو دى وه مؤمنانو ته او مهربانه هم دى پر دوى زائد تر مغفرت د ګنهو.

نكته: عقاب خداى ﷻ په سرعت سره موصوف كړى او اضافت يې ځان ته ونه كړى او د مغفرت نسبت يې وځان ته وكړى او رحمت يې هم ورضم كړى، او غفور يې په صيغه د مبالغې د لام مؤكد راوړى لپاره ددې چي غفران صفت ذاتي د خداى ﷻ دى او ذات د خداى ﷻ خو كثير الجود دى او عقاب صفت عارضي د خداى ﷻ دى په سبب د كفر او معاصي د بندګانو كذا قال بعض محققي اهل التفسير، وجا في الحديث القدسي سبقت رحمتي على غضبي انتهى سورة الانعام. له ابن عمر ﵁ څخه روايت دى قال قال رسول الله ﷺ انزلت سورة الانعام جملة واحدة يعني په يوه شپه كي په همراهي د اوويا زرو ملكو چي دوى لره ورډوډ و په تسبيح ويلو كي او په حمد ويلو كي رواه الطبراني وابو نعيم

سوال: په شان نزول كي د بعضي آيتو د سورة انعام په تفسير كي داسي راغلي دي چي دا آيت په فلاني موضوع كي نازل سوى دى او فلاني آيت په فلاني قصه كي نازل سوى دى كما مر في هذا التفسير نو دا متفرق شان نزوله په منافي نه وي د نزول سره جملة واحدة؟

ځواب: چونكه دغه واقعات چي په شان نزول كي ذكر سوي دي په نژدې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورځو کې د سورة الانعام پښتنې سوي دي، نو دا منافات نه لري د نزول سره د سورة جملة واحدة والله اعلم بالصواب.

درویش وايي: چې لله الحمد والمنة والتوفيق تفسیر د سورة الانعام په ورځ د جمعې لس بجې په اوائل د سنه ۱۴۲۸ھ یعني په اخیر کي د ربیع الاول وپایه تکمیل ته ورسېدی وارجو منه عزوجل ان یوفقني لاتمام هذا التفسیر الی اخیره بالصحة والسلامة ویجعله لهذا الفقیر خیراً باقیاً الی یوم القیامة انه تعالی علی کل شئ قدیر وبالاجابة جدیر.

التماس درویش از مطالعه کنندگان این است و از دانشوران زمان ودقیقه شناسان دوران امید درویش همان طور است که عدم رعایت دربعض از فقرات تفسیر وتساهل درتقدیم وتاخیر برخي از عبارات این تفسیر دل پذیر است دست رد برسینه پرکین نگذارند وبرجهل ونادانی حمل ننمائید بلکه از سهو ونسیان شمارند که این عقود لآلی را از بحور تفاسیر متفرقه وکنوز صفائح متشته بدست آورده وبمشقت تمام دررشته انتظام درآورده است والعذر عند کرام الناس مقبول تفسیر قرآن کریم از بس کارگران بوده لکن خالق لایزال درویش را برین کار گماشته، کریمه والله خلقکم وماتعملون گواه قول درویش است.

گرتوخواهی دردوعالم زندگی بنده گی کن بنده گی کن بندگی
کارکن تامزد یابی بر مزید کان ترا از بهراین کار آفرید

الهی بیزارم از طاعتی که مرا بعجب آورد
وبنده آن معصیتی که مرا بعذر آورد
الهی صحبت دوستان تو آب جانست
وصحبت غیر ایشان تاب جانست
الهی گل بهشت درچشم عارفان خار است
وجوینده تو با بهشت چه کار است
الهی شب فراق اگرچه تاریک است
دل خوش داریم که صبح وصال نزدیکست

درویش میگوید که تام تفسیر من تفسیر حنیفي ایوبي است حنیفي ازین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جهت که معتقد مذهب امام المسلمین ابو حنیفه رحمه الله میباشم وایوبي ازین سبب است که خودرا بپدر بزرگوار خود محمد ایوب رحمه الله منسوب کرده است یاسني مرحوم چه خوش گفته است.

ای سواری توخود بمرکب لنگ — که خبرداری از منازل سنگ
کی رسی سوی آستان حبیب — که تو دوری هزار هافرسنگ
پیشوایی بگیر راه شناس — تا بمنزل رسی بغیر درنگ
مانده باشي بدست بی ره ورو — گرت آید از پیشوائی ننگ
ور تو کیش امام بگذاری — شیشه عمر را ازنی برسنگ
با ئمه نفاق گرداری — بررخ خود زدین نداری رنگ
غیر تقلید راه سنت نیست — تو ازین راه میشوی دل تنگ
تو کجا راه امام کجا — لا فها میزني چو روبه لنگ

نور الظلم

د مفسر الزمان الحاج مولانا **محمد عبیدالله ایوبي حنفي** په خوږه پښتو سره تشریح سوی کتاب چي ورسره په څنګ کي فارسي ترجمه هم سته د پر ژر به زموږ د مکتبې له خوا ومینه والو ته په ښه کاغذ او ښه ټاټئل کي وراندي سي ان شاالله تعالی

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ الأَعْرَافِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَتَانِ وَسِتُّ آيَاتٍ وَأَرْبَعٌ وَعِشْرُونَ رُكُوعًا

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

رب يسر ولا تعسر بيدك الخير

الٓمٓصٓ ۝ كِتَٰبٌ أُنزِلَ إِلَيْكَ

صحيح داده چي دا له حروف مقطعيه وو څخه دی الذي لايعلم تأويله الا الله وحظنا منه، الاعتقاد بان كل ما اراد الله به حق ثابت.

درویش وايي: چي تفصيل او بيان د حروف مقطعه وو په سورة بقره كي تير سو "كتاب" خبر د مبتدأ محذوف دی ای هذا كتاب. والمراد به القرآن العزيز چي نازل كړه سوی دی وتاته يعني له جانبه څخه د رب العالمين.

فَلَا يَكُن فِي صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ

نو نه دي سي پيدا په سينه كي ستا يعني قلبک تنگي له دې كتاب څخه.

بوه سه: چي مراد له ضيق الصدر څخه په قول د مجاهد رحمه الله شک دی او د شک تعبير يې په لازم سره وكړی. ولي شكمن سړي ته ضيق الصدر هرومرو وربېښيږي لكه متيقن سړی انشراح الصدر ورته حاصليږي.

فائده: دا آيت مثل د هغه آيت دی فان كنت في شک مما انزل اليک مثليت په دې معنا چي ظاهراً په دواړو آيتو كي خو مخاطب عليه الصلوٰة والسلام دی لكن مراد څني امت دی ای لاترتابوا ولاتشكوا في حقية القرآن وكونه من عند الله، او ابو العالية رحمه الله وايي چي مراد له حرج څخه حقيقت ضيق الصدر دی يعني ته سينه مه تنگوه په تبليغ كي د قرآن پاک ومشركينو ته د مكي مخافة ان يكذبوک فانه عليه الصلوٰة والسلام يخاف تكذيب قومه اياه واعراضهم عنه. وجه النهي ان الانكار على الرسل من جانب الكفار عادة قديمة، نو د يو شل سره موافق چي بلا چي عامه سي نو اسانه سي او كلمهٔ د فا يا لپاره د عطف ده پر "انزل اليک" او يا جواب د شرط محذوف ده يعني اذا انزل اليک فلا تكن آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لِتُنْذِرَ بِهٖ وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۝

چي ته وېرروې په دغه کتاب سره کافران او پند به سي د مؤمنانو لپاره.

پوه سه: چي "لينذر" متعلق دی په "انزل" پوري او يا په "فلا يکن آه" پوري، والثاني اولى لانه اذا ايقن من عند الله دلا ورکبري پر انذار باندي، او دغه رنګه چي دی نه بېرېږي د کافرانو څخه او يا په دې چي خدای ﷻ توفيق درکوي پر ادا د رسالت او انذار.

پوه سه: چي "ذکري" مرفوع دی تقديراً عطف دی پر کتاب باندي، او يا خبر د مبتدأ محذوفي دی ای هذا ذکری للمؤمنين او يا منصوب په اضمار د فعل ای تذکر ذکري للمؤمنين والى هذا اشار صاحب روح البيان بقوله ولتذکر المؤمنين تذکيراً وصرح به المظهري رحمه الله وصاحب روح البيان.

اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ

او تاسي متابعت وکړي د هغه کتاب چي نازل کړل سوی دی تاسي ته يعني له جانبه څخه د خدای ﷻ په واسطه د رسول کريم ﷺ. او بعض مفسرين وايي چي له ما انزل څخه مطلق مراد دی يعني که وحي جلي وي لکه قرآن او که وحي خفي وي. نو سنن نبويه ته هم شامل دی لکن درويش وايي چي تعميم د سياق سره مناسب نه دی ولي چي له "کتاب انزل" څخه تر دې ځايه پوري خبره تو له په قرآن کي وه چي وحي جلي دی.

وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۭ قَلِيْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ۝

او تاسي متابعت مه کوئ پر ته د خدای ﷻ د اوليا يعني د دوستانو که انسانان وي او که شيطانان وي چي تاسي په معصيت او شرک سره امر کوي.

پوه سه: چي "من دونه" حال دی له "اوليا" څخه وانما قدم الحال لکون ذی الحال نکرة کما هو القانون النحوي، او فائده د "من" د قيد داده چي هغه کسان به ووزي چي ولايت په جانب کي د خدای ﷻ وي کالانبياء عليهم السلام والعلماء الحقانيين، او "قليلاً" يا مفعول مطلق دی ای تذکراً قليلاً يا ظرف زمان دی ای زماناً قليلاً او کلمة د ما زائده ده لپاره د تاکيد د قلت. وهذان التقديران جاريان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

في جميع القرآن في امثال ماههنا مثل قليلاً ماتشكرون وغير ذالک.
پوه سه: چي د "تذكرون" اصل تتذكرون ؤ يوه تايي ځني حذف كړه.

وَكَمْ مِّنْ قَرْيَةٍ اَهْلَكْنٰهَا

پوه سه: چي "كم" خبريه دی مفيد د كثرت دی مبتدا ده "من قرية يې تميز دی او اهلكناها يې خبر دی. او دېر له اهل قريه ؤ ځکه چي مونږ يې اراده د هلاک کړې ده يعني وروسته تر ارسال الرسل واتمام الحجة عليهم او هلاک يې هم بالاستيصال وي.

فَجَآءَهَا بَاْسُنَا بَيَاتًا اَوْ هُمْ قَآئِلُوْنَ ﴿٤﴾

نو راسي وه اهل ته د قرئ عذاب زمونږ هر نوع د عذاب چي ؤ د شپې.
پوه سه: چي "بياتاً" مصدر دی من البيوته شپه تېرول كه په خوب وي او كه په ويښه او دا مصدر دلته په معنی د بائتين دی حال دی له ضمير ځکه د جائها. داسي عذاب پر قوم د لوط عليه السلام مسلط كړه سوی دی او يا دوی قائلون دي داخل وي په قيلولة وهي استراحة نصف النهار سوا كان معه نوم اولاً لكه قوم د شعيب عليه السلام.
پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر "بياتاً" عطف الجملة على المفرد او دا عطف روا دی چي جملې لره محل د اعراب وي كما ههنا لان الجملة منصوب محلاً فهي في حكم المفرد حال دی من القرية په معنی د اهل قريه.
سوال: واو عطف يې ولي نه راوړی يعني او وهم؟
ځواب: اجتماع د دوو حرف عطف چي او واو دی ممتنع دی په نحو كي. وحاصل الآية انه جائها العذاب في وقت غفلتهم غير منتظرين او ذكر دد غو وختو يې ددې لپاره وكړی چي دغه دوه وختونه د سخت غفلت دي فالعذاب فيهما اشد من غيرهما كما لا يخفى.

فَمَا كَانَ دَعْوٰىهُمْ اِذْ جَآءَهُمْ بَاْسُنَآ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿٥﴾

نو نه وي دعا ددوی او تضرع ددوی هغه وخت چي راسي ودوی ته عذاب زمونږ مگر دا قول ددوی چي په تحقيق مونږ ؤ ظالمين يعني اقرار په ظلم او كفر سره او اظهار د پښېماني ولا ينفعهم ذالک في دفع العذاب. شيرازي مرحوم وايي
تو پيش از عقوبت درعفوه كوب		كه سودی ندارد فغان زيرچوب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِيْنَ اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿٦﴾

هر آینه به موږ پوښتنه وکړو له هغو کسانو څخه چي رسولان دوی ته استول سوي وه په دې معنا چي تاسي قبول د قول د رسولانو وکړی او که مورد او انکار وکړي، او هر آینه به موږ پوښتنه وکړو له راستول سوي کسانو څخه چي انبیاً علیهم السلام دي په دې معنا چي تاسي وظیفه د تبلیغ او د انذار ددغو کسانو چي تاسي ورواستول سوي واست پر ځای کړه او که نه.

پوه سه: چي غرض له دې پوښتني څخه الزام د کفارو دی او استحقاق ددوی د عذاب الهي، له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چي بیهقي په خپل کتاب کي راوړي دي في تفسیر هذه الآیة نسال الناس جمیعاً عما اجابوا المرسلین ولنسالن المرسلین عما بلغوا. عبدالله بن المبارک رحمه الله له وهب بن منبه څخه داسي روایت کړی دی چي ورځ چي د قیامت سي اسرافیل علیه السلام به وبلل سي یعني د خدای جل جلاله له خوا څخه په داسي حال کي د خوب چي د ویرو غوښي به یې رپیږدي چي تا څه وکړه په هغه چي لوح محفوظ تاته سپارلي ؤ؟ اسرافیل علیه السلام به ووایي چي هغه ما جبرائیل ته ورساوه، بیا به جبرائیل علیه السلام راوغوښتل سي یعني د خدای جل جلاله له خوا څخه ترعد فرائصه چي تا څه وکړه په هغه چي اسرافیل تاته سپارلي ؤ؟ جبرائیل به ووایي چي ما و رسولانو ته ورساوه بیا به له رسولانو څخه پوښتنه وکړل سي چي تاسي څه وکړه په هغه شي چي جبرائیل تاسي ته سپارلی ؤ رسولان به ووایي چي موږ هغو خلکو ته ورساوه یعني فقبله بعضهم ورده اکثرهم الخ. مسلم له جابر رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چي علیه الصلوٰة والسلام په خپله خطبه کي چي په حجة الوداع کي یې ایراده کړه مسلمانانو ته وویل انتم تسئلون عني فهل انتم قائلون. قالوا نشهد انک قد بلغت وادیت ونصحت. فقال علیه الصلوٰة والسلام اللهم اشهد.

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿٧﴾

او موږ به بیان وکړو و رسولانو ته او مرسل الیهم ته په هغه وخت کي چي امتیان د انبیاً علیهم السلام له تبلیغ څخه د رسولانو منکر سي او امت د علیه الصلوٰة والسلام شاهدي پر ادا کړي "بعلم" یعني زموږ په معلوماتو سره. نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مصدر په معنا د مفعول دی او یا معنا داده متلبسین بعلم یعني عالمین بظواهرهم وبطوانهم، او موږ نه وو غائب په تبلیغ کي د رسولانو او نه له امتو څخه غائب وو فیما انکروا علی الانبیاؑ او دغه رنګه فیما شهد علیهم امة محمد ﷺ.

پوښتنه: نو د سوال کولو له رسولانو څخه او له مرسل الیهم څخه چي خدای غائب نه وُ څه فائده؟

ځواب: مقصود په سوال کي سرزنش د کافرانو دی او اظهار د شرف د انبیاؑ علیهم السلام دی او تفضیل د امت د علیه الصلوٰة والسلام دی چي ددوی په شهادت کفار محکوم سوه په دوږخ سره.

وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ

او تلل د عملو په ترازو کي للتمییز بین جیدها وردیها وثقیلها وخفیفها.

پوه سه: چي "الوزن" مبتدا ده "یومئذ" یې خبر دی ای کائن یومئذ، او مراد له یومئذ څخه هغه ورځ ده چي پوښتنه له رسولانو څخه او د مرسل الیهم څخه وکړه سي او الحق خبر د مبتدا محذوفي دی ای هو الحق لاشبهة فیه او دا له اجزاؤ څخه د مؤمن به دی. بیهقي په باب البعث کي د ابن عمر ﷺ او هغه له عمر ﷺ څخه داسي روایت کړی دی په هغه طویل حدیث کي چي جبرائیل ؑ له علیه الصلوٰة والسلام څخه سوال وکړی یا محمد ما الایمان" نو علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل الایمان ان تؤمن بالله یعني بالتوحید وملائکته چي د هغه بندګان دي او د خدای ﷻ لوڼي نه دي لکه مشرکانو چي به ویل الملائکة بنات الله. او ایمان دی پر رسولانو د خدای ﷻ چي تول له پر حق دي او ته به ایمان لرې پر جنت او نار، او ایمان به لرې پر میزان باندي او ته به ایمان لرې بعث بعد الموت او ته به ایمان لرې چي تول له خیر او شر له جانبه د خدای ﷻ دی، جبرائیل ؑ ورته وویل اذا فعلت هذا فانا مؤمن؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل نعم جبرائیل ؑ وویل صدقت.

درویش وایي: چي دا حدیث په غایت طول سره بخاري روایت کړی یعني مالایمان ثم مالاسلام ثم مالاحسان. لکن په هغه حدیث کي لفظ د میزان نسته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والله اعلم بالصواب. عبدالله بن المبارک رحمه الله په صحیح روایت له ابن عباس رضی الله عنهما ځخه داسې روایت کړی دی في الميزان انه له لسان وکفتان لکن قدیماً وحدیثاً په کیفیت کې د وزن الاعمال بالمیزان اختلاف موجود دی، مشهوره په نیز د جمهور داده چې صحیفه د اعمال حسنه په یوه پله کې اېښول کیږي او صحیفه د اعمال سیئه وو یې په بله پله کې د تراژو اېښول کیږي بیا نو هره یوه که درنه سوه که د حسنه وو دا درنه سوه فهو من اهل الجنة او که د سیئه وو دا یې درنه سوه فهو من اهل النار ان لم یغفرله العزیز الغفار ولم یشفعه النبي المختار، او بعض علماً وایي چې هر یوه ته د ښه عمل او د بد عمل خدای ﷻ صورت حسنه او صورت سیئه ورکوي بحسب علمه نو دا صور چې اجسام دي سره تلل کیږي.

درویش وایي: چې سبب ددې توجیهاتو دادی چې خودي اعمال خو اعراض دي والوزن مختص بالاجسام، والدلیل علی قول الجمهور هغه حدیث دی چې ترمذي، ابن ماجه، ابن حبان او حاکم یې روایت کړی دی له ابن عمر رضی الله عنه ده وویل چې رسول الله ﷺ وویل چې یو سړی به زما له امت ځخه په حضور د خلکو راوستل سي په ورځ د قیامت، نو هغه ملکې نشر او خلاص کړي نهه نیوي (۹۹) کاغذه چې هر یو به دومره اوږد وي لکه مد البصر او دا نهه نیوي کاغذه ټوله د سیئاتو وي نو هغه سړي ته وویل سي چې په دغو کاغذو چې نوشته دي ته انکار ځنې لرې، آیا پر تا ظلم کړی دی حافظانو د اعمالو یعني ملکو چې ستا ښه او بد یې نوشته کول دی ورته ووایي لا یارب یعني نه انکار لرم او نه چا ظلم راسره کړی دی، نو خدای پاک ورته ووایي چې هو ته یوه حسنه لرې او نه ورځ ظلم نسته، نو یوه کوچنۍ پارچه په لاس ورکړي چې په هغې کې صرف اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً رسول الله نوشته وي او ورته ووایي چې ورسه په میزان کې یې سره وتله هغه سړی خدای پاک ته ووایي چې زه پوهېږم چې نه نیوي (۹۹) کاغذان د بدو عملو پر دې کوچني کاغذ باندي ډېر او بېخي بالا دي نو میزان ته څه ضرورت سته. الله ﷻ ته ورته ووایي نن ورځ هیڅ ظلم نسته نه به لاچاره دا نهه نیوي سجلات او کوچنی کاغذ سره تلې په میزان کې، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چونکه د خدای ﷻ له قدرته څو څوک مخالفت نه سي کولای په ورځ د قیامت، نو سری زره نازره ورسي کوچنی کاغذ د میزان په یوه پله کي او نهه نیوي سجلات په بله پله کي سره کښېږدي، نو د کوچني کاغذ پله پر مخکه پرته وي او نهه نیوي سجلات په هوا کي وي لانه لایثقل مع اسم الله شئ.

درویش وایي: چي دا خو ډېر د امید حدیث دی او ددې په ویار باید هیڅ څوک د امت محمدي چي منافق نه وي که هر څو گناه کاره هم وي دوزخ ته به ولاړ نه سي، ولي چي د هر مؤمن سره شهادتین لساناً او قلباً ورسره وي لکن په حدیث صحیحه مشهوره کي راغلي دي چي بخاري او نورو کتابو یې روایت کړی دی چي بعض افراد د امت د علیه الصلوٰة والسلام په سبب د گنهو موقتاً دوزخ ته ځي فما وجه التوافق بین الحدیث الطویل المذکور وهذه الاحادیث المرویة؟ ددې ځواب دادی چي دا حدیث د خدای ﷻ په مشیت سره مقید دی هذا ما عندي في جواب السوال المذکور والعلم عند الله.

نصیحت: امام زین العابدین رحمه الله الذي مرت في اخیر الجلد السادس مناجاته وبعض الابیات التي قالها تحت استار الکعبة المبارکة بروایة الاصمعي

عجبت للمتکبر الفخور الذي کان بالامس نطفة
ویکون غداً جیفة
وعجبت کل العجب لمن شك في الله وهو یری خلقه
وعجبت کل العجب لمن انکر انشاة الآخرة
وهو یری النشاة الاولی
وعجبت کل العجب لمن یعمل لدار الفنا وترک دار البقا

انتهی بعبارته المضیئة المبارکة.

درویش وایي: چي دلیل د بعضو د قول چي دمخه تېر سو چي په عمل خدای پاک یو صورت حسنه ورکوي آه. هغه اخیر حدیث د بخاري د کتاب دی چي روایت یې ابو هریره رضی الله عنه کړی دی قال قال رسول الله ﷺ کلمتان خفیفتان علی اللسان ثقیلتان في المیزان حبیبتان الی الرحمٰن (دوې کلمې دي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سپکې دي پر ژبه او درنې دي په ترازو کې او د خدای ﷻ په نیز ډېرې محبوبې دي "سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم" وجه الاستدلال بهذه الحديث لقول البعض ان نفس الكلمة لايكون لها ثقل، فعلم انه يعطى لهاتين الكلمتين صورتين حسنتين ثقيلتين في الميزان، وايضاً يدل على مذهب ذالك البعض ماروى مسلم عن ابي مالك الاشعري ﷺ قال قال رسول الله ﷺ الطهور شطر الايمان والحمد لله يملأ الميزان آه لان الملئ انما يكون بالجسم.

درويش وايي: چې والمعتزلة انكروا الميزان وتأولوا الآية المذكورة والتفصيل مذكور في كتب علم الكلام.

فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ

که د چا درنې سې حسنات دده التي توزن فالموازين جمع الموزون ويحتمل چې موازين دي جمع د ميزان وي والجمعية باعتبار اختلاف الموذونات هذا ماقاله صاحب روح البيان، او مظهري چې وايي كه جمع د ميزان سي نو جمعيت يې پر دې دلالت کوي چې هر سړي لره جلا ميزان دی فهو ليس لشئ ولم ينقل من احد ممن يعبأبه.

فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٨﴾

نو هغه کسان دي فائز په ثواب او نجات سره.

بوه سه: چې جمع راوړل د "اولئك" په اعتبار د معنا د من دی او "هم" ضمير فصل دی لپاره د تخصيص د مسند دی چې فلاح د په مسند اليه پوري چې اولئک دی.

وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ خَسِرُوا أَنفُسَهُم بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا يَظْلِمُونَ ﴿٩﴾

او د چا چې سپک سي موذونات دده، نو دا هغه کسان دي چې په تاوان کې واقع کړي خپل ځانونه يعني په ضائع کولو سره د فطرة سليمه التي فطر الله الناس عليها كما في الحديث النبوي كل مولود يولد على فطرة الاسلام آه چې دوی وه چې زموږ پر آيتو ظلم کاوه چې په ځای کې د تصديق بها يې تكذيب کاوه.

بوه سه: چې "من خفت موازينه" كه څه هم عام دی کافر لره چې حسنه اصلاً نه لري لعدم شرط الحسنة فيه وهو الايمان وللمؤمن الذي ترجحت حسناته على سيئاته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن مراد ځني دلته کافران دي په قرینه ددې چي غالباً عادت الهي د خدای جل جلاله په قرآن کي دادی چي کفار وروسته تر ابرار ذکر کوي هذا ماقاله المظهري رحمه الله.

درویش وایي: چي قطع نظر له عادت الهي ځخه د من شرطي جزاً چي په فاولئک آه پر مذکوره تفسیر ده فاولئک الآیة پر مؤمن چي سیئات یې تر حسناتو بالا وي نه صادقیږي ولي چي مؤمن مذکور خو په ماکانوا بآیاتنا یظلمون نه دی داخل، ولي چي مراد د ظلم بالآیات سره تکذیب د آیاتو دی او دا تفسیر د فاولئک الایة متفق علیه دی د مظهري، برسوي او سید آلوسي بغدادي فتامل.

فائده: په حدیث صحیح کي راغلي دي ما وضع في المزان احسن من حسن الخلق" ولي حسن الخلق له اخلاق ځخه د رب العالمین دی والعباد ماموروں بالتخلق باخلاقه تعالی کما ورد في الحدیث الصحیح تخلقوا باخلاق الله.

فائده: نقل دی چي یو سړی به وي چي پله د حسناتو به یې ډېره سپکه وي نو د وریځي په شکل به یو شی راسي په پله د حسناتو کي به ولوېږي، نو ملکي به ورته ووایي دا فضیلت د هغه علم دی چي تا خلګو ته ښووی.

سوال: تعلیم خو له جملې ځخه د حسناتو دی، نو ولي اولاً په پله کي د حسناتو نه ایښوول؟

ځواب: اظهاراً لفظیلة التعلیم عند کافة الناس الحاضرین عند المیزان.

فائده: تعلیم د علم عام دی که په خوله وي او که په کتابت او که تصنیف في العلوم الدینیة.

فائده: په احوال د آخرت داسي راغلي دي چي که د یو سړي د حسناتو او د سیئاتو پله سره برابره وي، نو خدای پاک ورته ووایي یعني په ذریعه د ملکو لست من اهل الجنة ولامن اهل النار، نو یوه ملکه راسي چي ېخي کوچنی کاغذ راوړي چي فقط اُف پکښي نوشته وي اشارةً الی قوله تعالی ولاتقل لهما اُفٍ یعني مه وایه مور او پلار ته کلمه د اف چي په عربي لپاره د زجر ده دا کوچنی کاغذ یې په پله د سیئاتو کي ورواچوي د سیئات پله یې ډېره درنه سي، نو خدای پاک امر وکړي ملکو ته چي دوږخ ته یې بوزئ، دی چي د دوږخ وخواته روان کړي، نو دی ملکو ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ووايي چي ما يو وار خداى پاک ته وروليځ خداى پاک ملکو ته ووايي چي دا يې ولئ.
نو خداى پاک ورته ووايي ياايها العاق لاى ماتطلب الرد؟ دا سړى ورته وايي چي زه
اور ته روان وم ولابد لي منها او زه عاق د پلار وم. نو زما پلار هم ملکو د اور پر خوا
روان کړى ؤ نو زما د پلار عذاب هم پر ما واچوه چي زما عذاب مضاعف سي خو زما
پلار جنت ته بوزئ. د حديث لفظ خو داسي دى "فيضحک الله" لکن حقيقة ضحک
مراد نه دى بلکي مراد څخني اظهار د ضا دى نو خداى پاک وزوى ته ووايي چي عققته
في الدنيا وبررته في الآخرة خذ بيد ابيک والطلقا الى الجنة.

وَلَقَدْ مَكَّنّٰكُمْ فِى الْاَرْضِ وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيْهَا مَعَايِشَ ؕ قَلِيْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۱۰﴾

لام موطئه د قسم محذوف دى، په تحقيق موږ قدرت درکړى دى تاسي ته پر
استوګني پر مځکه کي والتصرف فيها بانواع التصرفات "معائش" جمع د
معيشت ده يعني اسباب د ژوندانه د چارو لکه کښت د انواعو د حبوب او لکه
مېړي غواوي د خوراک مواد د څښلو اوبه او کسبونه او تجارت "قليلاً
ماتشکرون" اى شکراً قليلاً. نو قليلاً مفعول مطلق دى د تشکرون او زماناً
قليلاً، نو قليلاً ظرف دى د تشکرون،

وَلَقَدْ خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ اسْجُدُوْا لِاٰدَمَ ۖ

يعني موږ اندازه کړي ياست في العلم الازلي چي ستاسي به اعيان ثابته
جوړېږي، بيا مي تاسي ته صورتونه درکړه يعني صورنا آباکم آدم جعل تصوير
آدم تصوير الکل لان تصوير آدم کانه تصوير الکل. او ابن عباس رضي الله عنه وايي اى
صورنا اصولکم وآبائکم وصورناکم في ارحام امهاتکم.

يوه سه: که مراد له ضمير څخه د خطاب يوازي آدم عليه السلام وي فلا کلام في
التراخي المفهوم من کلمة ثم، ولي چي امر د سجدې متراخي تر خلق د
آدم عليه السلام ؤ. او که مراد په ضمير کي د خطاب ذرية وي فلا موقع لتاخير الامر
بالسجود من خلق الذرية فکلمة ثم بمعنى الواو فافهم.

يوه سه: چي شرح ددي آيت په کمال تفصيل سره په تفسير کي د سورة بقره
تېر سوي دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چې مراد له سجدې څخه تحیه ده او تکریم چې صرف سر کښته کول دي لا السجود الشرعي وهو وضع الجبهة بقصد العبادة لان هذا السجود لغيره تعالى شرک او که مراد سجوده شرعي وي نو دا سجده خدای ﷻ ته ده آدم یې صرف جهت دی، لکه کعبه شریفه د مسلمانانو لپاره.

فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ ٱلسَّٰجِدِينَ ﴿١١﴾

نو ملکو ټولو بېله درنګه سجده وکړه مګر نه ابلیس چې دی نه سو له سجده کونکو څخه و آدم علیه السلام ته.

قَالَ مَا مَنَعَكَ أَلَّا تَسْجُدَ إِذْ أَمَرْتُكَ

دا جمله مستانفه بیانیه ده کانه قیل فماذا قال الله حینئذٍ یعني چې ابلیس سجده ونه کړه، نو معنا دا چې خدای پاک ورته وویل چې ته څه شی منع کړې له دې څخه چې تا سجده کړې وای، نو کلمه د لا صلة یعني زائده ده ولي که زائد نه سي نو معنا خو داسي کېږي څه شي ته منع کړي له عدم سجده څخه منع له عدم سجده څخه خو سجده ده او ده سجده نه وکړه چې ما ته امر کړې په سجده سره.

قَالَ أَنَا۠ خَيْرٌ مِّنْهُ خَلَقْتَنِى مِن نَّارٍ وَخَلَقْتَهُۥ مِن طِينٍ ﴿١٢﴾

شیطان وویل چې مانع له سجدې څخه د آدم دا ؤ چې زه تر آدم افضله وم په دې دلیل چې زه تا له اوره پیدا کړی یم او آدم دې له ختو څخه پیدا کړی دی، او اور جوهر مضيئ دی او ختي یو حقیر مظلم جوهر دی. نو چې زه افضل وم تر آدم نو افضل نه ښایي چې مامور دې په سجده سي و مفضول ته. نو ابلیس امر ته د خدای ﷻ د حقارت او اهانت په ستر ګو وکتل وکان ذالک سبباً للعنة الابدية لابليس لانفس عدم السجود بعد الامر الآلهي لان من المومنين من لا يصلى فانه لا يصير بذالک ملعوناً وان كان ترک الصلوة معصية لكن دی ملعون خطا وتی چې افضلیت په اعتبار د عنصر او ماده وباله بل الافضلية باعتبار الاطاعة.

قال ابن عباس رضي الله عنه اول چا چې قیاس وکړی او په قیاس کي خطاوتی هغه ابلیس ؤ نو څوک چې قیاس د دیني امورو په رأیه سره هغه به د ابلیس ملګری وي.

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

پوښتنه: ائمه اربعه پر دې متفق دي چي قياس يو له ادله اربعه وو څخه د احكام شرعيه وو دی، نو له انكار څخه پر قياس د شيطان نفي د قياس شرعي نه لازمېږي؟

ځواب: قياس شرعي خو هلته حجت دی چي په هغه حكم يا مسئله كي نص آيت يا حديث نه وي موجود د شيطان په قياس كي نص موجود ؤ وهو قوله تعالى قال ما منعك الآية، او ابليس سره د امر الهي قياس وكړی بقوله خلقتني من نار آه، فما قلنا حكم بتخطية قياس لابنفي القياس.

درويش وايي: چي په تخطيه د قياس د ابليس اهل الظواهر وغيرهم من منكري القياس ډېر خوشحاله دي، دوی وايي چي خدای ﷻ په قرآن كي عمل بالقياس د ابليس باطل وباله، نو معلومه سوه چي قياس په شرعه كي حجت نه دی، ع،،،، ببين تفاوت راه تاكجا به كجا.

سوال: د فقهي شريفي په كتابو كي راځي چي خطأ د مجتهد معفو ده؟

ځواب: خطأ د هغه مجتهد معفو ده چي دی طالب د حق وي او بازل د خپل جهد وي په طلب كي د حق لاخطأ اجتهاد الباغي المتكبر الطالب للعلو كابليس عليه اللعنة، او دليل پر دې باندي دادی چي خدای ﷻ پاک چي ملكو ته وويل "اني جاعل في الارض خليفة" ملكو قياساً على الجن ورته وويل "اتجعل فيها من يفسد فيها الآية" نو چونكه دا استفهام او قياس د ملكو د رد د حكم الهي لپاره نه ؤ بلكي خپل ځانونه يې پوه كول په حكمت الهي په خلق كي د ابو البشر صلى الله عليه وسلم، نو ځكه خدای ﷻ دوی مردودي نه كړې لكه ابليس بلكي صرف اشارةً يې دا جواب وركړی "اني اعلم مالا تعلمون"

درويش وايي: چي ډېر ښه ويلي دي هغه چا چي دا شعر يې ويلی دی

صورت خاک ارچه دارد تیره در تیره گی
نیک بنگر کزره معنا صفا اندر صفا است
این همایو ن خاک کاندر وصف او صاحبدلی
نکته گفتش که ازوی دیده جانرا صفا است
جستن گو گرد احمر عمر ضائع کردنست
روی برخاک سیاه آور که یکسر کیمیا است

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وفي المثنوي

گفت نار از خاک بی شک بهتر است | من ز نار او ز خاک اکدر است
پس قیاس فرع بر اصلش کنیم | او ز ظلمت من ز نور زوشنیم
گفت حق بلکه لا انساب شد | زهد وتقوی فضل را محراب شد
این نه میراث جهان پانی است | که بانسا بش بیان جانیست
بلکه این میراث های انبیا است | وارث اینحال جانهای اتقیاست
پور آن بوجهل شد مؤمن عیان | پور آن نوح بنی از گمرهان
زاده خاکی منور شد چو ماه | زاده آتش تو ئی ای روسیاه

پوه سه: چي پور و زوی ته وایي چي له پور ابوجهل څخه عکرمه بن ابوجهل ﷺ مراد دی چي مؤمن و" د پور نوح څخه کنعان بن نوح مراد دی.

قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا

خدای ﷻ وابلیس ته وویل چي ده استکبار مختار کړی. کښته سه له جنت څخه یعني جنت ځای د مستکبرینو نه دی، وقیل من السماً یعني چي په اسمان کي ملائکه کرام اوسېږي نه مستکبر شیطان، وکلمة الفاً لجواب قوله انا خیر منه یعني ان کنت متکبراً فاهبط منها فانها للمتواضعین المطیعین.

فَمَا يَكُونُ لَكَ أَنْ تَتَكَبَّرَ فِيهَا

نه وه وړ او نه وه صحیح تا لره چي تکبر دي کولای په جنت یا په اسمان کي، نو له دې څخه دا معلومه سوه چي تکبر د اهل جنت سره ښایي فانه من خواص الکبیر المتعال ﷻ، او دا هم معلومه سوه چي ابلیس چي خدای ﷻ وشاړه له خپله درباره په سبب د تکبر، قال السعدي الشیرازي

تکبر عزازیل راخوار کرد | بزندان لعنت گرفتار گرد

له عبدالله بن مسعود ﷺ څخه روایت دی چي مسلم راوړی دی قال قال رسول الله ﷺ "لایدخل الجنة احد في قلبه مثقال ذرة من خردل من ایمان (نه سي داخلېدای وجنت ته هیڅ څوک چي په زړه کي یې په مقدار د یوې ذرې د سپلنې وي) فقال رجل الرجل یحب انیکون ثوبه حسناً ونعله حسناً (یو سړي و علیه الصلوٰة والسلام ته وویل چي د هر سړي دا خوښه ده چي کالي یې ښائسته وي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چوتي يې ښائسته وي مطلب دا چې ددې سائل په خيال کې دا وه چې دا به کبر وي) قـال علیـه الصـلوٰة والسـلام ان الله جمیـل یحـب الجمـال (علیـه الصـلوٰة والسـلام وويل چې په تحقيق خداى ﷻ جميل دى يعني په ښوو صفاتو د جمال، نو جمال د بنده يې هم خوښ دى، يعني ښه جامې او ښې چوتې) الکبر بطر الحق وغمط الناس (کبر دادى چې هغه شى چې خداى ﷻ يې حق بولي او دى باطل بولي کتوحيد الله وعبادته لکه ابليس چې خداى ﷻ سجده وه آدم عليه السلام ته حق وګڼل او ابليس غلطه وبلل، او د متکبر خوى دادى چې خلګو په نظر د استهانت او استحقار ګوري يعني په سپکاوي.

درويش وايي: چې پر دې تقدير د تفسير د کبر چې عليه الصلوٰة والسلام وکړى بعض ملايان چې وايي چې دا حديث صرف لپاره د تشديد دى حقيقت يې نه دى مراد غلطه خبره ده، ولې چې پر تفسير مذکور خو داسې سړى کافر دى، نو خود او يقيناً جنت ته نه سي داخلېداى، په متفق عليه حديث کې يعني چې بخاري او مسلم دواړو راوړي دي راغلي دي چې عليه الصلوٰة والسلام وويل چې زه تاسې ته خبر نه درکړم په اهل جنت سره هغه څوک دى چې ضعيف وي يعني بېچاره او خوار وي او خلګ هم د خوارۍ او بېچارګۍ په سترګه ورته ګوري لکن لو اقسم على الله لابره که پر خداى ﷻ قسم واخلي يعني زما دې قسم وي په خداى چې فلانى کار به کېږي يا به سږ کال ښه بارانونه کېږي الى غير ذالک، خداى ﷻ په قسم کې دى حانشوي بلکې هغه کار هغسې کوي، بيت

بر فلک برتر بود اسرار او   شيئاً لله شيئاً لله کار او

عليه الصلوٰة والسلام زياته کړه الا اخبرکم باهل النار کل عتل جواظ مستکبر (زه خبر درنه کړم په اهل النار سره هر جفا کاره يعني ظالم، جواز چې جمع کونکى يعني د مال له لارې چې وي او منع کونکى يعني د زکوٰة وي او متکبر وي.

فَاخْرُجْ إِنَّكَ مِنَ الصّٰغِرِينَ ﴿١٣﴾

ووځه له جنت څخه چې ته له ذليلانو او سپکو څخه يې يعني چې پر خداى ﷻ او پر اولياوو د خداى سپک او ذليل يې چې ستاذم به کوي هر انسان او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پرتا به لعنت وايي هر لسان، په حديث شريف کي راغلي دي چي روايت يې بيهقي کړی دی له عمر ﷜ څخه که چا تواضع او عاجزي مختاره کړه لپاره د خدای ﷻ يعني د خدای ﷻ له مخلوقه سره رفعه الله فهو في نفسه صغير يعني حقير وفي اعين الناس عظيم ومن تكبر وضعه الله (که چا ځان غټ سړی باله يعني په جامعه کي د انسانانو خدای ﷻ به يې کښته کړي "فهو في اعين الناس صغير" يعني دی په سترګو کي د خلګو حقير او سپک سړی وي "وفي نفسه كبير" دده په نفس کي ځان ډېر غټ او محترم سړی ورځي "حتى لهو اهون عليهم من كلب وخنزير" حتى هر آئينه به دی سپک وي پر خلګو تر سپي او تر سرکوزي.

حکایت: يو قاضي يوه ورځ ابو يزيد بسطامي قدس سره ته ورغلی، او ورته وه يې ويل چي زه هغه شيان پېژنم چي ته يې پېژنې يعني توحيد د خدای ﷻ، جنت او دوزخ الى غير ذالک لکن په تاثير يې نه پوهېږم؟ بايزيد ﷫ ورته وويل چي يو اندازه جوز مثلاً يو يا دوه کېلو په توبره کي واچوه او په غاړه يې وځړوه او په ښار کي ناړې وهه چي هر چا چي زه يوه چپلاخه ووهلم يو جوز ورکوم، تر هغو پوري چي جوز خلاصېږي که دي داسي وکړه نو په تاثير به يې پوه سې، قاضي وويل استغفر الله، بايزيد ورته وويل دا استغفار دي بله ګناه وکړه، زه تاته هغه شی درښيم چي تا له کبره خلاص کړي وانت تستغفر من ذالک لكمال كبرک، ابو جعفر بغدادي ﷫ وايي چي شپږ خويه دي چي د شپږ قسمه خلګو سره ناښيا دي (۱) طمع په علماؤ کي (۲) تلوار په حکم کي د اميرانو سره (۳) بخل د اغنياؤ سره (۴) کبر د فقراؤ سره (۵) بې عقله خبري کول د مشائخ سره (٦) لوم پر چا ويل د خاوندانو سره د حسب او رتبې.

درويش وايي: چي دا شپږ سره خويونه په ډکه پېمانه په مسلمانانو کي مروج دي الا من عصمه الله ﷻ، وفي المثنوي.

علتی بدتر ز پندار کمال	نيست اندر جانت ای مغرور وضال
ازدل وازديده بس خون رود	تا زتو اين معجبی بيرون شود
علت ابليس انا خير بد است	اين مرض درنفس هر مخلوق هست

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

گرچه خود را بس شکسته بینداو آب صافی دان وسرگین زیر جو
چون بشوراني مراورا زامتحان آب سرگین رنگ گردد درزمان
درنگ جوهست سرگین ای فتی گرچه جو صافی نماید مرترا

والمقصود ان پند از الکمال درهر نفس ودل موجود است اگرچه او خودرا صاف از پندار گمان وعجب وتکبر صاف می نماید لکن بامتحان حال او پندار کمال درنفس ظاهر میشود چناچه سرگین زیر جو بشوریدن آب جو ظاهر میشود درویش میگوید والامر کک الامن عصمه الله.

قَالَ أَنظِرْنِي إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾

وویل ابلیس هغه چي خدای ﷻ دی له جنت څخه وشړی چي ماته مهلت راکړه یعني اوس مي مه وژنه تر هغه ورځي پوري چي اولاد د آدم ؑ بعث کبري یعني له قبرو څخه غرض يې داو چي تر نفخه ثانيې پوري ما مه وژنه.

قَالَ إِنَّكَ مِنَ الْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾

خدای پاک ابلیس ته وویل چي ته له منظرينو څخه یعني اوس دي نه وژنم.

پوه سه: چي په بل آیت کي د ابلیس د مهلت په باره کي داسي راغلي دي انک من المنظرين الى يوم الوقت المعلوم، وهو النفخة الاولى ده چي په هغه کي به ټول له ژوندي انسانان او ذی روح شيان مري، نو ددې معنا داده چي ابلیس به هم په هغه ورځ مري.

سوال: ابلیس خو په دمخه آیت کي مهلت غوښتی ؤ الى يوم يبعثون پوري چي نفخه ثانيه وه او په هغه بل آیت کي خو مهلت تر نفخه اولى پوري ورکړه سو نو ددې دوو آیتو تر منځ به منافات نه وي؟

ځواب: د شیطان خو غرض په دې مهلت کي داؤ چي وروسته به راسي چي اولاد د آدم گمراه کوم او د حق له لاري به يې د باطل ولاري ته راکاږم، نو په نيږد نفخه اولى چي انسانان ټول له منځه ولاړ سي. نو شیطان په منځ کي د نفختين څوک گمراه کوي، نو د نفخه اولى او د نفخه ثاني پر ابلیس څه فرق دی، نو خود په نفخه اولى کي به ابلیس هم مري، نو گویا د ابلیس مراد له الى يوم يبعثون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿وَلَا تَجِدُ أَكْثَرَهُمْ شَٰكِرِينَ﴾

نو ته به نه کړې پیدا اې خدایه ډېر د بني آدم په قول د ابلیس شاکران یعني مسلمانان.

پوښتنه: ابلیس خو علم غیب نه درلودی نو له څه درکه ده ویل ولا تجدن آه؟

ځواب: د علم او یقین څخه دا خبري نه دي کړی بلکې له ظن څخه لقوله تعالی ولقد صدق علیهم ابلیس ظنه.

سوال: ظن خو منشأ غواړي نو منشأ د ابلیس د ظن څه وه؟

ځواب: ابلیس په ادمیانو کي اسباب د شر ډېري ولیدلې منها الشهوة او د شهوت څخه زنا، لواطت پیدا کېږي، او بل غضب چي له هغه څخه قتل وقتال پیدا کېږي وحب المال چي له هغه څخه سود، رشوت، سرقه، قطع الطریق وغیره پیدا کېږي او امید د خیر ډېر چي عقل سلیم دی نو ځکه یې دا ظن وکړی ولاتجد اکثرهم الآیة، سعدي شیرازي وایي.

ابلیس درحق ما طعنه زد — کز ایشان نیاید بجز کاربد
فغان ازبدیها که درنفس ماست — که ترسم شود ظن ابلیس راست
چو ملعون پسند آمدش قهرما — خدایش بر انداخت از بهرها
کجا سربر آریم ازین عاروننگ — که با او به صلحم وباحق بجنگ

﴿قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا مَذْءُومًا مَّدْحُورًا ۖ لَّمَن تَبِعَكَ مِنْهُمْ لَأَمْلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكُمْ أَجْمَعِينَ﴾

خدای ﷻ ابلیس ته وویل چي ووځه له جنت څخه په داسي حال کي چي محقر او ذلیل به یې یعني عند الله وعند الملائکة وعند الناس. او په داسي حال کي چي ترټلی او لېري به یې د خدای ﷻ له رحمت عامه څخه. لام موطئه د قسم دی یعني قسم په ذات زما دی چي زه به ډکوم جهنم له تاسي څخه. یعني ستا او ستا له اتباعو څخه. په منکم کي یې تغلیب د حاضر وکړی چي ابلیس ؤ پر غالب باندي چي دده اتباع وه.

پوښتنه: څه حکمت الهي دی چي ابلیس ته یې مهلت ورکړی او سره ددې چي شیطان وخدای ﷻ ته داسي موجب د غضب الهي الفاظ استعمال کړه ولاتجد اکثرهم شاکرین؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: من فوقهم خو هم سړی مدعي وژلای سي چي له طیارې څخه دي بمبارې پر وکړي او لاندې تر پښو یې هم وژلای سي چي په لاره کي مین ورته ښخ کړي؟

ځواب: دا مثل د پخواني زماني پر رواج رواره سوی دی. او بعض مفسرین وایي چي من فوقهم یې نه دی وایه له دې سببه چي فوق محل د رحمت الهي دی ابلیس یې مانع نه سي کېدای، او من تحت ارجلهم یې نه دی وایه چي په دې کي د ابلیس ذلت دی.

درویش وایي: چي بغوي رحمه الله وایي په روایت د علي بن طلحه عن ابن عباس رضي الله عنه چي له من بین ایدیهم څخه اخرت مراد دی چي زموږ تولو ورته مخ دی یعني د اخرت په باره کي شکوک په زړو کي وراچوم یعني چي اخرت نسته، او له من خلفهم څخه مراد دنیا ده چي د تولو خلکو ورته شا ده یعني د دنیا په جمع کولو کي من حرام به رغبت ورکوم لکه رشوت، شراب فروشي الی غیر ذالک، او له عن ایمانهم څخه مراد دادی چي زه به امور د دین پر دوی مشتبه کوم. او د "عن شمائلهم" مراد دادی چي زه به د معاصیو شهوت ددوی په زړو کي پیدا کوم کل ذالک بالوساوس.

درویش وایي: چي که څوک داسي دعا هره ورځ کوي "یارب العالمین اعیذ بوجهک الکریم من وساوس الشیطان الرجیم، امن من تلک الوساوس بعون الله الکریم، او عطیه او قتاده په روایت د ابن عباس رضي الله عنه داسي تفسیر کړی دی من بین ایدیهم د دنیا له لاري چي هم دا اوس حاضره ده. یعني دنیا به ددوی په سترګو کي ښائسته کوم تاچه د حلال او حرام فرق نه کوي، او له من خلفهم څخه مراد اخرت دی چي اوس غائب دی لکه د سړي شا یعني دا به یې په زړه کي ورواچوم چي نه بعث بعد الموت سته او نه جنت او نه اور، او له "من بین ایدهیم" څخه مراد حسنات دي یعني له حسناتو څخه به یې مانع ګرځم، او له "عن شمائلهم" څخه مراد سیئات دي یعني پر سیئاتو به یې باعثه کوم چي اخیر یې کفر دی.

درویش وایي: چي دا ټول تفاسیر صحیح او محتمل د عبارت د قرآن عظیم دي والعلم الحقیقي عند من انزل القرآن وذکر فیه هذه العبارة ویعد امثال هذه العبارات من معجزات القرآن الکریم کما لایخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

څخه يوم النفخة الاولى ده، فتامل فهذا سانح عزيز قل من تعرض له، او يا ځواب دادی لکه صاحب د روح البیان چي اشاره ورته کړې ده چي د سوال د ابلیس انظرني الى يوم يبعثون بعض د سوال دده قبول سو يعني النفخة الاولى كمابيين في الآية الاخرى لانه تعالى يعلم غرض ابليس په دې مهلت اغوا د بني آدم او په مابين النفختين کي خو بني آدم نسته چي ابلیس يې ګمراه کړي فيتم مرام ابليس عند النفخة الاولى پوره سو فلهذا يموت هو ايضاً عند النفخة الاولى.

پوه سه: چي مابين النفختين څلوېښت کاله دي چي په منځ کي يې هيڅ موجود نسته من الانس والجن والملک كما حكى الله تعالى اشارةً الى ذالک لمن الملک اليوم ثم يجيب نفسه للواحد القهار.

قَالَ فَبِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَٰطَكَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ١٦

پوه سه: چي كلمه د "فا" لپاره د تعقيب ده يعني بعد امهلتني وكلمة البا للسببية يعني بسبب اغوائک ایای په واسطه د ادميانو اقسم بک وبعزتک زه به کوشش کوم په اغوا کي د آدم د اولاد په هره طريقه چي اغوا وماته ممکنه وي "لاقعدن" جواب للقسم المحذوف يعني زه به لکه قطاع الطريق چي وقافلې ته منتظر وي زه به هم دوی ته داغسي منتظر يم "صراط" يعني په لار کي چي ايمان او اسلام دی.

پوه سه: چي د "صراطک" نصب على الظرفية دی في صراطک چي مستقيمه لاره ده يعني له سلوک څخه د هغې لاري مستقيمي به يې راګرځوم وكفر او ضلالت ته.

ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ أَيۡمَٰنِهِمۡ وَعَن شَمَآئِلِهِمۡۖ

او وروسته به زه ورځم بني آدم ته لپاره د اضلال ددوی له بين څخه د لاسو يعني د مخ د خوا او د شا د خوا او د رسته لاسو ددوی او د چپه لاسو ددوی يعني د ټولو جهتو له خوا لپاره د ګمراه کولو ددوی.

پوه سه: چي دا عبارت بعض مفسرين حمل کوي پر مثال باندي يعني يو سړی چي ده لره مدعي وي نو له هر جهته څخه چي لار پر پيدا کړي وژني يې او د داسي دښمن لاري دغه څلور دي، نو ځکه يې من فوقهم ومن تحت ارجلهم ونه وايه، ولي چي د لوړې خوا او د ښكو لاندي د خوا څخه څوک پر مدعي بری نه سي پيدا کولای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: ابلیس ته یې مهلت لپاره د امتحان د خلګو ورکړی چې په علم ظهور سره چې په منطقو کې یې علم تفصیلي بولي چې څوک به متابعت د حق ثابت من عند الله على السنة الرسل سره د معجزاتو متوافره سره کوي او څوک متابعت د کاذب مطلق په صرف وسوسه بلا حجت کوي مثلاً په ابلیس فرق راغلی په منځ کې د صدیق اکبر رضي الله عنه او په منځ کې د عدو مطلق د خدای ﷻ یعني ابوجهل لعنة الله وهکذا بین جمیع المؤمنین المتبعین للرسل ولکتب الله وبین جمیع الکافرین التابعین لابلیس لعین وهم الکفار باجمعهم. او دغه رنګه د دار الابرار چې جنت دی او دار الاشرار چې جهنم دی د خلګو امتیاز وسي وهذه هي الحکمة للحکیم المطلق.

وَيٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۹﴾

والتقدیر وقلنا یا آدم اوسېږه ته او ستا زوج چې حوا ده په جنت کې. نو خوراک کوئ په جنت کې له هر هغه ځای څخه چې ستاسي خوښ وي. او مه نژدې کېږئ تاسي دغې درختي ته. نو تاسي به وګرځئ د ظالمانو له ډلې څخه.

پوه سه: چې دا وینا و آدم علیه السلام ته هغه وخت خدای ﷻ وکړه چې ابلیس یې له جنته وشاړه. اسکن معنا داده چې لازم الاقامة والسکنی لکن پر طریقه د اباحت او د تکریم لا وجه الوجوب.

فائده: د "انت" لفظ لپاره د تاکید د ضمیر مستتر دی په اسکن کې. ولي چې نحات وایي چې عطف پر ضمیر مستتر نه دی روا بې له تاکیده په ضمیر منفصل سره او یا په فصل سره.

فائده: زوج نر او ښځي دواړو ته شامل دی او په مؤنث کې یې تا راوړل مخالفت دی له قرآن څخه کما ههنا لانه تعالى اراد بالزوج حوا ولم یورد بالتا.

فائده: له جنت څخه جنت متعارف مراد دی چې دار الخلد دی په نېز د اکثر اهل العلم ودلائله مذکورة في کتبهم. او بعض مفسرین وایي چې یو باغ ؤ په اسمان کې چې آدم او حوا یې له دار الخلد جنت څخه و هغه ته راکښته کړه او یا په ځمکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کې چې هغه ډېره لوړه وه تر بقاعو په هغه مځکه کې یو باغ و ذات اشجار مثمرة وظلال ونعیم ونضرة وسرور. دا جنت خدای ﷻ جوړ کړی ددوی د امتحان لپاره.

درویش وایي: چې بعض محققان د علم ظاهر او باطن پردغه رایه دي، دلیل دوی دا وایي چې دوی خدای ﷻ مکلف په تا تاکلوا من هذه الشجرة ولا تکلیف في الجنة المعروفة في الشرع، او دغه رنګه په حدیث شریف کې راغلي دي چې پر آدم علیه السلام خدای ﷻ خوب مسلط کړی حتی چې یوه چپه پښتۍ یې څنې وکښله او د حوا انا ماده یې وګرځول، ولانوم في الجنة المعروفة او له هغه جنته خدای ﷻ وه ایستی، له جنت معروفه وروسته دخول اخراج نسته او دغه رنګه ابلیس ورغلی و هغه جنت ته او ددوی سره یې خبرې وکړې بقوله هل ادلکما علی شجرة الخلد الآیة او ابلیس خو وروسته تر طرد جنت ته نه سي ورتلای.

درویش وایي: چې هغه چې علما او مفسرینو د دخول د شیطان وجنت معروفه ته بیان کړی دی عقل یې مني کذا في روح البیان.

فائده: خدای پاک لاتقربا ووایه او مقصود خو خوراک للمبالغة في النهي عن الاکل کما في قوله تعالی ولاتقربوا الزنی.

فائده: د شجره مشهوره معنا خو داده چې د غنم درخته وه، څوک وایي اینځر وه څوک وایي انګور وه، لکن په اکام المرجان کې وایي چې دا درخته خدای ﷻ په ابهام سره راوړه که یې په تعین سره یو مصلحت وای خدای ﷻ به معینه کړې وای، نو ښه داده چې هره درخته چې وه مقصود ابتلاد د حوا او د آدم وه فلا حاجة الی الاختلاف في تلک الشجرة.

سوال: که دا جنت په مځکه کې وای نو ددې آیت به څه معنا وای چې "اهبطوا" ولې چې هبوط له لوړ ځایه کښته ځای ته ورتلو ته وایي؟

ځواب: علما کرام وایي چې موږ دمخه وویل چې دا باغ د مځکې پر یو لوړ ځای و، نو د هبوط معنا داده چې ارض الهند ته ولاړ سئ.

فائده: د "تکونا من الظالمین" تاسي به وګرځئ له ظالمانو څخه پر خپلو ځانو چې له نعیم الجنة څخه به محروم سئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي د راتلونکو آيتو تفسير پر مذهب د جماهيرو د مفسرينو دی او ددوی د تأويلاتو او توجيهاتو موږ په تفسير کي د سورة بقره په تفصيل ذکر کړی اوس صرف ترجمه د آيتو بيانېږي.

فَوَسْوَسَ لَهُمَا الشَّيْطٰنُ

بوه سه: چي وسوسه حديث النفس والشيطان ته وايي مما لانفع فيه كذا في القاموس او لام په لهما کي لپاره د اجل دی يعني لاجل تخطيتهما بالوقوع في اكل الشجرة المنهي عنه.

لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وٗرِيَ عَنْهُمَا مِنْ سَوْاٰتِهِمَا

چي ښکاره کي شيطان هغه ځای چي پټ کړه سوی ؤ له عوراتو څخه ددوی.

بوه سه: چي عورت ته سوئت وايي په دې سبب چي لڅوالی د عورت سری په غم کي اچوي، او آدم او حوا نه هر يوه وخپل عورت ته او نه يې يو د بل عورت ته سره کتل لپاره د آدب.

مسئله: له دې آيت څخه دا معلومه سوه چي کشف د عورت په خلوت وعند الزوج من غير حاجة لکه خريل په خلوت يا عند الزوج وقت الجماع بد کار دی طبعاً وعقلاً. اوس بيان د شيطان د وسوسې کوي.

وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ۝

تاسي نه ياست نهي کړي رب ستاسي له دې درختي څخه يعني له اکل څخه د مېوې ددې درختې. مګر نه ددې لپاره چي خدای مکروه بولي چي تاسي دي ملکي سئ او دا معنی د الا أن تكونا ملكين. او يا ددې لپاره چي تاسي به همېشه ژوندي ياست مرى به نه. ولي چي دا درخته شجرة الخلد بولي چي څوک خوراک څني وکړي هغه به همېشه ژوندی وي مري به نه.

پوښتنه: ملکيت څه د رغبت شی ؤ چي شيطان ودوی ته پېش کړی او سره ددې چي آدم عليه السلام خو په دې پوهېدی چي زه تر ملکو افضل يم چي ملکي خدای ﷻ ماته په سجده مأموري کړي؟

ځواب: د ملکو بعض کمالات سته چي په انسان کي نسته لکه په خپلو وزرو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره هر ځای تلل کوي في ادنی وقت وغیر ذالک لکن دا تفضیل جزي دی تفضیل په کثرة الثواب په عبادت کې او په اقربیت الی الله ﷻ وخواص البشر افضل دی تر خواصو د ملکو في هذا الباب کما تقرر في کتب العقائد. نو شیطان دا تفضیل جزوي د آدم په زړه کې بنه ورواچاوه.

وَقَاسَمَهُمَا إِنِّي لَكُمَا لَمِنَ النَّاصِحِينَ ﴿٢١﴾

او ابلیس قسم بالله ورته واخستی چې په تحقیق زه تاسي لره هرو مرو نصیحت کونکی یم.

بوه سه: چې شیطان د آدم عليه السلام د خطا ایستلو لپاره څو مره موکده خبره ورته وکړه، اول قسم بالله بیا تاکید په ان سره بیا لام د ابتدائیه ذکر کړی تاچې د آدم او د حوا وزړه ته ولوېږي دده خبره.

بوه سه: چې "لمن الناصحین" جواب د قسم دی قال قتاده رحمه الله چې ابلیس په قسم بالله سره آدم او حوا خطا ایستله او مومن ګاهي په قسم بالله سره خطاوزي، او شیطان دا هم ورته وویل چې زه تر تاسي دمخه پیدا سوی یم او زه د هري درختي د میوې په خواصو خبریم تاسي زما متابعت وکړئ په خورک کې د میوې د شجرة الخلد.

فائده: ابلیس چې قسم بالله کاذباً اخستی دی او د آدم عليه السلام دا خیال سو چې قسم بالله کاذباً هیڅ څوک نه اخلي ځکه یې د شیطان په خوله وکړه.

فَدَلَّاهُمَا بِغُرُورٍ

دوی یې خطا ایستل په باطل قول سره، او بعض مفسران وایي چې فَدَلّٰهُمَا دوی دوی راکښته کړه له خپلي درجه عالیه څخه ودرجه سافل ته یعني من مقام الطاعة الی مقام المعصیة.

فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْآتُهُمَا

چې دوی صرف خوند وڅکی او د اکل یې نوره اراده وه او پوره اکل یې نه وکړی یعني ځانونه یې نه وه په ماړه کړي چې عقوبت پر راغلی او شوم د معصیت دوی ونیوله چې کالي ځني توی سوه او بربنډ سوه دواړه کالي ځني توی سوه. او ښکاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سول ودواړو ته فرجین ددوی یعني ري کل واحد فرجه وفرج الآخر نو دوی وشرمېدله.

وَطَفِقَا يَخْصِفٰنِ عَلَيْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ

نو دوی شروع وکړه چې پټول یې عورات خپل ویلزقان علیهما له درختي څخه د جنت چې د اینځر بلګونه وه حتی چې فرجین یې په پټ کړه.

وَنَادٰىهُمَا رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّيْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ

وناداهما یعني نعره وکړه خدای ﷻ پر دوی آیا ما نه واست تاسي نهي کړي له دغي درختي څخه یعني له خورکه، او ما تاسي ته نه وه ویلي چې په تحقیق شیطان ستاسي دښمن دی او بین العداوة یعني ولي مو خورک کاوه او ولي مو د شیطان په خوله کوله یعني شیطان داسي نه وه ویلي لاقعدن لهم صراطك المستقیم.

پوه سه: چې په دې آیت کي عتاب او سرزنش دی و آدم او حوا ته پر مخالفت د نهي، او توبیخ دی چې په قول د دښمن مبین مو ولي کول.

فائده: په دې آیت دلیل دی چې نهي مطلق لپاره د تحریم دی والا لما تترتب علی فعل آدم وحوا مایترتب یعني بدئت لهما سوأتهما آه هذا ماقاله المظهري.

درویش وایي: چې حفظ د مراتبو د مرتکب د منهي عنه یې په کار دی چونکه مرتبه د آدم علیه السلام په نبز د خدای ﷻ ډېره لوړه وه چې ملکي یې وده ته په سجده سره امر کړې، نو دداسي شخصیت مکروه تنزیهي هم سبب د ماجری علیه کېدای سي ولهذا ورد حسنات الابرار سیئات المقربین.

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ

آدم او حوا وویل اې زموږ ربه ظلم وکړی موږ پر خپلو ځانو یعني ضرر د معصیت موږ ته راجع دی که ته موږ ته بخښنه ونه کړې او پر موږ رحم ونه کړې، نو هر آئینه موږ به وګرځو له هغو کسانو هالکینو څخه په سبب د معصیت.

پوه سه: چې مظهري دمخه ویلي وه چې دا آیت ددې دلیل دی چې نهي مطلق لپاره د تحریم دی، او اوس یې داسي ویلي دي فیه دلیل علی ان الصغائر معاقب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علیها ان لم تغفر، نو صغائر گنهونه خو په نهي تحریمي سره نه وي ثابت. ولي که نهي د تحریم وي خو بیا گناه کبیره وي بل غایة امر الصغائر النهي التنزیهي.

تبصره: بعض ناپوهان خلگ وایي چي آدم علیه السلام چي اکل من الشجرة نه وای کړی، نو اولاد به یې د دنیا په خوارۍ نه وای اخته لکن دا خبره غلطه ده، ولي چي جنت ځای د توالد او تناسل نه دی، نو نور انسانان به چېرې وای.

پوښتنه: حکمت الهي څه وُ چي آدم او حوا یې اکل څخه د شجرة منع کړل، بیا چي له دوی څخه دا ذلت صادر سو، نو امر د اهبطوا یې ورته وکړی؟

ځواب: د آدم علیه السلام تر خلقت دمخه خدای ﷻ د ملکو سره په مشوره کي ویلي وه "اني جاعل في الارض خلیفة قالوا اتجعل" نو که دا ذلت له آدم علیه السلام څخه نه وای صادر سوی، نو ډېره به آدم او حوا ته گرانه تمامه سوې وای، چي له جنت غوندي ځایه څخه به سپېرې مځکي ته راشوه کېدای، او وروسته تر ذلت په امید د مغفرت ومځکي ته په ډېره خوشالۍ راکښته سوه چي د اهبطوا امر ورکړه سو لکه پښتانه چي وای په مرگ یې ونیسه په تبه یې راضي کړه، او آدم وحوا ومځکي ته په راکښته کېدو کي څه تاوان وکړی که په جنت کي وای خو دوه په دوه به وای چي له جنت څخه را ووتله بیر ته په ورځ د آخرت به د کروړو او ملیارو اولادو سره چي په جمله کي د هغو به یو لک او څلیرویشت زره زیات او کم پیغمبران وي، او د نورو جنتیانو یوازي خدای ﷻ علم لري، له یو عارف څخه چا پوښتنه وکړه چي آدم علیه السلام ولي په جنت کي د غنم دانه وخوړل؟ عارف ورته وویل چي آدم علیه السلام نه وُ خبر چي زما په اولاد کي به نور محمدي هم وي، نو که خبر وای غنم به یې د درختي سره خوړلای وای.

قَالَ اهْبِطُوا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ

خدای پاک وویل آدم او حوا ته چي کښته سئ له اسمانه څخه ومځکي ته چي بعض ستاسي به دښمن وي د بل بعض.

پوهسه: چي مخاطب په دې امر سره آدم او حوا دي او جمعیت د ضمیر د اهبطوا په اعتبار د اشتمال ددې دوو پر اولاد د دوی، او بعض مفسرین وایي چي خطاب وِ آدم، حوا او ابلیس ته دی دا خبره نازیبا ده، ولي چي ابلیس خو دمخه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اهبطوا امر سوی او چا چي توجیه د معیت د ابلیس کړې ده بقوله کرر الامر تبعاً
آه عقل یې نه مني.

یوه سه: چي "بعض کم عدو لبعض" په تأویل د مفرد حال دی له ضمیر څخه
د اهبطوا ای متعادین.

درویش وایي: چي عداوت د اولاد د آدم عليه السلام دده په ژوند شروع سوی دی
چي د هابیل او قابیل تر منځ ؤ کما نص به القرآن چي قابیل هابیل مړ کړی هغه
وخت چي آدم عليه السلام حج ته تللی ؤ، ثم وثم الی یوم القیامة. اول عداوت خو د
مسلمانانو او کافرانو تر منځ دی، بیا وروسته په مسلمانانو کي قبیله وي او
عقیده وي او حزبي او وطني عداوتونه موجود دي کل ذالک ظاهر لادنی عاقل.

وَلَكُمْ فِي الْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَاعٌ إِلَىٰ حِينٍ

او تاسي لره په ځمکه کي استقرار سته، که مستقر مصدر میمي وي او یا
ځای د قرار سته که ظرف وي او تمتع او نفع اخستل سته تر یو وخته پوري الی
ان قضا آجالکم.

قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ

خدای پاک وویل چي تاسي به په ځمکه کي ژوند تېروئ او په ځمکه کي به مرئ
او له ځمکې څخه به راوزئ للجزا یعني یوم القیامة. بغوي رحمه الله وایي چي عربو به
د جاهلیت په دور کي پر بیت الله شریفي باندي طواف نر او ښځو په لڅه سره کاوه او
دوی به ویل چي موږ په هغو کالو کي طواف نه کوو چي موږ معصیت پکښي کړی
وي لکن نرو به د ورځي طواف کاوه او ښځو به د شپې فنزلت هذه الآیة.

يَا بَنِي آدَمَ قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا

ته ووایه اې محمد صلی الله علیه وسلم اې اولاده د آدم موږ نازل کړی دی یعني پیدا کړی مو
دی په اسباب سماویه سره لکه باران چي وسي پسونه وړی وکړي یا کتان راشنه
سي، نو له هغو تاسي جامې جوړوئ، نو ځکه یې انزلنا ووایه کالي چي پټوي دا
کالي ستاسي عورت نو تاسي ولې په لڅ بدن طواف کوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي له خلق څخه تعبیر په نزول په بل ځای کي د قرآن کریم هم راغلی دی، کما في قوله تعالی وانزلنا الحدید، وانزلنا لکم من الانعام، نو وسپنه یا انعام خو له اسمانه نه دی نازل سوی بلکي معنا يې داده چي خلقنا لکم الحدید وخلقنا لکم من الانعام.

پوه سه: چي "وریشاً" عطف دی پر لباساً باندي "ریش" په لغت عربي کي ملبوسات فاخره ته وايي یعني د زینت کالي چي اغوستونکی يې فخر په کوي، موږ نازل کړی دی داسي لباس چي ستاسي صرف عورت په پټېږي یعني د فخر نه وي، او نازل کړی مو دی داسي لباس چي تاسي فخر په کوئ او ځانونه په ښائسته کوئ په اعناد وغیره کي.

وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ذٰلِكَ خَيْرٌ

پوه سه: چي "لباس التقوی" اضافت دی مشبه به ومشبه ته، یعني تقوی چي لکه کالي داسي دي له "لباس التقوی" څخه بهره د خدای ﷻ ده. او قتاده رحمه الله وايي چي مراد ځني عمل دی یعني لکه په جامه چي سړی د حر وبر څخه ساتل دغه رنګه په تقوی یا عمل صالح سړی د حر د جهنم او د بر د زمهریر ساتل کېږي

فائده: لباس التقوی مبتدأ ده او جمله د "ذالک خیر" يې خبر دی لان الرجل الفاجر وان کان لابس الثیاب الفاخرة ولکن عریان في الحقیقة، بیت

قلندر ان حقیقت به نیم جو بخرند		قبای اطلس آن کس که از هنر عاریست

ذٰلِكَ مِنْ اٰيٰتِ اللّٰهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٢٦﴾

دغه انزال اللناس د آیاتو د فضل او رحمت د خدای ﷻ دی ددې لپاره چي خلګ به ددې نعمت الهي شکر ووايي.

فائده: اصل د "یذکرون" یتذکرون وُ تا په ذال کي مدغمه سوه.

مسئله: لغ والی د عورت په خلوت کي هم مکروه دی، او مېړه او ماینه چي جماع سره کوي چي دواړه عریان وي وي هم مکروه دی. او حمام ته ورتله بېله لنګه وهلو هم مکروه دی که څه هم جلا خونه وي. او یا که په ویاله کي لمبېږي که څه هم ویاله تر نامه پوري وي، بېله لنګه مکروه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يٰبَنِيٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا

اى اولاده د آدم، ذكر بني دى مراد ځني مطلق اولاد دى كه نر وي او كه ښځي په فتنه كي وانه چوي تاسي شيطان يعني تاسي دي خطأ نه باسي او گمراهان، كافران او عاصيان چي د جنت د دخول مانع مو نه سي لكه په فتنه كي چي واقع كړى ستاسي پلار او مور. نو په لفظ كي ابويكم تغليب دى د اب پر ام باندي او له جنته يې راويستل په سبب د خوړلو د درختي منهي عنها څخه لان المخرج من الجنة وان كان هو الله لكن السبب هو وسوسة الشيطان كمامر. نو ځكه يې نسبت د اخراج وه شيطان ته وكړى چي شيطان كالي ځني وكښل په سبب د خوراك د درختي منهي څخه چي سبب يې وسوسه د شيطان وه وان كان منزع الثياب هو الله تعالى تاچه په دوى وويني عورات يو د بل وقدمر من قبل قريباً.

پوه سه: چي په "كما اخرج" غايت تحذير دى د اولاد د آدم عليه السلام من اغوأ الشيطان. ولي چي شيطان چي قادر سو پر اغوأ د ابويكم نو ستاسي پر اغوأ خوبه قدرت لري "ينزع لباسهما" حال دى من ابويكم.

اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ

په تحقيق شيطان تاسي ويني په سبب د غلظت او د كثافت ستاسي د اجسام لفظ د هو تاكيد دى د ضمير مستتر په يراكم كي ليعطف عليه وقبيله كما هو القانون النحوي. او مراد له قبيل څخه ذريت او اولاد د شيطان دى له تاسي څخه تاسي دوى نه وينئ لغاية رقة ولطافة اجسامهم كمالا يرى الهوا لغاية اللطافة. قال ذو النون المصري قدس سره هو اى الشيطان من حيث لاتراه يا ابن آدم فاستعن. نو ته كومك وغواړه پر شيطان باندي په هغه چا سره چي شيطان ويني وهو الواحد الستار.

فائده: كه څوك داسي دعا ورد وگرځوي يارب العالمين اعوذ بوجهك الكريم من الشيطان الرجيم امن من وساوس الشيطان.

درويش وايي: چي وقد جربته في عين حال الوسوسة فرد الله تعالى تلك الوسوسة الواقع انا فيها بعونه تعالى والشرط حضور القلب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: که شیطان او جن په خپل صورت اصلي کې وي خو موږ یې نه وینو او که دوی صورت بدل کړی یعني په صورت کثیف کې سوه بیا یې موږ هم لیدلای سو کمایدل علیه الحدیث الذي رواه البخاري وغیره ان رسول الله ﷺ وظف اباهریرة رضی الله عنه علی جمیع صدقات الفطر ای حفظها في شهر رمضان قال ابو هریرة رضی الله عنه بینا انا نائم انتبهت بان رجلاً یاخذ من صدقة الفطر في وعائه فاخذته الی اخیر الحدیث الطویل.

إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ۝

موږ ګرځولي دي شیطانان دوستان د هغو کسانو چې ایمان نه راوړي، ولې چې د شیطانانو او انسانانو تر منځ تناسب سته په اتباع کې د باطل والنافر من الحق، او یا په دې معنا چې شیطانان مسلط دي او خدای ﷻ تمکین او قدرت ورکړی پر کافرانو.

وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً

او چې کفار مکه وکړي فاحشه، فاحشه هغه ګناه ته وایي چې نهایت ته د قبیح رسېدلې وي وذالک هو الشرک، او ابن عباس او مجاهد چې فاحشه طواف عریاناً ته وایي او ظاهره داده چې مراد ځنې مطلق کبیره ګناه ده.

قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءَنَا وَاللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا

دوی وایي چې ناصح نصیحت ورته کوي او له هغې فاحشې څخه یې منع کوي چې موږ پیدا کړي دي پر دغه فاحشه باندې خپل ابا، مراد له ابا څخه معنی د شامل و اجدادو ته، او خدای ﷻ موږ امر کړي یو په دغه فاحشه سره. اول دلیل یې تقلید د آباؤ دی او دوهم دلیل افتراً علی الله ده، او خدای پاک په جواب کې د اول دلیل څخه دده په دې ځای کې اعراض وکړی، او د دوهم دلیل یې جواب ورکړی که څه هم په بل ځای کې د اول دلیل هم جواب ورکړی دی بقوله اولو کان آبائهم لا یعقلون شیئاً ولا یهتدون الآیة او د دوهم جواب دادی.

قُلْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ

ته ورته ووایه چې خدای ﷻ سړی نه امر کوي په فحشاً سره لانها قبیحة والامر بالقبیح قبیح والله تعالی منزه عن الافعال القبیحة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾

آیا تاسي وایاست پر خدای ﷻ هغه شی چي تاسي علم نه پر لرئ والاستفهام للانكار ای لا تفعلوا ذالک، والدليل عليه دادئ چي طريق د علم یا اوریدل دي له خدای ﷻ څخه ابتداً بیله وساطته د رسول ﷺ، وانتفائه ظاهر لان مع الله بدون واسطة الرسول والملک عسیر جداً لم تیسیر الا الاحالد من الانبیاً فكيف مع هؤلاً الكفرة والفجرة، او یا په واسطه د نبي وي وهؤلاً الكفرة المشركين نبوة على الاطلاق فكيف يقولون والله امرنا بها.

قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ

ته ورته ووایه کفارو ته د مکې چي زه امر کړی یم خدای زما په قسط سره، ابن عباس ﷺ او ضحاک رحمه الله د "قسط" ترجمه په لا اله الا الله اعني توحيد سره کړې ده، او بعض رواتو یې ترجمه په عدل سره کړې ده يعني التوسط بين طرفي الافراط والتفريط.

وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ عِندَ كُلِّ مَسْجِدٍ

دا آیت یا مقوله د قول محذوف ده ای قال اقیموا او یا مقوله د قول مذکور ده يعني "وقل اقيموا وجوهكم آه" په هر صورت مراد اخلاص دی په سجده کي من قبيل ذكر الجز وارادة الكل ای الصلوة کله په نېز د هر وخت لمانځه او عند کل مكان السجود، يعني مسجد یا ظرف زمان دی یا ظرف مکان دی والاقامة المذكورة هـ هو المعبر بالاحسان على ماجاً في الحديث الطويل المروي في البخاري الاحسان ان تعبد الله كانه تراه فان لم تكن حاضر سو، تو په دغه مسجد کي به لمونځ کوئ دا به نه وای چي ځم په خپل مسجد کي لمونځ کوم وبه قال ابو حنیفة رحمه الله لكن كه دغه سړی امام و د خپل مسجد او یا داسي سړی و چي دده په حضور سره لمونځ د بل مسجد خلل پیدا کاوه تو هغه خروج روا دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَادْعُوْهُ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ ۙ

او تاسي عبادت کوئ د خدای ﷻ په داسي حال کي چي اخلاص درلودونکي یاست د خدای ﷻ سره په دین یعني په عبادت کي یعني عبادت به مو خلاص وي له شرک جلي او شرک خفي څخه چي ریأ او سمعه ده ، بیت

بروی وریا خرقه سهلست دوخت وگر باخدا درفروشی نکوست

كَمَا بَدَاَكُمْ تَعُوْدُوْنَ ؕ

لکه په ابتدأ کي چي تاسي من تراب ثم من نطفة پیدا کړي یاست تاسي به راگرځئ احیاً بعد الموت فیجازیکم باعمالکم، وقیل کما بدأناکم حفاة عرات ناسنته کړي بیرته به هغسي ژوندي کېږي، دلیل د قیل د مذهب هغه حدیث د عائشي ﷺ دی چي روایت یې بخاري او مسلم کړی دی، دې وویل چي رسول الله ﷺ وویل چي تاسي به حشر کېږي په ورځ د قیامت حفات "لڅي پښې" عرات" لغړ یغ" قالت الرجال والنسآ" نر او ښځي دواړه "ینظر بعضهم الی بعض" چي نر او ښځي به یو د بل عورت ته سره گوري "قال علیه الصلوٰة والسلام یا عائشة الامر یومئذ اشد من ذالک" حال د ورځي د قیامت سخت دی تر دې چي نر دي د ښځي عورت ته وگوري یا دي ښځه د نر عورت ته وگوري یعني هر سړی په خپل غم اخته وي.

فَرِيْقًا هَدٰى وَفَرِيْقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلٰلَةُ ؕ اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيٰطِيْنَ اَوْلِيَآءَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ۝

یوه ډله به پر هدایت وي په سبب د هدٰی د خدای ﷻ او اعمال صالحه به وي په توفیق د خدای ﷻ یعني په دنیا کي، او بله ډله به ثابته پر گمراهي او کفر به مقتضي د قضأ الهي په دنیا کي، دې دویمي ډلي شیطانان خپل خپل دوستان گرځولي وه ماسوی له خدایه یعني په قول د شیطانانو یې کفر او شرک مختاره کړی او توحید د خدای ﷻ یې نه کاوه او دوی گمان کاوه چي مونږ پر هدایت یو په بت پرستی او په عصیان کي د خدای ﷻ.

یوه سه: چي جهل د کافر عذر نه سي کېدای، او مخطئ او عامد سره برابر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي په استحقاق د دوږخ كمايدل عليه الآية المذكورة، په روايت كي د مسلم راغلي دي چي يوې ښځي په جاهليت كي طواف كاوه ټوله بدن يې لڅ ؤ صرف پر فرج باندي يې يو ټوكر ؤ او دې به دا شعر وايه.

اليوم يبدؤ بعضه او كله ومابدا منه فلا احله

نو دا آيت نازل سو.

يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ

اې اولاده د آدم عليه السلام ذكر خاص مراد ځني عام دی يعني كه ابن وي او كه بنت تاسي اخلئ خپل د زينت كالي په نيز د هر مسجد كه په مسجد كي طواف كوئ او كه لمونځ.

درويش وايي: چي مراد له زينت څخه دومره كالي دي چي عورت په پټ وي باجماع أهل التفسير كه څه هم يو اوږد قميص وي.

وَكُلُواْ وَٱشۡرَبُواْ وَلَا تُسۡرِفُوٓاْۚ إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ ۝٣١

او خورئ غوښي او نور حلال شيان او څښئ او اسراف يعني تر حدود د خدای تجاوز مه كوئ په تحريم د ما احل الله لكم من اللحم والدسم وزينة اللباس وغير ذالک، په تحقيق خدای جل جلاله خوښ نه لري مسرفان خلگ الذين يفعلون ذالک ای لن يريضى الله بفعلهم ذالک. قال ابن عباس رضي الله عنه كل ما شئت والبس ماشئت ما اخطائتک خصلتان شرک ومخيلة اخرجه ابن ابي شيبة. يو روايت راغلی دی چي هارون رشيد يو شخصي طبيب درلودی چي په دين نصاری ؤ او ډېر حاذق طبيب ؤ، او هغه طبيب و علي بن الحسين بن الواقد ته وويل اليس في كتابكم شئ من علم الطب مع ان العلم علمان علم الاديان وعلم الابدان فقال له علی قد جمع الله في كتابه في نصف آية الطب كله وهو قوله تعالى كلوا واشربوا ولا تسرفوا، نصراني طبيب ورته وويل چي آيا ستاسي له رسول څخه په علم طب كي يو شی مروي سته؟ فقال علي رحمه الله قد جمع رسولنا الطب كله في الفاظ يسيرة، حيث قال المعدة بيت الداء، والحمية يعني پرهېز كول رأس كل دواء، واعط كل بدن ماعودته. فقال النصراني الطبيب ماترک كتابكم ولانبيكم لجالينوس شيئاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي بعض قريش وبني عامر بن صعصعة وبعض بطون بني كنانة لايأكلون اللحم ولايأتون البيوت الا من ادبارها. او د زينت كالي يې هم نه اغوستله، فنزلت هذه الآية.

قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللّٰهِ الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ

ته ورته ووايه اې محمد ﷺ انكاراً على هؤلاء المذكورين چي چا حرام كړې دی زينت د خدای ﷻ اي الثياب الفاخرة وسائر مايتجمل بها هغه كالي چي خدای را ايستلي دي يعني اصول د هغو ثيابو كالقطن والكتان من الارض والصوف من الغنم والقز يعني وريښم من الدود. او را ايستلي يې دي طيبات د رزق والطيبات المستلذات لكه خرما، انار، انګور وغيرها يعني لم يحرم خالقها ومالكها او هيڅ قدرت پر تحليل او تحريم هيڅ څوک بې له خدايه نه لري فما لهؤلاء يحرمون الثياب في الطواف واللحم والدسم في الحج والسوائب والوصيلة وغير ذالك.

فائده: له دې آيت څخه چي اصل في المطاعم والمشارب والثياب الحل دي مالم يثبت تحريمها من الله ورسوله لكه د ميتة غوښي او يا د ما احل لغيره في المطاعم او يا خمر په مشاربو كي يا وريښمينه جامه د نرو لپاره الى غير ذالك.

قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً

ته ورته ووايه اې محمد ﷺ چي دغه زينت او طيبات لپاره د هغو كسانو دي چي ايمان يې راوړی وي په دنيا كي خالصتاً حتى چي دوی نفع پر واخلي او شكر د خدای ﷻ ووايي پر دغو شيانو او پر عبادت د خدای ﷻ قوت پيدا كړي.

سوال: كافران خو هم په شيانو كي ورسره شريكان دي بلكې بعض كافران په دغو شيانو كي تر مؤمنانو زيات دي، نو دا شيان څرنګه خالص دي د مسلمانانو لپاره؟

ځواب: خدای ﷻ كفار هم ورشريكان كړي دي تبعاً للمؤمنين د ابتلا او امتحان د دوی.

پوه سه: چي "خالصة" په نصب سره حال مقدرة يعني مقدرين الخلوص من الغم والامراض.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ كَذَٰلِكَ نُفَصِّلُ ٱلۡأٓيَٰتِ لِقَوۡمٖ يَعۡلَمُونَ ﴿٣٢﴾

د قيامت په ورځ، واما في الدنيا فهذه النعم منغصة بالآلام ومشوبة بالمصائب. داغسي مونږ تفصيل د آياتو کوو، يعني جلا والی د حلال او حرام کوو حيث امرنا باتيان الحلال وترک الحرام ومنع الاسراف وسائر الاحکام الدينية د هغه قوم لپاره چې دوی پوهيږي چې خدای ﷻ يو دی شريک نه لري.

قُلۡ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ ٱلۡفَوَٰحِشَ مَا ظَهَرَ مِنۡهَا وَمَا بَطَنَ

ته ورته ووايه اې محمد ﷺ نه دي حرام کړي رب، مګر حرام کړي يې دي هغه ګنهونه چې قباحت يې ظاهر وي کطواف الرجل عرياناً بالکعبة، وقيل کالزنا علانية. او که باطن وي کطواف الکعبة ليلاً النسوة وقيل کالزنا سراً.

وَٱلۡإِثۡمَ وَٱلۡبَغۡيَ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ

اى مايوجب الاثم والمعصية کسائر المعاصي، او ظلم يا کبر بې له حقه.

پوه سه: چې دا تعميم بعد التخصيص دی، او ضحاک رحمه الله وايي چې اثم هغه ګناه ده چې حد شرعي نه لري.

سوال: ظلم او کبر خو په اثم کې داخل وه، نو د جلا راوړلو يې څه فائده؟

ځواب: لپاره د مبالغې في النهي عنه، او بعض مفسرين وايي چې مراد له بغي څخه ياغي کېدل دي د سلطان عادل نه، او "بغير الحق" تاکيد دی د "بغي"

وَأَن تُشۡرِكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗا

او دا يې حرام کړی دی چې تاسې شريکوئ د خدای ﷻ سره هغه شی چې بتان دي چې د هغه پر اشراک باندې کوم دليل نه وي.

پوه سه: چې دا قيد اتفاقي دی احتراز د هغه نه دی چې پر اشراک يې دليل وي چې هغه اشراک روا دی، ولې چې اشراک د خدای ﷻ ممتنع دی ولا دليل على الممتنع.

وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿٣٣﴾

او دا چې تاسې وايئ پر خدای ﷻ باندې هغه شی چې تاسې علم نه پر لرئ کالولد وتحريم مالم يحرم ځکه چې پر شي دليل نه لري او په هغه حکم کوي دې ته تحکم وايي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ فَإِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ لَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ ﴿٣٤﴾

او هر امت لره د کافرانو اجل معین په علم کې د خدای ﷻ لپاره د نزول د عذاب پر دوی، نو امت کفار مکه دي هم پوه سي چي دوی لره هم اجل معلومه سته د عذاب لکه په بدر کي چي پر دوی نازل سو چي اوو یا کسه صناديد د دوی په قتل ورسېدله په شمول د طاغي اعظم یعني ابوجهل.

چي اجل معلوم في علم الله راورسېږي نه سي دوی ځنډېدلای یو ساعت یو اقصر او کوتاه وخت که څه دوی مهلت وغواړي، او نه د مخه کېدای سي دا اجل تر خپل وخته پوري که څه هم دوی د مخه والی وغواړي لکه دوی چي به ویل که دا دین د اسلام حق وي موږ خو یه نه منو، نو پر موږ دي ډبري وورېږي د اسمان له خوا څخه، او یا دي یو بل عذاب اليم راباندي مسلط کړي.

يَا بَنِي آدَمَ إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ عَلَيْكُمْ آيَاتِي

اې اولاده د آدم که چېري راسي وتاسي ته رسولان ستاسي له نوع څخه یعني هغه هم انسانان وي او بیان درته کوي زما د آیتو پر تاسي.

پوه سه: چي اصل د "اما" انما" ؤ او ان شرطیه دی، او ما زائده دی لپاره د تاکید د نون شرط، نو یې ځکه فعل شرط مؤکد کړی په نون ثقیله سره.

سوال: ایتان الرسل خو یقیني ؤ، نو څه حکمت دی چي خدای ﷻ په ان شرطیه چي د شک دی راوړی؟

ځواب: تنبیه یې پر دې وکړه چي ارسال الرسل پر خدای ﷻ واجب نه دی بلکي دا یې تفضل او احسان دی پر بندګانو باندي.

فَمَنِ اتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٥﴾

پوه سه: چي "فمن اتقی" جواب دی د شرط. یعني هغه څوک چي ځان وساتي له شرک څخه او له تکذیب څخه د رسولانو او عمل صالح وکړي یعني خالصاً لپاره د خدای ﷻ، نو بېره نسته پر دوی حین یخاف الناس في القبر او یوم القیامة، او نه به دوی غمجن وي چي کفار دوږخ ته استوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَاسْتَكْبَرُوا عَنْهَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٣٦﴾

او هغه کسان چي تکذیب وکړي د آیتو زمونږ چي په کتاب کي مو نازل کړي دي او طلب د کبر وکړي له آیاتو څخه یعني عن الایمان بها، نو دغه کسان ملازمان د دوږخ دي. او دوی به په دوږخ کي همېشه وي یعني ابداً.

پوه سه: چي په دمخه آیت کي ضمیر د جمع په "علیهم" کي په اعتبار د معنی د "من" دی که څه هم لفظ مفرد دی.

فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِآيَاتِهِ ۚ

الاستفهام للانکار. یعني نسته لوی ظالم تر هغه چا چي په قصد دروغ وایي پر خدای ﷻ.

پوه سه: چي کذباً مفعول مطلق دی د افتری. وذالک الافترا یا داده چي خدای پاک لره شریک یا ولد ووایي یا ملائکه بنات الله وبولي. او یا دادی چي تحریم د سوائب وامثالها د خدای ﷻ په امر وبولي یا طواف عریاناً مامور به د خدای ﷻ وبولي یا عیسیٰ ابن الله وبولي.

فائده: دا یت په عموم سره شامل دی روافضو ته هم چي دوی وایي چي د قرآن لس جز نور هم وه چي صحابه وو له قرآن څخه ساقط کړي دي.

مسئله: قائلین ددې قول کافران دي بالاجماع لقوله انا انزلنا القرآن وانا له حافظون. او بل چي موجود قرآن کریم دی د اصحاب کرامو ﷺ په اجماع سره ثابت دی الی یومنا هذا.

أُولَٰئِكَ يَنَالُهُمْ نَصِيبُهُمْ مِنَ الْكِتَابِ ۖ

دغو کسانو ته به ورسېږي في الدنیا برخه د کتاب یعني مماکتب لهم في صحف الملائکة الموکل بهم من الارزاق والتمتعات والاعمال والمکاسب والمصائب والآجال. او بعض مفسرین وایي چي مراد له کتاب څخه لوح محفوظ دی والله اعلم بمراده في کتابه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ ۙ قَالُوْٓا اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ؕ

تر هغه وخته پورې چې ودوی ته راسي رسولان زموږ يعني ملک الموت واعوانه چې قبض د روحانو ددوی کوي "قالوا آه" جواب د "اذا" دی يعني عزرائيل او اتباع دده به ووايي دغه کافرانو ته.

پوه سه: چې "اين" استفهاميه دی او کلمه د "ما" موصوله ده بايد جلا سره ليکل سوې وای لکن په ټولو مصاحفو کې متصل نوشته دي متابعة لرسم المصحف العثماني، استفهام لپاره د سرزنش دی، والمعنى چېرې دي هغه خدايان چې تاسي يې عبادت کاوه ماسوی له خدای ﷻ څخه من الاصنام.

قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۳۷﴾

کافرانو وويل په ځواب کې د ملکو چې زموږ خدايان چې موږ يې عبادت کاوه غائب دي زموږ څخه، او کافران پر خپلو ځانو شاهدي ادا کړي يعني په نبز د ليدلو د عذاب چې موږ کافران يعني مشرکان وو.

قَالَ ادْخُلُوْا فِيْٓ اُمَمٍ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ مِّنَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ فِي النَّارِ ؕ

يعني خدای پاک ودوی ته ووايي په ورځ د قيامت. او هغه احتمال چې مظهري رحمه الله راوړی دی چې يا ملک الموت ورته په وخت کې د توفي آه هغه ترجمه به هلته صحيح وايي چې له وخت څخه د توفي دوی بالفور دوږخ ته ورتلای، وليس كذلک الا ان يقال انه قال عليه الصلوٰة والسلام القبر روضة من رياض الجنان او حفرة من حفر النيران"

ترجمه: ودوی ته ووايي خدای ﷻ چې داخل سي في امم ای حال کونکم داخلين في جملة چې هغه تېر سوي وه تر تاسي دمخه من الجن والانس ای الكفار منهم في النار متعلق په ادخلوا پورې دی.

پوه سه: چې تقديم د جن پر انس باندې يا په اعتبار د خلقت دی او يا له دې سببه چې دا مقام د اهانت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَّعَنَتْ أُخْتَهَا

هر وخت چي داخل سي يو امت و اور ته لعنت وايي پر اخت خپل په دين كي مراد له امت اخت ځخه هغه مقتدايان ددوى دي چي دوى يې گمراهان كړي وه باقتدائها بهم واطلاق الاخت مجاز دى وذكر الاخت دون الاخ اعتبار تانيث امة دى فيلعن اليهود المتاخرين اليهود الذين اسئوا بنيان الكفر لهم وهكذا يلعن النصارى النصارى ويلعن الاتباع على القادة يعني مشران.

حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا

چي سره جمع سي په اور كي ټول له اتباع او متبوعين.

پوه سه: چي اصل اذا تداركوا و. نو تا يې په دال واړول او په دال كي يې مدغمه كړه.

قَالَتْ أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ

نو وايي هغه كسان چي اخير دوږخ ته داخل سوي وي چي اتباع دي و اولو ته دخولاً چي متبوعين او قاده د دوى وه فان المتبوعين يدخلون اولاً يعني رؤسا الكفر.

پوه سه: چي دوى يعني اتباع ومتبوعينو ته دا خبره كوي نه دي مراد ولي په دې خبره كي د اتباع ځه فائده سته بلكې معنى داده چي تابعان خداى پاک ته وايي په باره كي د متبوعينو كما يدل عليه الآية المتصلة.

رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِّنَ النَّارِ

يا ربه زموږ هؤلا يعني دغه كسان چي زموږ رئيسان وه. موږ يې گمراهان كړو له هدايت ځخه چي دوى به دعوت راكاوه او موږ يې پر كفر مجبور كولو. نو ته خدايه وركړې ودغو مشرانو ته د ضلال عذاب دوه چنده د اور.

فائده: د اتباع غرض په دې قول كي دا وو چي زموږ عذاب هم پر دوى واچوه او موږ برئ الذمة كړه. ولي چي موږ خو دوى مجبور كړي وو پر ضلال، او يا دا وو چي زموږ زړونه په ساړه سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلٰكِن لَّا تَعْلَمُونَ ﴿۳۸﴾

خدای پاک ووايي چي د هري ډلي د متبوعينو او د تابعينو عذاب متضاعف دی لکن تاسي نه په پوهېږي اما الرؤسا ددوی عذاب چي مضاعف دی په سبب د ضلال او اضلال او د تابعينو دا چي مضاعف دي په سبب د ضلال او تقليد في الباطل، او نه پوهنه ددوی په سبب ددې ده چي د يوه په عذاب بل څه پوهېږي، پښتانه وايي چي مخکه هغه سوځي چي اور پر بلېږي.

وَقَالَتْ أُولٰهُمْ لِأُخْرٰهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ

او ووايي اوله ډله چي رئيسان وه دوهمي ډلي ته چي تابعان وه هغه وخت چي اخرى پر اولى دعوه وکړه ربنا هؤلاء اضلونا الاية. او هغه وخت چي رئيسانو د خدای ﷻ جواب هم واورېدی حيث قال لكل ضعف. او معنی د آيت داده چي اولی گروپ وتابعانو ته وويل نسته تاسي لره پر موږ من فضل يو بالاتوب په عذاب چي ستاسي عذاب دی، نصف زموږ د عذاب وي، ولي چي خدای ﷻ وويل "لكل ضعف" نو موږ او تاسي په عذاب کي سره برابر يو. او بعض مفسران وايي چي اولی واخرى ته ووايي چي موږ تاسي پر ضلال نه ياست مجبوره کړي بلکې تاسي په خپل هوا نفساني کفر مختاره کړی دی، نو تاسي فضيلت نه لرئ چي ستاسي عذاب نيم زموږ د عذاب وګرځي بلکې موږ او تاسي په کفر کي اختياري او په هوا نفساني سره برابر يو، نو په عذاب کي به هم سره برابر يو.

درويش وايي: چي دا ده حاصل د مخاصمې د رئيسانو د کافرانو او د تابعانو په ورځ د قيامت عند رب العزة.

فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْسِبُونَ ﴿۳۹﴾

نو ورئ او برداشتوئ عذاب د دوزخ اې تابعينو او متبوعينو په سبب د کسب ستاسو، نو ما مصدريه دی. او که ما موصوله سي نو عائد محذوف دی ای بالذي كنتم تكسبونه. او په هر تقدير مراد څني کفر دی او دا قول د خدای پاک وتابعينو او متبعينو ته په واسطه د ملکو دی لا بالذات ولي کلام د خدای ﷻ بالذات لوی نعمت دی والكفار محرمون منها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ

په تحقیق هغه کسان چي تکذیب یې کاوه د آیاتو زموږ چي په قرآن کریم کي نازل وه یعني چي کلام الله نه دی بلکې د علیه الصلوٰة والسلام خود ساخته کتاب دی او کبر یې کاوه له ایمان راوړلو څخه پر هغو، نه خلاصېږي ودوی ته دروازې د اسمان یعني نه ددوی و روحانو ته او نه د دوی عملو ته. ابن عباس ﷺ وايي لارواحهم لانها خبيثة، نو اسمان ته یې صعود نه سي کېدای بلکې سجین ته یې غورځوي.

درویش وايي: چي په یو حدیث طویل کي په روایت د براْ بن عاذب ﷺ چي روایت یې مالک او نسائي کړی دی چي په قول کي د علیه الصلوٰة والسلام په بیان کي د عبد کافر وویل چي ملکي چي تور مخان یې وي چي قبض کي روح د کافر وه یې پېچي په کراستو کي او ولاړېږي له هغه روح څخه د کافر لکه بدبویي د لوی جیفې "لاښې" چي د مځکي پر مخ وي، نو ملکي دا روح پورته کړي د اسمان وخوا ته، نو دا ملکي نه تېروي پر یو جماعت د نورو ملکو مګر هغه ملکي وايي چي دا څه خبیث روح دی، نو ملکي وايي چي دا روح د فلان بن فلان دی په ډېر بد نامه یې یاد کړي هغه بد نوم چي دی په دنیا کي په یادېدی، حتی چي وه یې رسوي و اول اسمان ته او هغه ملکي چي دا روح یې راخستی دی طلب د خلاص والي د دروازې د اسمان وکړي، دروازه ملکي نه ورخلاصوي، ثم قرأ رسول الله ﷺ لا يفتح لهم ابواب السماْ، نو خدای پاک ووايي اكتبوا كتابه في سجين في الارض السفلى نو دا روح د کافر ملکي ور وه غورځوي هغه سجین ته الحدیث.

وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِيْ سَمِّ الْخِيَاطِ

تر هغو چي نه سي داخلېدای وجنت ته چي داخل نه سي اوښ په سوري د ستنې، دا تعلیق بالمحال دی، ولي اوښ چي ډېر غټ حیوان دی په سوري د ستنې چي ډېر کوچنی دی څه رنګه به امکان پذیره وي والمعلق بالمحال محال فدخول الكافر في الجنة محال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي د عربو دا قانون دی چي د يو شي په نفي چي نهايت مبالغه کوي، نو يې معلق وګرځوي په داسي شي سره چي هغه محال وي، لکه يو شاعر چي په نفي کي د ورتلو خپل کور ته او خپل اهل ته مبالغه کوي او وايي

اذا شاب الغراب آتيت اهلي   وصار القار كاللبن الحليب

ترجمه: چي تک سپين سي کارګه نو زه به خپل اهل وعيال ته ورسم. او يا وګرځي د امبر چي لوک يې هم بولي لکه شيدې چي له غوا څخه ولوشل سي.

وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُجْرِمِينَ ۝

او دغه رنګه جزا نااميده کونکې له رحمت عامه څخه د خدای ﷻ موږ جزا ورکوو کافرانو ته.

لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ غَوَاشٍ ۚ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الظّٰلِمِينَ ۝

دوی لره له اوره د جهنم فراش دی او که له لوړي خوا څخه پوښونکي شيان لکه تلتکان د اور دي يعني ان النار محيطة بجوانبهم.

فائده: اصل د "غواش" غواشي وُ، نو يا چي حذف سوه تنوين عوض د يا محذوفي دی په نيز د سيبويه، يعني اوس هم غير منصرف دی، ولي د يا عوض چي تنوين دی پاته دی ګويا يا پاته ده، نو وزن يې فواعل دی چي منتهی الجموع ده قائم د دوو سببو دی، او په نيز د غير د سيبويه دا تنوين صرف يعني لفظ د غواش اوس منصرف دی لعدم بقا وزن منتهی الجموع.

درویش وايي: چي خدای پاک بيان د حال د مؤمنانو کوي پس له بيان څخه د حال د کافرانو کما هو عادته في القرآن، او وايي.

وَالَّذِينَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

او هغه کسان چي ايمان يې راوړی وي او اعمال صالحه يې هم کړي وي لکه پينځه وخته لمونځ او يوه مياشت روژه چي دا د نر او ښځي غني او فقير شريکه وظيفه ده. او يا زکوٰة او حج چي دا بيا په اغنيا پوري مخصوصه ده او نور نفلي ددغو عباداتو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي "والذين آمنوا الخ" مبتدأ ده او جمله د "اولئک اصحب الجنة" تر پایه پوري خبر دی او جمله د لاتکلف جمله معترضه ده لپاره د دفع د توهم ددې چي په نحو کي قانون دی چي جمع محلي باللام له الفاظ څخه د عموم ده، نو بنا على هذا القانون توهم ددې کېدی چي وعده د جنت مخصوصه په هغو خلگو پوري دی چي ټول اعمال صالحه يې کړي وي، يعني مسکين به هم زکوٰة ورکړي وي او حج به يې هم کړی وي، نو لپاره د دفع د توهم مذکور خدای پاک داسي وويل.

لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا

موږ تکليف نه دی ورکړی هيڅ نفس ته مگر مطابق ددة د توان او طاقت سره، مثلاً مسکين د زکوٰة توان نه لري او نه هم دی طاقت لري د حج، نو دی موږ نه دی مکلف کړی په ورکړه د زکوٰة او يا په ادأ د حج بخلاف الغني فانه مطيق لهما فكلف بهما.

أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ ۖ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٤٢﴾

دغه کسان دي اصحاب د جنت يعني مالکان د جنت او اقامت کونکي په جنت کي يعني حسب مراتبهم او دوی په جنت کي همېشه لايخرجون منها ابداً الآبدين.

وَنَزَعْنَا مَا فِي صُدُورِهِمْ مِنْ غِلٍّ

او موږ به وه باسو له سينو څخه ددوی يعني له زړو څخه هغه شی چي ددوی په سينو کي وُ د "غل" معنی حسد او عداوت دی چي ددوی په سينو کي وُ په دنيا کي.

فائده: نزعنا ماضي ده او دا نزع خو په جنت کي ده چي هغه مستقبل دی دا ددې لپاره چي يو شی که په مستقبل واقع کېږي لکن متيقن الوقوع وي لکه امر ماضي داسي دی، والحاصل ان اهل الجنة لايبقى في صدورهم الا التودد والمحبة وان كان في صدورهم غل وعداوة في الدنيا.

تَجْرِي مِنْ تَحْتِهِمُ الْأَنْهَارُ

بهېږي به لاندي تر دوی يعني تر قصورو ددوی ولې، شيدې، اوبه، عسل او شراب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَا أَنْ هَدَانَا اللَّهُ

او وايي به جنتيان حمد دي وي خداى ﷻ لره هغه خداى لره چي موږ ته يې هدايت وکړی دې جنت ته. وقيل للاعمال الموجبة للجنة يعني په دنيا کي او موږ نه وو په خپل توان او طاقت سره چي موږ دي هدايت پيدا کړی وای که چېرې خداى ﷻ هدايت موږ ته نه وای راکړی او توفيق يې نه وای راکړی. ولنعم ماقيل.

گر بدرقهٔ لطف تو ننماید راه   از راه تو هیچکس نگردد آگاه
آنگه که بره رسند وباید رفتن   توفیق رفیق نه شد واویلاه

له سدي رحمه الله څخه روايت دی ددې آيت په تفسير کي چي اهل جنت چي روان کړه سي وجنت ته په نږږ د دروازې د جنت يوه درخته چي په اصل ددې درختي دوې چينې وي فشربوا من احدهما فينزع مافي صدورهم من غل وهو الشراب الطهور كما جا في القرآن في موضع آخر. واغتسلوا من الآخر فجرت عليهم نضرة النعيم او د سر وېښتان يې صاف سي رنگونه يې تازه سي او زېړی ورته وکړي ملکي د جنت دمخه ددوی داخلېدلو وجنت ته يعني داسي ورته ووايي "ان تلكم الجنة اورثتموها بما كنتم تعملون كما ورد في موضع آخر من القرآن.

پوه سه: چي لام په "لنهتدی" کي لام جحود او انکار لپاره د تاکيد د نفي دی او چونکه نهتدي فعل دی او حرف جر په قانون نحوي سره پر فعل نه داخلېږي، نو وروسته تر "لام" ان مصدري مقدر دی والمصدر المأول په معنی د فاعل دی خبر د کان دی. والتقدير ماكنا مهتدين.

فائده: د لولا جواب محذوف دی دل عليه ماقبله. يعني لولا هداية الله ماكنا مهتدين قاله المظهري رحمه الله بزيادة.

لَقَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ

لام موطئه د قسم محذوف دی په تحقيق راتگ کړی و رسولانو د خداى ﷻ په حق سره چي ددوی په ارشاد سره يې لار پيدا کړه، دا خبره ددوی صرف د خوشالی لپاره وکړه چي ما وعدهم الرسل يې په سترگو وليدل.

Maktaba Tul Ishaat.com   Scanned by CamScanner

وَنُودُوٓا۟ أَن تِلْكُمُ ٱلْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ

او نعره وکړل سي وجنتیانو ته یعني ملائکه ندا ورته وکړي، بعض مفسران وايي چي ندا له لېږي ځخه پر وکړي چي دوی لا جنت ته نه وي رسېدلي کما يشعر به لفظ ندا، او بعض وايي چي جنتيان چي جنت ته داخل سي، نو دا ندا ورته وکړل سي، واختار السيوطي رحمه الله ويدل عليه تلك چي اسم اشاره ده. والمعنى نعره به وکړل سي وجنتيانو ته په دې سره چي دغه جنت په ميراث درکړل سوی دی په سبب د اعمالو ستاسي، نو کلمه د ما مصدريه او کلمه د ان په پېښخه سره ځايه کي تفسيريه دی.

صاحب المدارک وايي چي جنت ته ميراث وويل سول په دې سبب چي عمل سبب ظاهري دی جنت محض فضل د خدای ﷻ دی چي خدای پاک يې وعده کړې ده پر طاعاتو، او ترک د منهياتو کالميراث من الميت ليس بعوض عن شئ بل هو صلة خالصة انتهى. مسلم له ابي سعيد الخدري رضي الله عنه او له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي جنتيان چي جنت ته داخل سي يو نعره کونکی ندا وکړي يعني يوه ملکه لپاره د زېري پر جنتيانو باندي "ان تصحوا فلا تمرضوا ابداً" چي تاسي لره دادی چي جوړ به ياست په بدن ابداً به نه ناجوړ کېږئ "وان لكم ان تحيوا فلا تموتوا ابداً" چي تاسي به ژوندي ياست مرئ به نه تر ابده پوري "وان لكم ان تشبوا فلا تهرموا ابداً" دا چي ځوانان به ياست زړېږئ به نه ابداً "وان لكم ان تنعموا فلا تبأسوا ابداً" او بل به په نعمتو کي ياست مسکينان کېږي به نه ابداً، نو دغه تفسير دی د قول د خدای ﷻ.

وَنَادَىٰٓ أَصْحَٰبُ ٱلْجَنَّةِ أَصْحَٰبَ ٱلنَّارِ أَن قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدتُّم مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا ۖ قَالُوا۟ نَعَمْ

او نعره به وکړي اصحاب الجنة واصحاب النار ته چي په تحقيق موږ خو پيدا کړه هغه شيان چي وعده کړې وه رب زموږ حق ای الثواب والجنة آيا تاسي دوږخيانو پيدا کړی هغه شی چي ستاسي سره وعده کړې وه رب ستاسي من العذاب والنار دوږخيان ووايي چي هو موږ ته هم موعود ورسېدی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د دې ندا او اهل جنت او اهل نار ته فائده څه شی ده؟

ځواب: اظهار د خوشالي دی په خپل حال سره او اظهار د شماتت په حال د دښمنانو.

پوښتنه: د جنت او دوزخ تر منځ خو بعد المشرقین دی بلکې الی ما لا یعلمه الا الله. نو دا نعرې څرنګه سره اوري؟

ځواب: د دنیا صنعت په نننی زمانه کې د ټیلي فون په ذریعه یا د موبائیل په ذریعه تر بعد المشرقین بالا مسافت کې خلګ خبرې سره اوري. نو د خدای ﷻ وقدرت ته څه ځای د تعجب سته، قال السعدي الشیرازي

کنون باید ای خفته بیدار بود — چو مرګ اندر آرد خوابت چه سود
تو پیش از عقوبت درعفو کوب — که سودی ندارد فغان زیر چوب

فَأَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيۡنَهُمۡ أَن لَّعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

نو اعلان وکړي او نعره وکړي نعره کونکی، قیل هو اسرافیل په منځ کې د جنتیانو او د دوزخیانو یعنې په داسې دول چې په دواړو فریقو یې واوري چې لعنت د خدای ﷻ دې وي پر ظالمانو یعنې الکافرین.

ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ كَٰفِرُونَ ﴿٤٥﴾

دا موصول صفت دی د ظالمین مقرر ددوی د ظلم دی یا مرفوع علی الذم دی بحذف المبتدا ای هم الذین آه، او یا منصوب دی علی الذم بحذف اعني یا اذم یصدون ای یمتنعون بانفسهم، او یا منع کوي نور کسان له لارې څخه د خدای ﷻ چې اسلام دی او دوی طلبوي یعنې عقیده لري او یا بل ته ورښیي لار د خدای ﷻ کږه یعنې باطله یعنې دین د شرک سمه لار بولي. او دوی په اخیرت سره چې د قیامت ورځ ده منکران وه، او چا چې ترجمه د اخیرت په خدای سره کړې ده هغه ترجمه غلطه ده، ابن عباس ﷺ یې داسې بیان کړی دی یصلون بغیر الله ویعظمون مالم یعظمه الله وهم الاصنام.

پوهه: چې د یصدون معنا نه حال دی او نه استقبال، ولې اوس په دې آیتو کې خو مراد اخرة فالتقدیر الذین یصدون في الدنیا کذا وکذا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْأَعْرَافِ رِجَالٌ

او په منځ کې د جنتيانو او د دوږخيانو پرده لويه، كما يدل عليه تنوين حجاب للتعظيم.

پوه سه: چې "اعراف" جمع د عرف ده په لغت کې لوړ شي ته وايي، نو ځکه د چرګ وچار خول ته عرف الديک وايي، او د اعراف معنا په دې ځای کې هغه لوی دېوال دی چې په سورة حديد کې خدای پاک ويلي دي فضرب بينهم ای بين اهل الجنة والنار بسور الآية والمعنى هٰ على اعالي السور رجال.

درويش وايي: چې ددې سور او دېوال عرض او طول او ارتفاع خدای ﷻ ته معلومه ده، په حديث کې د بخاري وغيره راغلي دي ان في الجنة مائة درجة مابين كل درجتين مائة عام، نو دا سور بايد دومره جګ وي چې له دې سببه جنتيان او دوږخيان نه سره ويني تاچه په بد بوي سره د دوږخيانو جنتيان نه سي ازار، نو هغه چې بعض علماؤ ويلي دي چې دا سور جبل احد دی چې دلته په منځ کې د جنتيانو او دوږخيانو فاصل ګرځي چې غلطه خبره ده، ولې چې د جبل احد نه دومره ارتفاع ده او نه يې دومره عرض سته چې د نهايت لويو جنتو او لويو دوږخو دې حائل وګرځي.

درويش وايي: چې په دې رجالو کې چې پر اعالي د سور او بل عبارت حجاب يې بولي څه قسم کسان دي، اعرف او اوجه او مشهوره يې داده چې دا هغه کسان دي چې حسنات او سيئات يې سره برابر وي، نو حسنات د دوی مانع له دخول څخه د نار دي او ددې څخه هم قاصر دي چې سبب د دخول د جنت دي وګرځي لتساوي السيئات معها مګر پر اعراف چې دوی وي دوږخيان په تور مخانو سره ويني فيتعوذون منها او چې جنتيانو ته وګوري طمعوا فيها، نو ددې دوږخيانو په ليدلو او تعوذ سره ددوی حسنات منځ پر دېر بدو سي، نو پر سيئاتو غالبه سي، او خدای جنت ته داخل کړي وبالجملة كونهم على الاعراف بسبب رويتهم اهل النار، نو نوع د عذاب ده، نو ځکه يې وروسته سبب د دخول وخت وګرځي نو اعراف دار القرار الى الابد نه دی، ومثل هذا جا في حديث ابن عباس ﷺ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي بیهقي د ابن مجلز څخه روایت کړی دی چي اهل اعراف ملکي دي چي اهل جنت په خپلو علامو چي بیاض الوجوه دي او اهل النار په خپلو علامو چي سواد الوجوه دي پېژني فلیس بشئ لان الملائکة لا یسمون برجال او اهل الاعراف خدای ﷻ د رجال په نامه یاد کړي دي "وعلی الاعراف رجال" او روایت دی له مجاهد رحمه الله څخه چي اهل اعراف قوم د صالحانو فقهاؤ او علماؤ دی.

درویش وایي: چي مراد په دې آیت کي دادی چي دغو علماؤ فقهاؤ صالحانو اعمال سیئه کړي وي لکه کبر، حسد، عقوق د استاذانو الی غیر ذالک حتی چي دا ګنهونه ددوی د حسناتو سره ددوی برابر وي یعني خلطوا عملاً صالحاً اخر سیئاً فح ء یرجع هذا القول الی القول الاول.

درویش وایي: چي د اهل اعراف په بیان کي نور ضعیف اقوال هم سته نو ځکه ما صرف نظر کړه.

يَعْرِفُونَ كُلًّا بِسِيمٰهُمْ ۚ وَنَادَوْا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۟ لَمْ يَدْخُلُوْهَا وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ۝

اهل اعراف پېژني "کلا" ای کل فریق من المؤمنین والکافرین په علامه سره اهل الجنة چي پېژني په بیاض الوجوه سره او اهل النار په سواد الوجوه سره، او ناري وهي اصحاب الاعراف و اصحاب الجنة ته په دې لفظ سره سلام علیکم، خدای پاک وایي چي اصحاب الاعراف خو جنت ته تر اوسه نه دي داخل سوي او دوی طمع د دخول د جنت لري. دلیل د طمع یې دادی چي موږ ته دا کرامت خدای پاک را کړی دی چي له اوره یې وساتلو. نو خدای ﷻ به ددوی سره نور کرامت هم وکړي چي جنت ته به یې هم داخل کړي. ولي چي د کریم کرامت مخ پر زیاتېدلو وي.

بوه سه: چي جمله د "لم یدخلوها وهم یطمعون" مسانفه ده محل د اعراب نه لري.

وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ ۙ قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۝

او چي واړول سي سترګي ددوی و طرف ته د اصحاب النار او ددوی عذابونه وویني، نو و وایي اصحاب الاعراف چي اې زموږ ربه ته موږ مه ګرځوه سره د قوم چي ظالمان دي یعني النار، مظهري وایي چي له سیاقه ددې آیت معلومېږي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اصحاب اعراف په منځ کي د خوف او رجا دي لاستوا حسناتهم مع سيئاتهم. ولايتصور ذالک في الانبيا والاوليا الذين لاخوف عليهم ولاهم يحزنون. نو هغه قول ضعيف دی بلکې باطل دی چي وايي اصحاب الاعراف انبيا عليهم السلام او ملائکه دي آه.

درويش وايي: چي صاحب د روح البيان پينځه لس (۱۵) قوله په بيان کي د اهل اعراف راوړي دي چي بعض مورِ سره د ماله وما عليه ذکر کړه او بعض مو رد کړه په قول د مظهري رحمه الله. او باقي اقوال يې محض احتمالات بلاسند ودليل دي فاعرضنا عن ذکرها لاجل ضعفها والله اعلم.

وَنَادَىٰٓ أَصۡحَٰبُ ٱلۡأَعۡرَافِ رِجَالٗا يَعۡرِفُونَهُم بِسِيمَىٰهُمۡ قَالُواْ مَآ أَغۡنَىٰ عَنكُمۡ جَمۡعُكُمۡ وَمَا كُنتُمۡ تَسۡتَكۡبِرُونَ ۝

او ورناري کړي اصحاب الاعراف ته رجالاً يو څو کسانو يعني چي دوی به پيژني په علامو سره چي هغه غټان د کفارو وه په دنيا کي، او اصحاب الاعراف وهغو ته ووايي چي څه فائده وکړه تاسي ته جمع والي ستاسي يعني د پر والي او خادمانو او اولادو او جمع کول د اموالو او هغه شي چي تاسي په هغه سره کبر کاوه پر خلګو او يا د حق له لاري څخه، قال الکلبي رحمه الله چي اصحاب اعراف داسي وايي يا وليد بن المغيرة يا اباجهل بن هشام ويا فلان مثلاً ، پر دي ترجمه کلمه د ما استفهاميه ده، ويحتمل ان يکون نافيه يعني فائده يې ونه کړه په نجات د عذاب د دوږخ، بيا اصحاب اعراف وګوري و جنت ته چي په هغه ځای کي فقرا د مسلمانانو د عصر نبوي لکه سلمان فارسي، صهيب، بلال، خباب وامثالهم چي کفارو په دوی پسخند واهه، نو کفارو ته به.

أَهَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَقۡسَمۡتُمۡ لَا يَنَالُهُمُ ٱللَّهُ بِرَحۡمَةٍۚ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡكُمۡ وَلَآ أَنتُمۡ تَحۡزَنُونَ ۝

اصحاب اعراف به اشاره وکړي وضعفاؤ ته د مسلمانانو آيا دغه کسان وه چي تاسي کافرانو به قسم اخستی چي دوی به خدای جل جلاله ونه رسوي رحمت يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نعيم الجنة في القيامة، بيا د حق د خوا ملكي ندا وكړي واصحاب اعراف ته چي ځئ داخل سئ وجنت ته چي نه به بيره وي پر تاسي په آئينده كي د مكروه او نه به غم وي تاسي ته پر تېر سوي عمر په دنيا كي، ولي چي تاسي حقوق الله تولـه په دنيا كي پر ځاى كړي دي بخلاف المقصرين بالاعمال في الدنيا لانهم يحزنون على تضيع العمر في الدينا بدون طاعة المولى.

درويش وايي: چي يو بل احتمال ادق من الاول سته چي بغوي رحمه الله هغه داسي بيان كړى دى چي اهل اعراف چي كفارو ته ووايي "ما اغنى عنكم جمعكم الآية" كفار ودوى ته ووايي چي هغه كسان چي جنت تـه تللي دي هغه ولاړه او تاسي خو دلته پر اعراف بنديان ياست يعني پېغور وركړي او اهل النار قسمونه واخلي چي تاسي به زموږ ملگري ياست په اور كي. نو هغه ملكي چي اصحاب الاعراف يې په اعراف ساتله واهل نار النار تـه ووايي اهولاً يعني اهل اعراف اقسمتم انهم لن ينالهم رحمة الله ثم قال الملائكة لاصحاب الاعراف ادخلوا الجنة لاخوف عليكم آه، بغوي رحمه الله وايي چي عطا رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت كړى دى چي اهل اعراف چي خداى جل جلاله جنت تـه داخل كړي، نو د اهل النار هم د نجات طمع لـه اوره پيدا سي، او دوى ووايي يا رب موږ خو اقربا لرو په جنتيانو كي، نو موږ تـه اجازه راكړه چي موږ دوى ووينو او ددوى سره خبري وكړو خداى پاك اجازه وركړي، او خپل خپلوان په نعمتو كي د جنت ويني وه يې پېژني او جنتيان يې نه پېژني چي دا زموږ قريبان دي لسواد وجوههم، نو يې بيرته دوږخ ته رد كړي.

پوښتنه: پـه دې كـي د خداى جل جلاله څه حكمت و چي دوږخيانو تـه يې اجازه وركړه او خپل قريبان يې په نعمتو كي د جنت پـه وليدل، او بيرته يې اور تـه رد كړه او په جنتيانو يې خپل قريبان نه وپېژندل؟

ځواب: حكمت الهي دادى چي دوږخيانو چي د خپلو اقرباؤ حال پـه جنت كـي وگوري او بيرته دوږخ ته رد سي غم پر غم به يې بالا سي او دا بـه يې ارمان وي چي كاشكي موږ هم په دنيا كي ددغو خپلو قريبانو جنتيانو لار مختاره كړې واى، نو موږ په هم پـه نعيم مقيم كي واى لكه دوى چي دي، او پـه جنتيانو چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې خپل قريبان نه وپېژندل حکمت يې دادی چې دوی ته کوم تأسف پر حال د اهل نار قريبانو په زړو کې پيدا نه سي.

فائده: په دغه آيت کې چې اهل اعرافو کفارو ته وويل "ما اغني عنکم جمعکم الآية" چې کوشش به يې کوی د مال او استکبار او افتخار بکثرة الخدم والاعوان والانصار لکه د اوسني زماني خلگ چې يې کوي دا ټول ډېر مذموم او بېکاره صفتونه دي، سعدي شيرازي قدس سره وايي.

نه منعم بمال از کسی بهتر است — خر ارجل اطلس بپوشد خراست
بدين عقل وهمت نخوانم کست — وگر ميرود صد غلام درپست
تکبر کند مرد حشمت پرست — نداند که حشمت بحلم اندر ابيت
چو منعم کند سفله را روز گار — نهد بردل ريش درويش بار
چو بام بلندش بود خود پرست — کند لول وخاشاک بربام پست

وکان من دعا النبي ﷺ اللهم حسن خَلقي وخُلقي، وقد مدحه الله بقوله "وانک لعلى خلق عظيم" او په صحيح روايت ثابته ده چې عليه الصلوٰة والسلام د فقرا او مساکينو مجلس کاوه، او دوی به يې ورسره خوړله او دی مبارک چې به په لاره کې تېرېدی کوچنيانو ته به يې سلام و وايه، داسي نه ؤ لکه زما يو شاګرد چې د مسجد مقتديان يې زما خلاف دي، نو دی هم سلام نه را اچوی شاګرد هم ددوی د مسجد ملا دی ماته سلام نه را اچوي متابعةً لاجل المسجد المخالفين.

روايت: يو سړی د عليه الصلوٰة والسلام ومجلس ته راغلی، نو د عليه الصلوٰة والسلام له ډېره هيبته وربېږدېدی، عليه الصلوٰة والسلام ورته وويل هوّن عليک فلستُ بملک انما انا ابن امرئة من قريش کانت تاکل القديد، او په صحيح روايت سره ثابته ده چې عليه الصلوٰة والسلام به ګرده عمر د خلګو سره کښېنستی چې يو ناولده سړی به راغلی نه يې پېژندی چې عليه الصلوٰة والسلام کوم يو دی، نو پوښتنه به يې وکړه، نو دا ټوله د عليه الصلوٰة والسلام د تواضع کارنامې وې.

ذو النون مصري وايي چې علام د سعادت د سړي حب الصالحين والدنو منهم، وتلاوة القرآن وسهر الليل والناس نيام ورقة القلب ومجالسة العلما المتدينين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَنَادَىٰ أَصْحَابُ النَّارِ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ أَنْ أَفِيضُوا عَلَيْنَا مِنَ الْمَاءِ أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ

او ناري کړي خلګ د دوږخ يعني و اصحابو ته د جنت او په نوم ائو به ورناري کړي او خپل قرابتونه به هم ورته بيان کړي چي مثلاً زه ستا پلار يم يا ستا زوی يم وامثال ذالک، او ورته وايي به چي تاسي خو راتوی کړئ يو څه د جنت اوبه پر موږ باندي يعني موږ ډېر تږي يو، او يا بعض له هغه نعمتو څخه چي خدای ﷻ تاسي ته په رزق در کړي دي مثلاً انګور، انار، اينجر الی غير يعني د جنت ونعمتو ته ډېر وږي يو، ولي چي کافرانو ته په دوږخ کي نهايته تودې اوبه چي حميم يې بولي د څښاک لپاره ورکول کېږي، او د زقوم د درختي مېوه د خوراک لپاره ورکول کېږي كما ورد في القرآن "ان شجرة الزقوم طعام الاثيم، ولهم شراب من حميم.

قَالُوا إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَهُمَا عَلَى الْكَافِرِينَ ۝

جنتيان به ورته ووايي چي دا د جنت اوبه او طعام خدای ﷻ حرام ګرځولي دي پر کافرانو باندي، په تفسير مدارک حنفي کي وايي چي دا تحريم د منع دی يعني منع بهما من الكافرين يعني لا التحريم الشرعي كما في قوله تعالى في قصة موسى عليه السلام "وحرمنا عليه المراضع" والوجه الظاهر على العاقل.

الَّذِينَ اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا

اى الدين الذي امر بالتدين به وهو الاسلام قاله البرسوي وفسر المظهري بهذا العبارة بتحريم البحيرة واخواتها، او شپېلکی حول البيت والطواف عرياناً واكل الميتة آه.

درويش وايي: چي د علامه برسوي رحمه الله تفسير ډېر ښايسته دی، ولي چي دوی پسخند او لهو لعب به يې په اسلام باندي کاوه، و اما ذكره المظهري رحمه الله فهو معتقديهم وان كان باطلاً ولا يفعلون تلك الامور بصورة اللهو واللعب.

درويش وايي: چي قاضي بيضاوي رحمه الله د لهو تفسير داسي کړی دی صرف الهم بما لايحسن ان يصرف اليه واللعب طلب الفرح بما لايحسن ان يطلب به. وعلى هذا التقدير يصح تفسير المظهري ايضاً كما لا يخفى فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّغَرَّتۡهُمُ الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا ۚ فَالۡيَوۡمَ نَنۡسٰهُمۡ كَمَا نَسُوۡا لِقَآءَ يَوۡمِهِمۡ هٰذَا ۙ وَمَا كَانُوۡا بِاٰيٰتِنَا يَجۡحَدُوۡنَ ﴿۵۱﴾

دوی خطا یستلي وه ژوند د دنیا یعني اخیرت یې هېر کړی و، او ددوی دا عقیده وه چې له دې ژوند ماسوا بل ژوند نسته او خیر وشر په دې دنیا کې دی وبس، نو نن ورځ یعني د قیامت په ورځ موږ دوی پرېږدو په جهنم کې کما نسوا الکه دوی چې هېر کړی و ملاقات د ورځې ددوی چې دغه ده، یعني ایمان پر دې ورځې د قیامت او د جنت او دوږخ نه درلودلو والا لآمنوا وعملوا عملاً یکون سبباً لنجاتهم من عذاب هذا الیوم "وما کانوا آه" ای کانوا بآیاتنا المنزلة ینکرون یعني انکار یې کاوه.

فائده: درویش وایي چې ما تفسیر د ننساهم په نترکهم چې معنا یې دا وه چې موږ دوی پرېږدو له دې سببه چې حقیقت نسیان خو پر خدای ﷻ محال ده.

وَلَقَدۡ جِئۡنٰهُمۡ بِكِتٰبٍ فَصَّلۡنٰهُ عَلٰى عِلۡمٍ

لام موطئه د قسم محذوف دی اې والله په تحقیق موږ دراستولی و تاسي ته یو کتاب چې قرآن عزیز و چې په هغه کې مو تفصیل د حلال او حرام کړی و او مواعظ او قصص پکښې وه او عقائد حقه مو له باطله څخه پکښې جلا کړي وه پر علم زموږ ای عالمین بمصالحهم فهو حال من فاعل فصلنا او مشتملاً علی علم فهو حال من مفعول فصلناه.

هُدًى وَّرَحۡمَةً لِّقَوۡمٍ يُّؤۡمِنُوۡنَ ﴿۵۲﴾

چې عین هدایت و دا کتاب او عین رحمت و فالحمل مبالغة کزید عدل او یا په حذف د مضاف ای ذو هدایة وذو رحمة د هغه قوم لپاره چې دوی ایمان راوړی وي.

پوښتنه: قرآن مجید خو هدایت او رحمت د ټولو دنیا والو دی، نو تخصیص د قوم مخصوص یې ولي وکړی؟

ځواب: له دې سببه چې منتفعون په هدایت د قرآن او د رحمت د قرآن دغه قوم دی چې یؤمنون به دي، مثلاً باران چې وه اوري له اسمان څخه نو نفع هغه کسان پر اخلي چې مځکه یې خوږه پاکه مځکه وي، او که یې مځکه تروه یا ترخه وي په هغه مځکه کې نفع آور شیان نه پیدا کېږي بلکې ځوزان وغیره شنه کېږي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هَلْ يَنظُرُونَ إِلَّا تَأْوِيلَهُ

پوه سه: چې "هل" استفهاميه انكاري دى بقرينة الاستثنا او "ينظرون" په معنا د ينتظرون دى او د "تأويل" معنا ما يؤل اليه ده، نو حاصل دادى چې انتظار نه كوي كفار د ايمان راوړلو پر قرآن مگر مايؤل اليه امر القرآن يعني صدق يې ښكاره كېږي او دا معلومېږي چې وعد او وعيد د قرآن رښتيا دى او كه نه.

يَوْمَ يَأْتِي تَأْوِيلُهُ

هغه ورځ چې راسي مآل د قرآن، وذالك يوم موتهم او يوم القيامة، ولې چې صدق د قرآن په دغو دوو ورځو كې كفارو ته ښكاره كېږي، او هغه وخت د قرآن د صدق ظهور دوى ته فائده نه كوي اذ قد مضى دار التكليف الايمان، ولې د دنيا په ژوند كې چې دوى ايمان نه راوړى، نو اوس كه يې راوړي هم فائده نه لري.

يَقُولُ الَّذِينَ نَسُوهُ مِن قَبْلُ قَدْ جَاءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ

وايي به هغه كسان چې دوى هېر كړې يعني پرې ايښى يې و هغه كتاب ولم يؤمنون به، په تحقيق راتګ كړى ؤ رسولانو د خداى ﷻ پر موږ په حق دين سره چې اسلام ؤ يعني دغه ورځ به دوى ته دا معلومه سي رسولانو خو راتګ په حق دين سره كړى ؤ، او اقرار يې په حقيت د دين د رسولانو وكړى لكن اقرار په دې ورځ ودوى ته فائده نه كوي، ولې دار الابتلاء تېر سو.

فَهَل لَّنَا مِن شُفَعَاءَ فَيَشْفَعُوا لَنَا أَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِي كُنَّا نَعْمَلُ

ـو آيا شسته موږ لره شفاعت كونكي چې زموږ شفاعت وخداى ﷻ ته وكړي او يا موږ رد كړل سوو و دنيا ته، نو موږ به عمل وكړو غير له هغه عمل څخه چې موږ په دنيا كې كاوه چې هغه شرك او عصيان دى، يعني ايمان به مو راوړى واى او عمل صالح به مو كړى واى، ملكې به د خداى ﷻ له طرفه ورته ووايي چې نه شفاعت كونكي لرئ او نه مو وه دنيا ته رد كېداى سي، فيئسوا من كل ما استفهموه وتمنوه.

پوه سه: چې او "نرد آه" عطف دى پر ماقبل جملې باندې او د هغې جملې سره

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

په استفهام کې داخله ده، نو گویا دوی داسې ووېل فهل لنا من شفعائنا او نرد اه.

قَدْ خَسِرُوٓا أَنفُسَهُمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ

په تحقیق دوی په تاوان کې واقع کړه خپل ځانونه چې ټول عمر د دنیا یې په کفر او شرک کې تېر کړی ؤ، او نیستي سوه له دوی ځنې هغه چې دوی په دنیا کې کاذبانه دعوې کولې چې دوی به ویل چې خدای ﷻ موږ په شرک سره امر کړي یو، یا به یې ویل په باره کې د بتانو "هؤلاء شفعائنا عند الله"

درویش وایي: چې امام همام غزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې وایي که چا کښت وکړی او بنه یې و روزی او بیا چې پوخ سو وه یې رېبلی او درمند یې ځنې جوړ کړی، نو یې داسې ووېل چې رجاء او امید دی چې دا درمند به سل کاسیې غنم مثلاً وکړي، نو دې ته رجاء وایي. او یو بل سړی چې د کښت په وخت کې یې هیڅ کښت نه ؤ کړی او د کښت وخت یې په غفلت او عبثو کارو کې صرف کړی، نو وخت د درمندانو د ذراعینو راغلی، نو ده به ویل چې ماته به هم خدای ﷻ سل کاسې غنم راکړي، نو دا رجاء نه ده بلکې ودې ته امنیه وایي بلا اصل. نو دغه دی حال د مؤمنانو او کافرانو چې مؤمنان وایي چې انبیاء علیهم السلام به زموږ شفاعت وکړي او کافران وایي چې بتان به زموږ شفاعت وکړي، او داغه رنګه دی حال د هغه مؤمن چې په عبادت کې د خدای ﷻ یې کوشش کړی وي او له منهیاتو ځنې یې ځان ساتلی وي، او بیا دا وایي چې زما رجاء او امید دی چې خدای ﷻ به زما دا لږ عمل قبول کړي، او که څه تقصیر ؤ هغه به خدای ﷻ راوبخښي او لوی ثواب به راکړي فهذا منه رجاء. او یو بل سړی دی چې په رضاء او سخط کې د خدای ﷻ فکر نه کوي او نه په وعد او وعید کې د خدای ﷻ ری وهي او سره ددې وایي ارجوا من الله ان یدخلني الجنة ویجیرني من النار فهذا منه امنیة بلا اصل.

إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ عَلَى الْعَرْشِ

په تحقیق سره ستاسې رب یعني چې تاسې ته تربیه درکوي یعني چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رحم کي د مور واست بیا تر آخره پوري د عمر یو الله دی هغه الله چي پیدا کړي
یې دي اوه اسمانونه او مځکه په شپږ ورځي کي یعني په مقدار د شپږو ورځو
کي چي په علم کي د خدای وې، وانما قلنا ذالک لانه لم یکن في ذالک الوقت
شمس ولا قمر یدل علی اللیل والنهار مشهوره دا ده چي په شپږ ورځي کي او
بعض مفسران وایې چي په شپږو ورځو کي ده ورځو ده آخرت چي هره ورځ یې
زر کاله ده.

پوه سه: چي سعید بن جبیر﵁ وایې چي خدای قادر وو چي په شپږ لمحه او
لحظه کي پیدا کړي وای.

لکن مع هذا په شپږ ورځو کي ده آخرت یې پیدا کړه، او یا پیدا یې کړه په
شپږو ورځو کي د دنیا لپاره د تعلیم د خلگو چي هر کار چي کوي یې په مهلت او
تفکر او تاني سره یې کوي وقد جا التاني من الرحمٰن والعجلة من الشیطان ولي
که شیطان یو ګړی فکر کړی وای په وخت د امر الٰهي په امر کي د سجدې وآدم او
عجولا یې انا خیر منه خلقتني من نار وخلقته من طین یې نه وای ویلی رجیم
ابدي به نه وای ګرځیدلی، وفي المثنوي.

مکر شیطانست تعجیل شتاب — خوی رحمانست صبر واحتساب
با تاني گشت موجود از خدا — تا بشش روز این زمین وچرخها
ورنه قادر بود کزکن فیکون — صدر زمین و چرخ آوردي برون
این تاني از پی تعلیم تست — صبر در کار دیرآئی و درست

علما ﷭ وایې چي تعجیل او تلوار په څو ځایه کي ښه کار دی.

(۱) فی التوبة بعد الذنب.

(۲) پور ورکول چي ستا په ذمه کي وروسته تر دې چي وخت یې پوره سي "لانه قد جا مطل الغنی ظلم" حدیث نبوي.

(۳) او میلمه ته ډوډۍ ژر ورکول که څه هم ستا وخت معتاد تاخیر وي ولي
چي شاید میلمه به ډېر وږی وي.

(۴) د لور تاخیر چي بلوغ ته ورسېږي ژر په نکاح ورکول.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۵) دفن د میت مه خنده وه.

(۶) غسل جنابت بېله عذره مه خنده وه.

پوه سه: چي "عرش" هغه چوکی ته وايي چي بادشاهان پر کښيني او بله معنی د عرش دا ده چي پر سري لوړ وي او پر سر يې سايه کړي وي او دا داوي معنی وي په خدای کي محالي دي ولي چي د دي دوو معناوو څخه جسميت د خدای او مکان لازمېږي وهو تعالى منزه عن الجسمية والمكان نو بناً على هذا صاحب ده روح البيان وايي چي استواً على العرش كناية ده دنفس عزت او سلطنت على طريق ذكر اللازم وارادة الملزوم" فالمعنى ان الله تعالى بعد ان خلق السموات والارض في ستة ايام كما اراد سلطنت خپل جاري كړی فسير الكواكب او ورځي او شپې يې پيدا كړي او تدبير د كار د مصنوعاتو خپل يې جاري كړی حسب ما يقتضيه الحكمة. قاضي بيضاوي وايي استوى على العرش اى استقر امر ربوبيته وجرى امره وتدبيره ونفذ قدرته في مصنوعاته كلها.

پوښتنه: تخصيص ده عرش يې ولي وكړی جواب وجه د تخصيص دا ده چي عرش اعظم ده مخلوقاتو دی لانه محيط بجميع عالم الاجسام فالاستواً عليه استواً على ما عداه ايضا من الجنة والنار والسموات والعناصر والمركبات منها په تفسير حسيني كي وايي ثم اتسوى پس قصد كرد على العرش بآفرينش عرش.

پوه سه: چي حدادي رحمه الله وايي چي ثم دلته په معنی ده واو دی لمطلق الجمع لا للتراخي لان خلق العرش كان قبل السموات والارض كما ورد فى الخبر ان اول شئ خلق الله القلم ثم اللوح فامر الله القلم ان يكتب ما هو كا ئن الى يوم القيامة ثم خلق العرش ثم خلق حملة العرش ثم خلق السموات والارض

معتزله تأويل د استواً په استيلاً اوغلبه سره كوي" او اهل سنت والجماعة وايي چي استواً على العرش صفت دی د خدای پاک بلا كيف يجب على المؤمن الايمان به وبكل العلم به الى الله تعالى يعني استواً على العرش ده قصه د متشابهاتو دی. فيجري به على سنن سائر المتشابهات يعني الايمان بها وتفويض العلم بها الى الله عز وجل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د امام مالک بن انس رحمه الله څخه چا د دې آیت پوښتنه وکړه الرحمن علی العرش استوی" کیف استوی امام مالک رحمه الله سر ډیره زمانه کښته خرولی وو. ثم قال الاستواء غیر مجهول یعني ایمان پر واجب دی والکیف غیر معقول یعني کیفیت ته د استواء عقل لار نه لري" والایمان به واجب والسوال عنه بدعة" باره یې هغه سړی دباندې وشاړه.

پوه سه: چې د سفیان ثوري رحمه الله او د اوزاعي رحمه الله او د لیث بن سعد رحمه الله او د سفیان بن عیینة رحمه الله او د عبد الله رحمه الله او د نورو علماؤ څخه د اهل سنت رحمهم الله په دې آیتو کې چې صفاتو متشابهه وکې راغلي چې به چا پوښتنه وکړه، هغو به جواب داسې ورکاوه امروها کما جائت بلا کیفٍ یعني ایمان بما اراد الله تعالی بها پر لري بیله بیانه د کیفیت.

درویش وایي: چې یوه ډله چې د مجسمه وو په نامه یادیږي یعني چې خدای جسم بولي مخ لاسونه او پښې او نور اعضاً ورلره وایي دا تولو آیتونه یا آحادیث پر خپل ظاهر جاري بولي. دا وو تحقیق ده ثم استوی علی العرش، په کم علم د درویش والعم عند الله العزیز العلام.

یُغۡشِی ٱلَّیۡلَ ٱلنَّهَارَ یَطۡلُبُهُۥ حَثِیثٗا

خدای ﷻ پټوي په شپه ورځ یعني شپه چې خدای راولي په غروب د شمس ورځ پټه کړي. طلب کوي شپه د ورځې وبالعکس چابک بدون مهلة.

سوال: عکس یې ولې نه کړی ذکر یعني یغشی النهار اللیل.

ځواب: په عکس یې سړی پوهیږي یعني عکس ده اصل څخه فهمیږي او بل جواب دا دی چې مذکور عبارت د قرآن ده دوارو احتمال لري یعني باعتبار جعل اللیل مفعول اول والنهار مفعول ثاني او بالکعس فافهم، فانه دقیق. او بغوي رحمه الله وایي چې عبارت یغشی النهار اللیل محذوف دی لدلالة المذکور علیه وفیه نظر فتامل اشارة الی ان یصح بدون کمامر فلاحاجة الی الحذف منه.

پوه سه: چې "حثیثاً" مفعول مطلق دی د یطلبه یعني طلباً حثیثا ای سریعا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُومَ مُسَخَّرَاتٍ بِأَمْرِهِ

پوه سه: چي مشهور قرائت په نصب سره دی د شمس او قمر او نجوم چي عطف دی پر سموات باندي دی والتقدير ان ربكم الله خلق الشمس آه او لفظ د مسخرات چي معنی يې مذللات حال دی د ثلاثه وو څخه او بامره چي معنا يې بقضائه ده متعلق په مسخرات پوري دی، او ابن عامر رحمه الله لفظ د شمس او قمر او نجوم او مسخرات په رفع سره چي مبتدأ او خبر ې بولي.

أَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْأَمْرُ

آگاه اوسه چي خدای لره دی خاصة خلق او امر لاشريک له فيهما" ولا اعتراض عليه تعالى فيهما" يفعل ما يشأ ويحكم ما يريد" بغوي وايي چي سفيان بن عيينة رحمه الله وايي فرق بين الخلق والامر فمن جمع فيهما يعني چي خلق او امر يو دی فقد كفر آه.

پوه سه: چي فخر الدين الرازي رحمه الله په تفسير كبير كي وايي چي عالم ماسوی ته د خدای وايي حصر دی په دوو نوعو کي عالم الخلق وعالم الامر، عالم الخلق الاجسام والجسمانيات ته وايي او عالم الامر وه ارواح او مجرداتو ته وايي او دا قول د خدای جل جلاله الا له الخلق والامر اشاره ده وغو دوو عالموته.

او وجه د تعبير د اول څخه په عالم خلق سره يې دا بيان کړي ده خلق عبارة د تقدير څخه دی وکل ماكان جسماً او جسمانياً يكون مخصوصاً بمقدار معين فعبر عنه بعالم الخلق او هر شي چي مجرد وي ده حجم او مقدار څخه كان من عالم الارواح وعالم الامر لانه مكون بمجرد امر كن فسمي كل واحد باسم مناسب له انتهى قول الامام رحمه الله.

درويش وايي: چي مناسب ده رايې سره د امام صوفيه کرامو هم مختاره کړي ده باسماً مصطلحة لهم.

تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٥٤﴾

ای تعالى الله تعالى بالواحدنية فی الالوهية وتعظم بالتفرد فی الربوبية، څوک وايي چي تبارک مشتق دی د برکة څخه په معنا د نما او زيادة ومن لوازمه العظمة"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض مفسرین وایي چي برکت او خیر کسب کبري په ذکر سره ده خدای جل ذکره، د ابن عباس ﷺ روایت دی چي معنا یي دا ده جا الله تعالی بکل برکة.

درویش وایي: چي نوري معناوي د دې آیت د علماؤ څخه منقول دی چي مآل د تولو سره نژدې دی.

اُدۡعُوۡا رَبَّکُمۡ تَضَرُّعًا وَّ خُفۡیَةً

تاسي بولي یعني ذکر کوئ د خدای" په عجز او په اظهار د مسکنت او په پټه خوله "بایزید بسطامي رحمه الله وایي" چار چیز آورده شاها که در گنج تو نیست،

عاجزي ومسکیني فقر گناه اورده ام — ایوبي وایي په گناه درته اقرار یم

ستا د رحم انتظار یم.

پوه سه: چي تضرعا او خفیة حال دي د فاعل څخه د ادعوا ای زوي تضرع وخفیة.

درویش وایي: چي د قدیم زماني څخه په دې کي اختلاف دی چي ذکر په پټه اولی دی لکه مذهب د ساداتو نقشبندیه وو چي دی او دا آیت هم د دوی دلیل او یا ذکر بالجهر اولی لکه عادت د ساداتو د قادریه او چشتیه چي دی.

درویش وایي: چي دلیل د فضیلت ده اخفاً دا دی چي ابعد ده ریاً څخه دی او پر اخلاص او حضور مشتمل دی په دې کي شک نسته چي ذکر خو عبادت دی که جهرا وي چي ریا نه وي پکښې او که سرا وي او دا حدیث چي روایت یې بخاري او مسلم دواړو کړي ده ابي هریرة ﷺ څخه قال قال رسول الله ﷺ چي خدای پاک وایي چي زه په نیز د ظن د بنده یم په ماسره اوزه د بنده سره ور سره یم که چیري بنده زما ذکر په زړه کي وکړي ذکرته في نفسي او که زما ذکر په یو جماعت کي وکړي یعني په جهر سره زه بې هم ذکر وکړم په داسي جماعت کي چي خیر به وي تر جماعت د ده یعني جماعت الملائکة انتهی بالترجمة، دا حدیث فائده کوي فضیلت ده ذکر د اخفاً والجهر کلیهما کما لایخفی.

فائده: حسین کاشفي رحمه الله په رساله علیه کي وایي "ای درویش قومي که کمین گاه نفس را دیده اند ودانستند ذکر بجهر مناسب نه دیده اند" که به ریا انجامد ومخفي به ذکر شغول شده اند وقول حق تعالی را که واذکر في نفسک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تضرعا وخفیة کار بستند وجمعي که بمرتبه اخلاص رسندند وخود را وباطن خود را از ریا پاک یافتند ذکر را بجهر گفتند وهر یکي را ازین دو طائفه وعمل خود دلائل است انتهی.

پوښتنه: چي په آیت شریف کي راغلي ﴿فاذکروا الله کذکرکم آباکم او اشد ذکرا﴾ دا آیت خو دلالت پر فضیلت د جهر بالذکر کوي. ولي چي اهل جاهلیت خو په ایام کي د منیٰ ذکر د خپلو نیکه ګانو په جهر سره کاوه جواب تشبیه په جهر کي نه ده بلکه په ډیر والي کي د ذکر ده یعني ذکر د خدای ډیر کوئ لکه ذکر د نیکه ګانو چي مو ډیر کاوه.

درویش وایي: چي مظهري دعوه د اجماع د علماؤ کړې ده پر دې باندې چي ذکر خفیة هو الافضل والجهر بالذکر بدعة الا في مواضع مخصوصة چي ضرورت و جهر ته وي لکه آذان اقامة تکبیرونه د تشریق او تکبیرونه د انتقالاتو د لمانځه والتسبیح للمقتدي اذا ناب نائبة والتلبیته فی الحج والعمرة.

پوه سه: چي حسن بصري رحمه الله وایي چي ذکر السر مجمع علیه ده صحابه وو رضي الله عنهم او د تابعینو رحمهم الله دی او (۷۰) واره ذکر السر تر ذکر الجهر بالادی او خدای جل جلاله علاوه پر دې چي دلته یه ویلي دي ادعو ربکم تضرعاً وخفیة په قرآن مبارک کي ده خپل یو صالح بنده په فضیلت کي ویلي دي" اذ نادیٰ ربه ندآ خفیاً او بل پر فضل ده ذکر خفي هغه حدیث چي احمد یې روایت کړی د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دلالت کوي چي علیه السلام وویل خیر الذکر الخفي وخیر الرزق مایکفي" او په حدیث شریف کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام او صحابه کرام رضي الله عنهم د خیبر غزاته روان وه خلګو ته یوه شیله په مخه ورغله نو دوی الله اکبر په زوره شروع یعني په جهر سره فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل چي نرمي وکړئ پر خپلو ځانو یعني په زوره تکبیر مه وایاست انکم لا تدعون اصم ولا غائبا انکم تدعون سمیعاً قریباً رواه البغوي لکن درویس وایي چي دا حدیث که څه هم دلالت کوي پر افضلیت د ذکر خفي لکن دا قول د علیه الصلوة والسلام اربعو علی انفسکم چي نهي د جهر او امر بالاخفی دی په سبب د شفقت دی لا عدم جواز الجهر بالذکر اصلاً" علما وایې چي ذکر درې قسمه دی (۱) یو دادی چي جهر تر داسي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اندازې وي چې نعرې ورسره وهي داخو مکروه بالاتفاق مګر هغه وخت مکروه نه دی چې په نارو کې حکمت وي او ضرورت ورته وي او اذن شرعي په کښې بيا نو داسې ذکر تر اخفآ افضل دی لکه اذان او تلبيه وغيرهما.

پوښتنه: صوفيان د طريقه چشتيې خو ورته ذکر کوي، يعني نارې پکښې وهي؟

ځواب: (۱) د ساداتو د دغو صوفيانو ورته ذکر چې کوي په مبتديانو د دوی کوي، او د دوی په ورته ذکر کې حکمت دا دی چې طرد د شيطان وکړي او دفع د غفلت او نسيان وکړي او بلول د اور د محبة الٰهي د دوی په زړو کې پيدا کړي يعني د مريدانو ومع ذالک يشترط الاحتراز عن الريآ والسمعة.

(۲) او بل دا دی چې ذکر خو په ژبه وي لکن سرآ" وهو المراد بقوله عليه الصلوٰة والسلام لايزال لسانک رطباً من ذکر الله رواه الترمذي وابن ماجة وروی احمد والترمذي قيل ای لرسول الله ای الاعمال افضل قال ان تفارق الدنيا ولسانک رطب من ذکر الله تعالی.

(۳) او بل ذکر دی په قلب او روح وغيرهما من اللطائف المروجة لسادات الطريقة النقشبندية چې په ذکر کې ژبه مداخله نه لري دا هغه ذکر دی چې کرام کاتبين حفظة هم نه دي په خبر چنانچه شاه نقشبند قدس سره وايي.

لب به بند وچشم بند گوش بند گر نديدی سر حق برما بخند

مظهري وايي چې ابو يعلی له عائشې رضي الله عنها نقل کړی دی قالت قال رسول الله ﷺ چې فضيلت د ذکر خفي چې حفظة يې هم نه اوري او يا صعف دی د نورو اذکارو حتی ورځ چې د قيامت سي او خلګ لپاره د حساب جمع کړه سي او حفظة راتګ وکړي بما حفظو او کتبوا خدای پاک ووايي انظروا هل بقی له من شئ نو ملکې حفظة ورته ووايي چې موږ نه دي پرې ايښی يو شئ مما علمناه وحفظناه مګر هغه موږ ليکلي دي نو خدای ﷻ ورته ووايي چې ده لره يوه حسنه سته چې تاسې نه ياست په خبر زه يوازې په خبر يم وهو الذکر الخفي المذکور.

فائده: دا ذکر ته حضور قلبي وايي وقد عبر سادات النقشبندية عن هذا الذکر به خلوت در انجمن" وسفر در وطن ونظر بر قدم.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده: د عمر ﷺ څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم چي به لاسونه پورته کړه په دعا کي تر هغو يې لاسونه نه رده ول څو چي مخ په مسح کړي تبركاً تاچي هغه بركت چي پر لاسو نازل سوی دی مخ ته يې هم بركت ورسېږي.

فائده: كه داعي د خدای څخه يو مطلب غوښتی د مطالبو څخه د دنيا يا آخرت لاسونه دي خلاص ونه سي د اسمان وخواته سره د ادنی فرجي او كه يو چا نجات غوښتی د عذاب د دنيا يا د آخرت نو لاسونه دي پورته كړي او د مخ پرده دې وګرځوي، او كه يو چا مستحق ته د ښرا يعني ظالم ته يا عاق ته ښرا كوله د لاسو شا دي د آسمان وخواته كي او مخان دي د مځكي خواته.

فائده: لوی شرط د دعا د قبلېدو نفقه حلاله ده او بل شرط تيقن بالاجابة دی لان الله حييئ كريم يستحي ان يرد الايدي المرفوعة اليه صفرا كما ورد فی الحديث النبوي ﷺ.

فائده: د انسانانو دا عادت دی غالباً چي څوک شی څندي غواړي د هغه چاسه يې بد راځي او د كريم خدای ﷻ دا عادت چي څوک محتاجه وي كه څه هم ډير لږ او حقير شي او د خدای ﷻ څخه يې نه غواړي خدای څندي ناراض كېږي حتی شعص النعل كما ورد فی الحديث.

فائده: په يوه لاس ببله عذره دعا بدعت ده بلكه دواړه لاسونه دي پورته كوي.

إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ

په تحقيق د خدای ﷻ نه دی خوښ تجاوز كونكی په دعا كي يعني تر حد شرعي لكه يو څوک چي سوال وكړي د خدای ﷻ څخه چي ما منازلو ته انبيا ورسوي يا مي اسمان ته وخېژوي يا مي جنت ته داخل كړی جنت ته دمخه تر مرګ" يا ټوله حيوانات زما مسخر كړي يعني عقلاً يا عادةً محال وي او يا فائده چنداني نه وي پكښې لكه يو سړی چي غبرږ باز وي خدای ته خواست وكړي چي ماته دونه قوت په پهلواني كي راكړې چي څوک مي نسي غوځارولای او بعض علما وايې چي اعتدا په دعا كي چغې نارې وهل دي او څوک وايې چي ډيره وړده دعا كوي" ولي چي په حديث مبارک كي راغلي دي سيكون قوم يعتدون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فی الدعا وحسب المرء ان يقول اللهم اني اسئلک الجنة وما قرب اليها من قول وعمل واعوذ بک من النار وما قرب اليها من قول او عمل" حاصل دا چي سړی د امور مهمة خواست کوي وهو الفوز بالجنة والنجاة من النار.

درویش وايي: چي د اعتدا فی الدعا کي داهم ده لکه په يو حديث کي چي روايت يې بغوي کړی دی چي عبد الله بن مغفل ده خپله زويه څخه داسي واوريده اللهم اني اسئلک القصر الابيض عن يمين الجنة اذا دخلتها عبد الله بن مغفل ورته وويل يا نبي سل الله الجنة وتعوذ به من النار ولي چي ما د عليه الصلوة والسلام څخه اوريدلي دي چي په دي امت کي به داسي کسان پيدا سي چي تجاوز تر حد کوي په دعا او طهارت کي يعني په اوداسه او غسل کي به اسراف په ابو کي کوي.

او عطية ﷺ وايي چي معتدين فی الدعا هغه کسان دي چي مسلمانانو ته هغه ښراوي کوي چي روا وي لکه چي ووايي اللهم العن فلانا وفلانا من المسلمين لکه روافض چي پر صحابو ﷺ او پر بعض اهل البيت باندي لعنت وايي.

وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا

او تاسي فساد مه کوئ په مځکه کي وروسته تر اصلاح ده مځکي يعني بالکفر والمعاصي، يعني چي خدای پاک اصلاح د مځکي وکړه په بعث د رسولانو او په بيان د شريعت والدعا الی طاعة الله عز وجل وبالنهي عن الاعتدا فی الدعا.

پوه سه: چي معاصي چي ډېر سي خدای پاک باران پر مځکه قطع کوي ويهلک الحرث والنسل.

وَادْعُوهُ خَوْفًا وَطَمَعًا

او خدای ته خواست کوئ په داسي حال کي چي تاسي به خائفين ياست د خدای څخه چي دعا او خواست به نه کي قبول په وجه دقصور د اعمالو حسنه وو او د ډير والي د گناهونو خوفاً مصدر دی په معنی دخائفين دی "طمعاً" او طمع کونکي به ياست په اجابت کي د دعا په سبب د مزيد رحمت د رب العالمين.

فائده: طمعاً پر قياس دخوفاً دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ ﴿٥٦﴾

په تحقیق رحمت دخدای ﷻ نژدې دی واحسان کونکو خلکو ته.

پوهه: چې په دې آیت کې اشارة وده ته ده چې رد دعا د جواد کریم بادار له خوا په سبب د اعمالو ستاسي، او په سبب د دې ده چې تاسي عمل پر طریقه د احسان نه کوئ کما ورد في حدیث البخاري الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه یراک.

سوال: قریب مسند دی و رحمة ته او هغه مونث دی او قریب مذکر دی.

ځواب: مشهور جواب خو یې دا دی چې رحمة په تاویل د حدث دی لکن احسن جواب یې دا دی چې رحمة په تاویل د رحم دی لان الرحم بضم الرا بمعنی الرحمة کما في قوله تعالی واقرب رحما" او په دې آیت کې اشارة وده ته ده چې رحمة د خدای په قبول د دعا کې نژدې دی کما في قوله تعالی وما یدریک لعل الساعة تکون قریبا" لکن چې سوال او دعا په لسان ذاکر شاکر سره وي او په قلب حاظر طاهر سره وي او د طمع خوا یې راجح وي، وورد فی الحدیث الصحیح ادعوا الله وانتم موقنون بالاجابة لان قدرة الله تامة ورحمته تعالی عامة وعلمه بحال الداعي کامل فانتفی فیه تعالی موانع الاجابة.

بیت

ای کریمي که از خزانه غیب	کبر وترسا وظیفه خور داری
دوستان را کجا کني محروم	تو که با دشمنان نظر داری

په یو حکایت کې راغلي چې یو کم عقله سری "چې په عربي یې ابله بولي او په فارسي یې دیوانه مانند بولي او په پښتو یې لیونی وزمه بولي یا باوله" د حج په طواف وداع کې وو یو سړي د مسخرو ورته وویل چې فلانیه تاته کاغذ د برات من النار حاصل سو ده ورته وویل یا، نورو خلکو ته ورکړه سو هغه ورته وویل هو ابله وحطیم ته داخل سو او د رحمة تر ناوه لاندي ودریدی او د کعبې مبارکي په پوښ د کعبې لاسونه ټینګ کړه او خدای جلت رحمته وقدرته ته په زاریو او ژړا سو چې ماته کاغذ د برات من النار را کړه لکه نورو ته چې دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړې دی، یو او بل ورته وویل چي هغه ستا سره مسخرې کولې هیڅ چاته کاغذ دبرائت من النار نه دی ورکړه سوی خود ده ابله وزړه ته د خلگو خبري نه لویدې او په ژړا او عجز یې کاغذ د برائت من النار غوښتی ناگهانه ده میزاب الرحمة د خوا کاغذ را شوه سو چي په کښي نوشته وه هذا برائت من النار الی فلان ابله کاغذ واخستی" او علامه د دې چي کاغذ من عند الله دی دا وه چي دا کاغذ چي پر هر طرف به ونیول سو توري به یې راسته او د شا د خوا هم داغه توري پر نوشته وه.

مسئله: علماً په اتفاق وایي چي یو سړی چي په تکلیف مبتلا وي او خواست د کشف الضر المذکور وه خدای ته نه کوي دا کار مذموم دی عند اهل الطریقة ولي چي دا یو ډول مقاومت دی د غذابو سره د خدای او دعوی د تحمل د تکالیفو ده خدای وهو مذموم قال المحقق ابن الفارض قدس سره.

ویحسن اظهار التجلد مع العدي ویقبح غیر العجز عند الاحبة

حافظ شیرازي رحمه الله وایي

فقیر وخسته بدرگاهت آمدم رحمي... که جز دعایې تو ام نیست دست او ریز

ونسب هذا لبیت الی بایزید البسطامي قدس سره السامي.

پوښتنه: علماً وایې او ویلي دی چي څوک دي داسي نه وایي چي زما خواست او دعا حتماً خدای ﷻ قبلوي او په حدیث شریف کي راغلي دي فاسئلوه وانتم موقنون بالاجابة آیا د علماً خبري او د حدیث شریف تر مابین به منافات نه وي؟

ځواب: معنی ده وانتم موقنون بالاجابة نظر ودې ته رب جل سلطانه کریم دی رحمان دی رحیم دی لیس في جنابه تعالی البخل والعجز" وعدم الیقین بالاجابة ورد الدعا نظر وشوم ته د معاصي د داعي دی فلامنافات او مسلم او ترمذي د ابي هریرة رضي الله عنه څخه روایت کړی دی همیشه د بنده خواست قبلیږي چي دعا د حرام او د گناه ونه کړي مثلاً دعا وکړي چي ماته قدرت د فلانی ښځي پر زنا را کړې اویا په قطع دصله رحمی لکه چي خدایه زما ورور یا زوی په سترگو ړوند کې" او یا تلوار ونه کړي قالوا وما الاستعجال علیه الصلوة والسلام وویل چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استعجال دا دی چي یو سړی ډیر وارونه یو شی د خدای ﷻ څخه وغواړي او هغه خواست یې قبول نه سي نو ستړی سي باره دعا پریږدي او کما قال رسول الله ﷺ.

فائده: اجابة د دعا غالبا مربوط په نفقه حلاله پوري دی ولي مسلم او ترمذي روایت کړی دی د ابو هریرة ﷛ څخه چي علیه السلام وویل الرجل یطیل السفر اشعث اغبر یمد بیدیه الی السماء یا رب یارب ومطعمه حرام ومشربه حرام وملبسه حرام وغذی بالحرام فاني یستجاب لذالک.

وَهُوَ الَّذِي يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهٖ

پوه سه: چي بعض قاریان دا کلمة بُشرا په ضمه د باء او په سکون د شین وایې او اصل یې بُشُرا په ضمه د شین بیا یې ضمه د شین تخفیفا حذف کړه نو جمع د بسیر ده والمعنی خدای ﷻ هغه ذات دی چي را استوي بادونه زیري کونکي په باران سره کما قال الله تعالی الریاح مبشرات او بعض قراء چي حمزه او کسائي دي په نون مفتوحه اوپه اسکان د شین وایې چي مصدر دی په معنی د ناشرات او حال دی د ریاح څخه او نافع دا کلمه نُشرا په ضمه د نون او شین وایې چي جمع د نشور ده په معنی د ناشر قال الله تعالی والناشرات نشرا او معنی د بین یدی رحمته د مخه تر رحمت چي باران دی او لفظ بین مقحم دی.

پوه سه: چي باد صبا چي شرقي باد دی وریځ تو تې را پورته کوي او باد شمال یې سره جمع کوي. او جنوبي باد باران شروع کوي او د بور باد چي غربي باد دی وریځ سره پاشي او متفرق کوي یې" په حدیث شریف کي د ابو هریرة ﷛ چي بخاري یې روایت کړی په ادب کي او ابو داؤد یې هم روایت کړی قال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم چي ریح یو مخلوق د خدای دی گاهي راتګ په رحمت یعني باران سره کوي او ګاهي په عذاب سره نو تاسي چي باد ووینئ نو بنکنځل مه ورته کوئ او سوال د خدای څخه د خیر د هغه باد او پناه غواړئ د خدای ﷻ څخه د شر د هغه باد او کما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حَتّٰۤى اِذَاۤ اَقَلَّتْ سَحَابًا ثِقَالًا

حتی چي را پورته کړي دغه بادونه وريځ چي درنه وي په سبب دہ ابو.

سوال: سحاباً خو مفرد دی او ثقالاً جمع د ثقيل ده نو يې څرنګه صفت واقع سو؟

ځواب: سحاب دلته په معنی د سحائب دی.

قانون: هر ځای چي په قرآن کي رياح په صيغه د جمعې راسي هغه د رحمت بادونه دي او چي په صيغه د مفرد راسي هغه لپاره د عذاب دي.

سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ

موږ وشړو يعني واستوو هغه وريځ وه هغه ښار ته چي مړ وي يعني نباتات نه وي سپيره مځکه وي.

يوه سه: چي د ښار څخه دلته مراد ښار متعارف نه دی بکله نفس مځکه ده.

سوال: د سقناه ضمير يې مفرد را وړی او سره د دې چي دمخه موږ وويل چي سحاب په معنی د سحائب دی.

ځواب: افراد د ضمير نظر ولفظ ته د سحاب دی چي مفرد دی که څه هم مراد ځندي جمع ده.

فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ

نو موږ نازل په ای بالبلد.

يوه سه: چي پر دې تقدير کلمه د باَ لپاره د الصاق ده ای التصق انزال الماَ بالبلد هذا ما قال روح البيان وما قال المظهري الباَ للسببية فمعناه ان احياَ البلد سبب لانزال الماَ.

فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ

نو موږ را وايستی د ټولو ميوو څخه.

يوه سه: که ضمير د به راجع سي وه بلدته نو کلمه د باَ لپاره د ظرفية ده او که راجع سي وسحاب ته يا سوق ته يا ريح ته فکلمته للسببيته او د کل الثمرات څخه مراد استغراق حقيقي نه دی ولې چي ټولي ميوې په سبب د باران خو په هر بلد کي نه پيدا کېږي کما هو الظاهر نو مارد استغراق عرفي دی فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَذٰلِكَ نُخْرِجُ الْمَوْتٰى لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُوْنَ

لکه اخراج د میوو چي خدای کوي او یا احیا البلد المیت چي خدای کوي، موږ را باسو مړي د قبرو څخه یعني په ورځ د قیامت لپاره د دې چي تاسي به فکر وکړئ او قیاس د قدرت د خدای پر احیا الموتی باندي وکړئ پر احیا البلد باندي.

بوه سه: چي اصل د تذکرون تتذکرون وو یوه تا یې حذف کړه بغوي وایې او روح البیان هم وایې چي ابو هریرة رضي الله عنه او ابن عباس رضي الله عنهما وایې چي څه وخت مړه سي په نفخه اولی سره تو له خلګ نو خدای جل جلاله پر مځکه باران شروع کي لکه مني ده نرو من ما تحت العرش چي ما الحیوان یې بولي نو دا مړي ژوندي سي په قبرو کي لکه نبات الزرع حتی چي بدنونه یې کامل سي یلقی فیهم الروح ای نفخ وروسته خوب ورسي بیده سي په قبرو کي بیا وروسته حشر سي په نفخه ثانیه سره وهم یجدون طعم النوم في رؤسهم فعند ذالک یقولون یاویلنا من بعثنا من مرقدنا.

درویش وایي: چي دا حدیث غیر د بغوي او روح البیان څخه بل چا نه دی روایت کړی.

وَالْبَلَدُ الطَّيِّبُ يَخْرُجُ نَبَاتُهٗ بِاِذْنِ رَبِّهٖۚ وَالَّذِيْ خَبُثَ لَا يَخْرُجُ اِلَّا نَكِدًاۚ

هغه مځکه چي خوړه وي یعني تروه او بنره نه وي، را وزي نبات د هغه بلد یعني هغه تخمونه چي په دې کي وي تو له په کمال حسن سره راشنه کېږي په اراده د رب البلد، ای متلبسا باذن ربه فهو في موضع الحال "الذین خبث" او هغه بلد چي مځکه یې خبیثه وي یعني یا بنره وي یا شګلنه مځکه وي "لا یخرج" یعني نبات یې نه را وزي "الا نکدا" یعني لږ او بي فائدې نبات لکه خوزان زمی، او نور ورته بې فائدې شیان.

كَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّشْكُرُوْنَ

دغه ډول لکه چي په ایات مذکوره کي تیر سوه موږ په بار بار بیانه وو دلائل د قدرت الهي لپاره د هغه قوم چي د خدای شکر وایي د نعمت د خدای جل جلاله وهم المومنون.

درویش وایي: چي دا مثال د تفاوت د استعداداتو د انساناتو دی. نو قرآن

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

مبارک ویلي دی یعني هغه کسان یې قبلوي او ایمان هغه کسان راوړي چې کامل استعداد لري لکه خوره مځکه او د چا استعداد چې خبیث وي لکه کفارو د مکې په هغو کې تخم د قرآن تاثیر نه کوئ بلکه په ځای کې د ایمان څوزان د کفر او انکار او استهزا پیدا کوي لکه بنره مځکه ولنعم ما قیل.

نقصان زقابلست وگر نه علی الدوام... فیض سعادتش بهمه کس برابر است
دا باران چې پر همهٔ مځکو اوري... مشرف یې کړی ذات د کیمیا ولي

وفی التفسیر الحسیني: هر گاه که باران مواعظ از سحاب کلام رب الارباب بردل مؤمن ببارد انوار طاعات وعبادات بر جوارح او ظاهر گردد وچون کافر استماع سخن کند زمین دلش تخم نصیحت قبول نکند ازو هیچ صفت که بکار آید در ظهور نیاید آه: قال السعدي الشیرازي رحمه الله زمین شوره سنبل بر نیارد" درو تخم عمل ضائع مگردان.

لَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ

یوه سه: چي لام جواب د قسم محذوف دی ای والله لقد ارسلنا نوحاً او دا لام غالباً د قد سره مستعملېږي، "نوحاً" وهو نوح بن لامک وقیل لمک بن متشولخ وامه عونه وقیل قینوس" بنت بر الیک وقیل متوشخ ابن اخنوخ" وهو ادریس النبي بن یرد بن مهلا بیل بن قینان بن انوش بن آدم علیه السلام وقیل بدل انوش شیث بن آدم علیه السلام په مستدرک کې راغلي دي روایة عن ابن عباس رضي الله عنه بین آدم ونوح عشرة قرون کما رواه الطبراني عن ابي ذر رضي الله عنه مرفوعاً.

یوه سه: چي بعض مؤرخین وایې چي نوح نجار وو خدای وخپل قوم ته واستاوه پر څلویښت کاله وکان مجموع عمره" یو زر او دوه سوه څلویښت کاله (۱۲۴۰) او نوح تر ادریس وروسته وو هغه تر شیث بن آدم په تفسیر حسیني کې وایې چي قوم د ده اکثر اولاد د قابیل بن آدم وه او بت فرستي یې کول ولې قابیل چي خپل ورور هابیل مړ کړی آدم علیه السلام دی وشاړه نو دی سره د اولاد او اتباعو د ده یمن ته ولاړه او قابیل اول سړی دی چي بت فرستي یې شروع کړه.

فائده: د نوح علیه السلام اصلي نوم بغوي وایې چي سکن وو لان الناس سکنو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اليه بعد آدم عليه السلام او بعض مؤرخين وايي چي نوم يې شاكر وو او امام سيوطي رحمه الله په اتقان كي په نقل د مستدرک څخه د حاكم وايي چي نوم يې عبد الغفار وو او دا مذهب صحيح دى.

پوښتنه: په نوح سره د څه وجهي مسمیٰ سو؟

ځواب: په سبب د ډير نوح او ژړا پر ځان او پر قوم باندي او بعضي اهل تاريخ وايي چي ژړا يې په سبب د بېري د ورځي د قيامت وه، او بغوي وايي چي ده يو ګرګ سپى وليدى نو ده وويل اخسأ ياقبيح خوار سې اى قبيح الصورة سپيه فاوحى الله اليه ايا تا زما عيب وواية كه د سپي يعني دا قبيح صورت خو ما سپي ته ورکړى نو تا د سپي عيب ولي وواية نو نوح عليه السلام بېهوشه سو چي په هوش كي راغلى نو يې پر خپل ځان ډير ژړل.

درويش وايي: وقيل وقيل غير هذا الوجوه والله اعلم.

فائده: اكثر صحابه رضي الله عنهم پر دې رايه دي چي نوح تر ادريس عليه السلام د مخه وو او بعض اهل تاريخ وايي چي وروسته وو والعلم عند الله.

فَقَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ط

نو نوح وويل اى قومه زما كسره د ميم عوض د مضاف اليه ده تاسي عبادت د خداى يعني توحيد د خداى مختاره کړئ لان قومه كانو مشركين" نشته تاسي لره معبود بالحق غير د خداى جل جلاله څخه.

فائده: بعض قاريان "غيره" په رفع سره وايي كما في المصاحف المروجة وجه يې دا وايي چي من زائد دى نو اله مرفوع المحل دى كانه قيل مالكم اله غيره او بعض قاريان يې په جر سره وايي وجه يې دا وايي چي لفظ د "اله" مجرور دى په من جاره نو صفت يې هم مجرور دى، وكلا الوجهين صحيح كما لا يخفى.

اِنِّیْۤ اَخَافُ عَلَیْكُمْ عَذَابَ یَوْمٍ عَظِیْمٍ ﴿۵۹﴾

زه بيريږم پر تاسي باندي د عذاب څخه د لوى ورځي چي ورځ د قيامت ده او بعض وايي چي يوم الطوفان ده كما سيأتي ومر ايضاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٦٠﴾

وويل رئيسانو او مشرانو د قوم د نوح مورِ هر آئينه تا بولو په ښكاره گمراهي كي چي زمورِ د خدايانو څخه انكار كوي او خداى يو بي شريكه بولې "دا يې ولي ورته ويل څكه چي شيطان د دوى په فاسدو دماغو كي بت پرستي حق وركړي وه.

قَالَ يَٰقَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦١﴾

نوح عليه السلام ورته وويل چي اى قومه زما نسته په ماكي هيڅ گمراهي ولكن زه رسول د رب د عالميانو د خوا څخه.

پوښتنه: هغو خو نوح عليه السلام ته وويل في ضلالٍ " نوح يې ولي په جواب كي ضلالة وو ايه؟

ځواب: لپاره د مبالغې په نفي كي د ضلال د ځان څخه ولي كلمه د تا په ضلالت كي لپاره د وحدت ده يعني هيڅ گمراهي لكه درويش چي په ترجمه كي وويل، او بل يې تعريض پر دوى وكړى چي تاسي په ضلال كي ياست.

فائده: د تعريض معنى ميل الكلام الى العرض يعني ظاهر يې يو وي او باطن يې بل وي مثلاً يو سړى چي په مجلس كي پك ناست وي لاس پر سر تير كي او وو ايې چي شكر دى چي پك كړى دي نه يم ظاهر نفي د پك د ځان څخه دي لكن ناست پك په خار وركړي.

درويش وايې: چي للتعريض امثله كثيرة في الكتب.

يوه سه: چي دا قول د نوح ولكني آه تاكيد دى دنفي د ځان څخه لان كونه رسولاً مستلزم لكونه في اقصى الغايات من الهدى فكيف ينسب الى الضلال.

أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي

زه تاسي ته رسوم رسالات د خداى.

يوه سه: چي بعض قرا " ابلغكم "په تشديد د لام وايي چي د تبليغ څخه مشتق باب د تفعيل سي او بعض قاريان په تخفيف وايې چي مضارع د باب د افعال سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: نوح العَلَيْهِ خو يو رسول وو نو رسالات يې جمع ولې راوړه.

ځواب: جمعيت يا په اعتبار ددې چې په رسالت کې عقائد هم بيانيږي اعمال هم بيانيږي او مواعظ هم او احکام شرعيه هم او بعض مفسرين چې وايي چې جمعيت په اعتبار د اوقاتو دی يعني ليلاً ونهاراً فليس بجيد.

فائده: ابلغکم جمله مستانفه ده لبيان رسولا.

وَأَنْصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٦٢﴾

او تاسي ته نصيحت کوم، او زه خبر يم دخدای په باب کې په هغو شيانو چې تاسي نه ياست په خبر من التوحيد والقدرة التامة والصفات العالمية والقدرة على الاحيا والاماتة والاعادة فی القيامة والمشرکون ای قوم نوح ينکرون اکثر من تلک الصفات کما لا يخفی.

پوه سه: چې نصح يا نصيحت داسې قول يا عمل ته وايې چې په هغه کې نفع او صلاح د صاحب د ده وي او بغوي وايي چې نصح اراده د خير وبل ته لکه وه ځان" په پښتو کې وايي بنده راسه د خدای خپل سه لکه پر ځان داسې پر بل سه.

فائده: نصح متعدي بنفسه او متعدي باللام دواړه راغلي دي.

أَوَعَجِبْتُمْ

آيا تاسي تعجب کوئ قانون عربي فی القرآن الکريم" هر ځای چې وروسته تر همزه د استفهام واو يا فا يا ثم عاطفه راسي پر ماقبل د همزه خو نه سي عطف کيدای لفوات صدارة الاستفهام نو هر ځای به مناسب له مقام سره معطوف عليه به وروسته تر همزه محذوف وي مثلاً په موجوده عبارت کې به داسې تقدير وي اکذبتموني وعجبتم آه.

درويش وايي: چې دا قانون مه هيره وئ چې په ډيرو ځايو کې د قرآن عظيم الشان به ستاسې په ښه درسي.

أَنْ جَاءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلَىٰ رَجُلٍ مِّنْكُمْ

په تقدير د من جاره ای من" آيا تاسي تعجب کوئ د دې څخه چې راغلی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي ته ذکر يعني موعظة يا رسالت د جانبه څخه د خدای ستاسي "على رجل منكم" ای منزلاً پر يو سړي چي ستاسي د جنس څخه دی يعني بشر دی.

درويش وايي: چي د مشرکينو د هر عصر يو د تعجب وړ فاسد عقلونه وه هغه دا چي الوهية او معبوديت چي لوړ مقام دی وه جماداتو يعني بتانو ته يې ثابته وی او رسالت چي تر الوهيت ډير کښته مقام دی وبشر ته چي تر بتانو لوړ مقام دی جايز نه باله او دوی لکه مشرکين د مکې ويل بې (لو شآ الله لانزل ملائكة ما سمعنا بهذا في آبائنا الاولين).

لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوا وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ۝

چي تاسي وبيره وي د عذابو څخه د کفر او د عصيان، چي تاسي ځانونه وساتی د عذاب موعود څخه پر شرک او عصيان يعني د جانبه څخه د خدای، شايد پر تاسي باندي په سبب د تقوی د خدای ﷻ رحم وسي.

پوښتنه: ځوک چي د شرک او معاصي وو څخه ځان وساتي نو رحم د خدای په دخول د جنت به لازم نه وي نو لفظ د لعل چي د ترجي لپاره دی معنی يې څه ده؟

ځواب: لفظ د ترجي پر بنا يې را وړی چي تقوی موجب د ترحم نه ده بلکه ترحم من الله تفضل واحسان من الله عزوجل.

فائده: نو متقي بايد پر خپل تقوی اعتماد کلي ونه کړي" او د عذاب څخه د خدای بېغمه نه سي ولي چي يو خاتمه مستوره ده، او بل دا چي ترحم او دخول د جنت د خدای په مشيت کي دي ان شآ عذب المتقي وان شآ رحمه ودخله الجنة لا اعتراض عليه، ولا ظلم لانه تصرف في ملك الغير والله تعالى مالك كل شئ.

فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا عَمِينَ ۝

نو قوم تکذيب د نوح عليه السلام وکړی يعني ايمان يې نه راوړی او د خدای ﷻ د خوا څخه نوح ته وويل سول "لن يؤمن قومك الا من قد امن" نو وروسته نوح عليه السلام داسي شرا ورته وکړه (رب لا تذر على الارض من الكافرين ديارا) نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

طوفان نازل سو نو موږ نجات ورکړی و نوح او هغه چا ته چي د نوح علیه السلام همراه وه په کښتۍ کي.

فائده: په من معه کي اختلاف دی بعض وائي چي (۴۰) څلویښت نر او (۴۰) ښځي وې" بعض وايي اته کسه وه بعض وايي لس کسه وه بعض وايي (۷۲) دوه اویا کسه نر او ښځي مجموع بعض وايي ۳ درې زامن وه د نوح علیه السلام سام او حام او یافث او درې د دوی ماینې" او بعض وايي چي شپږ کسه غیر د اولاد څخه د ده او دهغو د زوجاتو څخه بېګانه مؤمنان وه.

درویش وايي: چي اول روایت چي (۴۰) نر وه او (۴۰) ښځي وې مشهوره او مقبول ده" او خدای پاک وايي چي موږ غرق کړه د طوفان په نازلېدو سره هغه کسان چي تکذیب یې کاوه په ایاتو سره چي نوح علیه السلام دوی ته راوړي وه په تحقیق دغه مکذبین وه یو داسي قوم وو چي ړانده وه لا بالبصر بل بالبصیرة یعني زړونه د معرفت د دین حق غافله او منکر وه او حق یې په حقیقت او باطل یې په باطل والي نه پېژندی.

فائده: علماً وایي چي نوح علیه السلام آدم ثاني دی ولي تولنه نړی دده آل ده من یوم نوح الی هذا الیوم من اولاده علیه الصلوة والسلام.

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا

او موږ وعادیانو ته واستاوه ورور ددوی هود.

پوه سه: چي عادیان د یوې قبیلې نوم چي منسوب ده عاد بن عوص بن ارم بن سام بن نوح علیه السلام ته وه "اخاهم" د دوی ورور یعني په نسب کي نه په دین کي ولي چي عادیان خو کافران مشرکان وه.

پوه سه: چي "والی عاد" عطف دی پر "نوحاً الی قومه" نو تر ارسلنا لاندي داخل دی "هوداً" عطف بیان د اخاهم دی ونسبه هکذا هود بن عبد الله بن رباح بن الخلود بن عاد بن عوص المذکور او ابن جني وایي چي هود د شالخ زوی وو او هغه ده از فحشذ زوی وو هغه د سام او سام د نوح علیه السلام او د هود د مور نوم مکعبة وه بنت عویلم بن سام بن نوح علیه السلام راویان وایي چي نور د

Maktaba Tul Ishaat.com　Scanned by CamScanner

نبینا علیه الصلوة والسلام خلیدي په تندي کي د هود نو خلګو به ویل چي هود یو داسي شخصیت دی چي عبادت د خدای علی التوحید به کوي وتکسر الاصنام وکان هود علی شریعة نوح ﷺ او عمر یې څلور سوه کاله ته ورسېدی او بعض اهل تاریخ وایي چي (۴۶۰) کاله ته ورسېدی او په تاریخ شامي کي وایي چي عمر یې (۱۴۳) کاله وو او مور یې مرجانه نومیده او د پاکو ښځو څخه وه او قبر د هود بعض وایي چي په حضر موت کي او بعض وایي چي په مکه کي دی.

فائده: عبد الرحمن بن سابط وایي چي په مابین کي د رکن یماني او د مقام ابراهیم او د زمزم قبرونه د (۹۹) نبیانو دي او قبر د هود او د صالح او د شعیب هم په دغه (۹۹) کي داخل دی.

درویش وایي: چي نن صبا دا (۹۹) انبیاً په خپلو قبرو کي د انسانانو تر پښو لاندي راځي.

فائده: سبب د رسالت د هود ﷺ څه وو؟

ځواب: په دغه زمانه کي مختلف اقوام وه او ملوک چي بعض د بتانو عبادت کاوه او بعض د لمر عبدات کاوه او بعض د اور نو خدای ﷻ هود ﷺ ورته را واستاوه په تفسیر حسیني کي وایي عاد مردم تن اور بودند وبلند بالا بودند" ومال فروان داشتند" وعمر شان در بت پرستي میګذرانیدند حق تعالی هود را بایشان فرستاد پس هود بمیان قبیله آمد وایشانرا بحق دعوت کردند وګفت.

قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ۚ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۶۵﴾

ای قومه زما عبادت کوئ د خدای والمراد التوحید نسته تاسي لره اله یعني معبود بالحق غیر د خدای څخه ایا تاسي د خدای څخه نه بېرېږئ یعني د عذاب د خدای فی الدنیا ویوم القیامة.

پوښتنه: د نوح ﷺ په قصه کي خدای ﷻ فقال وو وایه" او په قصه د هود ﷺ یې قال وویل سبب یې څه دی؟

ځواب: دا د بلاغاتو څخه د قرآن کریم دی چي ګاهي پر دول د ځواب او عطف عبارت را وړي کما في قصة نوح او ګاهي پر وجه د استیناف په قصه کي د هود پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وجه د استیناف بیاني چي جواب د سوال مقدر دی یعني فما قال هود حین ارسل الیهم فاجیب قال آه.

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَوْمِهِ

وویل هغه کسانو چي اشراف او خانان هغه چي کافران وه د قومه څخه د هود عليه السلام.

یوه سه: چي اشراف یې مقید کړه بقوله الذین کفروا د دې سببه چي بعض اشراف د قوم هود پر ده ایمان را وړی وو بیا مرتد سوه او په اشراف کي د قوم نوح هیڅ چا ایمان نه دی راوړی.

إِنَّا لَنَرَاكَ فِي سَفَاهَةٍ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكَاذِبِينَ ﴿٦٦﴾

موږ تا وینو یعني تا بولو په خفت عقل کي ولي چي تا دین د قوم پرېښو او د یوه محال شي دعوه کوې چي هغه رسالة من الله دی، او زموږ پر تا ظن غالب دی چي ته ده د رواغ وینکو د ډلي څخه یې یعني په دعوی کي د رسالت.

قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي سَفَاهَةٌ وَلَٰكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٧﴾

هود عليه السلام ورته وویل ای قومه زما نسته په ما کي خفت العقل بلکه عقل مي سالم دی لکن زه رسول یم د جانبه د رب العالمین نو نبي د خدای کله خفیف العقل کیدای سي.

أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ أَمِينٌ ﴿٦٨﴾

زه تاسي رسوم رسالات د خدای یعني هغه شیان چي زه خدای په استولی یم من الاسمان بالله وحده والایمان بالبعث بعد الموت وغیر ذالک او زه تاسي ته نصیحت کونکی یم یعني خیر خواه ستاسي یم او امین یم په دعوی کي د رسالت او نبوت خیانت نه کوم.

فائده: هود عليه السلام ناصح پر صیغه د اسم فاعل را وړی لیقابل قولهم انا لنظنک من الکاذبین تا چي مقابله ده جمله اسمیه په جمله اسمیه وکړه سي.

پوښتنه: کافرانو د هود عليه السلام ډیر په غلظت خبري کولې مثلاً انک في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سفاهة" وانا نظنک من الکاذبین" هود عليه السلام ودوی ته جواب په ډیره نرمي ورکاوه مثلاً د انک في سفاهة په جواب کي هود عليه السلام داسي نه ورته وویـل بل انـتم في ضلالة" او د انا نظنک آه داسي يي نه ورته وویل بل انتم من الکافرین؟

ځواب: ټوله انبیاً علیهم الصلوة والسلام په مخاطبه کي د کفارو یي د تشدد او غلظت څخه کار نه دی اخستی بلکه د عجز او نرمي څخه یې کار اخستی، او د خدای پاک هم داغسي خوښه ده کما یدل علیه هغه آیت چي موسی او هارون چي خدای ﷻ فرعون ته ور استول داسي ورته وویل فقولا له قولا لینا. او دغه رنګه مخاطبات د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د مشرکینو سره د مکې د لیونت سره دي کما یدل علیه مطالعة کتب الاحادیث الشریفة نو د دې سببه علماً پر متفق دي چي ناصح د مسلمانانو دي د غلظت او تشدد څخه کار نه اخلي.

درویش وایي: چي دا خوی د نصیحت په اوسني زمانه کي په جماعـت تبلیغي کي پیدا کېږي او په دي قسم نصیحت کي هضم النفس هم شته او شفقة او جذب القلوب الی الهدایة وحس المجادلة.

اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ط

پوه سه: چي معطوف علیه د واو کما مر من القانون الکلي القرآني محذوف دی والتقدیر " اکذبتموني وعجبتم آه.

ترجمه: ایا تاسي زما تکذیب کوئ او تعجب کوئ د دې څخه په حذف د من چي تاسي ته راغلی پند او نصیحت د جانبه څخه د خدای ستاسي پر یو سړي چي مراد ځني هود دی چي هغه ستاسي د قوم څخه دی چي تاسي ویېره وي.

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ وَّزَادَكُمْ فِى الْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۚ

او در پیاد کئ دا نعمت الهي چي تاسي وګرځولاست یعني خدای ﷻ خلیفګان د ځمکي وروسته تر قوم نوح یعني وروسته تر اهلاک د هغو په طوفان سره، او تاسي ته زیاد درکړي په خلق یعني په بدن کي فراخي یعني طول او قوة چنانچه کلبي او سدي وایي چي قامت د جګ سړي د عادیانو سل ګزه وو او د قصیر دا یي او یا(۷۰) ګزه وو، او ابن عباس وایي اتیا(۸۰) ګزه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فَاذْكُرُوا آلَاءَ اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿۶۹﴾

نو تاسي په یاد کړئ مذکوره نعمتونه د خدای ﷻ بالشکر والایمان ده پاره د دې چې د عذاب څخه د خدای په نجات پیدا کړئ یعني په قیامت کې.

قَالُوٓا أَجِئْتَنَا لِنَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهُ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ آبَاؤُنَا

آیا تا راتګ کړی موږ ته په داسې دین سره چې موږ به عبادت کوو د یوه خدای او موږ به پرېږدو هغه یعني بتان چې عبادت د هغو زموږ آباوو کاوه والهمزة في صدر الکلام للانکار علی التوحید وترک دین الآبا یعني دا خبره هرګز موږ نه منو.

فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ﴿۷۰﴾

نو ته راتګ او نازل کړه پر موږ هغه عذاب چې ته یې زموږ سره سره وعده کوې چې موږ ستا دین کړو مختاره که ته له صادقینو څخه یې.

قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَغَضَبٌ

هود ؑ ورته وویل چې په تحقیق واقع پر تاسي باندې د جانبه څخه د خدای ستاسي رجس یعني عذاب.

پوه سه: چې عذاب ته رجس وایي د دې سببه چې سړی په ارتجاس کې اچوي یعني اضطراب کې لانه مشتق من الارتجاس وهو الاضطراب او غضب واقع سو ای ارادة الانتقام.

سوال: عذاب خو تر دغه وخته پوري نه وو راغلی نو په ماضي سره یعني وقد وقع سره څرنګه تعبیر څندي وکړی.

ځواب: هغه شی که څه هم وروسته وي لکن چې یقیني وقوع وي هغه لکه واقع داسي، کما في مثل.

قد قامت القیامة وقد قامت الصلوة

وامثال ذالک کثیرة شهیرة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَتُجَادِلُونَنِي فِي أَسْمَاءٍ سَمَّيْتُمُوهَا أَنتُمْ وَآبَاؤُكُم مَّا نَزَّلَ اللَّهُ بِهَا مِن سُلْطَانٍ

آیا تاسي بحث کوئ زما سره په اسماؤ چي نومان د مسمیاتو چي تاسي دا نومان پر ایښي دي یعني الاصنام او بتان تاسي او ستاسي پلرو.

یوه سه: چي انتم لپاره د تاکید دی او آبائکم بدل دی د ضمیر مرفوع څخه په سمیتموها کي، یعني دا ستاسي تسمیه ده حقیقت هیڅ نه لري نه دي خدای ﷻ نازل کړي د دوی په شرکت او معبودیت سره یو حجت او دلیل تدل علی انها آلهة ومستحقه للعبادة.

یوه سه: چي مبنی د قول د دوی دا ده چي انهم یعتقدون بوجود الله سبحانه وکونه خالقا للسموات والارض وکانوا یزعمون، ان الاصنام شرکا الله تعالی في استحقاق العبادة لکونها شفعا عند الله ولهذا قال رسول الله صلی الله علیه وسلم هذا الذي تزعمون امر لا دلیل علیه بل هو مخترعاتکم او مخترعات آبائکم الجهال، وهذا کما تقول الفلاسفة بالعقول العشرة التي هي وسائط في خلق الله للعالم عندهم.

فَانتَظِرُوا إِنِّي مَعَكُم مِّنَ الْمُنتَظِرِينَ ﴿٧١﴾

نو تاسي منتظر اوسئ وه نزول ته د عذاب الهي زه ستاسي سره د منتظرینو څخه یم.

فَأَنجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَمَا كَانُوا مُؤْمِنِينَ ﴿٧٢﴾

نو موږ نجات ورکړی وهود ته او هغه کسانو ته چي د ده سره ملګري وه یعني په دین کي په رحمت سره زموږ دخوا یعني من غیر وجوب النجاة علینا او موږ قطع کړی آخر د هغو کسانو چي دوی تکذیب په ایاتو سره زموږ کاوه دا بریه د دې جهته ووایه چي هیڅ څوک د دوی څخه پاته نه سو تر خانه او رئیس څخه او تر خوار تر فقیر پوري او دوی نه وه مؤمنین نو ځکه عذاب د استیصال پر مسلط سو کما هو عادته تعالی من الامهال دون الاهمال.

درویش وایي: چي امام مظهري رحمه الله قصه ده عادیانو او د دوی د هلاک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قصه په نقل د محمد اسحاق صاحب المغازي دونه اوږده او مغلق را وړي ده چې د
علماء د عصر حاضر دي څوک په حاصل د دې قصې پوه سي نو درویش نه
غواړي چې متعلمین د خپل تفسیر د شکوک او د شبهاتو او جهالاتو په دریاب
غرق کړي، نو مختصره قصه لکه بروسوي رحمه الله او قرطبي وغیرها من التفاسیر
راوړي په پښتو ژباړه و اوراقو ته د خپل تفسیر سپارم" چې هغه داده چې عاد د
یو قبیلې نوم دی چې صاحب قدرت وه او لوړ قامت وه کما مر ذکره او دوی په
یمن کې او احقاف کې اوسیدل چې ریګستاني مځکه چې د رمل عالج او دهمان
او مرین په نومانو یادیدل او د عمان تر حضر موت پورې دا ریګستان واقع وو
او دوی په مځکه کې بغی او فساد کاوه او دوی پر هرچا په سبب د ده قوة خدا داده
غالب وه او دوی د درو بتانو عبادت کاوه صمود" صلا" او هبا" نو خدای جلت
قدرته وحکمته و دوی ته هود علیه السلام به نبوت ور واستاوه چې په نسب کې
د دوی اوسط وو او په مرتبه کې د دوی افضل شخصیت وو.

نو هود دوی امر کړه په توحید د خدای وان لایعبدو غیره تعالی او په دې
سره چې پر خلګو دې ظلم نه کوي، نو قوم د هود ابا او انکار د ده د نبوت څخه
وکړی او د ده تکذیب یې وکړی نو هود علیه السلام چې په دوی ته د عذاب دنیاوي
ذکر وکړی دوی به ورته ویل انکارا من عذاب الله من اشد منا قوة او لا یه ظلم او
جبر پسې زیات کړی نو خدای جل جلاله درې کاله باران پر دوی بند کړی لعلهم
یرجعون" حتی چې دوی په غایت لوږې مبتلا سوه، او په هغه زمانه کې عادت
دا وو چې خلګ به په یو عذاب او بلا مبتلا سوه نو یو هیئت چې وفد یې بولي
په عربي ژبه بیت حرام مکه ته واستاوه که مسلمانان وه او که کافران دا یه
عادت وو چې هورې د خدای جل جلاله څخه په حرمت د ده البیت الحرام د دفع د آفت
نازله او بلا شدید درخواست وکړي او اهل مکه په هغه زمانه کې د عمالیقو په
لاس کې وه چې اولاد عملیق بن لاوز بن سام بن نوح علیه السلام وه او رئیس د
عمالیقو په هغه زمانه کې په مکه کې یو سړی وو چې نوم یې معاویه وو او د
بکر زوی وو او ده دغه معاویه مور د عاد د قبیلې وه نو ګویا عادیان د معاویه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماماگان غوندي وه، نو چي څه وخت دباران کاختي سوه پر عاديانو، دوی يو د بل سره وويل چي يو وفد يعني هئيت زموږ دي مکې ته ولاړ سي او هورې دي دبارانو خواست وکړي، نو قيل بن غتر" او مرثد بن سعد سره ده اويا(۷۰) کسانو مکې ته واستول نو دوی چي مکې ته ورغله پر معاويه بن بکر چي د عماليقو رئيس واړول چي د هغه کور د مکې د ښار خارج وو او معاويه ډير اکرام او غزاز او مهمان نوازي د دوی وکړه ولي چي عاديان د يو جهته د عماليقو ماماگان غوندي وه او بل د معاويه لوښي په عاديانو کي واده وې چي دا قوم عاد د ده گويا زومان کېدل، نو دا هيئت د معاويه په کور کي يوه مياشت تيره کړه او شراب بې چښل او جرادتان چي دوې منځياني وې د معاويه چي دواړي غزلياني او رقص کونکي وې چي د يوې نوم ورده وه او دبلي نوم جرادة نو تغليبا دواړي په جرادتان بولي آخر معاوية چي وليده چي دا وفد د څه شي دپاره راغلي وو يعني دپاره د دفع د قحط عن بلادهم او دوی په څه عيش او عشرة مبتلا دي دا پر معاويه گرانه اودرنه پريوته او د ځان سره يې فکر وکړی چي زما ماماخيل او زومان د لوږي مري او دا يې هم غيرت نه قبلوله چي په خوله جواب ورکړي ولي د دوی به گمان سي چي زموږ مهماني او ډودی پر وغمبدله، نو د جرادتين سره يې په دې باره مشوره وکړه هغو ورته وويل چي ته يو شعر جوړ کړه خپل نوم مه په کښې اخله موږ به يې مانښام په بدلو او رقص کي د ميلمنو د مخه ووايو شايد دوی به فکر وکړي، نو معاويه دا غزل جوړه کړه "الا ياقيل ويحک قم فهيئتم" لعل الله يسقينا غماما" فيسقى ارض عاد ان عادا" قد امسوا ما يبيتون الكلاما" من العطش الشديد فليس ترجو" به الشيخ الكبير ولا الغلاما" وقد كانت نسائهم بخير" فقد امست نسائهم ايامى" الى آخر القصيدة نو مانښام چي جرادتانو دا قصيده په بدلو او رقص کي وويل نو هيئت او وفد يو د بل سره وويل چي موږ ډير ځنډ وکړی په مکه کي په دعا کي د قوم دباران لپاره دروالاړسو، نو مرثد چي په پټه مسلمان و او پر هود يې ايمان وو داسې وويل والله لا تسقون بدعائکم قسم په خدای دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستاسي به دعا سره خدای ﷻ باران نه اوروي يعني مع شرککم بالله لکن که
تاسي اطاعت د نبي خپل وکړئ يعني هود ﷺ او تاسي توبه وکاږئ وخدای
ته ده شرک څخه نو ستاسي درخواست ده باران په باره کي به خدای قبول کي
نو مرشد چي اسلام يې پټ ساتلی وو ظاهر کړی نو نور وفد والا معاويه ته
وویل احبس عنا مرشدا زموږ سره به مکې ته نه راځي فانه قد اتبع دين هود
وترک دیننا ثم دخلوا الى الكفار المنكرين لنبوة هود مکة نو ده قيل په نامه
کافر ودريدی او په حرم کي يې خواست د باران وکړی د قوم دپاره او داسي
وويل چي موږ نه يو راغلي د يو مريض په باره کي خدايه چي ته يې جوړ کړې
او نه د يو بندي په باره کي چي خدايه ته خلاص کړې بلکه موږ راغلي يو چي
پر موږ باران وورهوه فانا قد هلكنا اللهم اسق عادا واعط قيلا ماسئلو. نو
خدای جل شانه په خپل قدرت عظيمه سره درې وريځي پيدا کړي يوه سره يوه
سپينه او يوه توره وريځ او بيا د اسمان د خوا نعره وسوه چي کومه وريځ دي
خوښه ده يا قيل د قوم لپاره نو قيل وويل چي توره وريځ مي خوښه ده ولي چي
عادة توره وريځ باراني وي نو د لوړي خوا نعره وسوه چي قيله تا مختاره کړی د
څان لپاره او د قوم لپاره هلاک لا يبقى من آل عاد ولدا ولا شابا ولا شيوخا
ولا رجالا ونسا حتى چي دا وريځ را ووتل د يوې شيلي څخه د دوی چي مغيث
يې باله نو عاديانو چي دا توره وريځ وليدل خوشحاله سوه وقالوا هذا عارض
اى سحاب ممطرنا چي پر موږ به باران ووره وي. او خدای پاک وايې بل هو ما
استعجلتم به ريح فيها عذاب اليم تدمر كل شيئ بامر ربها كما في موضع آخر
من القرآن بلکه دا وريځ هغه شئ دی چي تاسي د هود څخه ژر غوښتی يعني
دوی به هود ته ويله چي ژر دي عذاب موعود پر موږ ستا په خوله نازل سي
استهزا وانكارا" دا باد دی چي په هغه کي عذاب اليم چي هلاکه وي هر شي
يعني دا باد پر تير سي نو د دې وريځي څخه وچ باد او ډير تود شروع سو او دا
باد خدای مسخر کړی وو پر دوی اوه (۷) شپې اواته ورځي کما في موضع آخر
من القرآن پرله پسې يعني د شپې او د ورځي نو دې باد به دا غټ غټ عاديان نر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او ښځي پورته کړه مابين ته د اسمان او د مځکي او په ډبرو ويشتل کېدل پر سرو بي راشوه کوله نو مړه پر مځکه پراته وه په بل ځای کي د قرآن مبارک راغلي دي كانهم اعجاز نخل خاوية عاديانو دا حيله د نجات لپاره شروع کړه چي د ښځو لپاره يې تر زنګنو پوري غارونه وكښل د خاورو بې ډک کړه نو باد په مځکه پسي ورننوتی د ښځو د خوا بې دوه کسه په هوا کړه او هوري بې سره وجنګول بيا بې په شيله کي راوغورځول نورو عاديانو به ورته کتل حتى رفعتهم كلهم ثم رمت الريح التراب والرمل عليهم فكان تسمع انينهم من تحت التراب وكان هود ومن معه په يوه خطيرة كي يعني ګاش وزمه ځای چي خلګ پسونه په کښي دروي نو دغه باد چي د دوی پر خطيره به تيريدی ډير نرم او لذيذ به تيريدی سدي ﷺ وايي چي دا باد چي شروع سو عاديانو به ورته کتل چي اوښان بې په هوا کړه به مابين کي د اسمان او مځکي او راشوه بې کړه عاديانو چي دا وليده په خونه ننوتل او باد به پسي ورغلی دخوني څخه بې را وايستل او په هوا بې کړه مړه بې کړه.

پوښتنه: کافران خو يعني عاديان ګناه کاره وه نو غوايي "خره" اوښان وغيره ولي ورسره هلاک سوه؟

ځواب: چونکه دا حيوانان مملوک د اهل غضب وه او په مځکه کي د اهل غضب وه نو دوی ورسره مړه سوه ولي بلاً او غضب آلهي چي پر يوه مځکه نازل سي عام وي، والله تعالى حكم ومصالح جليلة فيما يحكم به ويريد.

فائده: هود او من المومنين چي نجات د غضب وريه نصيب سو نو د اهل غضب د مځکي څخه ووتل او مکې مکرمې ته ولاړه نو د خدای ﷻ عبادت يې هوري کاوه الى ان ماتوا بآجالهم.

فائده: هر نبي چي قوم يې په عذاب آلهي هلاک سوی وي نو هغه نبي سره د مؤمنانو خپل ومکې ته هجرت کړی او هوري يې ژوند او عبادت کاوه الى ان ماتوا قال بعضهم بين الركن ومقام ابراهيم وزمزم قبور (۹۹) نبيا والله اعلم بحقيقة الحال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًا

او موږ واستاوه "تر ارسلنا لاندې دی یعني عطف دی پر الی نوح باندې" د ثمود قبیلې ته د دوی د قبلې سړی یعني صالح عليه السلام، نو اخوة يې په اعتبار د نسب دی نه په اعتبار د دين چې صالح يې نوم وو.

پوه سه: چې ثمود قبيله ده له عربو څخه غیر له قریش څخه چې اولاد د ثمود بن عاثر بن ارم بن سام بن نوح عليه السلام دي.

فائده: صالح" عطف بيان د "اخاهم" وهو صالح بن عبيد بن اسف بن ماسح بن حادز بن ثمود.

قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ ۖ

صالح عليه السلام ورته وويل اى زما قومه عبادة كوئ د خداى يعني واحد لاشريک يې بولئ. نسته تاسي لره من اله كلمه د "من" د پاره د استغراق د نفي ده يو اله يعني معبود غير له خداى جل جلاله څخه. په تحقيق وتاسي ته راغلى دى حجت او معجزه ظاهره د جانبه څخه د رب ستاسي.

هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمْ ءَايَةً ۖ

دا اوښه د خداى ده تاسي لره دليل پر واحدنيت د خداى او پر نبوة زما.

پوه سه: چې هذه الخ جمله مستانفه ده په استيناف بياني يعني جواب د سوال مقدر كانه قيل ماتلک البينة فقال هذه آه او اضافت ده اوښې چې خداى ته وكړى لپاره د تعظيم د دې ووجه التعظيم ان هذه الناقة جائت الى عالم الوجود بدون الوسائط اى الاسباب المعهودة من الولادة عن ناقة اخرى وغيرها ولذلک تكون آية.

فائده: آية منصوب دى على الحالية من ناقة الله او لكم متعلق په آية پورې دى او عامل د حال معنى د اشير چې اسم اشاره هذه څخه وفهميدى چې ودې ته په نحو كې عامل معنوي د حال وايي ومثلو له بقوله المرئة هذا بعلي شيخاً.

فَذَرُوهَا تَأْكُلْ فِىٓ أَرْضِ ٱللَّهِ ۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأْخُذَكُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٧٣﴾

تاسي پريږدې دغه اوښه چې خوراک كوي په مځكه كې د خداى جل جلاله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي نهي له مس څخه مبالغة په نهي کي د اصابتها بالسوء ولي چي مس مقدمة ده اصابت بالسوء الجامع لانواع العذاب الاذى نو که تاسي داسي وکړه نو تاسي ته به عذاب دردناکه ورسېږي.

وَاذْكُرُوٓا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنۢ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ

او تاسي په یاد کړئ هغه وخت چي تاسي وگرځولاست خدای خلیفه گان یعني په ځمکه کي وروسته تر عادیانو یعني وروسته تر هلاک د هغو او تاسي ته ي سکنی په ځمکه کي یعني د حجر درکړه.

پوه سه: چي مقصود د دې په یادیدو څخه عبرت اخستل دي د هلاک څخه د عادیانو چي هغو په قول د خپل نبي نه کول او ایمان یې نه راوړی او خدای په غضب اخته هلاک سوه کما قال الشاعر الفارسي.

پند گیر از مصائب دیگران — انگیرند دیگران زتو پند
نه رود مرغ سوی دانه فراز — چودیگر مرغ بیند اندربند

او بل دا دی چي تاسي شکر ووایاست د سکونت در کولو تاسي ته په ځمکه کي یعني په ایمان راوړو سره.

تَتَّخِذُونَ مِن سُهُولِهَا قُصُورًا وَتَنْحِتُونَ ٱلْجِبَالَ بُيُوتًا

او تاسي بناوي په پسته ځمکه کي کوټې د اومو خښتو او د پخو خښتو او تاسي غاروئ غرونه او تراشئ یاستې خوني.

پوه سه: چي دا دوه قسمه بناوي دوی د دې لپاره کولې چي په دوبي به دوی په خونو او قصور کي د سهل ځمکې او په ژمي کي به په کورو کي د غرو اوسېدل.

فائده: قصورا او بیوتا منصوب مفعول ده تتخذون او د تنحتون دي. ولي دا دواړه فعل متضمن معنی لره د جعل دي او یا منصوب علی الحالیة المقدرة. ولي چي سهل ځمکه قصر نه ده په حال کي د جوړیدو او نه غربیت کیدای سي په حال کي نحت کما لا یخفی او د حال مقدره معنی حال مفروضه دی په وخت کي د فعل فافهم.

فَٱذْكُرُوٓا ءَالَآءَ ٱللَّهِ وَلَا تَعْثَوْا فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ

نو په یاد کړئ نعمتونه د خدای یعني په شکر ویلو او په ایمان راوړو سره او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي عثی مه کوئ.

پوه سه: چي عثی اشد فساد ته وايي نو مفسدين يې حال مؤکده دی.

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا مِن قَوْمِهِ لِلَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِمَنْ آمَنَ مِنْهُمْ أَتَعْلَمُونَ أَنَّ صَالِحًا مُّرْسَلٌ مِّن رَّبِّهِ

وویل اشرافو او رئیسانو چي دوی کبر کاوه د ایمان څخه پر صالح علیه السلام باندي، او هغو کسانو ته چي هغه ضعیف وه یعني تابعان د رئیسانو وه، کسانو ته چي ایمان راوړي له دوی څخه آیا ستاسي یقین دی پر دې چي صالح استول کړه سوی دی له جانبه د خدای ﷻ.

قَالُوا إِنَّا بِمَا أُرْسِلَ بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿٧٥﴾

ضعیفانو مسلمانانو وویل چي په تحقیق موږ په ما ارسل به صالح مؤنون یو.

پوه سه: چي "لمن آمن آه" بدل بعض دی د للذین آه څخه.

سوال: په جواب کي د رئسانو خو نعم کافي وو نو دوی ولي خبره دونه اږده کړه انا بما ارسل آه؟

خواب: لپاره ده اشعار پر دې باندي چي د صالح په نبوت کي هيڅ شک نسته نو باید هر عاقل پر ده ایمان راوړي.

قَالَ الَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا إِنَّا بِالَّذِي آمَنتُم بِهِ كَافِرُونَ ﴿٧٦﴾

وویل متکبرینو د قوم صالح ومؤمنانو ته چي په تحقیق موږ خو په هغه شي چي تاسي ایمان پر راوړی دی یعني چي نبوت دی د صالح کافران یو یعني منکر یو.

فَعَقَرُوا النَّاقَةَ

خو متکبرانو ووژل وښه چي د صالح معجزه وه او هغه معجزه ده د اوښي هم د دوی په غوښتنه سره وه.

پوه سه: چي د عقر معنی بعض وايي نحر دی او بعض اهل لغة وايي چي عقر د شا ده پلي پريکول دي.

فائده: نسبت د عقر يې وتولو متکبرينو ته وکي کما يدل عليه صيغة الجمع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای عقروا" او سره د دې چې عقر يو ازې فعل د قذار بن سالف وو.

ځواب: که څه هم قاتل قذار وو لکن نور قوم په راضي وه نحو بنوا فلان قتلوا مع ان القاتل يكون واحد منهم. دغه قذار په رنګ سور او قامت لنډ وو او سترګي يې شنې وې لکه فرعون " قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لعلي ﷺ اشقى الاولين عاقر ناقة صالح ﷺ واشقى الآخرين قاتلك " يعني عبد الرحمن بن ملجم كما سيأتي في موضعه.

وَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ

او دوی سر کښي وکړه ده امر څخه د خدای د عتو معنی تیریدل دي تر حد په باطل کې.

پوه سه: چې ده امر څخه د رب مراد هغه خبره ده صالح د فذروها آه.

وَقَالُوا يَا صَالِحُ ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِن كُنتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿٧٧﴾

او کافرانو وویل چې ای صالح راتګ وکړه په هغه عذاب سره ستا د خدای د خوا څخه چې ته يې زموږ سره کوې که ته د رسولانو څخه د خدای يې.

فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٧٨﴾

نو ونیوله دوی رجفة يعني حركت د مځکې چې زلزله يې بولي، لکن سره د صبحي ده جبرئیل کما في موضع آخر من القرآن نو دوی وګرځیده په مځکه کې د د دوی هلاک په داسې ډول چې ناست وه او لاسونه يې پر مځکه تکیه لاجل حرکة الارض بهم او بعض کسان وايې چې د جاثمين معنی داده چې پر مخ ولویده او هلاک سوه.

فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُحِبُّونَ النَّاصِحِينَ ﴿٧٩﴾

نو صالح ﷺ د دوی اعراض وکړی او داسې ورته وویل ای قومه زما ما تبليغ د امر الهي وتاسي ته يعني ورسوي رسالة د رب زما ای ما ارسلني به ربي چې توحيد او منع عن الشرک وه او تاسي ته مې نصيحت وکړی ولکن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستاسي نه دی خوښ نصیحت کوونکی.

پوښتنه: څرنګه صالح ﷺ دوی ته خطابونه وکړه وروسته تر هلاک د دوی او مړي خو په خبرو نه پوهیږي بعد الموت؟

ځواب: بعض مفسران وايې چې دا خطاب د صالح د مړو سره داسي دی لکه خطاب د علیه الصلوة والسلام د وژل سوو کفارو سره په بدر کي وروسته تر دې چي قلیب یو نږیدلي ځا ته یې واچول.

چي علیه الصلوة والسلام وروسته تر درو ورځو راغلی او د ځا پر غاړه ورته ودریدی او داسي وویل یا آبا جهل بن هشام یا عتبه بن ربیعة ویا شیبة ربیعة اوس تاسي خوشحاله یاست په دې سره چي تاسي په ژوند ایمان را وړی پر خدای او پر رسول د خدای الی آخر الحدیث الذي رواه البخاري ومسلم نو علیه الصلوة والسلام خو هم لفظ د ندا او خطاب ده مړو د قلیب سره وکړی، نو شاریحینو د حدیث هر څه توجیه چي ده خطاب د علیه الصلوة والسلام ده خطاب کړی د هغه توجیه د خطاب د صالح ﷺ والتفصیل في شروح البخاري ومسلم.

او بعض مفسران وايي چي دا خطاب د صالح ﷺ د مړو سره دپاره د عبرت د نورو خلګو دٌ چي ورته کارونه دي نه کوي، وقیل غیر ذالک بما لا یسمعه الاذان الکریمة ولا یقبله العقول السلیمة.

درویش وايي: وتمام قصة ثمود دا ده چي څه وخت چي خدای ﷻ هلاک کړه عادیان کما مر بیانه د هغو په وطنوا او ښارو کي ثمودیان آباد سوه او خلیفه ګان د عادیانو وګرځیدل، او ثمودیانو ته ښه د فراخی رزق خدای ﷻ ورکړی دٌ حتی چي نسل پر نسل د دوی نفوس ډیر سو او په ښه فراخه رزق کي ژوند کاوه آخرا دوی دوی نافرماني ده خدای شروع کړه او په بت پرستی شیطان اخته کړه، نو خدای د دوی ته صالح ﷺ په نبوت را واستاوه چي دا قوم ثمود اصلاً عرب وو او صالح اوسط د دوی از روی نسب او افضل د دوی وو از روی رتبه نو صالح د ځوانی څخه په تبلیغ د دوی لاس پوري کړی یعني د بت پرستی څخه یې منع کوله او توحید ته یې رابلله حتی چي په دې تبلیغ ګڅ وبینتی سو، لکن په دې دونه وخت کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثمود يانو دده متابعت نه وكړي مګر لږ كسانو چي هغه غريبان وه نو صالح عليه السلام
وخپل دعوت ته د دوی وتوحيد او ترک الشرک كما كان دوام وركړى نو رئيسانو
د قوم وصالح ته وويل چي موږ ته يوه معجزه راښكاره كړه چي موږ پر تا ايمان
راوړو صالح عليه السلام ورته وويل چي څه معجزه درښكاره كړم دوی ورته وويل چي
ته به زموږ سره وزې د اختر په ورځ چي په كال كي دوی قديمه رسمي ورځ د اختر
درلوده نو موږ به خپل خدايان را وباسو نو موږ به د خپلو خدايانو يو څه غوښتني
وكړو او ته به د خپل خدای څخه غوښتنه وكړې كه ستا خواستونه قبول سوه موږ
ستا متابعت كوو او ستا پر نبوت ايمان راوړ او كه زموږ د خدايانو غوښتني
منظور سوې ته به زموږ د دين متابعت كوې صالح عليه السلام ورته وويل نعم يعني
ښه دی. او پر دې خبره يې ډير محكم قرار داد سره وكړى، نو صالح عليه السلام د دوی
سره د اختر په ورځ صحرا ته ووتی او دوی خپل خدايان ډير ښائسته كړي وه، نو
دوی خپل خدايانو ته وويل چي دا صالح ستاسي له خدايي څخه منكر دی پر ده
يوه بلا نازله كړې نو چونكه هغه بتان جمادات وه د دوی خواست يې نه اورېدی او
نه يې څه قدرت درلودی نو دوی يعني كفار ډير خجالت او رسوا سوه د خدايانو په
باره كي وروسته د كفارو مشر چي نوم يې جندع بن عمر وو، صالح عليه السلام ته
وويل چي اوس نو ستا د خدای وار دی صالح عليه السلام ورته وويل نعم نو جندع يوه
ډبره چي دغه ډبره له غره څخه جلا وه اشاره وكړه چي كاثبة يې بلل خلګو ته به
ستا خدای ته ووايه چي د دغه ډبري څخه به اوښه مخدجة يعني لكه مايه اوښ
راباسي پر خلقت د جمل به وي په بدن كي او په لوی والي كي د اندامو او د اډكو او
لوی اوږدې پښې بې وي او لوی نس بې وي يعني برالبه وي شبيهة بالبختى او
د مايه اوښ سره مشابه وي او وبرا به وي يعني ډيري وړې بې وي او د لسو مياشتو
ميندواره به وي لكه د اوښي چي عادت دی چي پر لس مياشتي لنګېږي او هغه
اوښه به لنګېږي او بچی بې دونه وي لكه مور او مور بې دونه وي لكه دغه غرګی
نو كه تا داسي وكړه نو موږ ستا ونبوة ته لبيک وايو او پر تا ايمان راوړو نو
صالح عليه السلام د دوی څخه سختي او محكمې وعدې واخستې چي كه داسي رسول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي به ایمان راوړئ دوی ورته وویل نعم نو صالح علیه السلام دوه رکعته نفل او خدای ته یې د دې معجزې په باره کې دعا وکړه، نو د دې غرگې څخه داسې اواز راپورته سو لکه اوښ چې لنگېږي نو غرگی سره وچاودی او دغو نه اوښه لکه غرگی څنډې را ووتل. یو گړی شاه وخوا وگرځېدل بیا دې ته دلنگول هیئت پیدا سو چې مخاض یې بولې اوښه لنگه سوه دغونه لکه مور چونگی څنډې پیدا سو، چې د اوښې د مابین د یوه بغل او بل بغل په فراخی خدای ﷻ خبر دی، دوی یعنې کافرانو دا ټوله حالات په سترگو ولیدل نو جندع سره د خپلو تابعانو ایمان را وړی او نور کافران سره د دې ټولو حالاتو لیدلو څخه وروسته هم پر کفر باقي پاته سول، چې مشران یې ذواب بن عمرو وو او خباب چې مواثیق په ده پوري اړه درلوده او صاحب داوثانو هم دی وو او بل مشر رباب یې نوم وو چې د دوی کاهن وو یعني غیب گوی.

قال السعدي رحمه الله

یکي بنور عنایت ره هدایت یافت...... یکي بوادي خذلان بماند سرگردان.
یکي بوسوسه دیو رفت سوی سقر...... یکي زپیروي حق گرفت ملک جنان

درویش وایي: چې په دې فاقه کې دلائل کثیرة وه پر صحت د نبوة د صالح علیه السلام لو کانوا یتفکرون.

(۱) په اجتماع د نر او ښځې نه وه کما هو المعتاد.

(۲) ولم تکن في صلب جمل.

(۳) نه وه دا اوښه په رحم کې د مور.

(۴) ولم یکن للمخلوق سعی في تحصیلها.

(۵) کون الناقة مثل الضحرة.

(۶) کون ولدها مثلها فی البدن.

(۷) دا معجزه په غوښتنه د دوی او موافق د غوښتني سره د دوی وه.

فائده: تر دې وخته پوري فرقه مؤمنه بصالح څلور زره ته ورسیده، وتمام قصة العقر. په رواتو صحیحه وو کي بلکه په قرآن کریم کي راغلي دي چې یوه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ورځ به چارپایان د اهل قریة وبنو او ابو ته ورتله او یوه ورځ به اوښه ورتله قال الله تعالی لها شرب یوم ولکم شرب یوم معلوم نو چي د اوښي واری به سو دې به سر په ځاکي کښېښتو او ټولي اوبه د ځاښې وچښلې، مابښام چي به راغله د کلي په مابين کي پښئي به یې فراخه ونیولې او خلګ به راتله شیدې بې څندې لوشلې ماشاؤنو هم بې چښلې او هم بې زخیره کولې او بنه به تر هغو ولاړه وه چي خلګ د لوشلو څخه فارغ سوه بیا به اوښه پریوته یعني چوکه به سوه ده ابو موسی الاشعري ﷺ څخه روایت دی چي زه د ثمودیانو وطن ته ورغلم د اوښي د چوکیدو ځای مي اندازه کی شپیته ګزه په شپیته ګزه کي وو.

او بعض روات وایې چي میل په میل کي وو او چي واری د خلګو به سو نو اوبو ته بې خپل مواشي وروستل اوبه بې کړه او دونه ذخیره د اوبو بې ورسره یووړه چي د دویمي ورځي هم کفایت وکړي. نو داسي حالات پر ثمودیانو ډېر ګران تمامیدی نو قصد د عقر د اوښي بې وکړی، او اصل باعث پر عقر د اوښي دوې ښځي وې چي هرې یوې ډېر مواشي درلوده، عنیزه بنت غنم، وصدقه بن المختار او حدادي ﷺ وایې چي په ثمودیانو کي یوه ښځه چي صدوق یا صدقه یې نوم وو ډېره ښائسته وه او اوښان او غواوي او پسونه یې درلوده او دا ښځه اشد عداوة لصالح ﷺ والناقة وه، نو دې خپل د اکا زوی چي مصدع یې نوم وو او دې ورته وویل چي زه تا مېړه کوم که دي ناقه ووژل نو هغه ورته وویل چي ډېر اعلی زه دا کار کوم، بیا غنیزة قذار بن سالف را وغوښتی چي سور یې رنګ وو او په قد او قامت لنډی وو او سترګي شنې وې خلګو به ویل چي ولد الزنی دی لکن چونکه په کور کي د سالف زو کړی وو نو قذار بن سالف یې بالله نو غنیزې ده ته وویل چي یوه زما د لونړو څخه چي ستا خوښه سي زه یې تاته په مکاح درکوم په شرط د دې چي ته عقر د ناقې پر غاړه واخلې.

هغه هم قبوله کړه او قذار بن سالف ډېر اعتبار په قوم کي د ثمود درلودی او اتباع یې هم ډېره درلوده، نو مصدع او قذار پر کفارو د ثمود وګرځیدی او نهه قبیلې د دوی سره موافق سوې پر عقر د ناقې او خدای ﷻ وصالح ﷺ ته وحې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

را واستولې چې قوم دې قصد کړی پر عقر د ناقې صالح علیه السلام دوی ته وویل چې رشتیا تاسې داسې قصد کړی هغه ورته پښیمانه سوه او وې ویل ماکنا لنفعل ذالک، نو دوی دا حیله سره وسنجول چې موږ به ووایو خلگو ته چې پر یو خوا په سفر ځو نو په غار کې د غره به ورځ تیره کړو چې ماښام تاریکه سي او خلگ بېده سي حتی چې صالح علیه السلام ولمانځه ته د تهجد را ووتی مسجد ته مړ بې کړو بېرته به غار ته ولاړ سو او کې ورڅه په موږ یا مسلمانانو په موږ دعوه وکړه موږ به ورته ووایو ماشهدنا مهلک اهل ای نفسه وانا لصادقون او خلگ به هم زموږ دا خبره ومنې ولې چې موږ دوی ته ویلې وه چې موږ په سفر ځو او د صالح دا عادت وو چې په قریه کې نه بېدیدی او د عبادت لپاره یې مسجد خارج القریة جوړ کړی وو یقال له مسجد صالح شپه دورې په مسجد کې تیره وله او د ورځې به قوم ته تبلیغ کاوه، نو کوم نفر چې د صالح د قتل لپاره په غار کې پټ وه د شپې غار پر را ونړېدی ټوله یې مړه کړه. نو سحار چې خلگ خبر سوه په وطن کې ناري جوړې کړې چې صالح زموږ خلگ را مړه کړه نو بیا ټوله اهل قریه پر عقر د ناقې متفق سول نو قذار او مصدع سره د نورو کسانو د اوښې په لار کې چې دا د خپلو وېنو او اوبو د خوا راتله ورته پټ سوه حتی چې اوښه پر مصدع راغله هغه د غشې دار پر وکړی او د پښو پر پلو یې ووېشتله بیا قذار راغلی په توره یې ووهله اوښه غوځاره سوه او قذار په گروې ووهله او حلاله یې کړه او ښار وال ټوله سره را ووتل او غوښې سره ووېشلې ده اوښې جونگې چې د مور حال ولېدی تر سترگو یې اوښکې توېدلې او د غره پر خوا یې میدان کړه او درې ناري یې وکړې او هغې د یرې ته ورغلی چې د ده مور تر را وتلې وه او په هغه ډبره ننوتی ده درو نارو مطلب دا دی چې درې ورځې وروسته به پر تاسې عذاب د استیصال نازلېږي وکان کذالک.

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ أَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ

ای وارسلنا لوطا باعتبار العطف علی نوحاً. وهو لوط بن هاران بن تارخ ابن اخي ابراهیم علیه السلام "اذ قال لقومه" هغه وخت چې وویل وخپل قوم ته چې هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لو یه قریه یا ښار چي مقدوم نومېدی، آیا تاسي ورځئ یعني تاسي کوئ خصلة فاحشة یعني ډېر بد خصلته یعني وطي کول د نرو سره په دبره کي.
پوه سه: چي دا استفهام لپاره د انکار او توبیخ یعني سر زنش دی.

مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾

چي وراندي والی نه دی کړی په دغه خصلت فاحشه سره هیڅ چا له عالمیانو څخه.

پوه سه: چي کلمه د با په بها کي لپاره د تعدیة ده ولي چي سبق لازمي دی او کلمه د من په من احد کي زائده لپاره د استغراق ده نفي او کلمه د من په من العالمین کي لپاره د تبعیض ده او جمله د ماسبقکم جمله مستانفه ده لپاره د تاکید د انکار، نو لوط ﷺ و دوی ته توبیخ ورکړی اولا پر فعل د فاحشي وروسته پر اختراع د دې فاحشې یعني د لواطة اول مخترعین تاسي یاست نو تاسي تر قیامته پوري چي لواطة څوک کوي تاسي کي ورسره شریکان یاست لقوله علیه الصلوة والسلام من سن في الاسلام سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها الی یوم القیامة ومن سن سنة سیئة فله وزها ووز من عمل بها الی یوم القیامة حتی هر څونه قتلونه چي په ناحقه کېږي تر ورځې پوري د قیامت قابیل بن آدم ورسره شریک دی لانه اول من قتل اخیه هابیل، بغیر حق وقصته مذکورة مشهورة وفي هذا التفسیر مذکورة عمربن دینار رحمه الله وایې چي نه دی لیدل سوی نر پر نر سپور یعني په لواطت کي په تېوله نړۍ کي حتی چي قوم لوط راغلی او دا کار یې شروع کړی.

إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ النِّسَاءِ ۚ

آیا تاسي ورځئ نرو ته یعني جماع ورسره کوئ په دبره کي از روی شهوت ونصبه علی العلتیة ای لاجل الشهوة ای لاحامل لکم غیر قضا الشهوة نور هیڅ حکمت نسته پکښي ما سوی د ښځو څخه یعني چي ستاسي ماینې دې ولي چي په هغه قضا شهوة کي حکمت سته یعني توالد ولا ذنب اعظم من اللواطة مع الرجال.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: د دې آیت څخه په دلالة النص سره دا ثابته سوه چې د خپلې ماینې سره لواطت ناروا دی لانه مثل لواطة الرجال خبيث هيڅ فائده نسته پکښې کې.

بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾

بوه سه: چې بل اضراب دی د انکار څخه واخبار ته د حال د دوی څخه.

بوه سه: چې اسراف تجاوز دی تر حدود معقوله او مشروعه په شي کې او دلته قوم لوط هم تجاوز وکړی د نکاح مشروع معتاد څخه وداسي فعل ته چې په هغه کې هیڅ خیر نسته چې لواطت د نر دی.

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾

جواب د قوم يې مگر داسي نا معقول جواب چې دوی وویل چې وباسئ دوی یعني لوط او چې د ده ملگري وي په ایمان را ورو کې ولې چې دوی داسي خلگ دي چې خانونه پاک ساتي دا يې استهزاً وویله.

فَأَنجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ﴿٨٣﴾

نو موږ نجات ورکړی لوط ته او اهل ته د ده یعني اتباع د ده چې مسلمانان وه مگر نه ماینه د ده استثناً ده د اهل څخه د ولې چې د ده ماینه کافره وه منافقه چې ایمان يې پټ ساتي، نو سوه ماینه د ده په باقینو کې چې کافران وه او د هغو سره هلاکه سوه.

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِينَ ﴿٨٤﴾

او موږ باران وکړی پر قوم لوط باندې يو ناولده باران یعني چې ډبرې وې من سجیل، نه وگوره چې څرنگه سو آخر کار د مجرمين اى الكافرين من قوم لوط وهو امطار الحجارة عليهم واستيصالهم بالكلية په حديث یعني په تاريخ د قوم لوط کې راغلي چې لوط عليه السلام بالاردن فارسله الله الى سدوم تا چې دعوة ورکړي و دوی ته اونهی يې کړي د فاحشه څخه د لواطة نو دوی نه نهي کېدله فامطر الله عليهم من الحجارة فهلكو محمد بن اسحاق وايي چې اهل سدوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

میوې ډیرې درلودې او ډیرې قریې یې وې چې په مثل د دې قریو میوه داره ونې وې نو خلګو د اطرافو څخه ددوی قریو ته مخ کړی نو دوی څندې په عذاب سوه نو ابلیس په صورت کې د انسان ورته راغلی او ورته وې ویل ګه تاسې د واردینو څخه په عذاب یاست نو لواطت ورسره کوئ باره خلګ تاسې ته راځي، نو اول وار دوی پر هلکانو د واردینو دا کار شروع کړی وروسته کرار کرار د رجالو سره یې هم شروع کړی او خپل په مابین کې هم.

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا

عطف دی پر نوحاً باندې وارسلنا الی مدین ای اولاد مدین بن ابراهیم خلیل الرحمٰن علیه الصلوٰة والسلام، شریک نسبې د دوی چې نوم یې شعیب وو عطاً وایې چې شعیب ابن توبه بن ابراهیم خلیل الرحمٰن وو، او ابن اسحاق وایې چې شعیب زوی د میکیل وو او هغه د یشجر زوی وو او هغه د مدین زوی و او هغه د ابراهیم خلیل الرحمٰن زوی وو.

فائده: شعیب علیه السلام په سترګو روند وو، او په سبب د حسن خطاب او د دلائلو د قوم سره په خطیب الانبیاً سره مشهور وو، او د ده قوم علحدة پر کفر عادت یې دا وو چې په پیمانه او ترازو کې د خلګو سره چم کاوه یعني په لویه پیمانه بې د خلګو څخه شیئ را نیوی او په کښتنې پیمانه بې پر خلګو خرڅوی.

قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ ۖ قَدْ جَآءَتْكُم بَيِّنَةٌ مِّن رَّبِّكُمْ

شعیب وویل ای قومه زما عبادة د خدای کوئ یعني توحید د خدای لان قولهم کانوا مشرکین په تحقیق سره وتاسې ته راغلی معجزه د خدای د خوا څخه یعني پر صحت دبلوة زما.

فائده: په قرآن کې نه ده راغلې چې معجزه د شعیب علیه السلام څه شي وه او بعض وایې چې معجزه د شعیب حسن خطاب و او موعظة حسنة نو ولهذا اشتهر بخطیب الانبیاً وفیه ما فیه فافهم اشارة چې حسن خطاب خو د معجزاتو متعارفه وو څخه نه و لان المعجزة ما لا یمکن لاحد الاتیان بمثلها وحسن الخطاب لیس کذالک کما لا یخفی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ

او تاسي پوره ورکوئ خلگو ته کیل او میزان.

پوه سه: چي کیل مصدر دی او میزان دلته هم مصدر دی په معنی د وزن دی لکه میعاد په معنی د وعد دی او بعض وایي چي د میزان سره محذوف سته ای وزن المیزان نو میزان پر خپله معنی دی او یا مراد د کیل څخه آلة الکیل دی.

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ

او تاسي کم مه ورکوئ شیان ددوی یعني مکیل او موزون.

پوه سه: چي اشیا خدای ﷻ په لفظ عام ووایه چي جمع د شئ ده د دې لپاره چي دوی په لوی شي کي او په حقیر شي او په قلیل او په کثیر کي بخس کاوه وذالک لخسة طبائعهم وغایة حب الدنیا في قلوبهم.

وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ إِصْلَاحِهَا ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ﴿٨٥﴾

او تاسي فساد په مځکه کي مه کوئ په کفر او ظلم سره وروسته تر اصلاح ده مځکي یعني چي نبي یې راواستاوه چي امر بالمعروف کوي او نهي عن المنکر کوي، دغه چي ما درته ذکر کړه او تاسي مي په امر کړاست فائده ده تاسي لره تر هغه کارو چي تاسي یې کوئ من البخس ولي چي ستاسي په دغو کارو کي که منفعة د دنیا سته لکن تاسي ته ضرر عظیم او عذاب الیم په دنیا او اخرة کي او په ما امرتکم به کي نفع د دنیا او آخرة سته که تاسي ایمان پر ما لرئ والجزاء محذوف ای فافعلوا ما امرتکم به وکانوا یعلمون ان شعیبا لم یکذب قط قبل هذا نو دوی په لارو کي خلگ کښېنولي وه نو څوک چي به شعیب ته ورتله دوی به منع کاوه او ورته ویل به یې چي شعیب یو کذاب سړی دی مه ورځی چي په فتنه کي مو وانه چوي او د خپل ابایي دین څخه مو نه واړوي او دغه رنگه به دوی ومؤمنانو ته چي پر شعیب بي ایمان راوړی دقتل پیش رو واهه' کما قال الله جل ذکره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَقْعُدُوْا بِكُلِّ صِرَاطٍ تُوْعِدُوْنَ وَتَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِهٖ وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا

او تاسي مه کښېنئ په هره لار کي چي تاسي پېش رو ورکوئ او منع کوئ خلگ دلاري ځخه د خدای هغه ځوک چي ایمان یې راوړی وي پر خدای پا اراده دایمان لري او تاسي طلبه یاست یعني خلگو ته وایاست چي لار د خدای یعني توحید چي شعیب یې بیان کوي کږه لار ده.

وَاذْكُرُوْٓا اِذْ كُنْتُمْ قَلِيْلًا فَكَثَّرَكُمْ وَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۸۶﴾

او پیاد کړئ تاسي دا نعمت دخدای ﷻ چي تاسي لږ واست په عدد کي او رزق مو هم کم وو، او خدای تاسي ډیر کړاست چي برکت یې په نسل او مال کي درکړی او فکر وکړئ چي ځرنگه سوی دی حال دمفسدانو یعني د کافرانو دتیرسو امتو لکه قوم لوط وغیرهم نو د هغو ځخه عبرت واخلئ.

وَاِنْ كَانَ طَآئِفَةٌ مِّنْكُمْ اٰمَنُوْا بِالَّذِيْٓ اُرْسِلْتُ بِهٖ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوْا فَاصْبِرُوْا حَتّٰى يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿۸۷﴾

کلمه د "ان" شرطیه ده والمعنی که وي یوه ډله له تاسي ځخه ایمان راوړي په هغه دین سره چي زه راستول سوی یم یعني له جانبه ځخه د خدای ﷻ په دین سره چي توحید دی وغیره، او یوه ډله ستاسي ځخه ایمان یې نه دی راوړی په ما ارسلت به سره، نو تاسي صبر وکړئ صبر دلته په معنی د انتظار دی یعني تاسي انتظار وکړی تر هغو چي خدای ﷻ حکم کوي په مابین کي زموږ یعني زموږ او ستاسي چي پر مبطل او کافر عذاب نازل کړي او محقق ته نجات ورکړي په دنیا او آخرت کي او خدای ﷻ خیر د حاکمانو دی بسبب عمله الکامل بالخیر والشر لعباده.

فوائد شتی: چي تعلق لري په دغه آیتو پوري (۱) في هلاک قوم صالح علیه السلام په قرآن مجید کي خو صرف په اهلاک کي د قوم د صالح علیه السلام دا راغلي دي فاخذتهم الرجفة الآیة لکن تفصیل ده قصې چي په معتبرو تفسیرو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي راغلي دي چي څه وخت چي قوم اوښه ذبح کړه د اوښي جونګي میدان کړه د غره پر خوا صالح علیه السلام چي د اوښي په عقر خبر سو خلګو ته یې وویل چي جونګي یې را ګرځوئ شاید دهغه په سبب به د نزول دعذاب څخه خلاص سئ خلګ چي ورتله جونګي هغې دبري ته ودریدی چي د ده مور خندي راوتلې وه او دري ناري یې وکړې دبره ورته وچاودل جونګي په ننوتی. نو صالح وقوم ته وویل چي مده د عذاب راتلو پر تاسي دري ورځي پاته دي. کما قال الله تعالی تمتعوا ثلثة ایام ذالک وعد غیر مکذوب.

پوه سه: چي قوم د صالح عقر د ناقة د چار شنبې په ورځ کړی وو نو صالح علیه السلام ورته وویل زیری مي دربانديي د نزول د عذاب قوم ورته وویل علامه بې څه وي صالح ورته وویل چي تاسي چي د پنجشنبې په ورځ راکښېني مخاز به مو تک ژړ وي او د جمعې په ورځ چي راکښېني مخان به مو تک سره وي او د شنبې په ورځ چي راکښېني مخان به مو تک تور وي په اولي کي د ورځي د یکشنبې به عذاب نازل سي. یعني ما جا في قوله تعالی فاخذتهم الرجفة الآية. نو امر د کافرانو د قوم د صالح د غسي هم سو چي د شنبې په ورځ مخان ددوی تک ژړلکه زعفران چي پر پاشلي وي نر او ښځي صغیرهم وکبیرهم نو د دوی یقین سو چي عذاب لکه صالح چي ویل راتلونکی دی نو دوی په خپلو کي سره وویل چي درځي چي صالح مړ کړو زموږ تر مرګ د مخه. نو صالح وتښتېدی یو ځای پټ سو هر څو چي دوی یې تلاش وکړی نه یې کړی پیدا. نو مسلمانان یعني اتباع د صالح به دوی وهل تکول ولي چي ژړ سئ صالح را وښیاست هغو خوارانو به ورته وویل چي موږ ته یې ځای نه دی معلوم خیر چي د جمعې ورځ سوه مخان یې داسي تک سره سوه لکه وینې چي یې پر پاشلي وي نو تولو بغاري چغاري ځګیروی ژړا شروع کړه او دوی پوه سوه چي عذاب نژدې سو. چي د شنبې ورځ سوه مخان یې تک تور وه لکه ډامبر چي یې پوري مینولی وي یا تور تیل نو یو دبله بې نعري سره وهلې الا قد نزل العذاب یعني بېخي نژدې سو عذاب چي د یکشنبې شپه سوه صالح علیه السلام سره د تولو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مؤمنانو ځان وايستلی د شام پر خوا نو په رملة کې د فلسطين يې واړول نو چي ورځ د يکشنبې سوه په ځرمنو او کـالو کې يې ځانونه وپيچل او پر مځکه کښينستل ګاهي به يې د اسمان وخواته کتل چي اسماني عذاب به راسي او ګاهي بې د مځکي وخوا ته کتل چي زميني عذاب به راسي نو دواړه عذابه پر نازل سوه د اسمان د خوا صيحة چي د هري تکي اواز په کښي وو او د مځکي د خوا زلزله نو زړونه يې وچاودل په سينو کي فلم يبق منهم صغير ولا کبير ولا ذکر ولا انثى الا قد هلک.

سوال: د داسي علاماتو په ليدو سره عاقل بيا هم پر کفر ټينګېداى سي؟

جواب: ټينګېداى خو نه سي لکن د حد د تکليف خارج سوه" سعدي رحمه الله وايي تو پيش از عقوبت در عفو کوب" که سودي ندارد فناه زير چوب.

درويش وايي: چي دا علامات کېدل خو داسي دي لکه چي د قيامت ورځ خلګ وويني نو په هغه ورځ خو ايمان نه قبلېږي ولي چي دار تکليف ختم سو.

فائده: في لواطة قوم لوط عليه السلام ابن سيرين رحمه الله وايي چي ونرو ته په دبر کي ورتګ چي هيڅ حيوان د دبري کار نه کوي مګر يو سر کوزی دا کار کوي" بل دوه مست خره چي خره نه ورته پيدا کېږي د دبري کار کوي نو حاصل دا دی چي لواطت لويه ګناه پايد مسلمان ځان ځندي وساتي او د اسباب څخه د لواطت لکه مسه کول د هلک يا مچه ځندي اخستل هم ځان وساتي ولي چي دا اسباب مفضي ولواطت ته ګرځي قال الشيخ السعدي رحمه الله.

خرابت کند شاهد خانه کن — برو خانه آباد گردان ز زن
نشايد هوس باختن باگلي — که هر با مرادش بود بلبلي
مکن بد بفرزند مردم نګاه — که فرزند خويشت بر آيد تباه

لان اثار الآبا تظهر فى الابنا وفي کتاب ملتقط ناصري. هلک چي مراته يې ووهي يعني بالغ سي که بدرنګه وو نو حکم يې حکم د نر دی او که ښائسته وي حکم يې حکم د ښځي دی لايحل النظر اليه بالشهوة او سلام ور اچول او نظر بېله شهوته ورته کول فلا باس به ځکه ما مور په حجاب سره نه دی لکه ښځه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: محمد بن الحسن الشیباني چي د امام اعظم رحمه الله شاګرد وو ډير ښائسته وو نو امام اعظم رحمه الله به دی په درس کي تر شا کښيناوه حتی لا يقع عليه نظره مخافة زنی العين مع عظيم تقوی الاعظم رحمه الله تر څو چي ږيره يې پر مخ راغله نو يې مخامخ کښيناوه.

مسئله: علماً وايي چي مکروه دی مجالست د ښائسته ځوانانو سره چي ږيره يې نه وي که څه هم د سړي په زړه کي شهوت نه وي، او داغه رنګه د بې عقلانو سره لانه يذهب بالمهابة ويورث التهمة، شيخ سعدي مرحوم وايي

چو خواهی که قدرت بماند بلند | دل ايخواجه درساده رويان مبند
وگر خود نباشد غرض درميان | حذر کن که دارد بحرمت زيان

مسئله: که د سړي ښائسته بې ږيري مريی ؤ پر داسي چا به يې نه خرڅوي چي د دده په خيال د لواطت لپاره يې رانيسي لانه اعانة علی المعصية.

سوال: موږ منو چي هلک محل د کښت او تولد نه دی، لکن چي د سړي مملوک وي، نو مالک ته خو په خپل مملوک کي هر ډول تصرف روا دی، نو بايد چي قضاً شهوت په مملوک کي روا وي؟

ځواب: شرع شريفي اجازه نه ده ورکړې د تصرف په دبره کي د مملوک لغاية قباحة ونهاية خباثته والمملوکية لايقتضی التصرف من کل وجه في المملوک الاتری ان ملک مجوسية او وثنية لايجوز له التصرف بالوطي في فرجها مالم تسلما، او ددې سببه که د ښځي مريی ؤ، نو دې ته نه دی روا چي مچه ځني واخلي، او يا پر ځان خيژوي يعني وطي ورسره کوي.

پوښته: چي د نر سره د دبر له خوا کار کول لواطت کبرٰی دی، او د خپلي ماينې سره په دبره کي کار کول لواطت صغرٰی دی، وفي الحديث ملعون من اتی امرئته في دبرها.

پوښتنه: په جنت کي د ولدانو سره چي نران دي او ډېر ښائسته دي قال الله تعالی کانهم لولو لواطت روا دی که څرنګه؟

ځواب: مولی زرک زاده رحمه الله په حواشي کي د اشباه او نظائر وايي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لواطت ورسره روا دی او جنتیان یې ورسره کوي او دا آیت ده رواړی دی "ویطوف علیهم ولدان مخلدون اذ رئیتهم حسبتهم لؤلؤ منشوراً" والصحیح المفتی به انه لایجوز لان الله تعالی استبعدها واستقبحها وسماها ای اللواطة الخبیثة، والجنة منزه عن الخبائث، او صحیح داده چي لواطت په زړو کي د جنتیانو نه ورکرځي للحکمة وهي الحرمة اللواطة في جمیع الادیان بخلاف الخمر فانها حلالاً في بعض الادیان بل في دیننا في الابتدا ولهذا صارت الخمر من نعیم الجنان.

درویش وایي: چي په حکم کي د لواطت کبرئ د دین امامانو اختلاف دی لکن دا اختلافات به د فقه کتابو ته وسپارو، بیت

تاطبع نازکت نه پذیرد ملالتی		آن به که نامه را بدعا مختصر کنم

درویش میگوید که به توفیق خدای متعال جز (۸) قرآن عظیم الشان به تفسیر حقیر هیچ مدان بپایان رسید لله الحمد والمنة والصلوٰة والسلام علی سید البریة محمد المصطفیٰ وعلی آله وصحبه الکملة روز دوشنبه تخمیناً ۱۲ شهر جمادی الثانی من شهور سنه ۱۴۲۸ ھ ق.

وارجوا من الله تعالی ان یوفقني لتفسیر جمیع اجزا الکلام الشریف بالخیر والعافیة ویجعله خیراً باقیاً لهذا العبد الفقیر الی یوم القیامة انه تعالی علی کل شئ قدیر وبالاجابة جدیر. واتمام هذا التفسیر غایة متمنٰی هذا الفقیر، واتمني من عظیم رحمته تعالی وقدرته ان لایجعل هذا التفسیر یتیماً من العبد الذلیل ابی الفضل محمد عبید الله الایوبي السني الحنفي القندهاري وارجوا من اخوان الصفا من العلما والطلبا ان یطالعوا هذا التفسیر بعین المحبة والانصاف. لابعین الحسد والاعتساف فان الحسد حسک من تعلق به هلک.

چهار چیز آورده ام شاها که در گنج تو نیست
عاجزی و مسکینی فقر و گناه آورده ام

بقلم محمد عبید الله ایوبي غفرله الباري

حق طباعت مخصوص بجناب قاري فضل الحق صائب میباشد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي حنفي د مضامینو فهرست

مخ	مضمون	شمیر
۵	واذا سمعوا ما انزل الی الرسول	۱
۹	د "والذین کفروا وکذبوا بآیٰتنا" تفسیر	۲
۱۶	پوښتنه	۳
۲۳	درویش وایي	۴
۲۷	د "انما یرید الشیطان ان یوقع" تفسیر	۵
۲۹	فوائد شتّٰی	۶
۳۲	حکایت غریبه	۷
۳۴	د "یایها الذین آمنوا لاتقتلوا الصید" تفسیر	۸
۳۶	فائده سنیه	۹
۵۰	د "ما علی الرسول الا البلاغ" تفسیر	۱۰
۶۰	ضمیمه	۱۱
۶۵	پوه سه	۱۲
۷۵	حکایت	۱۳
۷۶	د "یوم یجمع الله الرسل" تفسیر	۱۴
۸۲	درویش وایي	۱۵
۸۵	حکایت	۱۶
۹۹	ښهانه فائده	۱۷
۱۰۱	د "لله ملک السمٰوٰت والارض ومافیهن" تفسیر	۱۸
۱۰۳	سورة الانعام	۱۹
۱۰۸	فائده سنیه	۲۰
۱۰۹	د "هو الذي خلقکم من طین" تفسیر	۲۱
۱۱۰	حکمت	۲۲
۱۱۶	پوښتنه	۲۳

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

مخ	مضمون	شمبر
۱۲۰	تنبیه	۲۴
۱۲۲	نکته	۲۵
۱۲۶	حکایت	۲۶
۱۲۷	د "قل سیروا في الارض ثم انظروا" تفسیر	۲۷
۱۳۱	درویش وایي	۲۸
۱۳۳	د "قل اغیر الله اتخذ ولیاً" تفسیر	۲۹
۱۳۷	حکایت	۳۰
۱۴۰	تنبیه	۳۱
۱۴۲	د "الذین اتینٰهم الکتاب" تفسیر	۳۲
۱۵۵	درویش وایي	۳۳
۱۵۶	فائده في جمیع القرآن	۳۴
۱۵۷	حکایت	۳۵
۱۷۲	مسئله	۳۶
۱۸۲	حکایت	۳۷
۱۸۶	ددي مقام تحقیق	۳۸
۱۸۷	فوائد	۳۹
۱۸۹	د "قل من ینجیکم من ظلمت البر والبحر" تفسیر	۴۰
۲۰۱	پوښته	۴۱
۲۰۲	تحقیق الصور	۴۲
۲۱۶	تنبیه	۴۳
۲۲۲	فائده	۴۴
۲۲۴	د وما قدروا الله قدره" تفسیر	۴۵
۲۴۲	د "لا تدرکه الابصار" تفسیر	۴۶
۲۴۶	د ولا تسبوا الذین یدعون من دون الله" تفسیر	۴۷

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

مخ	مضمون	شمېر
۲۴۷	مسئله	۴۸
۲۵۲	شروع د "ولو اننا" یعني اتمې سپارې	۴۹
۲۶۰	حکایت	۵۰
۲۶۵	د "ولاتاکلوا مما لم یذکر اسم الله علیه" تفسیر	۵۱
۲۷۸	تنبیه	۵۲
۲۸۲	د "یا معشر الجن والانس الم یاتکم رسل منکم" تفسیر	۵۳
۲۸۵	پوه سه!	۵۴
۲۹۳	د "قد خسر الذین قتلوا اولادهم سفهاً بغیر علم" تفسیر	۵۵
۲۹۷	د "ومن الانعام حمولة وفرشاً" تفسیر	۵۶
۳۰۳	تنبیه! درویش وایي	۵۷
۳۱۱	پوه سه	۵۸
۳۱۵	فائده	۵۹
۳۲۱	د "وان هذا صراطي مستقیماً فاتبعوه" تفسیر	۶۰
۳۲۶	فائده	۶۱
۳۲۹	د "ان الذین فرقوا دینهم وکانوا شیعاً" تفسیر	۶۲
۳۳۰	درویش وایي	۶۳
۳۴۱	شروع د سورة الاعراف	۶۴
۳۴۵	د "والوزن یومئذٍ الحق" تفسیر	۶۵
۳۴۷	نصیحت	۶۶
۳۸۴	د "ومن خفت موازینه فاولئک الذین خسروا آه" تفسیر	۶۷
۳۵۲	سوال او ځواب	۶۸
۳۵۵	حکایت	۶۹
۳۸۹	درویش وایي	۷۰
۳۹۵	پوه سه	۷۱

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

شمېر	مضمون	مخ
۷۲	د "ادعوا ربکم تضرعاً وخفیة" تفسیر	۳۹۹
۷۳	پوښتنه او ځواب	۴۰۱
۷۴	مسئله	۴۰۵
۷۵	فائده	۴۱۴
۷۶	د "فانجینٰهُ والذین معه برحمة منا آه" تفسیر	۴۱۹
۷۷	درویش وايي	۴۱۹
۷۸	پوښتنه او ځواب	۴۲۳
۷۹	د "فتولی عنهم وقال یٰقوم لقد ابلغتکم رسالة ربي" تفسیر	۴۲۷
۸۰	درویش وايي	۴۲۸
۸۱	فائده	۴۳۰
۸۲	فوائد شتّٰی	۴۳۷
۸۳	پوه سه!	۴۳۸
۸۴	مسئله	۴۴۰
۸۵	درویش وايي	۴۴۱

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. ددعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحیم

الحمد لله زمونږ اداري ته دا ویاړ ور په برخه دی چي د دین د شعبې د هر فن کتاب یې وپښتو ژبي ته ژباړلی دی. لکه څرنګه چي زمونږ اداري څو کاله دمخه یو کتاب په نامه د "تعلیم العقائد" له اردو ژبې څخه وپښتو ته وژباړی چي الحمد لله ډېر مقبول وګرځېدی. لکن چونکه هغه کتاب د ابتدائي طالبانو لپاره ؤ، نو اوس زمونږ اداري د عقائدو په اړه یو بل کتاب د جناب قاري محمد فضل الحق حقاني په خوږه پښتو سره ژباړلی دی ان شآ الله ډېر ژر به منظر عام ته راسي.

عقائد الاسلام

چي د جناب مولانا محمد ادریس کاندهلوي صاحب تصنیف دی چي دا کتاب د اهل السنة والجماعة د عقائدو وینډو یه دی چي د باطلو فرقو نشاندهي هم پکښي ده.

مکتبة القراءة والتجوید
کاسي روډ کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يو بل شاهكار

د معارف القرآن د مصنف يوه ډيره په زړه پوري رساله چي په هغه كي د سنت او د بدعت ډير ښه او مفصل بيان ستنه. دا رساله زموږ اداري له اردو څخه پښتو ته راآړولې ده چي د چاپ تر مراحلو را رسېدلې ده. ډير ژر به د علوم نبويه د تشنه ګانو تنده په ماته سي، ان شآ الله تعالی.

سنت و بدعت

تاءليف

حضرت مولانا مفتي محمد شفيع رحمة الله عليه

مكتبة القرأة والتجويد

كاسي وات (روډ) كوټه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

د علم تجويد په اړه زموږ اداري نه ستړي کېدونکي خدمتونه کړي دي، چي د هغه شانداره ماضي ستاسي وړاندې ته پرته ده، ځيني ملګرو له ډېره وخته دا تمنا درلوده چي د علم تجويد يو ډېر پخواني او مستند کتاب موږ په کمپيوټر وليکو او بيا يې چاپ ته وسپارو، ولي چي دا کتاب که له يوې خوا ناياب ؤ نو له بلې خوا ډېر مخدوش او خسته حال ؤ، نو زموږ اداري تکل وکړ او هغه کتاب يې په ډېره ښه خوشخطي سره په کمپيوټر کمپوز کړ، او چاپ ته رسېدلی دی.

نهاية القول المفيد

في

علم التجويد

تاليف

المقري الشيخ/ محمد مكي نصر الجريسي رحمه الله

مصحح

المقري محمد فضل الحق حقاني

مكتبة القراءة والتجويد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفسیر ایوبي حنفي۷ ټوک
د نصیراحمد احمدي لخوا
سکین او pdf سو.
تاریخ. ۱۶-۱۲-۱۳۹۸
واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹
د دعا محتاج احمدي!

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner